


# هیر شوي: په افغانستان کې د لسیزو وسله والې جګړې وروسته د قربانیانو حقونه

سپتمبر ۲۰۲۶

په افغانستان کې
د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

# د مطالبو لړلیک


**لنډیز** ........ ٤

سریزه ........ ٤

د قربانیانو غږونه ........ ٥

د *برحاله* چارواکو نظرونه ........ ٦

د غیر دولتي سازمانونو نظرونه ........ ٧

سپارښتنې ........ ٧

**١ برخه: پېژندنه** ........ ١٠

الف. د دې راپور په هکله ........ ١٠

ب. محتوا او شالید ........ ١١

ج. میتودولوژي ........ ٢٣

**٢ برخه: حقوقي چوکاټ** ........ ٢٤

د پلټنې او تعقیب مکلفیتونه ........ ٢٦

د خسارې جبران ........ ٢٦

د ورکو شوو وګړو په اړه حساب ورکونه ........ ٢٧

په حقیقت باندې د پوهیدلو حق ........ ٢٧

د نه تکرار ضمانتونه ........ ٢٧

اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونه ........ ٢٨

د معلولیت لرونکو وګړو حقوق ........ ٢٩

**٣ برخه: په قربانیانو باندې د شخړې اغیزې** ........ ٣٠

الف: فزیکي اغیزې ........ ٣٢

ب: احساساتي او رواني اغیزې ........ ٣٦

ج: مالي اغیزې ........ ٣٨

د. ټولنیزې اغیزې ........ ٤٤

**٤ برخه: د مرستو یا تاوان د تر لاسه کولو لپاره د قربانیانو هڅې** ........ ٥٠

الف. د شکایتونو او/یا دعوو پر وړاندې خنډونه ........ ٥١

ب. ناکامې دعوې یا شکایتونه ........ ٥٥

ج. د تاوان د ترلاسه کولو او هڅو ډولونه ........ ٥٩

**٥ برخه: د قربانیانو اړتیاوو ته رسیدنه** ........ ٦٧

الف. مالی جبران ........ ٦٧

ب. عدالت ........ ٧٠

ج. د پیښو د تکرار د مخنیوی هڅې ........ ٧١

د. چوپړتیاوو ته لاسرسی ........ ٧٢

هـ. ښځه او منل ........ ۷۳
و. مالوماتو ته لاسرسی ........ ۷۳
ی. نورې ارتیاوې ........ ۷۴
**٦ برخه: جبري ورکېدل ........ ۷۵**
الف. د قربانیانو په کورنیو باندې اغیز ........ ۷٦
ب. د ورکو شویو خپلوانو د موندلو هڅې ........ ۷۷
ج. د حقیقت او حساب ورکولو لپاره د کورنیو غوښتنه ........ ۷۸
**۷ برخه: د *برحاله* چارواکو لیدلوری ........ ۷۹**
الف. د ولایتونو په کچه د *برحاله* ادارو لخوا چمتو شوي ځوابونه ........ ۷۹
ب. د وسله والو شخړو له امله د اغیزمن شویو قربانیانو او پرګنو په ملاتړ کې تشې ........ ۸۰
**۸ برخه: د غیر دولتي سازمانونو لیدلوري ........ ۸۲**
الف. د وسله والې شخړې اغیزې ........ ۸۲
ب. د وسله والو شخړو له امله د اغیزمن شویو قربانیانو او پرګنو په ملاتړ کې تشې ........ ۸۳
**۹ برخه: پایلې ........ ۸۴**
پر ملکي وګړو د جګړې اغېز ........ ۸۵
د قربانیانو لخوا د جبران غوښتلو لپاره هڅې ........ ۸۵
د قربانیانو اړتیاوو ته رسیدګي ........ ۸٦
د وسله والو شخړو د قربانیانو لپاره د ملاتړ شته ډولونه ........ ۸۷
**۱۰ برخه: سپارښتنې ........ ۸۷**
مشوره ........ ۸۸
د حقیقت غوښتونکي ........ ۸۸
د خسارې جبران ........ ۸۸
د تکرار د مخنیوي تضمینونه ........ ۸۹
د تحقیقاتو او څېړنو اړوند مسؤلیتونه ........ ۹۰
جبري ورکېدنې ........ ۹۰
د قربانیانو اړتیاوو ته رسېدنه ........ ۹۰
د جګړې له امله د معلولو شویو کسانو ځانګړو اړتیاوو ته رسېدنه ........ ۹۱
د وسله والې شخړې له امله اغیزمنو شوو ښځو او نجونو ځانګړو اړتیاوو ته رسېدنه ........ ۹۱
**الف ضمیمه: د مرکه شویو ډیموګرافیک ویش ........ ۹۲**
**ب ضمیمه: د *برحاله* چارواکو د بهرنیو چارو وزارت یاداښت ........ ۹۵**
**پ ضمیمه: د مرکو او پېښو لیست ........ ۱۰۲**

# لنډيز

دا راپور د ۲۰۲۴ او ۲۰۲۵ کال په ترځ کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له‌خوا د ترسره شویو څېړنو موندنې وړاندې کوي، چې موخه یې د افغانستان د وسلوالې جګړې د قربانیانو تجربې او اړتیاوې روښانه کول دي. دا راپور تر ډېره د ۲۰۰۱ کال د متحده ایالاتو په مشرۍ د نظامي مداخلې وروسته تر هغه وخته تمرکز کوي چې طالبان د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه واک ته ورسېدل. راپور د وسلوالې جګړې د ۱۹۵ تنو قربانیانو او د هغوی د خپلوانو، ۲۳ غیر دولتي سازمانونو چې د قربانیانو د اړتیاوو پوره کولو په برخه کې کار کوي، او ۲۳ *برحاله* چارواکو سره د مرکو پر بنسټ چمتو شوی دی.

دا څېړنه د یوناما د ماموریت له مخې ترسره شوې ده، چې دا ماموریت د ملګرو ملتونو د امنیت شورا[۱] لخوا ورکړل شوی، او په کې – د بشري حقونو د ترویج او ساتنې ترڅنګ – د مسؤلانه حکومتولۍ او د قانون د حاکمیت ترویج، د انتقالي عدالت ملاتړ، او د قربانیانو د حقونو ملاتړ شامل دي.

## سریزه

افغانانو د خپل هېواد د لسیزو جګړو قیمت پرې کړی دی. د جګړې قربانیان، په ډېرو مواردو کې، له عدالت، تاوان یا آن د هغوی د کړاوونو له پېژندنې پرته یوازې پرېښودل شوي دي ترڅو د پېښو له پایلو سره خپله مقابله وکړي.

د ۲۰۰۹ کال د جنوري[۲] له میاشتې څخه تر هغه وخته پورې چې طالبان د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه واک ته ورسېدل، یوناما د وسلوالې جګړې له امله د ۴۰۰۰۰ څخه د زیاتو ملکي کسانو وژل او د ۷۷۰۰۰ څخه د زیاتو ټپي کېدل مستند کړي دي. قربانیانو ویلي چې د پېښو وروسته د دوی د حقونو د تأمین لپاره ډېرې لږې هڅې شوې دي[۳]. په ملي او نړیواله کچه د عاملینو د حساب ورکولو هڅې محدودې وې او له ګڼو خنډونو سره مخ وې.

دولتونه د نړیوال بشري حقونو او نړیوال بشردوستانه قانون له مخې مکلف دي چې د سرغړونو پلټنه او د عاملینو محاکمه یقیني کړي، قربانیانو ته تاوان ورکړي او د سرغړونو د تکرار مخنیوی وکړي.[٤]HJ

د افغانستان د بشري حقونو د نړیوالو ژمنو د اوسنیو مسؤلینو په توګه، *برحاله* چارواکي اضافي مسؤلیتونه لري څو د خلکو د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو تدریجي تحقق یقیني کړي، د معلولیت لرونکو اشخاصو حقونه خوندي کړي او د ټولو لپاره برابري او له تبعیض څخه پاک چلند تضمین کړي.

[۱] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پرېکړه لیک ۲۶۲۶ (۲۰۲۲)، چې د پرېکړه لیک ۲۷۷۷ (۲۰۲۵) له مخې تمدید شوی دی.
[۲] یوناما په ۲۰۰۹ کال کې د وسلوالې جګړې له امله د ملکي تلفاتو منظم ثبت پیل کړ.
[۳] افغانستان: په وسلوالې جګړې کې د ملکي وګړو ساتنه – کلنی راپور ۲۰۲۰ (یوناما او د بشري حقونو عالي کمشنري، فبروري ۲۰۲۱). د لاسرسي وړ: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_report_۲۰۲۰_revs۳.pdf.
[٤] د سره صلیب نړیوال کمیټه – (ICRC) د عرفي نړیوال بشردوستانه قانون (CIHL) څېړنه، قواعد ۱۵۸ او ۱۵۰:

## د قربانیانو غږونه[۵]

### د جګړې اغېزې

- **له نیمايي زیات مرکه شوي (۵۸ سلنه) وايي چې د جګړې له امله يې فزيکي زيانونه ليدلي دي.**[٦] په ډېرو مواردو کې دا زیانونه تر پېښې وروسته میاشتو، کلونو یا حتی لسیزو پورې دوام کړی. قربانیان وايي چې له مزمنو دردونو سره ژوند کوي او دوامداره طبي پاملرنې ته اړتیا لري، خو د مالي ستونزو یا د افغانستان د روغتیايي خدماتو نشتوالي له امله دا اړتیاوې نه شي پوره کولی. ځینې خلک داسې معلولیتونه لري، چې له امله يې زده کړو یا کار ته دوام نه شي ورکولی. په ځینو مواردو کې د کورنۍ غړي اړ شوي چې د خپلو ټپي شویو خپلوانو د پاملرنې لپاره له کار یا ښوونځي څخه لاس واخلي.
- **تقریباً ټولو مرکه شویو (۹۵ سلنه) ویلي چې د پېښو له امله يې رواني او/یا ذهني زیانونه لیدلي دي.** دوی د حافظې له ستونزو، د پېښو یادونو، خپګان، او اضطراب څخه یادونې کړې دی. ځینو مرکه شویو ویلي چې کله يې خپلوان له لاسه ورکړل، نو د ځان وژنې فکرونه يې هم کړي دي.
- **د ډېرو مرکه شوو (۸۴ سلنه) په وینا، دوی د پېښو له امله مالي زیانونه لیدلي دي.** دا زیانونه د درملنې، جنازو، او د کورونو یا کاروبارونو د بیا رغونې لګښتونو پورې اړه لري. ډېری خلکو ویلي چې دوی د خپلو ټپونو یا د ټپي شویو خپلوانو د پاملرنې له امله يې کار له لاسه ورکړی او عاید نه لري. ځینې مرکه شوي وايي چې لا هم د هغو کورونو په کنډواله کې ژوند کوي چې د بمبار یا مرمیو له امله ویجاړ شوي، ځکه چې د ترمیم وس يې نه لري. هغه مېرمنې چې مېړونه يې په جګړه کې وژل شوي، تر ټولو سختو مالي حالاتو سره مخ دي. په ډېرو مواردو کې نارینه د کورنۍ یوازینۍ نفقه راوړونکی و، او پاتې مېرمنې د *برحاله* چارواکو له خوا د کار کولو د بندیزونو له امله عاید نه شي پیدا کولی.[٧] ډېری مرکه شوو ویلي چې د مالي ستونزو له امله اړ شوي خپل ماشومان له ښوونځي وباسي او کار ته يې واستوي څو د کورنۍ مرسته وکړي.
- **د مرکه شوو کسانو نږدې نیمايي (۴۵ سلنه) وویل چې پېښو د دوی د ټولنیزو اړیکو، د دوی د کورنیو او پراخو ټولنو په اړیکو منفي اغېزه کړې ده.** ګڼ شمېر کسانو ویلي چې دوی له هغو غونډو او ټولنیزو غونډو څخه ډډه کوي چې ورته د تیر شوي دردناک حالت یادونه کوي. مرکه شوو د معلولیت له امله په خپلو ټولنو کې د شرم او پیغور یادونه وکړه، ځکه چې دوی کمزوري یا د کورنۍ د ملاتړ وړ نه ګڼل کېږي. هغه مېرمنې چې مېړونه يې وژل شوي، وویل چې دوی هم پیغورونه تجربه کوي ځکه چې بې کوره شوې دي. هغوی زیاته کړه چې د مېړه نه درلودل دوی د کورنۍ د نورو غړو له خوا د لا تاوتریخوالي خطر سره مخ کوي.

[۵] د دې راپور د موخو لپاره، قربانیان هغه کسان دي چې په انفرادي یا ډله ایزه توګه، د هغو کړنو یا تیروتنو له لارې چې د نړیوال بشري حقونو قانون څخه جدي سرغړونه یا د نړیوال بشردوستانه قانون د جدي سرغړونو له امله، فزیکي یا ذهني زیان، رواني تکلیف، اقتصادي تاوان، یا د خپلو اساسي حقونو د پراخ زیان سره مخ شوي وي. چیرې چې مناسبه وي، د "قرباني" اصطلاح د مستقیم قرباني د نږدې کورنۍ غړي یا تکیه کوونکي او هغه کسان هم رانغاړي چې د زیانمنو کسانو د مرستې لپاره مداخله کړې وي یا د قرباني کیدو د مخنیوي هڅې کړې ويدا تعریف د "قرباني" تعریف سره سمون لري چې د نړیوال بشري حقونو قانون د جدي سرغړونو او د نړیوال بشري قانون د جدي سرغړونو د قربانیانو لپاره د درملنې او جبران حق په اړه د اساسي اصولو او لارښوونو په اتمه ماده کې ټاکل شوی، چې په ۲۰۰۵ کال کې د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې لخوا تصویب شوي دي.

[٦] د هغو قربانیانو د کورنیو غړو سره یو شمېر مرکې ترسره شوې چې وژل شوي یا په زوره ورک شوي وو، او له همدې امله مرکه شویو فزیکي اغېزې نه وې لیدلې.

[٧] د برحاله چارواکو لخوا د لګول شویو بندیزونو په اړه، د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي ،د بشري حقونو د تازه وضیعت په اړمعلومات وګورئ: اکتوبر – ډسمبر ۲۰۲۴ (۲۷ جنوري ۲۰۲۵)، ضمیمه: د برحاله چارواکو د هغو پریکړو مهال ویش چې پر ښځو او نجونو اغېزه لري. په دې ځای کې موندل کېږي: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/human_rights_situation_in_afghanistan_october_-_december_٢٠٢٤_-_english.pdf.

## د قربانیانو هڅې د جبران لپاره

- **د دې راپور لپاره د مرکه شویو ډېری کسانو (۵۵ سلنه) هیڅ هڅه نه ده کړې چې شکایت وکړي، عدالت وغواړي، د خسارې جبران ترلاسه کړي یا د پېښې له امله مرسته وغواړي.** د دې نه اقدام اصلي علت دا و چې هغوی باور درلود چې د دوی موضوعات به جدي ونه نیول شي، په بې‌طرفانه یا شفافه توګه به موضوع حل نه شي، یا د انتقام ویره به ولري. ګڼ شمېر مرکه شویو دا هم وویل چې دوی نه پوهېدل چې له کوم ځایه یا څنګه د جبران غوښتنه وکړي.
- **له هغو مرکه شویو څخه چې د جبران یا مرستې لپاره یې هڅه کړې وه، له نیمایي زیاتو (۶۴ سلنه) وویل چې هڅه یې بې‌نتیجه وه.** هغه کسان چې ناکام شوي وو، وویل چې هیڅ ځواب یې نه دی ترلاسه کړی، غوښتنه یې رد شوې، یا له نورو اداري ستونزو سره مخ شوي دي.ځینې یې هغه کسان په فساد او/یا تبعیض تورن کړي چې دوی ورته شکایت کړی وو. مرکه شویو د مختلفو ادارو لکه ولایتي والیانو، پولیسو، د شهیدانو او معلولینو ادارې، نورو حکومتي ادارو، طالبانو (د افغانستان د نیولو وړاندې) او د *برحاله* چارواکو (د نیولو وروسته) څخه د جبران غوښتنه کړې وه. د مرکه شویو ډېری کسانو چې د رسمي عدالت له لارې د مسؤلیت غوښتلو هڅه کړې وه، اکثراً ناکام شوي وو، چې لامل یې د پخواني حکومت او د *برحاله* چارواکو نه اقدام او یا رد کول بللي دي.
- **تر ټولو عام ځواب د شکایتونو په وړاندې لنډمهاله مالي مرسته وه.** د مرستو اندازه ډېره متفاوته وه، له ۶۷ ډالرو څخه تر ۹۰,۰۰۰ ډالرو پورې، چې دا مرستې د مختلفو حکومتي ادارو، او ځینو مواردو کې د نړیوالو پوځي ځواکونو لخوا ورکړل شوې وې. ګڼ شمېر مرکه شویو ویلي چې ترلاسه شوې اندازه د پېښو له امله شوی مالي تاوان نه پوره کوي. ځینو ته د ټپي کېدو یا د یو خپل د وژل کېدو له امله میاشتنۍ مرستې هم ورکړل شوی دی.[8]
- **ډېرو مرکه شویو د پېښې په اړه هېڅ معلومات نه دي ترلاسه کړي.** لږ شمېر کسانو بیا د بېلابېلو ادارو لکه د ولسمشرۍ دفتر، طالبانو، والیانو او ولسوالانو او امنیتي ځواکونو، په شمول د نړیوالو پوځي ځواکونو څخه د پیښې تاییدي یا ښښنې ترلاسه کړې وې.

## د قربانیانو اړتیاوې پوره کول

- **د قربانیانو لومړیتوبونه دا وو: مالي جبران (۸۱ سلنه مرکه شویو)، عدالت ته لاسرسی (۴۸ سلنه) او د پېښو د بیا تکرار مخنیوی (۴۷ سلنه).** هغه کسان چې مالي جبران یې د خپل لوې ستونزې په توګه یاد کړی و، وویل چې دوی به پیسې د پېښو د زیان د جبران لپاره وکاروي، چې پکې د درملنې لګښتونه، ویجاړو شویو کورونو یا ملکیتونو ترمیم، د عاید له لاسه ورکول (د مړینې یا معلولیت له امله) او پاتې پورونه ورکول شامل دي. هغه مرکه شوي چې عدالت ته لاسرسی یې د لومړیتوب په توګه یاد کړی و، اکثراً د رسمي عدالت پروسو څخه بې‌باوره هم وو.
- **یوازې ۱۸ سلنه قربانیانو وویل چې له دوی څخه ښښنه غوښتل ورته مهم دي.** ډېرو یې ویلي چې ښښنه به د هغه څه بدلولو چې دوی ته پیښ شوي یا د وژل شویو خپلوانو د بیا راګرځولو کې هیڅ نشي کولای.

## د *برحاله* چارواکو نظرونه

- په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) ، له ۲۳ *برحاله* چارواکو (*برحاله* د کار او ټولنیزو چارو ریاستونو، *برحاله* د شهیدانو او معلولینو ریاستونو، *برحاله* د عامې روغتیا ریاستونو او *برحاله* ولایت د دفترونو) چارواکو سره د هغه خدمتونو په اړه چې دوی د وسلوالو جګړو قربانیانو ته وړاندې کړي، مرکې کړې دي.
- *برحاله* د شهیدانو او معلولینو ولایتي ریاستونو ټولو مرکه شویو ویلي چې دوی، قربانیانو او د هغوی کورنیو ته یو ډول میاشتنۍ مرسته یا پیسې ورکړي. نورو *برحاله* چارواکو هم د روغتیایي خدماتو، دارلایتامونو او د معلولینو د ځانګړې ملاتړ د برابرولو په اړه خبرې وکړې.

[8] پورته یاد شوي دولتي ادارې د افغانستان د اسلامي جمهوریت پخواني حکومت ته اشاره کوي.

- *برحاله* چارواکو څخه وپوښتل شول چې د وسلوالو جګړو له امله زیانمن شویو قربانیانو او ټولنو لپاره کومې اړتیاوې تر ټولو ډېرې مهمې دي. تر ټولو عام ځنډ چې د قربانیانو ملاتړ ته یې اشاره وکړه، د **مالي منابعو کموالی** و، او دوی ټینګار وکړ چې شته سرچینې هم د قربانیانو او د هغوی د کورنیو لومړنۍ اړتیاوې پوره کولو لپاره کافي نه دي.

- *برحاله* چارواکو یو شمېر لومړیتوبونه هم روښانه کړل چې د قربانیانو لخوا یاد شوي موضوعات پکې شامل وو، لکه: **د معلولیت لرونکو کسانو ځانګړې اړتیاوې**؛ د **زده کړو او د ژوند د فرصتونو برابرول** د وسلوالو جګړو د قربانیانو لپاره؛ په **روغتیایي خدمتونو** کې نیمګړتیاوې، په ځانګړې ډول ډېری مرکه شویو کسانو د رواني ملاتړ اړتیا یادونه کړې ده؛ **د قربانیانو بشري اړتیاوې** لکه سرپناه او خواړه؛ **د کونډو او ښځو د کورنیو ځانګړې اړتیاوې** او د هغوی د کورنیو د ملاتړ ستونزې؛ **زده کړو ته د ماشومانو د لاسرسي** اهمیت؛ او د قربانیانو لپاره **عدالت ته د لاسرسی اړتیا، قربانیانو څخه بښنه غوښتل یا د زیان منل دي.**

## د غیر دولتي سازمانونو نظرونه

- په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) له ۲۳ غیر دولتي سازمانونو سره د (نغدي مرستو، زده کړو او مسلکي روزنې، روغتیایي خدماتو، د ماینونو پاکول) په برخه کې مرکې کړې دي، چې د وسلوالو جګړو قربانیانو ته په مختلفو برخو کې مرستې برابروي.

- هغه غیر دولتي سازمانونه چې مرکې ورسره شوې دي د قربانیانو لپاره بېلابېلې مرستې وړاندې کوي، لکه نغدي مرسته، زده کړه او مسلکي روزنه، روغتیایي خدمتونو او د ماینونو پاکول. دوی د یو شمېر مواردو، په ګډون د وسلوالو شخړو د قربانیانو پر رواني او فزیکي روغتیا اغېزې، د وسله والو شخړو قربانیانو کې د معلولیتونو زیاتیدل، د زیربناوو د ویجاړتیا او د جګړې د پاتې شونو او چاودیدونکو توکو د خطرونو په اړه یادونه وکړه.

- د *برحاله* چاروکو په څېر، **غیر دولتي سازمانونو هم د قربانیانو ملاتړ ته د مالي سرچینو کمښت تر ټولو لوی ځنډ بللی.** دوی وویل چې د منابعو محدودیتونه د ټولنو اړتیاوې پوره کولو توان له منځه وړي او له مرستندویه هېوادونو یې د زیاتې مالي مرستې غوښتنه وکړه.

- څو غیر دولتي سازمانونو **د *برحاله* چارواکوو لخوا د لاسوهنو یادونه کړې چې د دوی په وینا د خدمتونو وړاندې کولو په وړتیا منفي اغېز لري.** مرکې شویو وویل چې د ښځو او نجونو پر وړاندې د *برحاله* چارواکو د محدودیتونه له امله ښځې او نجونې د دوی د سازمانونو له خدمتونو او مرستو څخه ګټه نه شي اخیستلای.

- **ډېرو مرکه شویو د وسلوالو شخړو قربانیانو ته د ژوندانه د فرصتونو، د دندو پیدا کولو او نورو مالي ملاتړونونو ته د اړتیا یادونه کړې.** دوی وویل چې په ځانګړې توګه کونډې ښځې او معلول کسان چې د کار موندلو له ستونزو سره مخ دي، ځانګړې مرستې ته اړتیا لري.

## سپارښتنې

۱. د افغانستان *برحاله* چارواکي باید د وسلوالو شخړو قربانیانو سره د هغوی د اړتیاوو په اړه مشورې وکړي او د مشورو پر بنسټ باید د قربانیانو لپاره پراخ او ټولشموله پروګرامونه د جبران او نورو مرستو برابرولو لپاره جوړ کړي. مشورې باید ټولشموله، د جنسیت له مخې متوازن او د ټولو ګډونوالو د امنیت، خوندیتوب او پټتیا ساتنه وکړي.

۲. *برحاله* چارواکي باید د شته سازماني ظرفیت په بشپړه توګه بیاکتنه وکړي ترڅو د وسلوالو شخړو د نړیوالو قانوني سرغړونو د قربانیانو لپاره د خسارې د جبران برابرولو په برخه کې نیمګړتیاوې مالومې کړي.

۳. د افغانستان *برحاله* چارواکي باید داسې یو میکانیزم جوړ کړي چې له لارې یې قربانیان، د هغوی خپلوان او عام خلک د سرغړونو په اړه معلومات ترلاسه او په حقیقت پوه شي.

٤. د قربانیانو د مشورو پر بنسټ باید د افغانستان *برحاله* چارواکي د خسارې د جبران او د قربانیانو د مرستې لپاره هراړخیز پروګرامونه جوړ کړي.

۵. *برحاله* چارواکي باید هڅه وکړي چې د افغانستان د شخړې ښخوانیو اړخونو سره همکاري وکړي، هغوی هم د قربانیانو په وړاندې ځینې مسئولیتونه لري، ترڅو د خسارې د جبران او قربانیانو د مرستې پروګرامونه په ګډه جوړ کړي.

۶. غړي دولتونه باید مالي مرستې افغانستان ته ځانګړې کړي چې د وسلوالو شخړو د قربانیانو اړتیاوو او لومړیتوبونو پر بنسټ وي.

۷. *برحاله* چارواکي باید د نړیوالو معیارونو سره سم، د نړیوالو بشري حقونو او نړیوال بشردوستانه قانون سرغړونکو کسانو له امنیتي ځواکونو څخه د ایستلو لپاره د تفتیش/تصفیې سیستم پلي کړي.

۸. *برحاله* چارواکي باید امنیتي ځواکونو ته، په شمول د قانون پلي کوونکو پرسونل، د نړیوالو بشري حقونو او نړیوال بشردوستانه قانون په اړه روزنه ورکړي.

۹. *برحاله* چارواکي باید ډاډ ترلاسه کړي چې افغانستان د بشري حقونو د نړیوال قانون لاندې خپلو مکلفیتونو سره سم عمل کوي، د بشري حقونو د تحقق، درناوي، ساتنې او اقداماتو په نیولو سره، په شمول د:

الف) هغه تبعیضي حکمونو او فرمانونه لغوه کړئ چې د ښځو او نجونو بشري حقونه او اساسي آزادۍ محدودوي، هغوی ته د ثانوي او لوړو زده کړو او کار کولو اجازه ورکړي، د هغوی د تګ راتګ ازادي ومني او د هغوی د ورځني ژوند نورې برخو کې لاسوهنه ودروي.

ب) ډاډ ترلاسه کړي چې تقنین، پالیسي ګانې، حکمونه او نورې لارښوونې چې د *برحاله* چارواکو لخوا صادرېږي، د نړیوالو بشري حقونو سره سمون لري؛

ج) سمدستي قانوني، پالیسي او عملي ګامونه پورته کړي ترڅو د بشري حقونو سرغړونې لکه غیر قانوني وژنې، خپلسرې نیونې، شکنجه او بد چلند مخه ونیسي او کله چې سرغړونې رامنځته شي، د نړیوالو معیارونو سره سم حساب ورکړل شي.

۱۰. *برحاله* چارواکي او د شخړې ټول ښخواني اړخونه باید د ناچاوده او پرېښودل شویو چاودېدونکو توکو له خطره د ژر تر ژره خلاصون لپاره عاجل اقدامات وکړي، چې پکې د ماین پاکولو هڅې او د خطر په اړه د ټولنې د پوهاوي او د زده کړو کمپاینونه شامل دي.

۱۱. *برحاله* چارواکي باید داسې میکانیزمونه جوړ کړي چې د وسلوالو شخړو پر مهال د نړیوالو بشري حقونو او بشردوستانه قانون سرغړونو د ادعاوو د ترلاسه کولو او څېړنې وړتیا ولري.

۱۲. ټول غړي دولتونه چې پوځي ځواکونه یې په افغانستان کې حضور درلود، باید ډاډ ورکړي چې د پرسونل له خوا یې د نړیوالو بشري حقونو او بشردوستانه قانون څخه د احتمالي سرغړونو لپاره خپلواکه څېړنه او تعقیب په نړیوالو معیارونو سره سم ترسره کړي.

۱۳. *برحاله* چارواکي باید د جبري ورکیدنې څخه د ټولو خلکو د مخنیوي نړیوال کنوانسیون په اړه د خپلو مکلفیتونو د منلو په اړه غور وکړي.

۱۴. *برحاله* چارواکي باید د جبري ورکیدو د ادعاوو ترلاسه کولو او څېړنې لپاره میکانیزمونه جوړ کړي، ترڅو کورنیو ته د خپلو عزیزانو د برخلیک او ځای په اړه مالومات ورکړي، اړتیاوې یې پوره کړي او ورته د خسارې جبران برابر کړي.

۱۵. د وسلوالو شخړو ټول اړخونه باید د ورک شوو کسانو (که ژوندي وي یا مړه) د ځای په اړه هر ډول مالومات او اسناد برابر کړي.

۱۶. د افغانستان *برحاله* چارواکي باید د شهیدانو او معلولینو د *برحاله* وزارت له لارې داسې یوه پراخه څېړنه وکړي چې د وسلوالو شخړو د قربانیانو لپاره د اوسنیو مرستو حالت معلوم کړي.

۱۷. د افغانستان *برحاله* چارواکي باید د شهیدانو او معلولینو د *برحاله* وزارت له لارې د وسلوالو شخړو قربانیانو سره مشورې وکړي ترڅو هغه خدمتونه په نښه کړي چې هغوی ورته اړتیا لري. مشورې باید ټولشموله، د جنسیت له مخې متوازن او غیر تبعیضي وي، د ټولو ګډونوالو امنیت، خوندیتوب او پټتیا خوندي کړي.

۱۸. *برحاله* چارواکي باید د وسلوالو شخړو قربانیانو لپاره د موجودو خدماتو په اړه منابع او مالومات وړاندې او دغه معلومات په پراخه او مساوي ډول د ټولنو ترمنځ خپاره کړي.

۱۹. *برحاله* چارواکي باید د معلولیت لرونکو د حقونو په اړه د پوهې د ښه کولو لپاره عامه پوهاوي کمپاینونه او فعالیتونه ترسره کړي او د ټولنې منفي نظرونه او تعصباتو پر وړاندې مبارزه وکړي.

۲۰. *برحاله* چارواکي باید د کار بازار کې د معلولینو د شاملولو لپاره ګامونه واخلي، لکه: په ټولو کاري برخو کې د معلولیت پراساس تبعیض منع کول؛ په عامه سکتور کې د معلولینو استخدامول؛ او د تخنیکي او مسلکي زده کړو پروګرامونو ته د معلولینو لاسرسی یقیني کول.

۲۱. *برحاله* چارواکي باید د کار په بازار کې د ښځو د شاملولو لپاره ګامونه واخلي، لکه: په ټولو کاري برخو کې د جنسیت پر اساس تبعیض منع کول؛ او ښځو ته د پوهنتون، تخنیکي او مسلکي زده کړو پروګرامونو ته د لاسرسي برابرول.

۲۲. *برحاله* چارواکي باید هغه محدودیتونه لغوه کړي چې د کار په بازار کې د ښځو ګډون محدودوي، په ځانګړې توګه:

الف) د شپږم ټولګي څخه پورته د ښځو او نجونو په وړاندې د زده کړو بندیزونه، همدارنګه په طبي انستیتیوتونو کې د ښځو په وړاندې د زده کړو بندیزونه؛

ب) ښځو ته د ۷۸ کیلو متر څخه زیات سفر لپاره د محرم اړتیا؛

ج) د ښځو په ګمارنه بندیزونه، لکه د غیر دولتي سازمانونو او د ملګي خدمتونو په ډېرو برخو کې.

# ۱ برخه: پېژندنه

## الف. د دې راپور په هکله

دا راپور د ۲۰۲۴ او ۲۰۲۵ کال په ترڅ کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا د ترسره شویو څېړنو موندنې وړاندې کوي، چې موخه یې د افغانستان د وسلوالې جګړې د قربانیانو تجربې او اړتیاوې روښانه کول دي. دا راپور تر ډېره د ۲۰۰۱ کال د متحده ایالاتو په مشرۍ د نظامی مداخلې وروسته تر هغه وخته تمرکز کوي چې طالبان د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه واک ته ورسېدل.[۹] راپور د وسلوالې جګړې د ۱۹۵ تنو قربانیانو او د هغوی د خپلوانو، ۲۳ غیر دولتي سازمانونو چې د قربانیانو د اړتیاوو پوره کولو په برخه کې کار کوي، او ۲۳ *برحاله* چارواکو سره د مرکو پر بنسټ چمتو شوی دی.

دا څېړنه د یوناما د ماموریت له مخې ترسره شوې ده، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا[۱۰] لخوا ورکړل شوی، او پکې – د بشري حقونو د ترویج او ساتنې ترڅنګ – د مسؤلانه حکومتولۍ او د قانون د حاکمیت ترویج، د انتقالي عدالت ملاتړ، او د قربانیانو د حقونو ملاتړ شامل دي.

د پراخو او ټول شموله سلا مشورو ترسره کول، په ځانګړي ډول له هغو قربانیانو او ژوندي پاتې شویو سره چې د جدي بشري حقونو څخه د سرغړونې یا نړیوال جنایتونه یې تجربه کړي وي، د راتلونکي مؤثر حساب ورکونې یوه مهمه برخه ده، چې پکې حقیقت، عدالت او د خسارې جبران ورکونه شامله ده.[۱۱] مشورې او ګډون په عموم کې د حساب ورکونې د بریا لپاره په بېلابېلو لارو کې مرسته کوي. دا احتمال زیاتوي چې د حساب ورکونې اقدامات به د قربانیانو او ژوندي پاتې شویو کسانو بېلابېل نظرونه د عدالت او د اغېزمن تاوان په اړه راونغاړي. مشورې د راتلونکو حساب ورکونې اقداماتو مشروعیت زیاتوي، ځکه چې د مشورې پروسه خپله د قربانیانو او ټولنو د پېژندنې او توانمندۍ یو اقدام دی، او دا هغوی ته دا فرصت ورکوي چې په خلکو کې له دوی څخه اخیستل شوی موقف بېرته ترلاسه کړي. د پراخو مشورو ترسره کول د قانون حاکمیت او مساواتو پر بنسټ د ټولګډونې ټولنې د جوړولو له هڅو سره همغږي لري.[۱۲]

دا راپور له قربانیانو او اغېزمنو شویو سره د لومړنیو سلا مشورو پایلې وړاندې کوي، تر څو د دوی اړتیاوې او غوښتنې وپېژني، او د حساب ورکونې، حقیقت ویلو، عدالت او د خسارې د جبران لپاره یوه ممکنه لاره وړاندې کړي.

نو له همدې امله، دا راپور د قربانیانو غږونه او اړتیاوې رابرسېره کوي، هغه تشې په ګوته کوي چې د وسلوالې شخړې له پای وروسته د دوی د حقونو د تحقق په برخه کې موجودې دي، او وړاندیزونه په ډاګه کوي چې مسؤل کسان باید څه اقدامات وکړي تر څو د قربانیانو او د جګړې له امله اغېزمنو شویو کسانو حقونه وپېژندل شي او خوندي شي. پدې راپور کې وړاندې شوي نظرونه د هغو قربانیانو دي چې مرکې ورسره شوې دي، او دا لزوماً د ټولو قربانیانو او ژوندي پاتې شویو بشپړ نظرونه نه ښیي.

[۹] که څه هم دا راپور د یوې ځانګړې مودې په ترڅ کې د جګړو ملکي قربانیانو په تجربو باندې تمرکز کوي، مونږ په دې هم پوهېږو چې د نورو ډولونو د بشري حقونو د سرغړونو قربانیانو هم زیانونه لیدلي دي او هغوی د هغو زیانونو د جبران حق لري چې ورته رسېدلي دي.
[۱۰] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه لیک ۲۶۲۶ (۲۰۲۲)، چې د پریکړه لیک ۲۷۷۷ (۲۰۲۵) له مخې تمدید شوی دی.
[۱۱] ملګري ملتونه، د بشري حقونو د ساتنې او تحقق لپاره د معافیت سره د مبارزې له لارې د اصولو نوی شوی لړلیک (E/CN.٤/٢٠٠٥/١٠٢/Add.١)۲۰۰۵ کال.
[۱۲] د ملګرو ملتونو د سرمنشي د انتقالي عدالت په اړه د یادښت لارښود ، اکتوبر ۲۰۲۳ وګورئ. د لاسرسی ور:
https://peacemaker.un.org/sites/default/files/document/files/٢٠٢٤/٠٣/٢٠٢٣٠٧guidancenotetransitionaljusticeen.pdf

## ب. محتوا او شالید

### په افغانستان کې وسلواله شخړه

نن ورځ په افغانستان کې نږدې هېڅ داسې کورنۍ نشته چې له تیرو لسیزو وسلوالې شخړې له اغېزو څخه خوندي پاتې شوې وي، په دې شخړه کې بېلابېل اړخونو د ډېرو کلونو لپاره ښکیل وو، پر ټول هېواد یې اغېز کړی دی. د دې راپور لپاره له چا سره چې مرکې شوې دي، اکثرو قربانیانو هغه پېښې تجربه کړې دي چې د ۲۰۰۱ او ۲۰۲۱ کلونو تر منځ رامنځته شوې دي.

په همدې موده (۲۰۰۱ – ۲۰۲۱) کې، یوناما یادداشت کړي چې په افغانستان کې څو غیر نړیوالې وسلوالې شخړې روانې وې. دا شخړې د افغانستان د حکومت ملاتړو وسلوالو ځواکونو (د افغانستان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه چې د نړیوالو ځواکونو له خوا یې ملاتړ کېده) او بېلابېلو غیردولتي وسلوالو مخالفو ډلو ترمنځ وې، او همدارنګه د غیردولتي وسلوالو مخالفو ډلو ترمنځ هم شخړې روانې وې.[13]

د افغانستان د شخړې اړخونه له حکومت پلوه ځواکونو څخه جوړ وو، چې پکې د پخواني اسلامي جمهوریت د حکومت امنیتي ځواکونه،[14] حکومت پلوه وسلوالې ډلې، او نړیوال پوځي ځواکونه شامل وو؛ او له بل پلوه، د حکومت ضد عناصر شامل وو، چې پکې طالبان، د عراق او شام اسلامي دولت - د خراسان څانګه (داعش-خراسان) او نورې غیردولتي وسلوالې مخالفې ډلې شاملې وې.

- **د پخواني حکومت امنیتي ځواکونه** په لاندې برخو مشتمل وو: چې پکې د افغانستان ملي اردو (او اړوندې څانګې لکه افغان هوايي ځواک او د ملي اردو سیمه ییز ځواکونه)، ځانګړي ځواکونه، د ملي امنیت ریاست، د افغان سیمه ییز پولیس، افغانستان ملي پولیس، د عامه نظم ساتنې ځواک، او سرحدي ځواکونو شامل وو.[15] دا ټول ځواکونه د ۲۰۲۱ د اګست په ۱۵مه، کله چې طالبان کابل ته داخل شول، له منځه لاړل.

- پخواني حکومت **د نړیوالو پوځي ځواکونو** له خوا په جګړه کې حمایه کېدل. د امریکا متحده ایالاتو او د هغې د ائتلاف شریکانو د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په ۷مه په افغانستان کې د تلپاتې آزادۍ عملیات په نوم پوځي عملیات پیل کړل.[16] د ۲۰۰۱ کال په دسمبر کې، د ملګرو ملتونو امنیت شورا د ۱۳۸۶ پریکړه لیک له مخې، د افغانستان د موقتي اداري[17] د امنیت د ساتنې په موخه د نړیوال امنیتي مرستندویه ځواک ( آیساف ) جوړښت تصویب کړ. په خپل اوج کې، دغه ځواک له ۱۳۰,۰۰۰ څخه زیات سرتېري درلول چې له ۵۱ د ناټو او متحدو هېوادونو څخه راټول شوي وو.[18] د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ په لمړۍ، ایساف د "قاطع ملاتړ ماموریت" ته واوښت. د قاطع ملاتړ ماموریت یو غیر جنګي ماموریت و، چې د ناټو تر مشرۍ لاندې یې افغان

[13] یوناما او د بشري حقونو عالي کمیشنري دفتر، افغانستان: په وسله والو شخړو کې د ملکي وګړو ساتنه - کلنی راپور ۲۰۲۰ (فبروري ۲۰۲۱)، مخ ۹۷ د لاسرسۍ وړ:
.https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_report_۲۰۲۰_revs۳.pdf

[14] د «پخواني حکومت» اصطلاح له دې وروسته د افغانستان د اسلامي جمهوریت پخواني حکومت ته اشاره کوي، چې د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه یې واک له لاسه ورکړ او طالبان د افغانستان د برحاله چارواکي په توګه واکمن شول.

[15] افغانستان: د وسلوالې شخړې پر مهال د ملکي وګړو ساتنه – کلنی راپور ۲۰۲۰ (یوناما او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمېشنري دفتر، فبروري ۲۰۲۱)، مخ ۱۰۱. د لاسرسۍ وړ:
https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_report_۲۰۲۰_revs۳.pdf.

[16] د متحده ایالاتو ماموریت په افغانستان کې، *د متحده ایالاتو او افغانستان تاریخ*. چې د لاسرسي وړ ده: https://af.usembassy.gov/history-of-the-u-s-and-afghanistan/؛ د متحده ایالاتو د دولت آرشیف، *د ترهګرۍ پر ضد نړیواله جګړه: لومړنۍ ۱۰۰ ورځې*. د لاسرسي وړ:
https://۲۰۰۱-۲۰۰۹.state.gov/s/ct/rls/wh/٦٩٤٧.htm
د متحده ایالاتو د دفاع د تلفاتو د تحلیل سیستم، «تلپاتې آزادۍ عملیات». چې د لاسرسي وړ ده:
https://dcas.dmdc.osd.mil/dcas/app/conflictCasualties/oef

[17] د افغان موقتي اداره هغه اداره وه چې د ۲۰۰۱ کال د ډسمبر له ۲۲مې څخه تر ۲۰۰۲ کال د جون تر ۱۳مې پورې د افغانستان د شېږو میاشتو لپاره واکمنه وه. دغه اداره د بن ترون له مخې جوړه شوه، چې یو لړ تړونونه وو او د ۲۰۰۱ کال د ډسمبر په ۵مه په بن کې د افغانستان په اړه په یوه نړیوال کنفرانس کې تصویب شول. نور مالوماتو لپاره وګورئ: https://unterm.un.org/unterm۲/en/view/۷۸bdd۷۵b-b١٦٧-٤٣d۲-a٩de-dac۲۸eaa٩۲۳١.

[18] ناټو، *په افغانستان کې د آیساف ماموریت (۲۰۰۱–۲۰۱۴)*، ۳۰ مې ۲۰۲۲. د لاسرسي وړ:
https://www.nato.int/cps/en/natohq/topics_٦٩٣٦٦.htm

ملي امنيتي ځواکونو ته روزنه، مرسته او سلا مشورې ورکولې. همممهاله، د آزادۍ ساتنې علمياتو د تلپاتې آزادۍ عملياتو ځای ونيوه، چې دا د امريکا له لوري په افغانستان کې د جګړې يېزو عملياتو د پای اعلان و. د دې عملياتو تمرکز د ترهګرۍ پر ضد عملياتو باندې و، چې د ۲۰۱۴ کال د افغانستان او امريکا ترمنځ د دوه اړخيز امنيتي تړون له مخې ترسره کېدل.[۱۹] په ۲۹ فبرورې ۲۰۲۰، دوحه کې، د امريکا متحده ايالاتو او طالبانو تر منځ يو تړون لاسليک شو، چې له مخې يې ټول نړيوال ځواکونه تر مۍ ۲۰۲۱ پورې له افغانستان څخه ووتل.[۲۰] ماموريت د طالبانو له واک ته رسېدو وروسته، د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په لومړيو کې پای ته ورسول شو.[۲۱]

- **حکومت پلوه وسلوالې ډلې** هم له وسلوالو مخالفو ډلو سره په جګړه کې ښکېلې وې. دغه ډلې له دولتي ځواکونو بېلې وې او د افغانستان د قوانينو له مخې يې هېڅ قانوني بنسټ نه درلود. په دې ډلو کې د ولسي پاڅون خوځښت (چې يو ټولنيز دفاعي ابتکار و)، د خوست د ساتنې ځواک، او په پکتيکا کې مېشت هغه ځواکونه شامل وو چې د "شاهين ځواکونو" په نوم پېژندل کېدل.

- **طالبان** د پخواني حکومت او د هغه د پخوانيو شريکانو پر وړاندې د وسلوالې جګړې اصلي مخالف اړخ و. طالبان په ۱۹۹۰مې لسيزې منځ کې راڅرګند شول او په ۱۹۹۶ کال کې يې د افغانستان کنټرول خپل کړ. هغوی تر ۲۰۰۱ کال پورې واکمن پاتې شول، خو د متحده ايالاتو په مشرۍ د نظامي مداخلې وروسته له واکه راوپرځول شول. له هغه وروسته، طالبانو بېرته د ياغي ډلو په توګه سر راپورته کړ او د اسلامي جمهوريت د حکومت ("حکومت پلوه ځواکونو" لکه پورته ياد شوي) پر وړاندې يې وسلوال مقاومت پيل کړ. د آيساف ځواکونو له وتلو وروسته په ۲۰۱۴ کال کې، طالبانو په تدريجي ډول په افغانستان کې خپلې سيمې پراخې کړې او کله ناکله يې پراخ بريدونه هم ترسره کول. طالبانو د هېواد په ډېرو ولايتونو کې تش په نامه اداري جوړښتونه رامنځته کړل. په پای کې، د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه، طالبانو د پخواني حکومت له سقوط وروسته په افغانستان کې د *برحاله* واکمنو په توګه کنټرول ترلاسه کړ.

- **د داعش خراسان څانګه** په رسمي توګه د ۲۰۱۵ کال په جنورۍ کې جوړه شوه[۲۲]. پدې راپور کې د څېړل شوې مودې په جريان کې، داعش-خراسان په عمده ډول د افغانستان ختيځو سيمو کې فعاله وو. د دې ډلې پراخېدل د افغان ملي امنيتي ځواکونو او نړيوالو پوځي ځواکونو عمليات (په ګډون د هوايي بريدونو)، د سيمه ييزو ملېشو بسيج، او په بېله توګه، د طالبانو بريدونو محدوده کړل. تر ۲۰۲۰ کال پورې، داعش-خراسان د ختيځو سيمو ډېره برخه له لاسه ورکړې وه او خپل تمرکز يې پر وخت ناوخت بريدونو، خو لوړ تخريبي بريدونو باندې واړاوه، چې زياتره يې د تعبيه شوی چاودېدونکي توکي له لارې په کابل او نورو ښارونو کې ترسره کېدل.

که څه هم د دې راپور ډېری پېښې د ۲۰۰۱ او ۲۰۲۱ کلونو ترمنځ واقع شوې دي، يو شمېر مرکه شوو کسانو د تاوتريخوالي هغه پېښې هم يادې کړې چې د ۱۹۹۴ او ۱۹۹۶ کلونو ترمنځ د افغانستان د کورنۍ جګړې پر مهال رامنځته شوې وې. په دغه وخت کې، بېلابېلې وسلوالې ډلې د موقت افغان حکومت د کنټرول لپاره په جګړه کې ښکېلې وې. دا هماغه دوره وه چې طالبان پکې راڅرګند شول او بالاخره يې د ۱۹۹۶ تر ۲۰۰۱ پورې پر هېواد واک ترلاسه کړ.

[۱۹] يوناما ، د وسلوالې شخړې پر مهال د ملکي وګړو ساتنه – کلنی راپور ۲۰۱۸، ۵۸م مخ د فبرورې . سرچينه: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/unama_annual_protection_of_civilians_report_۲۰۱۸_-_۲۳_feb_۲۰۱۹_-_english.pdf; د متحده ايالاتو د دفاع د تلفاتو د تحليل سيستم، «د ازادۍ ساتنې عمليات». چې د لاسرسي وړ ده: https://dcas.dmdc.osd.mil/dcas/app/conflictCasualties/ofs.

[۲۰] د افغانستان اسلامي امارت او د متحده ايالاتو تر منځ د افغانستان د سولې لپاره تړون (چې د متحده ايالاتو له خوا د يوه دولت په توګه نه پېژندل کېږي او د طالبانو په نوم ياديږي) ۲۹ د فبرورې ۲۰۲۰. چې د لاسرسي وړ ده: https://www.state.gov/wp-content/uploads/۲۰۲۰/۰۲/Agreement-For-Bringing-Peace-to-Afghanistan-۰۲.۲۹,۲۰.pdf.

[۲۱] ناټو (د چټک ملاتړ ماموريت (۲۰۲۵-۲۰۲۱) . د مۍ ۳۰مه، ۲۰۲۲ چې د لاسرسي وړ ده: https://www.nato.int/cps/en/natohq/topics_۱۱۳۶۹٤.htm

[۲۲] د ويسټپاينټ د ترهګرۍ پر ضد د مبارزې مرکز، « د طالبانو تر واک لاندې افغانستان کې د اسلامي دولت ګواښ: د داعش-خراسان د بيا راڅرګندېدو څارنه» (جنورۍ ۲۰۲۲). شته په: https://ctc.westpoint.edu/the-islamic-state-threat-in-taliban-afghanistan-tracing-the-resurgence-of-islamic-state-khorasan/.

## په افغانستان کې د وسلوالې شخړې اغیزې پر بشري حقونو

د یوناما د بشري حقونو څانګې په ۲۰۰۹[23] کال کې په افغانستان کې د ملکي تلفاتو ثبت پیل کړ. د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ له پیل څخه تر د ۲۰۲۱ کال د اګست تر ۱۵مې پورې، یوناما د وسلوالې شخړې له امله د ۴۰,۰۰۰ څخه زیاتو ملکي کسانو د وژل کېدو او له ۷۷,۰۰۰ څخه د زیاتو ملکي وګړو د ټپي کېدو پیښې ثبت کړې دي. په همدې موده کې، یوناما د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې د توقیف ځایونه څارلي او هلته یې د جګړې اړوند بندي شویو کسانو پر ضد د نړیوالو بشري حقونو او نړیوال بشردوستانه قانون پراخې سرغړونې ثبت کړې دي.[24] یوناما همداراز د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو، او د رسنیو کارکوونکو هدفي وژنې،[25] او د ماشومانو پر ضد درنې سرغړونې[26] څارلې او ثبت کړې دي. د جګړې اړوند جنسي تاوتریخوالی، چې هم ښځې او هم نارینه یې قربانیان وو، که څه هم لږ راپور شوي، خو د جګړې د اړخونو لخوا ترسره شوی دی.[27]

له یوناما سربېره، یو لړ نورو ادارو هم په افغانستان کې د وسلوالې شخړې د بشري حقونو اغېز په اړه علني راپورونه ورکړي دي.[28]

د ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ کلونو ترمنځ، یوناما د وسلوالې شخړې له قربانیانو سره تفصیلي مرکې ترسره کړې.[29] د مرکه شویو کسانو په وینا، د دوی د ځور او زیان د پېژندنې، مناسب او پر وخت تاوان ورکولو، او د ملکي تلفاتو د پېښو وروسته د دوی د حقونو د خوندیتوب په برخه کې ډېر لږ څه ترسره شوي دي. یوازې په استثنایي مواردو کې د جګړې مسؤلو اړخونو د پېښې له امله پېښ کړی ضرر منلی یا یې بښنه غوښتې ده. ډېری قربانیان نه پوهېدل چې د دوی د زیانمنېدو پېښه څېړل کېږي که نه، او ډېرو لږو کسانو تاوان تر لاسه کړي دي. ډېری قربانیانو ویلي چې د ورته پېښو نه تکرار د دوی لپاره ډېر مهم دی، او هغوی د سولې هیله ښرګنده کړې ده.

[23] یوناما د ملکي تلفاتو پراخ اسناد ثبتول په ۲۰۰۹ کال کې پیل کړل، خو د ملکي وګړو د ساتنې کلني راپورونه له ۲۰۰۶ کال راهیسې خپرېږي، د لاسرسي ور: https://unama.unmissions.org/reports-protection-civilians-armed-conflict.
[24] د افغانستان په توقیف خونو کې د جګړې اړوند بندیانو د چلند په اړه د یوناما راپورونه وګورئ. د لاسرسي ور: https://unama.unmissions.org/treatment-conflict-related-detainees-afghan-custody-٠.
[25] یوناما، ځانګړی راپور: په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او رسنیو د کارمندانو وژنه (۱۴ فبروري ۲۰۲۱). په لاندې پته شتون لري: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/special_report_-_killing_of_human_rights_defenders_and_journalists_٢٠١٨-٢٠٢١_-_unama_-_١٤_february_٢٠٢١_english_٠.pdf
[26] په وسلواله شخړه کې د یوناما راپور پر ماشومانو چې د لاسرسي ور ده: https://unama.unmissions.org/children-and-armed-conflict-٠.
[27] د میرمنو د حقونو په اړه د یوناما راپور چې د لاسرسي ور ده https://unama.unmissions.org/reports-womens-rights-women-peace-and-security.
[28] د مثال په ډول وګورۍ د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون راپور، د لاسرسي ور: https://www.refworld.org/search?sm_document_source_name%٥B%٥D=Afghanistan+Independent+Human+Rights+Commission+%٢٨AIHRC%٢٩&sort=score&order=desc؛ د بشر حقونو څار، *«هغوي د دې په څېر ډېر وویشتل» د سي آي اې په ملاتړ د افغان ځواکونو شپني غیرمسولانه چاپې* (۲۰۱۹ اکتوبر ۳۱). د لاسرسي ور: https://www.hrw.org/report/2019/10/31/theyve-shot-many/abusive-night-raids-cia-backed-afghan-strike-forces؛ د بشر حقونو څار، *«هیڅ امن ځای نشته» په افغانستان کې د بلواګرو له خوا په ملکي وګړو بریدونه* (۲۰۱۸ می ۸). د لاسرسي ور: https://www.hrw.org/report/2018/05/08/no-safe-place/insurgent-attacks-civilians-afghanistan؛ د بشر حقونو څار، *«په لومړیو کرښو کې زده کړه» د افغانستان په بغلان ولایت کې د ښوونځیو څخه پوځي ګټه اخیستنه* (۲۰۱۶ آګست ۱۷). د لاسرسي ور: https://www.hrw.org/report/2016/08/17/education-front-lines/military-use-schools-afghanistans-baghlan-province؛ پاتریشیا ګوسمن او ساري کووا (د افغان شنونکو شبکه)، *«مونږ ته ووایاست چې دا څنګه پای ته ورسیدل»* ۲۰۱۳ جون، د لاسرسي ور: https://www.afghanistan-analysts.org/dari-pashto/dossiers/tell-us-how-this-ends-transitional-justice-and-prospects-for-peace-in-afghanistan/ : نړیوال بښنه، *افغانستان: نه تیښته: طالبانو ته د افغانستان لاسته ورتلل، جنګي جنایتونه او ملکیانو ته ضرر* (۲۰۲۱ ډسمبر ۱۵). د لاسرسي ور: https://www.amnesty.org/en/documents/asa11/5025/2021/en/
[29] *یوناما او د بشري حقونو عالي کمیشنرۍ دفتر، افغانستان: په وسله والو شخړو کې د ملکي وګړو ساتنه - کلنی راپور ۲۰۲۰ (فبروري ۲۰۲۱). په لاندې پته شتون لري:* https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_report_٢٠٢٠_revs٣.pdf.

## په افغانستان کې د وسلوالې شخړې د قربانیانو د حقونو د تحقق لپاره پخوانۍ هڅې

که څه هم په تېرو کلونو کې په افغانستان کې د وسلوالې شخړې د قربانیانو د حقونو د تحقق لپاره ځینې هڅې شوې دي، خو دا هڅې، د بېلابېلو عواملو له امله، زیاتره بې پایلې پاتې شوې دي. لاندې برخه، په کورنیو او نړیوالو کچو د هغو هڅو لنډیز وړاندې کوي چې د شخړې پر مهال د نړیوالو بشري حقونو او نړیوال بشردوستانه قانون د سرغړونو د څېړلو او حساب ورکونې د تأمین لپاره د اړخونو د مکلفیتونو د پوره کولو په موخه ترسره شوي دي.

*په افغانستان کې د قربانیانو حقونو ته د رسیدګۍ لپاره هڅې*

په ۲۰۰۵ کال کې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون یوه ملي مشورتي پروسه پیل کړه تر څو وڅېړي چې افغانان غواړي تر څو پخوانۍ د بشري حقونو سرغړونې وڅېړل شي، او که هو، نو څنګه؟ د دې مشورتي پروسې پایله د "د عدالت غوښتنه" [۳۰] په نوم د راپور خپرېدل و، راپور موندلي وو چې: "زیات شمېر خلک چې موږ ورسره خبرې کړې، د عدالت نشتوالي او د خپلو حقونو د نه خوندیتوب له امله پر دولتي ادارو ژوره بې باوري لري، او دوی دا هیله لري چې د دوی کړاوونو ته باید رسیدګي وشي.[۳۱]راپور د وخت حکومت او نړیوالې ټولنې ته یو لړ سپارښتنې وړاندې کړې.

په ورته وخت کې کله چې مشورتي پروسه پیل شوه، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمېشنري دفتر هم یو راپور چمتو کړ چې د ۱۹۷۸ تر ۲۰۰۱ کلونو پورې د بشري حقونو سرغړونو نقشه یې کښلې وه. خو دغه راپور هیڅکله د ملګرو ملتونو له خوا په عام ډول خپور نه شو.[۳۲]

د ۲۰۰۶ کال د ډسمبر په میاشت کې، د افغانستان د اسلامي جمهوریت پخواني ولسمشر، حامد کرزي، د "سولې، پخلاینې او عدالت د عمل پلان" پیل کړ، چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او یوناما په همکارۍ چمتو شوی و. دې پلان پر څلورو کلیدي برخو تمرکز درلود: "۱) د افغان ولس د کړاوونو پېژندنه؛ ۲) د حساب ورکونکو او باور وړ دولتي ادارو ډاډمن کول او له ادارو څخه د بشري حقونو سرغړوونکو ایستل؛ ۳) د حقیقت موندنه او مستند کول؛ ۴) د ملي یووالي د پیاوړتیا لپاره پخلاینه.[۳۳] د عمل پلان یوه مهمه ماده دا وه چې باید د حساب ورکونې مؤثر او معقول میکانیزمونه جوړ شي چې د معافیت مخه ونیسي، او د جنګي جنایتونو، د بشریت ضد جنایتونو او نورو درنو سرغړونو ته معافیت ورنکړل شي.خو دا پلان هیڅکله بشپړ عملي نه شو.[۳۴]

د ۲۰۰۸ کال په مې کې، د افغانستان ملي شورا "د ملي پخلاینې، عمومي بښنې او ملي ثبات قانون" تصویب کړ، خو دا قانون تر ۲۰۱۰ پورې په عام ډول خپور نه شو.[۳۵] دغه قانون ټولو هغو خواوو ته پراخه بښنه ورکړه چې د ۲۰۰۲ کال له موقتې ادارې تر جوړېدو مخکې د جګړې برخه وې. په قانون کې راغلي: "ټولې سیاسي ډلې یا هغه ډلې چې د موقتې ادارې له جوړېدو وړاندې په هر ډول جګړه کې ښکېلې وې، قانوني یا قضایي ډول نه شي تعقیب کېدای"[۳۶] خو د قانون د ۳(۳) مادې له مخې، د قربانیانو د حق العبد دعوو حق خوندي پاتې وو. د شریعت له مخې، دا حق قربانیانو ته اجازه ورکوي چې له دولت څخه

[۳۰] په افغانستان کې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ، د عدالت غوښتنه په افغانستان کې د بشري حقونو د سرغړونو لپاره یوه ملي مشورتي پروسه( ۲۵ د جنوري ۲۰۰۵) . https://www.refworld.org/reference/confdoc/aihrc/۲۰۰۵/en/۵۸۵۰۰

[۳۱] په افغانستان کې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ، د عدالت غوښتنه په افغانستان کې د بشري حقونو د سرغړونو لپاره یوه ملي مشورتي پروسه( ۲۵ د جنوري ۲۰۰۵) https://www.refworld.org/reference/confdoc/aihrc/۲۰۰۵/en/۵۸۵۰۰.

[۳۲] کېټ کلارک (د افغان شنونکو شبکه)، "د افغان شخړې د لومړیو دوو لسیزو د جګړې جرمونو راپور: د ملګرو ملتونو د نقشې راپور بیا خپرونه"، د ۲۰۲۴ کال د اګست ۱۵مه نېټه. موجود دی په: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/rights-freedom/war-crimes-in-the-first-two-decades-of-the-afghan-conflict-republishing-the-un-mapping-report/

[۳۳] په افغانستان کې سوله، پخلاینه او عدالت— د افغانستان د اسلامي جمهوریت د حکومت د عمل پلان (۶–۷ جون ۲۰۰۵). موجود دی په: https://www.legal-tools.org/doc/۱۷۰۳۳d/pdf/.

[۳۴] پاتریشیا ګوسمن او ساري کوو (د افغان شنونکو شبکه)، "راتهووایه دا به څنګه پای ته رسېږي"، جون ۲۰۱۳. موجود دی په: https://www.afghanistan-analysts.org/dari-pashto/dossiers/tell-us-how-this-ends-transitional-justice-and-prospects-for-peace-in-afghanistan/.

[۳۵] ساري کوو (د افغان شنونکو شبکه)، "له دوو کلونو حقوقي بېسرنوشته حالت وروسته: د منظور شوي 'بخښنې قانون' لومړنی نظر"، د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ ۲۲مه نېټه. موجود دی په: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/rights-freedom/after-two-years-in-legal-limbo-a-first-glance-at-the-approved-amnesty-law/.

[۳٦] د ملي پخلاینې، عمومي بخښنې او ملي ثبات قانون، د ۳مې مادې (۱) برخه.

وغواړي د مجرمينو پر ضد عدلي اقدامات وکړي، که څه هم عمومي بخښنه شوې وي .يوناما او د بشري حقونو عالي کمشنري دواړو د دې قانون د لغوه کېدو غوښتنه وکړه، ځکه دا د افغانستان له هغو نړيوالو مکلفيتونو سره په ټکر کې و چې بايد د بشري حقونو د جدي سرغړونو پلټنه او د تورنو عاملينو محاکمه يقيني کړي.[۳۷]

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون بل نوښت د ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۱۱ پورې د يوې بلې "نقشې جوړونې پروژه " وه، چې د ۱۹۷۸ تر ۲۰۰۱ پورې د بشري حقونو سرغړونو اسناد يې ټول کړل. دا راپور ولسمشر کرزي او وروسته ولسمشر غني ته وسپارل شو، خو هيڅکله خپور نه شو.

پخواني حکومت يو شمېر هڅې وکړې تر څو د بشري حقونو او نړيوال بشردوستانه قانون د سرغړونو د حساب ورکونې پروسه ډاډمنه کړي، په شمول د:

- په فبروري ۲۰۱۸ کال کې، يو تعديل شوی جزايي قانون نافذ شو. دې د روم د نړيوالې جنايي محکمې په اساسنامه کې ليست شوي نړيوال جرمونه جرم وګرځول، په شمول د: جنګي جرمونه، د انسانيت پر وړاندې جرمونه، نسل وژنه او يرغل. همدارز، د نوي د جزا قانون په تعقيب سره، د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې، د "د نړيوالو جنايتونو رياست" د پخواني حکومت د لوی څارنوال په دفتر کې جوړ شو، چې دنده يې د جګړې پرمهال د نړيوالو بشري حقونو او نړيوال بشردوستانه قانونو د سرغړونو پلټنه وه، دا رياست مکلف و چې د پخواني حکومت امنيتي ځواکونو، طالبانو، داعش-خراسان او نورو وسلوالو ډلو د سرغړونو څېړنه وکړي.[۳۸] د راپورونو له مخې، د نړيوالو جرمونو رياست د قضيو په ثبتولو کې له ستونزو سره مخ و، او د طالبانو د واکمنېدو پر مهال د هغو قضيو شمېر نامعلوم دی چې لا هم دوام لري.
- پخواني حکومت ځينې پلټنې هم ترسره کړې چې په پايله کې يې هغه کسانو پر وړاندې چې په وسله واله جګړه کې د سرغړونو په ترسره کولو تورن وو، د سزا د تطبيق پرېکړې هم وشوې. که څه هم د دغو قضيو بشپړ اسناد شتون نه لري، يوناما د تېر حکومت په دوره کې د مرګ د سزا قضيې څارلې دي، په شمول د هغو اشخاصو اعدامونه چې د شخړو پورې اړوند جرمونو په تور محکوم شوي دي.[۳۹] د بېلګې په توګه په ۲۰۰۴ کال کې د يوه پخواني قوماندان اعدام، چې د کورنۍ جګړې پر مهال يې جرمونه ترسره کړي وو. د پخواني حکومت له خوا د ترسره شويو اعدامونو په غبرګون کې، ملګرو ملتونو د مرګ د سزا د درولو غوښتنه وکړه.[۴۰] ملګرو ملتونو او د بشري حقونو ډلو هم ډېری وخت، د پخواني حکومت پر مهال، د مرګ سزا په قضيو کې د قانوني بهير د نشتوالي او دعادلانه محاکمې له معيارونو نه رعايت کولو په اړه اندېښنې څرګندې کړې وې.[۴۱]

[۳۷] يوناما ( په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی)، "د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د لوړپوړي چارواکي غوښتنه د بخښنې د قانون د لغوه کولو په اړه"، د ۲۰۱۰ کال د مارچ ۲۵مه نېټه. موجود دی په: https://unama.unmissions.org/top-un-human-rights-official-afghanistan-calls-repeal-amnesty-law.

[۳۸] د ځواکونو د حالت تړونونو په هغه وخت کې د نړيوالو پوځي ځواکونو د جرمونو د څېړنې او قضايي صلاحيت مخه نيوله.

[۳۹] احسان قانع او جيلينا بجليکا (د افغان شنونکو شبکه)، "د افغانستان وروستۍ اعدامونه: د اعدام د سزا د غوښتنو په ځواب کې"، د ۲۰۱۶ کال د مې ۱۱مه نېټه. موجود دی په: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/rights-freedom/afghanistans-latest-executions-responding-to-calls-for-capital-punishment/.

[۴۰] يوناما، د يوناما اعلاميه چې نن په کابل کې د ترسره شويو اعدامونو په اړه خپره شوه (۸ مې ۲۰۱۶). دلته شتون لري: https://unama.unmissions.org/unama-statement-executions-carried-out-kabul-today يوناما، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو دفتر له افغان حکومت څخه غوښتنه کوي چې د جنسي تيري په قضيه کې د مرګ سزا ودروي (۲۷ سپتمبر ۲۰۱۴). شتون لري په: https://unama.unmissions.org/un-human-rights-office-urges-afghan-government-halt-death-sentences-rape-case.

[۴۱] د بېلګې په توګه وګورئ: د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د دفتر د مطبوعاتي غونډې يادښتونه: افغانستان، ۲۰۱۴ کال. https://www.ohchr.org/en/press-briefing-notes/٢٠١٤/٠٩/press-briefing-notes-afghanistan يوناما، "د ملګرو ملتونو د بشري حقونو دفتر د افغانستان له حکومت څخه د جنسي تيري په قضيه کې د اعدام د سزا د درولو غوښتنه کوي) "۲۷ سپتمبر ۲۰۱۴ https://unama.unmissions.org/un-human-rights-office-urges-afghan-government-halt-death-sentences-rape-case. د بخښنې نړيوال سازمان(Amnesty International) ، "په ټوله نړۍ کې د اعدام سزا: د ۲۰۰۴ کال پرمختګونه "(اپريل ۲۰۰۴)، مخونه ۵–۶. https://www.amnesty.org/ar/wp-content/uploads/٢٠٢١/٠٦/act٥٠٠٠١٢٠٠٥en.pdf.

- په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي د جګړې اړوند بندیانو د شکنجې او ناوړه چلند پر دوامداره مستندولو او عامه راپور ورکولو په ځواب کې،[42]پخواني حکومت ځینې اړوند ګامونه پورته کړل، چې په ۲۰۱۵ کال کې د "د شکنجې له منځه وړلو ملي پلان" ته ژمنتیا او په اکتوبر ۲۰۱۸ کې د شکنجې د منع قانون تصویب پکې شامل وو.[43]

د ۲۰۲۰ د فبرورۍ په ۲۹مه، د متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ د افغانستان د سولې راوستلو تړون لاسلیک شو.[44] سره له دې چې دغه تړون د افغانانو تر منځ د خبرو او مذاکراتو یادونه کړې، خو د قربانیانو د حقونو، عدالت او حساب ورکونې په اړه کوم ځانګړي مواد شامل نه وه.

د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه د طالبانو له خوا د افغانستان د نیولو راهیسې، *برحاله* چارواکو د جګړې په جریان کې د ترسره شویو نړیوالو بشري حقونو قانون او نړیوال بشردوستانه قانون سرغړونو د پلټنې یا حساب ورکولو لپاره هیڅ پلان نه دی اعلان کړی. دوی یوازې د پخواني حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو لپاره "عمومي بښنه" اعلان کړه.[45] خو د دې بښنې د حدودو په اړه کوم لیکلی وضاحت نشته، او *برحاله* چارواکو عام څرګندونې دا ښيي چې دا بښنه د پخوانی دولتي چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو لپاره یو پراخ خوندیتوب تضمینوي – چې ښايي د افغانستان له هغو نړیوالو مکلفیتونو سره مطابقت ونه لري چې د جدي سرغړونو عاملینو څخه تحقیق او پلټنې وشي. سربېره پر دې، یوناما په دوامداره توګه د هغو بشري حقونو څخه د سرغړونو راپورونه خپاره کړي چې د *برحاله* چارواکو لخوا د پخوانی حکومتي چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پر ضد ترسره شوي – دا کار د دوی له خوا د اعلان شوې بښنې (او د نړیوالو بشري حقونو له قانون) سره په ښکاره تضاد کې دی.[46]

*په افغانستان کې د نړیوالو پوځي ځواکونو د چلند په اړه هڅې*

هغه هېوادونه چې خپل امنیتي ځواکونو یې افغانستان ته استولي وو، د بشري حقونو د نړیوال قانون او نړیوال بشردوستانه قانون د احتمالي سرغړونو د څېړلو او حساب ورکونې د تأمین په برخه کې محدودې هڅې کړي دي.

د قاطع ملاتړ ماموریت په افغانستان کې د ځواکونو د وضعیت موافقې له مخې فعالیت کاوه، چې پکې د ناټو ځواکونو د استقرار شرایط او د هغوی د فعالیت حدود تعریف شوي وو. همدارنګه، د امریکا متحده ایالاتو له افغانستان سره ورته دوه اړخیز امنیتي تړون درلود. دواړه سندونه د پخواني حکومت لخوا پرېي خبرې اترې او موافقه وشوه. دوي دواړو بهرني پوځي پرسونل ته له مدني او جزايي تعقیب څخه معافیت ورکړی و، او د هغوی د قضیو د څېړلو ځانګړی صلاحیت یې اړوندو

[42] د یوناما راپورونه د بندیانو د چلند په اړه څرګندوي چې ډېری د جګړې اړوند بندیان چې مرکې ورسره شوي وې، د نیولو او پلټنې پر مهال په ګڼ شمېر د ملي امنیت ریاست او د افغان ملي پولیسو د ادارو په توقیف ځایونو کې شکنجه او ناوړه چلند تجربه کړی، خو د شکنجې یا ناوړه چلند لپاره محدود مسؤلیت یا محاسبه شتون درلوده. د بندیانو د چلند په اړه د یوناما راپورونه وګورئ. موجود دی په:
https://unama.unmissions.org/treatment-conflict-related-detainees-afghan-custody-۰.

[43] د طالبانو د واکمنۍ پر مهال، پخواني حکومت د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي کوونکو چلند یا سزا پر وړاندې د مبارزې لپاره د تړون د اختیاري پروتوکول په اساس، چې ورته یې په اپریل ۲۰۱۸ کې لاسلیک کړی و، هېڅ ملي مخنیوییز میکانیزم نه و ساتلی، ټاکلی یا جوړ کړی.

[44] د متحده ایالاتو د امریکا ترمنځ، د ۲۰۲۰ کال د فبرورۍ ۲۹مه نېټه د افغانستان د سولې راوستلو تړون، د افغانستان اسلامي امارت چې د متحده ایالاتو لهخوا د دولت په توګه نه دی پېژندل شوی او د طالبانو په نوم یادیږي سرچینه: https://www.state.gov/wp-content/uploads/۲۰۲۰/۰۲/Agreement-For-Bringing-Peace-to-Afghanistan-۰۲,۲۹,۲۰.pdf.

[45] د افغانستان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه یو ټولیز اصطلاح ده چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پخواني حکومت امنیتي ځواکونو ته اشاره کوي، چې پکې، د افغانستان سرحدي ځواک, د افغانستان سیمهییزه پولیس ،د افغانستان ملي اردو ،د افغانستان هوايي ځواک ،د افغانستان ملي پولیس ، د افغانستان د ملي نظم ځواک ، د افغانستان ځانګړي ځواکونه ، د افغانستان سیمهییزه اردو چې د د افغانستان ملي اردو – سیمهییز ځواک په نوم هم یادیږي، او د ملي امنیت عمومي ریاست شامل دي.

[46] د سولې د ټینګښت خنډ: د پخواني حکومت د چارواکو او د پخوانیو امنیتي ځواکونو د غړو پر وړاندې د بشري حقونو سرغړونې (یوناما، د ۲۰۲۳ کال د اګست ۲۲مه) د لاسرسۍ وړ: https://unama.unmissions.org/barrier-securing-peace-hr-violations-against-former-government-armed-forces.

هېوادونو ته سپارلی و.[٤٧] په نومبر ۲۰۱۹ کې، د امریکا ولسمشر درې هغه پوځي سرتېري وبښل چې د افغانستان د جګړې په تړاو د جنګي جرمونو په تور د نظامي محکمو له خوا محکوم شوي وو.[٤٨]

یو شمېر هېوادونو د خپلو ځواکونو د کړنو د څېړنې بهیر پیل کړی یا روان ساتلی دی:

آسټرالیا

له هغې وروسته چې په ۲۰۱۶ کال کې د آسټرالیا د دفاعي ځواکونو د غړو له لوري په افغانستان کې د ناقانونه وژنو تورونه د تلویزیوني خپرونې له لارې خپاره شول، د آسټرالیا د دفاعي ځواکونو له خوا د (د افغانستان د پلټنې) د آسټرالیا د دفاعي ځواکونو د عمومي تفتیش دفتر په نوم یو ځانګړی تحقیقاتي پلاوی جوړ شو. د آسټرالیا د دفاعي ځواکونو په وینا، دا تحقیقات د هغو "آوازو او تورونو په ځواب کې پیل شول چې د ۲۰۰۵ څخه تر ۲۰۱۶ کلونو پورې د ځانګړو عملیاتو د ډلې د غړو له لوري د وسلوالو شخړو د قانون د احتمالي سرغړونو په اړه راپور شوي وو".[٤٩] دا تحقیقاتي راپور په ۲۰۲۰ کال کې خپور شو او په کې د ۲۳ پېښو په اړه باوري شواهد موندل شوي چې د آسټرالیا د دفاعي ځواکونو د پرسونل له لوري یا د هغوی په هدایت ناقانونه وژنې شوې وې، چې په پایله کې یې ۳۹ کسان وژل شوي وو. همدارنګه راپور وموندله چې دوو کسانو ته د آسټرالیا د ځواکونو د پرسونل په لاس "ظالمانه چلند" شوی و. راپور د تاوان د ورکړې په اړه هم سپارښتنې وکړې او ویې ویل: "په هغو مواردو کې چې باوري شواهد موجود وي چې یو پېژندل شوی یا پېژندېدونکی افغان وګړی ناقانونه وژل شوی وي، آسټرالیا باید د هغه د کورنۍ تاوان ورکړي".[٥٠]

د راپور له خپرېدو وروسته، د آسټرالیا حکومت د ځانګړي څېړونکي دفتر ته دنده وسپارله چې د آسټرالیا د فدرالي پولیسو سره په ګډه د آسټرالیا د دفاعي ځواکونو د غړو جنايي کړنو تورونه په اړه پلټنې وکړي او که شواهد کافي وي، موضوع دې د دولت د لوي څارنوالۍ دفتر ته راجع کړي.[٥١] په ۲۰۲۳ کال کې، د ځانګړي څېړونکي دفتر او فدرالي پولیسو د څېړنو وروسته، د اسټرالیا د ځانګړو ځواکونو یو پخوانی سرتیری په افغانستان کې د اسټرالیا د دفاعي ځواکونو سره د خدمت پرمهال د یو افغان سړي د وژنې په تور ونیول شو او تورن شو چې په افغانستان کې د خدمت پر مهال یې یو افغان کس وژلی و .خو په نومبر[٥٢] ۲۰۲۴ کې رسنیو راپور ورکړ چې د هغه پر ضد تورونه لغوه شوي دي.[٥٣] د ۲۰۲۶ د اپرېل په ۷، د اسټرالیا د دفاعي ځواک یو پخوانی

[٤٧] د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د متحده ایالاتو د امریکا ترمنځ د امنیت او دفاع د همکاریو تړون کابل، د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر ۳۰مه نېټه، ماده ۱۳.
سرچینه: https://www.afghanistan-analysts.org/wp-content/uploads/٢٠١٤/١٠/BSA-ENGLISH-AFG.pdf د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) او د افغانستان د اسلامي جمهوریت ترمنځ تړون د ناټو د ځواکونو او د ناټو د کارکوونکو د وضعیت په اړه، چې د دواړو خواوو تر منځ د هوکړې پر بنسټ د ناټو تر مشرۍ لاندې فعالیتونه په افغانستان کې تنظیموي؛ کابل، د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر ۳۰مه نېټه، ماده ۱۱. سرچینه: https://www.nato.int/nato_static_fl٢٠١٤/assets/pdf/pdf_topics/٢٠١٤١٢١٦_١٤٠٩١٣-SOFA-en.pdf

[٤٨] ولسمشر ټرمپ د ګټو بخښنو په صادرولو سره د جنګي جرمونو په تور د تورنو یا محکوم شویو امریکايي سرتیرو په محاکمو کې مداخله کوي، د نړیوال قانون امریکايي ژورنال، ټوک ۱۱۴، ګڼه ۲ (اپریل ۲۰۲۰)، مخونه ۳۰۷-۳۱۲.

[٤٩] د استرالیا دولت، دفاعي د افغانستان د اصلاحاتو تحقیقاتي پلان(عامه خپور شوی راپور) ۲۰۲۱ ، مخ ۱۱

[٥٠] د استرالیا دولت، دفاعي د افغانستان د اصلاحاتو تحقیقاتي پلان(عامه خپور شوی راپور) ۲۰۲۱ ، مخ ۱۷۳ پراګراف (۳۲). د لاسرسی ورړ: https://www.defence.gov.au/about/reviews-inquiries/afghanistan-inquiry.

[٥١] د استرالیا دولت، دفاعي د افغانستان د اصلاحاتو تحقیقاتي پلان۲۰۲۱ ، مخ ۱۱. ). د لاسرسی ورړ: https://www.defence.gov.au/about/reviews-inquiries/afghanistan-inquiry.

[٥٢] بي‌بي‌سي نیوز ، پخوانی آسترالیايي د ځانګړو ځواکونو سرتېری د افغانستان د جنګي جرم له امله ونیول شو"، د ۲۰۲۳ کال د مارچ ۲۰مه نېټه. سرچینه: .https://www.bbc.com/news/world-australia-٦٥٠١٠٣٤٥

[٥٣] د ایج ورځپاڼه ، په بشپړ ډول ناهیلي شوي: د سرتېرو پر ضد د بدنامو جګړه‌يي جرمونو قضيې لغوه شوې"، د ۲۰۲۴ کال د نومبر ۳۰مه نېټه. سرچینه: https://www.theage.com.au/national/absolutely-gutted-cases-dropped-against-soldiers-over-notorious-war-crimes-allegations-٢٠٢٤١١٢٩-p٥kuio.html.

سرتېری د سیډني په هوایي ډګر کې ونیول شو او د ځانګړي څېړونکي د دفتر او د اسټرالیا د فدرالي پولیسو له ګډې څېړنې وروسته د جنګي جرم – قتل په پنځو مواردو تورن شو.[٥٤] دا قضیه اوس مهال د سیډني په سیمه ییزه محکمه کې ده.[٥٥]

په جولای ۲۰۲۴ کې، د آسټرالیا د دفاع وزارت د افغانستان د پلټنې د تاوان ورکولو پروګرام جوړ کړ، څو د هغو قربانیانو کورنیو ته تاوان ورکړي چې د ناقانونه وژنو قرباني شوي وي.[٥٦] دغه طرحه یوازې هغو پېښو ته محدودېږي چېرې چې د افغانستان تحقیقاتو د ۲۰۰۵ او ۲۰۱۶ کلونو ترمنځ په افغانستان کې د استرالیا د دفاعي ځواکونو د غړو لخوا د ناقانونه برید، ملکیتونو ته زیان، یا وژنې په اړه باوري شواهد موندلي وي، خو د قانوني مسؤلیت ثابتول په کې شرط نه دی.[٥٧]

<u>بریتانیا</u>

د آسټرالیا په څیر، د برېتانیې دولت د ۲۰۱۰ کال د نیمایي او ۲۰۱۳ کال د نیمایي ترمنځ په افغانستان کې د برتانوي ځانګړو ځواکونو د ځای پرځای کولو څخه د راپورته شویو مسلو د څېړلو لپاره یوه خپلواکه قانوني پلټنه جوړه کړه وروسته له هغه چې د بریتانوي ځانګړو ځواکونو د سرتېرو له لوري د تر سره شوو جنګي جنایتونو تورونه د یوې تلویزیوني خپرونې له لارې څرګند شول.[٥٨] یاد تحقیقاتي کمېسیون په دسمبر ۲۰۲۲ کال کې جوړ شوی او اوس هم دوام لري. د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر نه راپدېخوا یو شمیر علني او پټې استماعیه غونډې د پلټنو د ادارې له خوا ترسره شوي دي.

<u>نیوزیلنډ</u>

په اپریل ۲۰۱۸ کې، د نیوزیلینډ حکومت په افغانستان کې د نیوزیلینډ د دفاعي ځواکونو د پرسونل د چلند په اړه د *ووهه او وتښته* په نوم کتاب کې د لګول شویو تورونو په اړه د پلټنو اعلان وکړ. دغه تورونه د "برنهام عملیات" په اړه وو، چې د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په میاشت کې د نیوزیلینډ د ځانګړو هوایي ځواکونو لهخوا د افغان ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو او د متحده ایالاتو د هوایي ملاتړ په همکاري د بغلان ولایت په یوه سیمه کې ترسره شوی و. پلټنې پایله دا وه چې د نیوزیلینډ د دفاعي ځواکونو پرسونل د عملیاتو پر مهال د نافذو مقرراتو او د نړیوال بشري قانون سره سازګار عمل کړی،[٥٩] خو ویې منله چې د خطر او ناوړه چلند څخه د بندیانو د ساتنې په برخه کې تېروتنې او ناسمې محاسبې شوې وې.[٦٠]

<u>هالنډ</u>

په ۲۰۲۲ کال کې، د هالنډ د هاګ ولسوالۍ محکمې ومونده چې هالنډ د ۲۰۰۷ کال د عملیاتو په جریان کې چې د ارزګان ولایت په چورِ دره کې د استوګنې یوه کمپاونډ په نښه کړ، چې د نړیوال بشر دوستانه قانون له مکلفیتونو څخه یې سرغړونه کړې ده. محکمې حکم وکړ چې هالنډ باید د قربانیانو کورنیو ته تاوان ورکړي.[٦١]

[٥٤] د استرالیا فدرالی پولیس، د پخواني استرالیایی سرتېري له نیول کېدو وروسته د اسټرالیا د فدرالي پولیسو د کمېشنر پرانستې وینا (۷ اپریل ۲۰۲۶). د لاسرسی وړ دی: https://www.afp.gov.au/news-centre/media-statement/afp-commissioner-opening-statement-following-arrest-former-australian.

[٥٥] د کامن ویلت د عامه څارنوالۍ دیپارتمنت، لوی څارنوال د بنجامین رابرتس-سمېت پر وړاندې (۲۷ اګست ۲۰۲۶ تازه شوی). د لاسرسی وړ دی: https://www.cdpp.gov.au/attorney-general-cth-v-benjamin-roberts-smith.

[٥٦] د آسټرالیا د حکومت د دفاع (د افغانستان د تحقیقاتو د خسارې طرحه) مقررات ۲۰۲۴ (۱۸ جولای ۲۰۲۴). شتون لري په:.https://www.legislation.gov.au/F۲۰۲٤L۰۰۹۰۳/latest/text

[٥٧] د آسټرالیا د حکومت د خسارې طرحه، د دفاع وزارت، افغانستان. په لاندې پته شتون لري: https://www.defence.gov.au/about/complaints-incident-reporting/afghanistan-inquiry-compensation-scheme

[٥٨] د افغانستان په اړه د خپلواکو تحقیقاتو ویب پاڼه. دلته شتون لري: /https://www.iia.independent-inquiry.uk

[٥٩] د برنهم عملیاتو په اړه د حکومت د تحقیقاتو راپور (جولای ۲۰۲۰)، فصل ۱ ب - د موندنو او سپارښتنو لنډیز. دلته شتون لري: .https://operationburnham.inquiry.govt.nz/inquiry-report/chapter-۱b

[٦٠] د برنهم عملیاتو په اړه د حکومت د تحقیقاتو راپور (جولای ۲۰۲۰)، فصل ۱ ب - د موندنو او سپارښتنو لنډیز. دلته شتون لري: https://operationburnham.inquiry.govt.nz/inquiry-report/chapter-۱b

[٦١] د هالنډ د دفاع وزارت ، د ملکي تلفاتو د شکمنو یا ادعا شوو پېښو څېړنه". سرچینه: https://english.defensie.nl/topics/civilian-casualties/investigation-into-suspected-civilian-casualties.

همدارنګه، د هالنډ حکومت د هالنډ د پوځي تاریخ انسټیټوټ او د جګړې، هولوکاست او نسل‌وژنې د مطالعې انسټیټوټ ته دنده وسپارله، څو د ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۱ کال پورې په افغانستان کې د هالنډ پوځي ښکېلتیا، ډیپلوماتیک فعالیتونه، او د غیردولتي بنسټونو رول وڅېړي او ارزونه یې وکړي.[٦٢]

<u>نړیوالې هڅې</u>

*د جزا نړیواله محکمه*

د افغانستان د وضعیت لومړنۍ ارزونه د جزا نړیوالې محکمې له خوا په ۲۰۰۷ کال کې اعلان شوه. وروسته، د ۲۰۲۰ کال د مارچ په ۵ نېټه، د محکمې د استیناف خونې څارنوال ته اجازه ورکړه چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت[٦٣] د وضعیت په تړاو د محکمې د صلاحیت لاندې د ادعا شوو جرمونو په اړه رسمي پلټنې پیل کړي. دې پرېکړې د محکمې دویمه پخوانۍ پرېکړه لغوه کړه، چې له مخې یې د څارنوال د پلټنې د پیل غوښتنه رد شوې وه، په دې دلیل چې د پلټنې پیل د عدالت په ګټه نه ګڼل کېده.

په ۲۰۲۰ کال د مارچ په ۲۶مه نېټه، د افغانستان د اسلامي جمهوریت پخواني حکومت د پلټنې د ځنډ غوښتنه وکړه، په دې دلیل چې یاد حکومت ادعا لرله چې د جزا نړیوالې محکمې د صلاحیت لاندې ورته جرمونه پخپله څېړي یا پرې څېړنې روانې دي.[٦٤] له دې وروسته، د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵مې نېټې د طالبانو د واکمنۍ تر ټینګښت وروسته، د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په ۲۷مه نېټه، د جزا نړیوالې محکمې څارنوال د پلټنې د بیاپیل اجازه وغوښته، د دې له امله چې د کورنیو اغېزمنو او حقیقي څېړنو د دوام هیله نوره نه لیدل کېده.[٦٥] څارنوال په یوه اعلامیه کې څرګنده کړه چې د ده نیت دا دی چې پر هغو "جرمونو تمرکز وکړي چې د طالبانو او د اسلامي دولت – خراسان څانګې له خوا ترسره شوي، او د پلټنې نور اړخونه په لومړیتوب کې نه راولي."[٦٦] په ۲۰۲۲ کال د اکتوبر په ۳۱مه نېټه، د جزا نړیوال محکمې دوهمې مقدماتي جلسې څارنوال ته اجازه ورکړه چې په افغانستان کې خپلې پلټنې بیا پیل کړي، په دې استدلال چې افغانستان دا مهال داسې واقعي او مؤثرې کورنۍ څېړنې نه ترسره کوي چې د محکمې د پلټنې د ځنډ موجه کولو وړ وي.[٦٧] په ۲۰۲۵ کال د جنورۍ میاشت کې، څارنوال اعلان وکړ چې د ده دفتر د طالبانو د مشرتابه او د هغوی د *برحاله* قاضي‌القضات پر ضد د بشریت ضد جرم – د جنسیتي ځورونې او تبعیض په

[٦٢] د هالنډ د پوځي تاریخ انسټیټوټ، د جګړې هولوکاست او نسل‌وژنې د مطالعې انسټیټوټ، د هالنډ د پوځي تاریخ انسټیټوټ څېړنه: *هالنډ او افغانستان* ۲۰۰۱–۲۰۲۱، سرچینه: https://www.niod.nl/en/projects/nimh-niod-research-netherlands-and-afghanistan-۲۰۰۱-۲۰۲۱.

[٦٣] د جزا نړیواله محکمه، افغانستان: د جزا نړیوالې محکمې د استیناف خونه د تحقیقاتو د پرانستلو اجازه ورکوي (د مارچ ۵، ۲۰۲۰). شتون لري په : https://www.icc-cpi.int/news/afghanistan-icc-appeals-chamber-authorises-opening-investigation

[٦٤] د جزا نړیواله محکمه (ICC) ، "د افغانستان د اسلامي جمهوریت د لیک په اړه د مقدمې خونې ته خبرتیا، د اساسي قانون د ۱۸(۲) مادې په اړه"، ۱۵ اپریل ۲۰۲۰. سرچینه: https://www.icc-cpi.int/court-record/icc-۰۲/۱۷-۱۳۹

[٦٥] د نړیوالې جنایي محکمې د څارنوال کریم ا. ا. خان لخوا بیان، د ۱۸(۲) مادې لاندې د ګړندي حکم غوښتنه وروسته چې د افغانستان د وضعیت په اړه د تحقیقاتو بیا پیلولو اجازه ورکړي (۲۷ سپتمبر ۲۰۲۱). شتون لري: https://www.icc-cpi.int/news/statement-prosecutor-international-criminal-court-karim-khan-qc-following-application

[٦٦] د نړیوالې جنایي محکمې د څارنوال کریم ا. ا. خان لخوا بیان، د ۱۸(۲) مادې لاندې د ګړندي حکم غوښتنه وروسته چې د افغانستان د وضعیت په اړه د تحقیقاتو بیا پیلولو اجازه ورکړي (۲۷ سپتمبر ۲۰۲۱). شتون لري: https://www.icc-cpi.int/news/statement-prosecutor-international-criminal-court-karim-khan-qc-following-application

سرچینه: https://www.icc-cpi.int/news/statement-prosecutor-international-criminal-court-karim-khan-qc-following-application

[٦٧] د نړیوال جزايي محکمې(International Criminal Court, ICC) ، "د ICC قاضیانو اجازه ورکړه چې په افغانستان کې پلټنې بیا پیل شي"، ۳۱ اکتوبر ۲۰۲۲. سرچینه: https://www.icc-cpi.int/news/icc-judges-authorise-prosecution-resume-investigation-afghanistan

تور د نیونې غوښتنلیکونه وړاندې کړي دي.[۶۸] دا په ۸ د جولای ۲۰۲۵ صادر شوي وو.[۶۹] څارنوال دا هم څرګنده کړه چې د طالبانو او د اسلامي دولت – خراسان څانګې د انفرادي غړو په اړه پلټنې لا هم روانې وې.

[۶۸] د نړیوالې جزایي محکمې(International Criminal Court, ICC) ، د څارنوال کریم ا. ا. خان اعلامیه، "د افغانستان د وضعیت په اړه د نیونې د غوښتنلیکونو اعلامیه"، ۲۳ جنوری ۲۰۲۵. سرچینه: https://www.icc-cpi.int/news/statement-icc-prosecutor-karim-aa-khan-kc-applications-arrest-warrants-situation-afghanistan

[۶۹] د جرمونو نړیواله محکمه، *په افغانستان کې وضعیت: د جرمونو نړیوالې محکمې د محاکمې د مقدماتي پړاو دویمي قضایي خونې د هبت‌الله اخندزاده او عبدالحکیم حقاني د نیولو حکمونه صادر کړل*. (۸ د جولای ۲۰۲۵). د لاسرسي وړ دي: https://www.icc-cpi.int/news/situation-afghanistan-icc-pre-trial-chamber-ii-issues-arrest-warrants-haibatullah-akhundzada

*نړیوال صلاحیت*

د افغانستان د نړیوالو جرمونو د قربانیانو په استازیتوب د نړیوال صلاحیت د اصل له مخې یوازې یو محدود شمېر قضیې وړاندې شوي دي.[۷۰] هغه قضایي حوزې چې دغه ډول قضیې پکې څېړل شوې یا رواني دي، تر جرمني،[۷۱]بریتانیا،[۷۲] او هالنډ پورې محدود نه دي. په ۲۰۲۲ کال کې، د هالنډ یوې محکمې یو ۷۶ کلن افغان تبعه د جګړې د جرمونو په تور د ۱۲ کلونو بند په سزا محکوم کړ. دا تورونه د ۱۹۸۳ څخه تر ۱۹۸۷ کلونو پورې د افغانستان د جګړې د دورې اړوند وو. د محکمې د پرېکړې له مخې، نوموړی د کابل د پلچرخي زندان د یو لوړپوړي چارواکي په توګه د بندیانو د ظالمانه او سپک رفتار مسؤل و، چې دغه عمل د نړیوال بشردوستانه قانون څرګند نقض بلل شوی دی.[۷۳]

## د افغانستان د وسله والو شخړو د قربانیانو ملاتړ

*د طالبانو د واکمنۍ له ټینګښت څخه مخکې د مرستې لارې*

د پخواني حکومت په دوره کې، د وسله‌والو شخړو قربانیانو د مرستې لپاره څلور اساسي میکانیزمونو یا لارو شتون درلود،[۷۴] خو د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې نېټې را وروسته، د طالبانو د واکمنۍ له ټینګښت وروسته، دا ټولې لارې بندې شوې.

د افغان حکومت بیړنۍ مالي مرستې — «کوډ ۹۰» تادیات

د ۹۰ کوډ تادیات د حکومت له هغه اختیاري صندوق څخه یو ځل ورکړل کېدونکې مرستې وې چې د ولسمشر تر مستقیم واک لاندې و. دا مرستې د ملکي تلفاتو قربانیانو ته د دوو لارو له مخې ورکول کېدې: د حکومت د پلاوي له لوري په استثنایي پېښو کې، چې معمولاً پرته د غوښتنلیک له پروسې، د لوړو تلفاتو د پېښو قربانیانو ته ورکول کېدې؛ او د غوښتنلیک له لارې د مرستې د ترلاسه کولو پروسې له مخې. د دغو تادیاتو مالي سرچینه د ملي بودجې هغه برخې وې چې د ۹۱ کوډ او ۹۲ کوډ (پخوا د ۹۹کوډ) په نوم پېژندل کېدې. یاد کوډونه د ولسمشر لپاره ځانګړي اختیاري بودیجه وه چې د طبیعي پېښو، بیړنیو حالاتو (لکه د COVID-۱۹ وبا) او د وسله‌والو شخړو د ملکي قربانیانو د ملاتړ لپاره ترې کار اخیستل کېده.[۷۵] د شخړې له امله د وژل شویو یا "شهیدانو" کورنۍ د ۹۲/۹۱ کوډ له مخې د ۱۰۰,۰۰۰ افغانیو (شاوخوا ۱,۳۳۳ امریکایي ډالرو) مرستې مستحقې وې، او هغه ملکي وګړي چې د جګړې له امله ټپیان شوي وو، د ۵۰,۰۰۰ افغانیو (شاوخوا ۶۶۷ امریکایي ډالرو) مستحق ګڼل کېدل.[۷۶] هغه اشخاص چې د مرستې غوښتنلیکونه یې منظور شوي وو، ویل کېږي چې د اوږدمهاله مرستې د

[۷۰] د نړیوال قضاوت اصل په کلاسیک ډول د "یو قانوني اصل په توګه تعریف شوی چې دولت ته اجازه ورکوي یا یې اړ باسي چې ځینې جرمونه تعقیب کړي پرته له دې چې جرم په کوم ځای کې ترسره شوی وي یا د مرتکب یا قرباني تابعیت ولري." وګورئ: کینیت سي. رینډل، د نړیوال قانون لاندې نړیوال قضاوت، د ټیکساس قانون ژورنال، شمیره ۶۶ (۱۹۸۸)، مخونه ۷۸۵-۸؛ د نړیوال بشري حقونو قانون او عمل په اړه د نړیوال قانون ټولنې کمیټه، د جدي بشري حقونو جرمونو په اړه د نړیوال قضاوت تمرین په اړه وروستی راپور (۲۰۰۰)، مخ ۲.

[۷۱] د نړېوال صلاحیت محکمې کلنی راپور ۲۰۲۱، مخ ۵۷.
.https://www.ecchr.eu/fileadmin/Publikationen/Trial_International_UJAR_DIGITAL.pdf

[۷۲] د بشري حقونو نړیوال فدراسیون ، د نړېوال صلاحیت کلنی راپور ۲۰۲۴، مخ ۱۰۸ .
/https://www.ecchr.eu/en/publication/universal-jurisdiction-annual-review-۲۰۲٤

[۷۳]*د هاګ محکمه، په افغانستان کې د جنګي جرمونو لپاره ۱۲ کلونه بند*، ۱۴ اپریل ۲۰۲۲. سرچینه:
https://www.rechtspraak.nl/Organisatie-en-contact/Organisatie/Rechtbanken/Rechtbank-Den-Haag/Nieuws/Paginas/Twelve-years-imprisonment-for-war-crimes-in-Afghanistan-.aspx

[۷۴] یوناما او د بشري حقونو عالي کمیشنرۍ دفتر، افغانستان: په وسله والو شخړو کې د ملکي وګړو ساتنه - کلنی راپور ۲۰۲۰ (فبروري ۲۰۲۱)، مخونه ۸۸-۸۷. په لاندې پته شتون لري:
.https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_report_۲۰۲۰_revs۳.pdf

[۷۵] په شخړو کې د ملکي وګړو مرکز (CIVIC)، نا تایید شوی زیان: په افغانستان کې د قربانیانو د مرستې ترلاسه کولو په وړاندې خنډونه (دسمبر ۲۰۲۰)، مخ ۹. په کې شتون لري: https://civiliansinconflict.org/wp-content/uploads/۲۰۲۰/۱۲/CIVIC_Afghanistan_Report_Draft٤-۱.pdf.

[۷۶] د دې میکانیزم په اړه د نورو مفصلو معلوماتو لپاره، په شخړو کې د ملکي وګړو مرکز (CIVIC)، نا منل شوي زیان: په افغانستان کې د قربانیانو د مرستې ترلاسه کولو په وړاندې خنډونه (دسمبر ۲۰۲۰)، مخ ۹ وګورئ. دلته شتون لري: https://civiliansinconflict.org/wp-content/uploads/۲۰۲۰/۱۲/CIVIC_Afghanistan_Report_Draft٤-۱.pdf.

تادياتو لپاره هم د شهيدانو او معلولينو وزارت ته راجع کيدل.[۷۷] په ۲۰۲۰ کال کې يوناما يادونه وکړه چې د ۹۰ کوډونو د غوښتنليکونو په ارزونه او پروسس کې د پام وړ ځنډ موجود وو.[۷۸]

د شهيدانو او معلولينو وزارت مياشتني تاديات

دغه مياشتني تاديات په پيل کې د دې لپاره طرحه شوي وو چې په افغانستان کې ټولو معلولينو ته منظمې مياشتني مرستې ورکړي. خو د ۲۰۲۰ کال د سپټمبر په مياشت کې، ولسمشر غني يو فرمان صادر کړ چې له مخې يې دغه ميکانيزم يوازې "د جګړې قربانيانو" ته محدود شو. د دې نوې تګلارې له مخې، هغه ملکي وګړي چې د جګړې له امله معلول شوي يا ټپيان شوي وو، د مياشتې په کچه د ۷۵۰ افغانيو (نږدې ۱۰ ډالرو) او ۱,۵۰۰ افغانيو (نږدې ۲۰ ډالرو) تر منځ مرسته ترلاسه کوله.[۷۹]

د جګړه ځپلو ملکي وګړو سره مرستې پروګرام

د جګړه ځپلو ملکي وګړو سره د مرستې پروګرام د متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيا اداري له خوا تمويل کېده، د دې پروګرام موخه دا وه چې د وسله‌والو شخړو قربانيان وپېژني، ثبت يې کړي، او د مرستې مستحق وګڼل شي چې پکې :خوراکي توکي، حفظ‌الصحې مواد، روغتيايي خدمتونه، او د ژوندانه د ملاتړ مرستې شاملې وې.[۸۰]په ۲۰۲۰ کال کې، د جګړې قربانيانو يوناما ته وويل چې د ملکي تلفاتو د کمولو ملاتړ پروګرام له خوا وړاندې کېدونکې مرستې د افغان حکومت د ميکانيزمونو او يا د نړيوالو ځواکونو د فوق‌العاده تادياتو په پرتله چټکې او د لاسرسي وړ وې.[۸۱]

د نړيوالو پوځي ځواکونو د قضا پرته پوځلي تاديات

د قضا پرته يو ځلي (يو ځلي) تاديات هغه مالي مرستې وې چې د متحده ايالاتو د ملي دفاع د واک قانون له مخې د "ملکي دوستانه" تر عنوان لاندې د مال د ويجاړېدو، د شخص د ټپي کېدو يا مړينې په صورت کې چې د راتلوکو ذکر شوو ځواکونو د عملياتو په نتيجه کې زيانمن شوي وو ورکول کيدې: ۱) د متحده ايالاتو وسلوال ځواکونه ۲) هغه ائتلافونه چې متحده ايالات پکې شامل وو، او ۳) هغه پوځي سازمانونه چې د متحده ايالاتو يا ائتلاف ملاتړ يې کاوه. ياد تاديات "د تسليت، همدردۍ يا د حسن نيت د ځرګندونې په توګه" په افغانستان کې د واکدارو پوځي قوماندانانو له خوا ورکول کېدې.[۸۲] دا تاديات په دريو بېلو وېشل کېدې: د جګړې زيان، د تسليت تاديات، او د اتلولۍ تاديات، چې وروستی ډول يې هغو کسانو ته ځانګړی و چې د متحده ايالاتو د ځواکونو په ملاتړ کې ټپيان شوي يا وژل شوي وو. دا تاديات معمولا په يوځلي ډول ورکول کېدل، او د قربانيانو لپاره کوم رسمي ميکانيزم نه و موجود چې د دغو تادياتو د غوښتنې لپاره اړونده دفترونو ته مراجعه وکړي.

[۷۷] يوناما په ۲۰۲۰ کال کې يادونه وکړه چې د دې تادياتو فعاليت له ولايت څخه تر ولايت پورې په پراخه کچه توپير درلود. د دې ميکانيزم په اړه د نورو مفصلو معلوماتو لپاره، په شخړو کې د ملکي وګړو مرکز (CIVIC)، نا منل شوي زيان: په افغانستان کې د قربانيانو د مرستې ترلاسه کولو په وړاندې خنډونه (دسمبر ۲۰۲۰)، مخونه ۹-۱۱ وګورئ. دلته شتون لري:https://civiliansinconflict.org/wp-content/uploads/۲۰۲۰/۱۲/CIVIC_Afghanistan_Report_Draft٤-۱.pdf.

[۷۸] يوناما او د بشري حقونو عالي کميشنرۍ دفتر، افغانستان: په وسله والو شخړو کې د ملکي وګړو ساتنه - کلنۍ راپور ۲۰۲۰ (فبروري ۲۰۲۱)، مخ ۸۷. دلته شتون لري: .https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_report_۲۰۲۰_revs۳.pdf

[۷۹] په شخړو کې د ملکي وګړو مرکز (CIVIC)، نا تاييد شوی زيان: په افغانستان کې د قربانيانو د مرستې ترلاسه کولو په وړاندې خنډونه (دسمبر ۲۰۲۰)، مخ ۱۲. دلته شتون لري: https://civiliansinconflict.org/wp-content/uploads/۲۰۲۰/۱۲/CIVIC_Afghanistan_Report_Draft٤-۱.pdf.

[۸۰] يوناما او د بشري حقونو عالي کميشنرۍ دفتر، افغانستان: په وسله والو شخړو کې د ملکي وګړو ساتنه - کلنۍ راپور ۲۰۲۰ (فبروري ۲۰۲۱)، مخ ۸۸. په لاندې پته شتون لري: .https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_report_۲۰۲۰_revs۳.pdf

[۸۱] يوناما او د بشري حقونو عالي کميشنر، افغانستان: په وسله والو شخړو کې د ملکي وګړو ساتنه - کلنۍ راپور ۲۰۲۰ (فبروري ۲۰۲۱)، مخ ۸۸. په لاندې پته شتون لري: .https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_report_۲۰۲۰_revs۳.pdf

[۸۲] د متحده ايالاتو د دفاع وزارت، يادداشت: "د پوځي عملياتو په پايله کې د ټپي کيدو يا زيان لپاره دوستانه ملکي وګړو ته د خواخوږۍ يا خواخوږۍ د تادياتو لپاره لنډمهاله مقررات" (۲۲ جون ۲۰۲۰). شتون لري په: https://media.defense.gov/۲۰۲۰/Jun/۲۳/۲۰۰۲۳۲۰۳۱٤/-۱/-۱/۱/INTERIM-REGULATIONS-FOR-CONDOLENCE-OR-SYMPATHY-PAYMENTS-TO-FRIENDLY-CIVILIANS-FOR-INJURY-OR-LOSS-THAT-IS-INCIDENT-TO-MILITARY-OPERATIONS.PDF :

*د برحاله چارواکو سره واک کې شته لارې چارې:*

په دې راپور کې د لیکلي ځواب په ترځ کې[۸۳] د برحاله چارواکو د بهرنیو چارو وزارت د یوناما د بشري حقونو څانګه خبر کړې چې ټول معلولیت لرونکي کسان، او همدارنګه د شهیدانو کورنۍ، یتیمان او کونډې، د برحاله چارواکو د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له خوا ثبت شوي او هغوی ته هره میاشت نغدي مرستې ورکول کېږي.

د برحاله چارواکو د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د طالبانو واک ته له رسېدو راهیسې د برحاله چارواکو د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت لاندې اقدامات کړي دي:

- د مرستو لپاره یې ۶۵۴۰۶۳ کسان ثبت کړي، چې له هغوی څخه ۳۸۵۸۵۶ یتیمان، ۹۷۲۱۲ کونډې او ۱۷۰۹۹۸ معلولیت لرونکي کسان دي؛
- ګټهاخیستونکو ته یې ۴۵۹۰۸ میلیارده افغانۍ اوخوا ( ۶۹۵۷۳۵۲۸۰ امریکایي ډالر) وېشلې دي. سربېره پر دې، د خوراکي توکو، ژمنیو جامو، ویلچیرونو او مصنوعي غړو مرستې هم وېشل شوې دي؛
- ځانګړي د بیارغونې مرکزونه یې فعال کړي چې معلولیت لرونکو کسانو ته د فزیوتراپۍ، ارتوپیدیک خدمتونو، او رواني او ذهني روغتیا خدمتونه وړاندې کوي.

د کارموندنې په اړه، د برحاله چارواکو د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې:

- کونډو، یتیمانو او د ښځو په مشرۍ کورنیو ته د ګنډلو ماشینونه، او کوړکې د پخلي وسایل او نور وسایل ورکړل شوي دي؛
- هڅې همغږې کېږي څو په برحاله دولتي ادارو کې د معلولیت لرونکو کسانو د درې سلنې (۳٪) استخدام ونډه عملي شي؛
- د کوچنیو کاروبارونو لپاره نور وسایلو ، په شمول د دوکانونو او مالدارۍ اړوند وسایل، وېشل شوي دي؛
- یو شمېر کسانو ته حرفوي زده کړې او نورې تعلیمي روزنې ورکړل شوې دي.

د ۲۰۲۵ کال د اپریل په ۲، د *برحاله* چارواکو ویاند، ذبیح الله مجاهد د جګړې د قربانیانو کورنیو ته د کلني مبلغ د ورکړې د راپورونو په اړه رسنیو ته مالومات ورکړل. هغه وویل چې د کلنۍ بودیجې څخه ۱۲.۵ میلیارده افغانۍ (شاوخوا ۱۶۶۶۶۶۶۶۷ آمریکایي ډالر) *برحاله* د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ته ځانګړې شوي ترڅو یتیمانو، کونډو او معلولیت لرونکو کسانو ته که هغه د طالبانو پورې تړاو لري او که د پخواني حکومت یا نورو ملکیانو ته ورکړي.[۸۴]

## ج. میتودولوژي

دا راپور د هغو ۱۹۵ قربانیانو د مرکو پر بنسټ جوړ شوی چې د افغانستان د وسلوالو شخړو له امله زیانمن شوي او یا یې خپلوان دي،[۸۵] او همدارنګه د ۲۳ ملي او نړیوالو غیردولتي سازمانونو سره چې د وسله والو شخړو قربانیانو ته خدمات وړاندې کوي، او ۲۳ *برحاله* پر دندو بوخت چارواکو سره تر سره شوې.

[۸۳] ب ضمیمه کې د *برحاله* چارواکو د بهرنیو چارو وزارت لخوا ترلاسه شوې تبصرې وګورئ.
[۸۴] ذبیح الله [@Zabehulah_M۳۳]، ایکس پاڼه (پخوانی ټویټر) ۲ اپریل ۲۰۲۵، د ماښام ۷:۳۵ بجې. د لاسرسي وړ: https://x.com/Zabehulah_M۳۳/status/۱۹۰۷۴۴۹۳۵۷۰۶۸۰۶۷۲۲۰ او https://x.com/Zabehulah_M۳۳/status/۱۹۰۷۴۴۹۳۷۹۹۱۴۴۸۶۰۲۶.
[۸۵] د نړیوال بشري حقونو قانون د جدي سرغړونو او د نړیوال بشري قانون د جدي سرغړونو د قربانیانو لپاره د خسارې او تاوان د حق په اړه د اساسي اصولو او لارښوونو له مخې، قربانیان دا دي: "هغه کسان چې په انفرادي یا ډله ایزه توګه، د فزیکي یا رواني ټپي کیدو، احساساتي کړاو، اقتصادي زیان یا د دوی د اساسي حقونو د پام وړ زیان سره مخ شوي دي، په شمول د یو عمل یا غفلت په پایله کې چې د نړیوال بشري حقونو قانون څخه جدي سرغړونه یا د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونه ده. چیرې چې مناسب وي او د کورني قانون سره سم، د "قرباني" اصطلاح کې د مستقیم قرباني کورنۍ یا نږدې خپلوان او هغه کسان هم شامل دي چې په سختو شرایطو کې د قربانیانو سره د مرستې کولو یا د قربانیانو کیدو څخه د مخنیوي لپاره د مداخلې پرمهال زیانمن شوي دي."

د ۱۹۵ مرکه شوو قربانیانو له ډلې، ۱۱۳ پښتانه، ۳۱ تاجکان، ۲۲ هزاره‌ګان، ۱۳ ازبکان، ۶ سادات، ۳ بلوڅان، او ۴ تنه له نورو ډلو/ قومونو څخه وو. د ۱۹۵ مرکه شویو کسانو څخه، ۵۲ یې ښځې او ۱۴۳ یې نارینه دي. قربانیانو او ژوندي پاتې شوو کسانو راپور ورکړی چې پر دوی د جګړې بېلابېلو اړخونو ظلمونه کړي، چې پکې د جمهوریت دورې ځواکونه، طالبان، او نړیوال ځواکونه شامل دي (لمړی ضمیمه وګورئ).

مرکې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) له خوا د جون ۲۰۲۴ او دسمبر ۲۰۲۵ تر منځ ترسره شوې دي او د قربانیانو کیسې د ۱۹۹۴ کال څخه تر ۲۰۲۱ د اګست تر ۲۰ نېټې پورې وخت رانغاړي. له ۱۹۵ پېښو څخه چې قربانیانو یادې کړې، ۱۷۲ پېښې د ۲۰۱۶ او ۲۰۲۱ تر منځ رامنځته شوې، چې تر ټولو زیاتې پېښې په ۲۰۲۱ کال (۴۷ پېښې) ثبت شوې دي.

مرکې په پښتو او دري ژبو، د مرکه شویو د خوښې له مخې، د افغانستان د ۳۴ ولایتونو له ۳۲ ولایتونو څخه له خلکو سره ترسره شوې، دا مرکې هم مخامخ او هم لرې (آنلاین یا تلیفوني) ترسره شوې. په ځینو مواردو کې د ژباړونکي له لارې. یوناما ټولو مرکه شویو ته ویلي چې په مرکو کې ګډون اختیاري دی، او ټول هغه مالومات چې د یوناما سره شریک شوي دي به په پټ وساتل شي. هغو کسانو چې د مرکې منلو ته تیار شول، ترې پوښتنه وشوه چې آیا غواړي د دوی کیسې په عام راپور کې شاملې شي او که نه، او همدارنګه که غواړي د دوی شخصي معلومات په راپور کې شامل شي او که نه، یعنې ناپېژانده پاتې شي. له مرکه کونکو څخه رضایت په شفاهي توګه اخیستل شوی وو.

دا راپور د یوناما له خوا د ملکي تلفاتو د ثبت پروګرام پر بنسټ چې له دسمبر ۲۰۰۹ څخه تر ۱۵ اګست ۲۰۲۱ پورې ترسره شوی، او همدارنګه د پېښو وروسته مرکې چې د یوناما لخوا په ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ کلونو کې ترسره شوې ترتیب شوی دی.[۸۶] قربانیان او د هغوی خپلوان زیاتره د یوناما د ملکي تلفاتو د پېښو د ډیټابیس او د ټولنې او نورو لارو موندل شوې. د مرکو لپاره معیار دا و چې د پیښې قربانیان ملکي وګړي وي او پېښه د *برحاله* طالب چاروکو پر افغانستان د واکمنۍ (۱۵ اګست ۲۰۲۱) څخه مخکې رامنځته شوې وي.

یوناما د مرکه شویو د جنس، عمر، قوم، جغرافیايي موقعیت او د پېښو د ډول له مخې د تنوع د تأمین لپاره تر ټولو زیاتې هڅې کړې دي، او د پیښې هغه ډول چې دوی یې اغیزمن کړي، خو د مرکې نمونه ممکن د اغیزمن شوي نفوس بشپړ استازیتوب ونکړي.[۸۷]

# ۲ برخه: حقوقي چوکاټ

د بشري حقونو نړیوال قانون د سولې او وسله والو شخړو په دواړو صورتونو کې پلي کېږي. افغانستان د بشري حقوقو د لاندې تړونونو غړی دی: د ربړونې او هر ډول ظالمانه او نا انساني کړنو د مجازاتو منع نړیوال کنوانسیون او اختیاري پروتوکولونه یې، د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق، د ښځو پر وړاندې د توپیري چلند ټولو ډولونو د منع نړیوال کنوانسیون، د توکمیز توپیر د ټولو ډولونو د منع نړیوال کنوانسیون، د اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي حقوقو نړیوال میثاق، د ماشومانو د حقونو نړیوال کنوانسیون او په وسله والو شخړو کې د ماشومانو د ښکېلتیا په تړاو د نوموړي کنوانسیون اختیاري پروتوکول او د ماشومانو د پلور، فحاشۍ او د ماشوم د فحشاء انځورونو په تړاو اختیاري پروتوکول، د معیوبو کسانو د حقوقو نړیوال کنوانسیون. د یادو تړونونو د یو غړي دولت په توګه افغانستان مکلف دی چې په خپل قلمرو کې د ټولو وګړو انساني حقونه له توپیر پرته خوندي او درناوی یې وکړي.

سربېره پر دې نړیوال بشردوستانه قانون ( د وسله والو شخړو قانون) د هغه وګړو خوندیتوب ته ژمن دي چې په شخړو کې نېغ په نېغ فعاله برخه نه اخلي او هم د جګړې په وسایلو او ځرنګوالي محدودیتونه وضع کوي. په نړیوالو بشردوستانه

[۸۶] یوناما او د بشري حقونو عالي کمیشنرۍ دفتر، افغانستان: په وسله والو شخړو کې د ملکي وګړو ساتنه - کلنی راپور ۲۰۲۰ (فبروري ۲۰۲۱). په لاندې پته شتون لري:
.https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_report_۲۰۲۰_revs۳.pdf
[۸۷] د نورو معلوماتو لپاره "ضمیمه الف: د مرکه شویو کسانو د نفوس احصایوي وېش "وګورئ.

حقوقو کې بنسټیز تړونونه د ۱۹۴۹م کال د جینوا څلور ګونې تړونونه او د دغو تړونونو پروتوکولونه دي.[۸۸] د جینیوا څلور ګوني تړونونه په نړیواله کچه په ۱۹۴۹م کال کې تصویب شوي دي.[۸۹]

یوناما په دې نظر ده چې په افغانستان کې یو شمېر غیر نړیوالې وسل والې شخړې د افغانستان د حکومت ملاتړو ځواکونو (د نړیوالو پوځي ځواکونو لخوا ملاتړ شوي افغان ملي امنیتي ځواکونه) او د مختلفو غیر دولتي وسله والو مخالفینو ډلو، او همدارنګه د غیر دولتي وسله والو مخالفینو ډلو ترمنځ رامنځته شوي دي.[۹۰] غیرنړیوالو وسله واله شخړه کې د جینیوا کنوانسیونونو ۳ مه ماده د شخړې ښکېلو لوریو په شمول د دولت او دولتي لوبغاړو ته لږ تر لږه معیارونه ټاکي چې باید درناوی یې وکړي. ۳ مه ماده په ښکاره توګه د ژوند او شخص پر وړاندې تاوتریخوالی منع کوي چې قتل، مثله کول، ظالمانه چلند او ربړونه، یرغمل نیونه، د شخصي کرامت پر وړاندې بې حرمتي او له محکمې پرته اعدامونه هم شاملیږي. دا اصول باید د ملکیانو په شمول د ټولو هغه وګړو په تړاو په پام کې ونیول شي چې د جګړې برخه نه ده. د نړیوالو بشردوستانه قانون له مخې د شخړې لوري مکلف دي چې د شخړې پرمهال د توپیر،[۹۱] تناسب[۹۲] او احتیاط[۹۳] اصول په پام کې ونیسي. د ۱۹۷۷ کال د دویم پرتوکول حکمونه چې افغانستان یې غړی دی، هم د نوموړي حقوقي چوکاټ برخه ده.[۹۴]

ټول هغه دولتونه چې په افغانستان کې یې د نړیوالو ځواکونو په چوکاټ کې برخه اخیستې هم د ۱۹۴۹م کال د جینیوا کنوانسیونونو غړیتوب لري، خو دا د خو ټول یاد شوي دولتونه د ۱۹۷۷ کال د دویم پروتوکول لاسلیک کوونکي نه دي، دوی ټول د دودیز نړیوال بشردوستانه قانون اړوندو قواعدو سره تړلي دي چې په غیر نړیوالو وسله والو شخړو کې پلي کیږي.[۹۵] هغه دودیز قواعد او اصول چې د غیر نړیوالو وسله والې شخړې تنظیموي د شخړې په ټولو اړخونو باندې پلي کېږي که هغه دولت وي او یا وسله واله ډله.

[۸۸] د جګړې په ډګر کې د ټپیانو او ناروغانو د ساتنې کنوانسیون (۱)، جنیوا، ۱۲ اګسټ ۱۹۴۹؛ د سمندري جګړې پرمهال د ټپي، ناروغ او غرق کېدونکي سمندري ځواک د ساتنې کنوانسیون (۲)، ۱۲ اګسټ ۱۹۴۹؛ د جګړې د بندیانو د ساتنې کنوانسیون (۳)، ۱۲ اګسټ ۱۹۴۹؛ د جګړې پرمهال د ملکي وګړو د ساتنې کنوانسیون (۴)، ۱۲ اګسټ ۱۹۴۹؛ په نړیوالو وسله والو شخړو کې د قربانیاتو د خوندیتوب په تړاو د ۱۲ آګست ۱۹۴۹ کال د جنیوا کنوانسیونونو د ۱۹۷۷ کال د جون ۸ مې اختیاري پروتوکول(۱)؛ په کورنیو وسله والو شخړو کې د قربانیاتو د خوندیتوب په تړاو د ۱۲ آګست ۱۹۴۹ کال د جنیوا کنوانسیونونو د ۱۹۷۷ کال د جون ۸ مې اختیاري پروتوکول(۲)، د یو بېل ځانګړي نښان د تصویب په تړاو د ۱۲ آګست ۱۹۴۹ کال د جنیوا کنوانسیونونو د ۲۰۰۵ کال د دسمبر د ۸مې اختیاري پروتوکول.

[۸۹] د سره صلیب نړۍ واله کمېټه(ای سي آر سي)، د نړۍ والو بشردوستانه حقوقو ډیټابیس(https://ihl-databases.icrc.org/en/ihl-treaties/treaties-and-states-parties)

[۹۰] *یوناما او د بشري حقونو عالي کمیشنری دفتر، افغانستان: په وسله والو شخړو کې د ملکي وګړو ساتنه - کلنی راپور ۲۰۲۰ (فبروري ۲۰۲۱)، مخ ۹۷. په لاندې پته شتون لري:*
https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_report_۲۰۲۰_revs۳.pdf

[۹۱] توپیر، ملکیان او انفرادي وګړي باید تر برید لاندې رانشي او د شخړې لوري باید تل د ملکیانو او جنګیالو ترمنځ توپیر وکړي. دا اصل غواړي چې د یوې شخړې ښکېلې خواوې باید له یوې خوا د ملکیانو او ملکي اهدافو او له بلې جنګیالو او جنګي اهدافو ترمنځ توپیر وکړی. یوازې په نظامي موخو برید کېدلی شي. یو څیز یا ودانۍ هغه مهال نظامي موخه شمېرل کېږي چې دا دوه شرطونه شتون ولري (۱) د خپل ماهیت، موقعیت، موخې یا استعمال له وجې په نظامي عملیاتو کې اغیزناک واقع شي(۲) د دغه شي په بشپړه یا جزوي توګه له منځه وړل، نیول یا بې اغیزې کول حالاتو ته په کتو له نظامي اړخه ګټور وي. (۲) اضافه پروتوکول، ۱۳(۲) ماده وګورئ، ای سي آر سي د نړۍ والو عرفي بشردوستانه حقوقو مطالعه، لومړی اصل، همدارنګه وګورئ، ۱-۲۴مادې.

[۹۲] تناسب، د داسې برید ترسره کول چې تمه کېږي له امله به یې د ملکي وګړو ژوند له منځه یوړل شي، یا به ټپیان شي او یا به یې شتمنۍ ته زیان ورسیږي او داسې چې ټولو ښو ته پکې زیان رسیدلی وي. خو دا زیانونه له هغه نظامي ګټې ډېر وي چې تمه یې کېږي، نو منع دي. د ای سي آر سي د نړۍ والو عرفي بشري حقوقو مطالعه، ۱۴ اصل.

[۹۳] په بریدونو کې احتیاطي تدبیرونه [...] ولسي وګړی باید د پوځي عملیاتو څخه پیدا کېدونکو ګواښونو پر وړاندې خوندیتوبونو څخه ګټه واخلي، د پوځي عملیاتو ترسره کولو پرمهال باید هڅه وشي چې ولسي وګړیو، خلکو او شتمنیو ته زیان ونه رسیږي او ټول لازم تدابیر باید ونیول شي، څو د ولسي وګړیو د ژوند لمنځه تلو، ټپي کېدو او د ولسي شمتنیو د ویجاړۍ څخه د مخنیوي یا لږ تر لږه د کمولو موخه او هدف ترلاسه شي. د نړیوالو عرفي بشري حقوقو مطالعه، له ۱۵-۲۱ پورې، د سره صلیب نړیواله کمېټه.

[۹۴] افغانستان د ۱۹۷۷ کال (۲) اختیاري پروتووکول د ۲۰۰۹ کال د نومبر په لسمه تصویب کړ او د ۲۰۰۹ کال د ډسمبر په ۲۴ نافذ شو.

[۹۵] امریکا متحده ایالاتو د۱۹۷۷ کال دویم اختیاري پروتوکول لاسیک کړی دی خو تصویب کړی یې نه دی، مګر سره له دې د نړۍ والو بشري حقوقو له هغه اصولو سره تړاو لري چې د دویم پروتوکول په احکامو کې ثبت شوي دي.

د نړیوال بشر دوستانه قانون ځیني احکام د وسله والې شخړې له پای ته رسیدو وروسته هم تطبیقیږي.[٩٦] د بېلګې په ډول د هغه اشخاصو د ازادولو په تړاو مکلفیتونه چې د جګړې په سبب له خپلې ازادۍ محروم شوي دي،[٩٧] د نادرکه شویو کسانو موندل[٩٨] او د ماینونو پاکول.[٩٩]

## د پلټنې او تعقیب مکلفیتونه

دولتونه مکلف دي چې د ممکنه جنګي جرمونو پلټنه او تحقیق وکړي او که مناسبه وي شکمن د تعقیب لاندې ونیسي. دا مکلفیت په نړیوالو او غیر نړیوالو دواړه ډوله شخړو کې د تطبیق وړ دی.[١٠٠] سربېره پر دې نړیوال بشري قانون دولتونه مکلفوی چې د نړیوال بشري قانون د جدي سرغړونو او ناوړه کړنو عاملین وپلټي، محاکمه یې وکړي او د عدالت منګلو ته یې راکش کړي[١٠١]. دولتونه اړ دي چې د نړیوالو بشري حقونو قانون او نړیوالو بشردوستانه قانون د سرغړونو په ړاو چټک اغېزناک، هر اړخیزه، خپلواک، بې پرې او رڼې پلټنې تر سره او د عاملینو پر وړاندې مناسب ګام واخلي؛ څو ډاډ حاصل شي چې د نړیوالو قوانینو له مخې شدیدو جرمونو مرتکبین عدلي تعقیب، محاکمه او د جرم شدت ته په پام کې نیولو سره مجازات کېږي.

## د خسارې جبران

د خسارې جبران حق نړیوالو قوانینو په کلکه درج کړی دی.[١٠٢] کوم دولت چې د نړیوال بشردوستانه قانون د جدي سرغړونې یا د نړیوال بشري حقونو قانون کې درج شوو شدیدو سرغړونو لپاره مسول وي؛ اړ دی چې اغېزناک او پوره تاوان ورکړي. د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمېټې ټینګار کړی دی چې له تاوان ورکولو پرته د اغېزناکه جبران مکلفیت نیمګړی دی.[١٠٣] هغه اشخاص چې د نړیوال بشري حقونو د قانون یا د نړیوال بشردوستانه قانون له مخې، له سرغړونو یا ظلمونو سره مخ شوي وي، حق لري چې کافي، جامع، چټک او اغېزناکه جبران ترلاسه کړي.[١٠٤] تاوان ورکول لاندې برخو ته شاملیږي: لومړني حالت ته ګرځول، مالي تاوان، بیارغونه، قناعت بښوونکی ګام او د نه تکرارېدو تضمین.[١٠٥] ورکړل شوی تاوان باید د رامنځته شوي زیان سره برابر وي.[١٠٦]

[٩٦] د نړۍ والو بشري حقوقو په ځینو مادو کې یو شمېر اصطلاحات لکه د فعالې جګړې بندبدل، د جګړې پای، د فعاله جګړو پای ته رسیدل او د جګړو پای ته رسیدل د ځینو ځانګړیو خوندیتوبونو د پلي کېدو لپاره بېلابېل سرټکي دي. سربېره پر دې دا چې د یوه وسله واله شخړه پای ته رسیدلې ده، دا معنی نه ورکوی چې د نړۍ والو بشر دوستانه حقوقو ځیني مکلفیتونه دې نور پلي نه شي. بلکې نوموړي مکلفیتونه د فوځي عملیاتو له پای ته رسیدو هم دوام کوي. د بېلګې په ډول هغه وګړي چې د وسله والې شخړې له امله یې خپله ازادي له لاسه ورکړې ده، تر هغه وخت د نړۍ والو بشردوستانه حقوقو له مخې خوندیتوب لري چې یا خوشې شي او خپل هېواد ته وګرځي او یا یې حقوقي وضعیت بېرته نورمال او عادي شي.
[٩٧] د نړۍ والو عرفي حقوقو مطالعه، ١٢٨ اصل.
[٩٨] ای سي آر سي، نړۍ والو عرفي حقوقو مطالعه، ١١٧ اصل.
[٩٩] د ١٩٩٦ کال د دویم تعدیل شوي پروتوکول(١٩٩۶)، مادې ٣(٢) او ١٠؛ چې د ځینو دودیزو وسلو د مخنیوي کنوانسیون برخه دي، آی سي آر سي، نړۍ والو عرفي حقوقو مطالعه، ٨٣ اصل.
[١٠٠] آی سي آر سي، د نړۍ والو عرفي بشري حقوقو مطالعه، ١۵٨اصل. د تړون موادو په تړاو وګورئ، د ژینوا څلورم کنوانسیون چې د جګړې پرمهال د ملکي وګړو د ساتنې اړوند دی، ١۴۶ماده، ژینوا، ١٢ اګست ١٩۴٩
[١٠١] د بشر حقونو نړۍ واله اعلامیه ٨ماده، د مدني او سیاسي حقوقو نړۍ وال کنوانسیون ٢ ماده، د توکمیز توپیر د ټولو ډولونو د منعې نړۍ وال کنوانسیون ۶ماده، د ربړونې او هر ډول ظالمانه او نا انساني کړونو د مجازاتو منعې نړۍ وال کنوانسیون ٧، ١٢ او ١٣ماده.
[١٠٢] د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ٨ ماده؛ د مدني او سیاسي حقونو په اړه نړیوال میثاق، ٢ ماده؛ د نژادي تبعیض د ټولو بڼو د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون، ۶ ماده؛ د شکنجې پر وړاندې کنوانسیون، ١۴ ماده؛ د ماشومانو د حقونو په اړه کنوانسیون، ٣٩ ماده. همدارنګه د شکنجې پر وړاندې کمیټه، عمومي تبصره نمبر ٣، پراګراف ٢؛ او د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو په اړه کمیټه، عمومي تبصره نمبر ٩، پراګراف ٢ وګورئ.
[١٠٣] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه، عمومي تبصره شمیره ٣١، .CCPR/C/٢١/Rev.١/Add١٣ (٢۶می ٢٠٠۴)، پارا. ١۶.
[١٠٤] د آی سي آر سي دودیز نړیوال بشردوستانه قانون مطالعه، قاعده ١۵٠؛ د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله، د نړیوال بشري حقونو قانون د جدي سرغړونو او د نړیوال بشر دوستانه قانون د جدي سرغړونو د قربانیانو لپاره د جبران او جبران حق په اړه اساسي اصول او لارښوونې (٢٠٠۵).
[١٠٥] د ربړونې پر وړاندې کمیټه، عمومي تبصره نمبر ٣، CAT/C/GC/٣ (١٣ دسمبر ٢٠١٢)، دوهم پراګراف.
[١٠٦] څارنوال او جیرماین کاتنګ ٢٠١٧ § ٩٤-٢٩٣ (٢٠١٧). څارنوال او توماس لوبانګا دیېلو، ١٢م پرګراف (٢٠١٦). همدارنګه د جزا نړیوالې محکمې د شواهدو او طرزالعملونو ٩٧ اصل وګورئ.

## د ورکو شوو وګړو په اړه حساب ورکونه

نړیوال بشردوستانه قانون له هر لوري چې په وسله والو شخړو کې دخیل وي غوښتنه کوي چې د هغه کسانو په تړاو چې د ورکې راپور یې ورکړل شوی دی؛ کوټلي ګامونه واخلي او باید د برخلیک په تړاو یې کورنیو ته هر ډول معلومات چې په واک کې لري ورکړي. دا مکلفیت په نړیوالو او غیر نړیوالو شخړو کې د پلي کېدو وړ دی.[107] دا مکلفیت هغه مهال پیلیږي چې شرایط اجازه ورکړي او د فعاله جګړو له پای ته رسېدو وروسته باید تطبیق شي. سربېره پر دې د شته سرچینو په کارولو سره د ورکو شویو کسانو د حساب ورکولو مکلفیت لري. د شخړې هر اړخ باید پدې برخه کې خپلې ګړندۍ هڅې وکړي. دا یوازې د ورک شویو کسانو موندل نه، بلکې د نورو کسانو له لوري د دوی د موندلو هڅې هم رانغاړي؛ په ځانګړې توګه هغه کسان چې د شخړې په پایله کې نادرکه شوي دی.[108]

## په حقیقت باندې د پوهیدلو حق

په حقیقت باندې د پوهیدلو حق زیاتره وخت د بشر حقونو د سختو سرغړونو او نړیوال بشر دوستانه قانون د جدي سرغړونو په شرایطو کې کارول کیږي.[109]دا یو نه بېلدونکی او مستقل حق دی چې څو نړیوالو تړونونو او اسنادو پېژندلی دی. په همدې توګه د ملي، سیمه ییزو او نړیوالو قضایي ارګانونو له لوري او د نړیوالو او سیمه ییزو حکومتي سازمانونو د ګڼو پرېکړو له لارې یې تصدیق شوی دی.[110]

په حقیقت باندې د پوهیدلو حق یو فردي او ټولیز حق دی. دا حق قربانیانو، خپلوانو ته یې او عامو خلکو ته دا حق ورکوي چې د پېښې په بشپړ او کره حقیقت باندې پوه شي، دا چې څه پېښ شوي، د هغې ځانګړي شرایط څه شی و او څوک په کې ښکېل و؛ دا هم په برکې نیسي چې خلک وپوهیږي چې سرغړونې څرنګه او ولې رامنځته شوي دي.[111] په حقیقت باندې د پوهیدلو حق هم انفرادي[112] او هم ټولیز[113] حق دی.

نومورۍ حق له دولتونو څخه غواړي چې داسې ادارې، میکانیزمونه او کړنلارې جوړې کړي چې د شخړو ډکو پېښو په اړه د معلوماتو راټولو واک او صلاحیت ولري. که څه هم له رسمي پلوه حقیقت باندې د پوهیدلو کمېسیونونه پراخ میکانیزمونه ګڼل کیږي نور اقدامات هم دا چاره ډاډمنه کولای شي. دا اقدامات د مدني ټولنې له لوري پرمخ وړل کېدونکي د حقیقت معلومولو بهیرونه، د ټولنې پر بنیاد نوښتونه، د څېړنو کمېسونونه، د حقیقت موندنې ماموریتونه، د پېښو نقشه کشي، د بشري حقونو کمېسونونه، هغه میکانیزمونه چې د ورک شویو کسانو برخلیک روښانه کوي، عدلي پلټنې، د ډله ییزو قبرونو موندل، د مړیو رایستل او پېژندل، د استخباراتي او امنیتي ادارو آرشیفونو ساتنه او عامه لاس رسی، هنري نوښتونه او عمومي بښنې رانغاړي.[114]

## د نه تکرار ضمانتونه

په ۲۰۰۴ کال کې د بشر حقونو کمېټې دا په ګوته کړه چې د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق موخې به تر پوښتنې لاندې راشي که چېرته د دویمې مادې له اړوند مکلفیت پرته د سرغړونو د تکرار د مخنیوي لپاره لازم تدبیرونه ونه نیول شي. د دې

[107] د سره صلیب نړیواله کمیټه، د نړیوال بشردوستانه حقونو مطالعه، ۱۱۷ اصل
[108] د سره صلیب نړیواله کمیټه، د نړیوال بشردوستانه حقونو مطالعه، ۱۱۷ اصل
[109] د حقیقت موندلو لپاره څېړنه، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمېشنر د دفتر راپور، ۸ فبروري ۲۰۰۶، E/CN.٤/٢٠٠٦/٩١، فقره ۳.
[110] د حقیقت موندلو لپاره څېړنه ، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمېشنر د دفتر راپور، ۸ فبروري ۲۰۰۶، E/CN.٤/٢٠٠٦/٩١، ۵۵ فقره.
[111] د حقیقت موندلو لپاره څېړنه د بشر حقونو لپاره ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ راپور(, ٨ February ٢٠٠٦, E/CN.٤/٢٠٠٦/٩١, para. ٣.
[112] د بشري حقونو نړیوال اسناد روښانه کوی چې څوک حقیقت ته د لاسرسي حق څخه برخمن کیدای شي. دغه اسناد قربانیانو او د هغوی خپلوانو یا استازو حق ورکوي چې د حقیقت څخه خبر شي. نړیوالو بشري حقونو محکمې، نړیوالو تړونونو باندې د څارنې ادارې او همدارنګه محلي محکمې د دې مورد ملاتړ کوي. همدارنګه وګورئ: د بشري حقونو په اړه د عالي کمیشنر دفتر، په حقیقت پوهیدلو حق باندې څیړنه: د بشري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر راپور،E/CN.4/2006/91 ، (۸ فبروري ۲۰۰۶)، ۳۵ پرګراف.
[113] د حقیقت موندلو لپاره څېړنه، د بشر حقونو لپاره ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ راپور(, ٨ February ٢٠٠٦, E/CN.٤/٢٠٠٦/٩١, para. ٣٦.
[114] د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د لارښود یادښت د انتقالي عدالت په اړه: یوه ستراتیژیکه وسیله د خلکو لپاره، مخنیوي او سوله (۱۱ اکتوبر ۲۰۲۳)، مخونه ۱۴-۱۵.

سره سم، دا د کمېټې یو تکرارېدونکې عمل پاتې شوی دی چې د قرباني ته د وراوښتې تاوان نه ورهاخوا داسې تدبیرونو په ګوته کړي چې د ورته سرغړونو د بیا تکرار مخه ونیسي.[۱۱۵]

د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور وکوونکې چې د حقیقت، عدالت، تاوان او د نه تکرار د تضمین د هڅونې په برخه کې کار کوي ویلي دي چې: "د یو حق رعایت ته عمومي ژمنتیا دا مانا لري چې هڅې باید ترسره شي، څو ډاډمن شي چې سرغړونې ودرېږي او بیا تکرار نشي. په دې ډول د تکرار د مخنیوي مکلفیت له هغه مکلفیت سره نږدې اړیکه لري چې د روانې سرغړونې د پای ته رسولو لپاره اړین شمېرل کېږي. په همدې بنیاد "ضمانتونه یوه وقایوي دنده ترسره کوي او د راتلونکې لپاره یوه مثبته هڅونه ګڼل کېدای شي"."[۱۱۶]

د نه تکرار تضمین مفهوم د تدبیرونو پراخه کټګورۍ په بر کې نیسي چې د راتلونکو سرغړونو له مخنیوي سره مرسته کولای شي. دا سازماني سموونو ته شاملېږي (لکه بې وسلې کول، د جنګیالیو بې وسلې کول او بیا ادغام، د امنیتي برخې سموونې، د قضایي خپلواکۍ د پیاوړتیا ګامونه او تقنیني بیاکتنه؛ څو ډاډ ترلاسه شي قوانین له نړیوالو بشري حقوقو قانون سره سمون خوري). همدارنګه یو لړ نور اقدمات هم په برکې نیسي چې د ټولنې او فرهنګې بدلون پراخ اړخونه سره پیوند کوي او دا ددې لپاره چې د سرغړونو د تکرار مخه ونیول شي (لکه د مدني فضاء د محدودیتونو لرې کول، د تویږ ضد قوانینو او پالیسي ګانو وده، د ازادو رسنیو سکتور روزنه او پیاوړتیا، د یادګاری ځلو جوړولو نوښتونه او د مذاهبوو ترمنځ د خبرو اترو هڅونه).[۱۱۷]

## اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونه

افغانستان د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونو نړیوال میثاق غړی دی. اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونه د کافي خوړو حق، مناسب استوګنځي، د زده کړو حق، روغتیا حق، ټولنیز امنیت حق، کلتوري ژوند کې د ګډون حق، د پاکو اوبو او حفظ الصحې حق او د کار کولو حق ته شاملېږي.[۱۱۸] افغانستان مکلف دی چې د خپل واک او قلمرو تر حدودو لاندې ټولو وګړو ته له توپیر پرته دغه حقونه خوندي او ورکړي.

دولتونه مکلف دي چې د خپلو شته سرچینو څخه په لویه پیمانه ګټه اخیستو سره د دغو حقونو بشپړ تحقق ته په کرار کرار ورسیږي.[۱۱۹] دا په دې معنی ده چې د ټولو غړو هېوادونو مکلفیت دی چې مناسب ګامونه واخلي چې د وخت په تېرېدو سره د دغو حقونو په تحقق کې دوامداره او باثباته پرمختیا رامنځته کړي. دا په دې معنی هم ده چې دولتونه باید سمدستي داسې تدبیرونه تر کار لاندې ونیسي چې لږ تر لږه د هر حق د اړینې کچې استفاده تضمین کړي.[۱۲۰]دولتونه دا مکلفیت هم لري چې د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو د تدریجي تحقق لپاره خپلې ټولې ممکنه شتمنۍ/سرچینې وکاروي. تر دې که یو دولت په ښکاره توګه محدودې سرچینې ولري، باید بیا هم کم لګښته او هدفمنده پروګرامونه جوړ کړي، څو له هغه خلکو سره مرسته وکړي چې ډېره اړتیا ورته لري او نومورې محدودې سرچینې په مؤثره او اغیزناکه توګه استفاده شي.[۱۲۱] سربېره پر دې د دغو حقونو تدریجي تحقق مکلفیت دا معنی هم لري چې هېڅ ډول هغه ګامونه وانخیسل شي چې د خلکو له لوري د حقونو څخه د برخمن کیدو اوسنۍ کچه راکمه کړي.[۱۲۲]

ځینې مکلفیتونه سمدستي پلې کېدونکي دي لکه د توپیر نه کولو اصل.[۱۲۳] دغه اصل ته د درناوي لپاره دولتونه مکلف دی چې ځانګړي تدبیرونه ونیسي؛ څو د محرومو او حاشیې ته تللو وګړو حقونو ته لومړیتوب ورکړي او خوندي یې کړي. تر دې که

[۱۱۵] د بشري حقونو کمیټه، د عمومي تبصرې شمیره [۸۰]، CCPR/C/۲۱/Rev.۱/Add.۱۳ (۲٦ می ۲۰۰٤)، پراګراف ۱۷.
[۱۱٦] د حقیقت، عدالت، جبران او نه تکرار د تضمین په اړه د ځانګړي ریورټر راپور( ۱۸. para ,A/HRC/۳۰/٤۲ ,۲۰۱۵ September ۷)
[۱۱۷] ملګري ملتونه، د انتقالي عدالت په اړه د عمومي سرمنشي لارښود نوټ، یوه ستراتیژیکه وسیله د خلکو لپاره، مخنیوي او سوله ( ۱۱ October ۲۰۲۳, p. ۲۰.)
[۱۱۸] د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقوقو نړیوال میثاق، ۱۹۶۶م، ډسمبر ۱۶
[۱۱۹] د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقوقو نړیوال میثاق، د دویمې مادې لومړۍ فقره، ۱۹۶۶م، ډسمبر ۱۶
[۱۲۰] د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو کمېټه، ۳ مه شمیره عمومي تبصره، E/۱۹۹۱/۲۳ .۱۰، (۱۹۹۰ دسمبر ۱۴)، ۱۰ پرګراف.
[۱۲۱] د بشري حقونو د عالي کمیشنر دفتر، اقتصادي، ټولنیزو او کتلوري حقونه (-https://www.ohchr.org/en/human-rights/economic social-cultural-)
[۱۲۲] د بشري حقونو د عالي کمیشنر دفتر، اقتصادي، ټولنیزو او کتلوري حقونه (: https://www.ohchr.org/en/human-rights/economic-social-cultural-rights )
[۱۲۳] د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو کمېټه (*General Comment No. 3*, para.۱-۲. E/۱۹۹۱/۲۳, ۱٤ December ۱۹۹۰)

سرچينې محدودې هم وي، بيا هم دولتونه مکلف دي، څو داسې تدابير ونيسي چې له تر ټولو ډېر د خطر سره مخ وګړي خوندي کړي.[۱۲٤]

سربېره پر دې د روغتيا حق ګڼو نړيوالو سندونو کې درج دی. د بشر حقونو نړيوالې اعلاميې ۲۵مادې لومړۍ فقره وايي: "هر څوک د يو معياري ژوند حق لري چې د خپل ځان او کورنۍ د روغتيا لپاره يې کافي وي، په دې کې خواړه، جامې، هستوګنه، طبي پاملرنه او اړين ټولنيز خدمتونه شامل دي".[۱۲٥] په همدې توګه د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو نړيوال ميثاق زياتوي چې دولتونه مني چې هر څوک د فزيکي او رواني روغتيا د ټولو لوړې ممکنه کچې پورې د برخمن کيدو حق لري.[۱۲٦] د روغتيا حق يو ټولمنلی حق دی چې يوازې په وخت او مناسبې طبي پاملرنې پورې محدود نه دی، بلکې د روغتيا له بنسټيزو سره هم پيوند لري.[۱۲۷]

## د معلوليت لرونکو وګړو حقوق

افغانستان د معلوليت لرونکو خلکو د حقونو کنوانسيون غړی دی. همدارنګه د معلوليت لرونکو وګړيو د حقوقو په تړاو د دولتونو مکلفيتونه په يو شمېر نورو اضافه بشري حقونو تړونونو کې درج او د بشري حقونو د بېلابېلو بنسټونو په وسيله يې پرمختګ کړی دی. د بېلګې په ډول د اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونو کمېټه.

په دولتونو باندې دا مکلفيتونه هم شته چې بايد د معلوليت لرونکو وګړيو لپاره کافي خواړه، د لاسرسي وړ استوګنځی او نورې بنسټيزې اړتياوې چمتو کړي. په همدې ډول اړينه ده چې دولتونه د مرستندويه خدمتونو لکه مرسته کوونکې وسايلو چمتوالی يقيني کړي؛ څو معلوليت لرونکي وګړي ددې جوګه شي چې د ورځنې ژوند خپلواکۍ کچه لوړه او له حقونو ګټه پورته کړي.[۱۲۸] د معلولو وګړو د حقونو کمېټې زياته کړې ده چې د تړون غړي دولتونه مکلفيت لري څو د معلولو ښځو حقونو ته درناوی وکړي، خوندي او عملي يې کړي. ځکه معلولې ښځې له ګڼو او دوامدره تبعيض سره لاس او ګرېوان دي.[۱۲۹] معلوليت لرونکو وګړي که په کليوالي يا ښاري سيمو کې وي بايد د کار په بازار کې د توليدي او ګټور کار کولو لپاره مساوي فرصتونه ولري.[۱۳۰] سر بېره پر دې، ټولنيز امنيت او د عايد درلودلو طرحې معمولاً د معلوليت لرونکو وګړو لپاره ځانګړې اهميت لري. دولتونه بايد دا ډاډ ترلاسه کړي چې معلوليت لرونکو وګړيو مناسب مالي ملاتړ ترلاسه کړی دی کوم چې د معلوليت يا اړوند لاملونو په سبب يې عايد په لنډمهاله توګه له لاسه ورکړی، کم شوی يا يې دندې ته لاس رسۍ منع شوی دی. ياد ملاتړ بايد له معلوليت سره تړليو اړتياوو او لګښتونو ته ځواب ووايي. تر دې چې ياد ملاتړ بايد هغه کسانو ته هم وغځېږي چې د معلوليت لرونکو وګړيو سرپرستي په غاړه لري.[۱۳۱]

سربېره پر دې دولتونه بايد د معلولو ماشومانو، ځوانانو او لويانو لپاره د زده کړو مساوي فرصت اصل په خپل تعليمي چاپيريال کې په رسميت وپېژني. دولتونه بايد ډاډ ورکړي چې ښوونکي ددې وړتيا لري چې معلول ماشومان په عادي ښوونځيو کې وروزي او داسې اړين وسايل او ملاتړ بايد شتون ولري چې معلول وګړي د غير معلول همځولو په څېر زده کړې وکړي.[۱۳۲]

د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو کمېټه ټينګار کوي چې دولتونه بايد تضمين کړي چې معلوليت لرونکو وګړو او په ځانګړې توګه ماشومانو او نويو زيږيدلو ته د ټولنې د نورو وګړيو په څېر په هماغه روغتيايي نظام کې يو ډول طبي پاملرنه وشي. د روغتيا

[۱۲٤] OHCHR ، اقتصادي، ټولنيزو او کتلوري حقونه (https://www.ohchr.org/en/human-rights/economic-social-cultural-rights) :

[۱۲٥] د بشر حقونو نړيواله اعلاميه، ۲۵ماده، لومړۍ فقره

[۱۲٦] د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقوقو نړۍ وال کنوانسيون، ۱۲مادې لومړۍ فقره، ۱۹۶۶م، ډسمبر ۱۶

[۱۲۷] د بېلګې په توګه د خوندې او څښاک وړ اوبو او مناسب حفظ‌الصحې ته لاسرسی، د خوندي خوړو کافي عرضه، تغذيه او د اوسيدو ځای، د کار او چاپېريال سالم شرايط، او د روغتيا اړوند تعليم او معلوماتو ته لاسرسی، په ځانګړي ډول د جنسي او تناسلي روغتيا په اړه.
د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو د کميټې عمومي تفسير شمېر ۱۴، E/C.۱۲/۲۰۰۰/٤، د ۲۰۰۰ کال د اګست ۱۱ نېټه.

[۱۲۸] د افتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو کمېټه ( *General Comment No. 5*, para ۳۳. E/۱۹۹۵/۲۲, ۹ December ۱۹۹٤ ,)

[۱۲۹] د معلوليت لرونکو اشخاصو د حقونو د ملګرو ملتونو کميټه، عمومي تفسير شمېر ۳ (۲۰۱۶)، د ۶مې مادې په اړه: د معلوليت لرونکې ښځې او نجونې، CRPD/C/GC/۳، د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر ۲مه.

[۱۳۰] د افتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو کمېټه، ۵ شميره عمومي تبصره، E/1995/22 ، (۹ دسمبر ۱۹۹٤)، ۲۲ پرګراف.

[۱۳۱] د افتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو کمېټه، ۵ شميره عمومي تبصره، E/1995/22، (۹ دسمبر ۱۹۹٤)، ۲۲ پرګراف.

[۱۳۲] د افتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو کمېټه، ۵ شميره عمومي تبصره، E/1995/22 (۹ دسمبر ۱۹۹٤)، ۳۴ پرګراف.

حق دا معنی هم لري چې نوموړي وګړي باید روغتیایي او ټولنیزو خدمتونو ته لاسرسی ولري او ګټه ځنې واخلي، په دې ملاتړ کې د هډوکو/ارتوپیدي وسایل هم شامل دي څو هغوی ته خپلواکي ورکړل شي او په ټولنه کې ورته د ادغام ملاتړ وشي. په همدې توګه معلولیت لرونکو وګړیو ته باید د بیارغونې داسې خدمتونو چمتو شي چې هغوی ددې جوګه ګړي چې خپله خپلواکي او فعالیت خوندي کړي. دا ټول خدمتونه باید په داسې بڼه وړاندې شي چې معلول وګړي خپل عزت او حقونه دواړه حفظ کړي.[۱۳۳]

# ۳ برخه: په قربانیانو باندې د شخړې اغیزې

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی ( یوناما) له ۱۹۵تنو سره مرکه کړې ده چې په وسله والو شخړو کې د پېښو اوږدمهاله اغیزو باندې خبرې وکړي. دا پېښې (د ۱۹۹۴کال څخه تر ۲۰۲۱) کال پورې موده رانغاړي، خو له دې سره سره د هغو بشري حقونو د سرغړونو یوه وړه بېلګه ده چې د څو لسیزو پرمهال په افغانستان کې رامنځته شوي دي. جوته ده چې که څه هم یاد کسان له بېلابېلو قومونو، جنسونو او عمرونو سره تړاو لري او د هغوی پر وړاندې بېلابېل عاملین، تګلارې او زیانونه کارول شوي خو قربانیانو خپل درد، کړاو او ګډې تجربې شریکې کړې دي. مرکه کوونکې د اوږدمهاله فزیکي، رواني، مالي او ټولنیزو اغیزو په اړه غږېدلي دي چې د وخت په تېرېدو به تر څو نسلونو دوام ومومي.

[۱۳۳] د افتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو کمېټه(*General Comment No. 5*, para ۳٤. E/۱۹۹٥/۲۲, ۹ December ۱۹۹٤.)



۲۵ کلنه ګل خیره کله چې لغمان ولایت کې د خپل کور څخه بهر ووتله پر یوه ناچاودلي مرمۍ یې پل کیښود. نوموړې اوس خیاطه ده. ډاکټره بخت مینه صافي د ګل خیرې د مصنوعي پښو کتنه کوي.

د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ اداره، کابل، ۲۰۲۳.

## الف: فزيکي اغېزې

له مرکه شویو کسانو پوښتنه شوې وه چې دغې پېښې پر هغوی او د هغوی په کورنيو څه ډول فزيکي اغېزه کړې ده، ۵۸ سلنه مرکه شویو د پيښو په پايله کې فزيکي اغېزې يادې کړې دي.[١٣٤]

**بلال او غوث الدين[١٣٥]**

"د ۲۰۲۱ کال د جون په ۱۸نېټه د سهار په ۴ بجو غوث الدين په جوزجان ولايت کې د خپل کلي جومات ته پر لار و؛ په داسې حال کې چې کورنۍ يې ويده وه. کله چې حکومت پلوه وسله والو له نږدې پوستې څخه درنې ډزې وکړې او کور يې ورته وويشت هغه په منډه کورته راغی او په کور کې يې خپله مور او خور مړه موندل او دوه زامن يې چې عمرونه يې پينځه او شپږ کاله و، شديد ټپيان وو.

زوی يې بلال چې اوس لس کلن دی وويل:

*"زه په پشه خانه کې په درانه خوب ويده وم او نابېره له يو ډارونکي خوب څخه راويښ شوم، ماته د ډېرې حيرانتيا خبره دا وه چې مور مې زما پښه په ټوکر کې تاوه کړې وه. په بل څه چې زه شوم هغه دا چې زه په روغتون کې وم. له لسو ورځو وروسته پوه شوم چې پښه مې نه شوريږي. داسې مې انګيرله لکه زړا ورځ چې توره شپه شوي وي. ما د پښې دوه عملياتونه وکړل، مګر بريالي نه شو. له هغه ورځې راهيسې زه اوس له امساء پرته ګرځېدلی نه شم، ځکه چې پښه مې زيانمنه شوې ده. دا بيا ددې لامل شو چې پوره اووه مياشتې ښوونځي ته لاړ نه شم. له نيکه مرغه يوه مهربانه ګاونډې راته وراندېز وکړ چې په ريکشه کې به دې ښوونځي ته ورېا ورم. مګر اوس خپلې راتلونکي ته په تشويش کې يم. پوهنتون ته به څنګه ولاړ شم؟ ايا له ماسره به کومه جلې واده وکړي؟ که مې واده وکړ نو خپلې ميرمنې او ماشومانو ته به څه ډول د روزي بندوبست کوم؟ دا مې ډېر دردوي چې خپل همځولي ګورم منډې وهي او فوټبال کوي او دا هغه څه دي چې نور له ما پاتې شول."*

### i. اوږدمهاله (مزمن) درد

زيات شمېر قربانيان د ټپونو له امله اوږدمهاله او دوامداره درد تجربه کوي، د بېلګې په ډول د سوځېدو يا په وجود کې د پاتې پرچو له امله:

> *"زما په ټول بدن کې د سوځېدو نښې ليدل کېږي [...] زه نه شم کولای چې د ژمي موسم کې د بخارۍ تر څنګ کېنم. همدارنګه زه نه شم کولای چې په لمرينه هوا کې وګرځم او که حرکت کوم نو ټول بدن مې سوځي. زه په ټودو ځايونو کې له سره کېناستلی نه شم."* [١٣٦]

> *د يوې چاودېدونکي توکي ټوټو مې د زوی سينه سورۍ کړه، چې درد يې تر ننه دوام لري. د نوموړي په سر او لاسونو کې التهاب پيدا کېږي چې زياتره وخت يې حسه کېږي، خارښت کوي او پړسوب پيدا کوي. له پېښې وروسته د هغه يو پښتورګی هم ايسته کړل شو.*[١٣٧]

[١٣٤] يو شمېر مرکې د هغه قربانيانو د کورنۍ له غړيو سره ترسره شوي چې يا وژل شوي او يا هم نادرکه شوي دي له همدې امله د مرکه کوونکو له لوری د فزيکي زيانونو تجربې شريکې شوې نه وې.

[١٣٥] ۵۱ شمېره مرکه

[١٣٦] ۱۰۳ شمېره مرکه

[١٣٧] ۸۴ شمېره مرکه

*لور مې تر اوسه د سوځېدو کړاو ګالي، د بدن پوستکی يې ډېر کمزوری دی او کله کله له عادی ګرېدلو سره وينه بهوي. نومورې او زما خورزه د دواړو له غوږونو کله کله وينې روانېږي. خورزه مې په دواړو ورنونو کې پرچه لري او کابل کې د عمليات پرمهال ايستل شوي نه دي.*[138]

يو مرکه شوی کس چې په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو لخوا په پښه ويشتل شوی و، وويل چې هغه لاهم په خپله پښه کې درد احساسوي چې د پيښې څخه دوه لسيزې وروسته هم د هغه حرکت او د کار کولو وړتيا باندی يې اغيزه کړی."[139]

## ii. دوامداره روغتيايي اړتيا

په لويه کچه مرکه شويو دوامداره روغتيايي اړتياوې درلودې چې له ټپونو سره يې تړاو درلود. په ځينو قضيو کې دوی له پېښې وروسته دوامداره درملنې ته اړتيا درلوده. د بېلګې په ډول يوه ښځه چې (د طالبانو او افغان امنيتي ځواکونو ترمنځ د هغوی په کلي کې) د هاوان د درنو ډزو په پايله کې ټپي شوې وه په دوامداره توګه روغتون ته ځي چې له خپلې پښې پرچې لرې.[140]

نورو ويلې چې دوی دوامداره فزيکي درد زغمي ځکه دوی د طبي درملنې توان نه درلود.

*"زه په خپل ښي زنګون کې د اوسپنې ټوټه لرم، له ډاکټر بلال څخه مننه کوم چې اوس ښه ده. که څه هم په ژمي کې د درد احساسوم، ډاکټر بلال راته ويلې دي چې بايد لرې يې کړم خو زه د بل عمليات پيسې نه لرم."* [141]

يو مرکه شوي وويل چې ۱۳ کلن زوی يې د خپلې کورنۍ د ملاتړ په موخه د ورځې مزدوري کوله، چې د طالبانو له لوري د ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي له امله ټپي شو. نومورې خپل زوی چې عمر يې له ۱۸ کلونو څخه ټيټ و، پاکستان ته يې د درملنې په موخه واستوه چې له بدن څخه يې د چاوديدونکي توکي پرچې لرې کړې. د يادې پېښې له امله د نومورې هلک غاښونه تر اوسه مات دي، چې کورنۍ يې د درملنې وس نه لري.[142]

## iii. معلوليت

ګڼو قربانيانو د جګړې پر مهال د ټپونو له امله فزيکي معلوليتونه ترلاسه کړي وو، لکه ړنديدل يا کڼيدل، د بدن د غړي له لاسه ورکول، يا د حرکت دوامداره ستونزې. هغوی تشريح کړه چې دغه معلوليتونو د دوی د ژوند په بېلابېلو برخو پراخ منفی اغېز کړی، لکه د کار کولو، زده کړو، او ټولنيزو فعاليتونو کې د ګډون وړتيا له لاسه ورکول شامل وو.

يو سړي زياته کړه چې په ۱۵ کلنۍ کې يې د شپون توپ پرمهال يو ځای کې اوسپنې پرچه مونده او پورته يې کړه، خو نه پوهېده چې دا څه شی دی. دا يوه چاودېدونکې وسيله وه چې چاودنه يې وکړه:

*"زه سخت ټپي شوی وم، که ته نږدې وی او زما بدن دې کتلی وای، نو حيران شوی به وای چې زه څنګه ژوندی پاتې شوی يم. زه اوس له معلوليت سره لاس او ګرېوان يم، سترګه مې له لاسه ورکړې ده او زما چپ لاس تر مړوند پورې پرې شوی دی. زه کار نه شم کولای او نه مې هم ښوونځی يا مدرسه تعقيب کړې ده."* [143]

يو بل مرکه شوي چې په ۹ کلنۍ کې يې د ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د درنو توغنديو د ډزو له امله چې د هغه پر کور لګيدلي سترګې يې له لاسه ورکړې وې وويل چې د معلوليت له وجې ښوونځي پريښودو ته اړ شو.

*"د پېښې پرمهال زه د درېيم ټولګي شاګرد وم او د ډاکټرۍ خوبونه مې ليدل. له بده مرغه هر څه په سيند لاهو شول، که څه هم ما د اووم ټولګي پورې زده کړې کړې وې؛ خو د پېښې د ټپونو په سبب د دويمې سترګې کمزوري کېدو له*

[138] ۳۴ شمېره مرکه
[139] ۱۰۹شمېره مرکه
[140] ۱۶شمېره مرکه
[141] ۷۶شمېره مرکه
[142] ۶۶ شمېره مرکه
[143] ۱۲۶شمېره مرکه

*امله اړ شوم چې له ښوونځی لاس واخلم. اوس چې زه ۱۷ کلن یم، ورځنی مزدورکار یم، په داسې حال کې چې زما پخواني ټولیګوال تر یوولسم پورې زده کړې کړي دي. زه د نالوستي پاتې کېدو له امله ډېر سخت ځوریږم."* [١٤٤]

یو بل سړی چې د هغه یوولس کلنه خور په یوه سترګه هغه مهال ړنده شوې وه چې د نړیوالو پوځي ځواکونو د هوايي برید د پرچو له امله ټپي شوه، هغې وویل، د خپل معلولیت له امله ښوونځي يې پرېښوده.[١٤٥]

یوه ښځه چې ۱۷ کلنه لور یې د افغان ملي دفاعي امنیتي ځواکونو د توغندیزو بریدونو په پایله کې ټپي شوې وه د خپلې لور د ټپي کېدو اغېزې یې داسې بیان کړې:

*"دې پېښې زما لور اواز ګل باندې په بل ډول اغېزه وکړه. هغه غالۍ اوبدونکي وه او کوژده شوې وه. هغې د غالۍ اوبدلو ورتیا له لاسه ورکړه ځکه چې په دې پېښه کې د هغې د ښي لاس پورتنۍ برخه زیانمنه شوه. د هغې د غالۍ اوبدلو مهارت له امله، د هغې کوژدنې لا دمخه مور ته د ۴۰۰,۰۰۰ افغانیو [۵,۳۳۳ امریکايي ډالر] لوړ مهر راکړ. په هرصورت، د هغې سره د واده کولو وروسته، د هغه خاوند هغه په دوامداره توګه د هغې سره د هغه د ژوند بې ګټې کېدو له امله ناوړه چلند کاوه ځکه چې هغه نور غالۍ نشو اوبدلی."* [١٤٦]

## iv. د پاملرنې مسؤلیتونه

د فزیکي ټپونو اوږدمهاله اغیزې د کورنۍ په نورو غړیو هم اغیز کوي چې اړ دي د پاملرنې مسؤلیت په غاړه واخلي. څو تنو مرکه شویو وویل چې د کورنۍ غړیو ته د پاملرنې له امله اړ شول چې کار یا زده کړې پرېږدي:

*"ما او زما ورونو او خویندو خپل مور او پلار له لاسه ورکړل. زما کوچنی ورور معیوب (فلج) شوی دی [...] زما خور چې ۱۶ کلنه ده او زه باید تل د خپل کوچني ورور پاملرنه وکړو. د هغه پورته کول ورځ تر بلې سختیږي، خور مې په شا او اوږو برخه کې درد احساسوي؛ ځکه چې ټول وخت باید ټیټه شي او ورور پورته کړي [...] زما خور ښوونځي ته تللی نه شي، ځکه څوک نشته چې زما د ورور پاملرنه وکړي."* [١٤٧]

[١٤٤] ۵۶شمېره مرکه
[١٤٥] ۳۱شمېره مرکه
[١٤٦] ۵۵شمېره مرکه
[١٤٧] ۳۹شمېره مرکه



"تر ټولو دردونکې برخه دا ده چې زه یې
هېرولای نه شم. هر چېرې چې ځم، دا له ما
سره وي".

محمد، د ماین (IED) چاودنې قرباني

یوناما، کابل، ۲۰۲۵.

## ب: احساساتي او رواني اغېزې

**حاجي دیناګل**[۱۴۸]

د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۵مه، په پکتیا ولایت کې، د حاجي دینا ګل په کور د درنو توپونو ډزې وشوې. د هغه (۱۲ کلن) زوی برکت الله د ګولیو د پرچو په لګېدو سره سمدلاسه ووژل شو او د هغه (۸ کلنه) لور بادشاه ګل، د هغه (۱۰ کلن) زوی نجیب الله، د هغه (۱۶ کلن) وراره کریم او د هغه (۱۵ کلنه) وریره عایشه ټپیان شول.

کله چې هغه د خپلې بلې (۱۸ کلنې) وریرې بي بي حلیمه سره روغتون ته د ټپي ماشومانو لیږدولو په حال کې و، د دوی موټر په هوایي برید کې په نښه شو، چې نجیب الله او بي بي حلیمه یې سمدلاسه ووژل. یوازې یو کال وروسته، د هغه ۱۷ کلنې لور بدانه د هغه خپګان له امله ځان وژنه وکړه چې د خپلو ورونو له لاسه ورکولو وروسته یې درلوده.

"په کورنۍ کې هرڅوک د ژوندي مړي په څیر دي. که څه هم موږ ژوندي ښکارو، خو په حقیقت کې موږ ټول مړه یو. زما پاتې ماشومان ډېر ګوښه شوي، او دوی نه غواړي له نورو سره وویني یا له دوی سره څوک خبرې وکړي. "

له مرکه شویو څخه وپوښتل شول چې پېښې د دوی پر عاطفي او احساساتو څومره اغیز درلود. نږدې ۹۵سلنه مرکه شویو د پېښو احساساتي یا رواني اغیز راپور ورکړ چې په کې ذهني یا احساساتي کړاونه شامل وو. لکه د تمرکز نشتوالی، د حافظې کمزوري کېدل، تېرې پېښې بیا راژوندي کېدل، خفګان او ټولنیزه ګوښه کېدنه.

هغه کسان چې د کورني غړي یې وژل شوي و د پېښې وروسته یې احساساتي دردونه بیان کړل:

*"زه څرنګه خپل کړاونه بیان کړم؟ هره ورځ د خپلوانو د لاسه ورکولو درد تجربه کوو، چې زموږ له کور څخه دوه جنازې تللي دی. د دوی مور ټوله شپه وبښه وي او ژاړي. هغه کوټه چې موږ تازه د زوی د واده په پار جوړه کړې وه؛ اوس هغه دردناک یادګار پاتې دی چې موږ له لاسه ورکړی دی، داسې یوه کوټه چې کتل یې خورا سخت دي."*[۱۴۹]

یوه سړي زیاته کړه چې طالبانو ۲۰ کاله وړاندي د هغه پلار او ورور د شا له لوري د لاسونو له تړلو وروسته په ډزو ووژل، نوموړی سړی چې هغه مهال ماشوم و، په اوږه او پښه ټپي شوی و. هغه وویل چې لاهم له دې پېښې سره احساساتي مبارزه کوي او د هغه وخت دردونو سره پرمخ ځي:

*"دومره وخت له تېریدو سره سره ځینې مهال بیاهم سم خوب کولای نه شم. د خپل پلار او تره د وژل کېدو یادونه راسره تل وي، هر څه په زړه راوریږي . څه ډول یې ووژل او په څه ډول یې زموږ کور او کلي په اور کې لولپه کړ؛ خو هېڅ ما مو لاسنیوی ونه کړ."* [۱۵۰]

ګڼ شمېر مرکه شویو چې د رواني روغتیا له ستونزو سره مخ شوی و، چې خفګان او وېره پکې شامل و. ځینو دا هم ویل چې د ځان وژنې فکر یې هم کړی دی:

*"زما د دوو ماشومانو مړینه زما او زما د مېرمنې لپاره د سخت غم لامل وو. ځینې وختونه زه په یوه خونه کې ناست یم، دروازه وتړم او ډېر ژاړم. ما ټولې هیلې له لاسه ورکړې. بیا، زه د ځان وژنې په اړه فکر کوم مګر بیا ما خپل نظر بدل کړ. ما ځان ته وویل چې موږ باید د ستونزو سره سره ژوند ته دوام ورکړو [...] دا یوازې زه نه یم. زماد کورنۍ ټول غړي په وجود کې ټپونه لري، کوم چې تل زموږ روان ځوروي. "* [۱۵۱]

د پېښو قربانیانو وویل چې کله هم له پېښې سره ورته غږ یا حالت تجربه کړي، یا وریاد شي؛ نو یا ویریږي او یا په قهر شي:

[۱۴۸] ۳۴ شمېره مرکه
[۱۴۹] ۱۲شمېره مرکه
[۱۵۰] ۱۹شمېره مرکه
[۱۵۱] ۱۶شمېره مرکه

*"زه اوس هم له رواني ستونزو سره مخ یم، کله چې پېښه یاد ته راشي ویرېږم او اوس هم که غږ یا شور واورم، نو سملاسي راپاندې ویره راځي." [152]*

یو سړی چې د داعش خراسان له لوري په یو سخت برید کې ټپي شوی و، د حافظې او تمرکز له ستونزو یې شکایت وکړ:

*"له دې پېښې مخکې مې هر څه ژر زده کول او یاد به مې و، خو اوس نشم کولای چې ښه زده کړه وکړم او هغه څه په یاد کې وساتم چې لولم یې او زده کول یې غواړم. په همدې ډول زه اوس ډېر هیرونکی شوی یم، د بېلګې په توګه که ښار ته ځم، دروازه قلف کوم، خو په لاره کې بیا وایم چې ما دراوزه قلف کړې او که نه؟ نو بېرته ګرځم او ګورم یې چې دا هرڅه له دغه پېښې وروسته پیل شو." [153]*

ځینو خلکو ویل چې له پېښې وروسته یې له ځینو کارونو او ځایونو ویره کېږي، یوې ښځې داسې زیاته کړه، زما زوی د داعش خراسان له لوري د ځانمرګي برید پرمهال د کانکور ازمویني مرکز کې ټپي شو، له دې پېښې وروسته زما کشر زوی اوس ښوونځي ته نه ځي. *"هغه باوري شوی که ښوونځي ته لاړ شي نو بله چاودنه به وشي او دا به هم د خپل ورور په شان ټپي شي، هغه اوس په دې باور دی چې ښوونځي ته تګ د چاودنې لامل ګرځي." [154]*

یو سړی چې پلار یې د طالبانو له لوري تښتول شوی او وژل شوی و داسې یې وویل:

*"دغې پېښې زموږ په کورنۍ کې ویره خپره کړه، مګر فکر کاوه چې هغوی به موږ ته هم ځان ورسوي، هغه سړک چې پلار مې پکې نیول شوی و زموږ له کلي څخه تر بازار پورې اصلي لار ده. زه تقریباً هره ورځ له همدې لارې بازار ته ځم او هر کله چې په دغه سړک تېرېږم، د پلار یې رحمانه وژنه مې یاد ته راځي." [155]*

یو شمېر مرکه شویو کسانو د رواني روغتیا ستونزو څخه د راپورته شوي مخدره توکو د ناوړه ګټه اخیستنې مسلو یادونه وکړه چې د یوې پیښې وروسته ورسره مخ شوي:

*"له دې پېښې وروسته، زما تره د ژورې خواشینۍ او خپګان له امله په مخدره توکو روږدي شو او نور یې د خپلې کورنۍ پاملرنه نشوای کولی. په پایله کې، د هغه میرمن او شېږ ماشومان اوس زموږ سره ژوند کوي." [156]*

*"د ځینو قربانیانو کورنۍ د دې پیښې له امله په جدي توګه اغیزمنې شوې، د بیلګې په توګه عبدل، چې خپله تروله کورنۍ یې له لاسه ورکړه. هغه په نورمال ډول چلند کول بند کړل، پدې معنی چې هغه قوي احساساتي او فزیکي غبرګونونه لري. هغه په رواني ناروغۍ اخته دی او اوس روږدي دی. هغه له ټولو کلیوالو سره خپلې اړیکې پرې کړې دي. هغه اوس زموږ په کلي کې د سړکونو په غاړو او کوڅو کې ګرځي." [157]*

یو تعداد مرکه شویو وویل چې د پېښې له امله پرې راغلو احساساتي فشارونو او تروما فزیکي اغیزې هم درلودې:

*"دغې پېښې زما خوشاله ژوند په غم واړوه [...] د مېړه له لاسه ورکولو دومره ژور خفګان او اندېښنه راته پیدا کړه چې د وجود شیدې مې بندې شوې. له همدې امله زموږ نوی ماشوم له خوار ځواکۍ سره مخ شو چې د هغه په ودې یې جدي منفي اغېز وکړ." [158]*

*"کله چې هغه د زده کړو مرکز دروازه کې و او دننه داخلېده یوه ستره چاودنه وشوه. د سترګو په رپ کې لسګونه زده کوونکي چې زما زوی هم پکې شامل و ووژل شو او ټپیان شول. زما زوی د بم د چاودنې د پرچو په پایله کې ټپي شو چې سترګې، غوږ او لاسونه یې زیانمن شوي و. زه په کور وم چې په وینو لت پت یې راته راوست. له دغه سخت ټکان وروسته زما د وینې فشار پورته شو او له هماغه وخت راهیسې زما ښي پښه سم کار نه کوي او هغه یوه ویرونکې ورځ وه." [159]*

[152] ۱۲۱شمېره مرکه
[153] ۷۸شمېره مرکه
[154] ۱۰۸ شمېره مرکه
[155] ۱۳۹ شمېره مرکه
[156] ۳۵شمېره مرکه
[157] ۱۴۸شمېره مرکه
[158] ۵۵شمېره مرکه
[159] ۱۰۸شمېره مرکه



یو افغان دوکاندار د ۲۰۱۵ کال د اګست په ۷مه په کابل کې د یوې زورورې لارۍ بم چاودنې په ځای کې خپل ویجاړ شوی دوکان ته ګوري. د چارواکو په وینا، دې زورورې لارۍ بم چاودنې لږ تر لږه اووه کسان ووژل او له ۱۰۰ څخه زیات نور یې ټپیان کړل.

د AFP عکس / شاه مری، ۲۰۱۵.

## ج: مالي اغيزې

**حسن جان**[١٦٠]

"په ۲۰۱۷ کال کې یوه ورځ چې دقیقه نېټه مې په یاد نه ده د سهار نهه بجې وې، ما د لرګیو ډک ټراکټور چې د خرڅون لپاره مې بار کړی ؤ چلاوه. ناڅاپه ټراکټور د سرک په غاړه په یوه ځاي پر ځای شوی ماین وخوت او چاودنه وشوه. چاودونه ډېره درنه وه، ټراکټور یې په بشپړه توګه ویجاړ کړه. زما دواړه پښې سختې ټپي شوې...، د جراحي په پایله کې، زما یوه پښه پرې شوه، او بله یې چې ماته شوې وه هډوکي یې سره د اوسپنې د سیخانو په نصبولو سره سمه شوه. نږدې څلور میاشتې روغتون کې بستر وم. څو بېرته له خپلې کورنۍ سره یو ځای شم...

هغه ټراکټور چې په دې پېښه کې ویجاړ شو، زما د کورنۍ د عاید یوازینۍ سرچینه وه. ما د پیښې څخه څو اونۍ دمخه په کندهار کې زمور د یو خپلوان څخه شاوخوا ۵۰۰,۰۰۰ افغانۍ [۶۶۶۶ امریکایي ډالر] پور اخیستی و ترڅو هغه واخلم. ما تر اوسه پورې دهغه پیسې بیرته نه دي ورکړې. زما کورنۍ زما د درملنې لپاره شاوخوا ۲۰۰,۰۰۰ افغانۍ [۲۶۶۶ امریکایي ډالر] پور اخیستی و چې بیرته نه دی ورکړل شوی. دې دوو پورونو ډېر اندیښمن کړی یم چې څنګه به یې بیرته خلاصوم. له هغه وخت راهیسې، ما هڅه کړې چې د خپلې کورنۍ د کفالت لپاره د ورځني کارګر په توګه کار وکړم، مګر زما د معلولیت او فزیکي ناتوانی له امله، ډېر محدود شمیر کارکمارونکي ما ته اجازه راکوي چې د دوی لپاره کار وکړم."

۸۴ سلنه مرکه شویو د هغه زیان له امله مالي زیانونه تجربه کړي وو چې دوی ورسره مخ شوي وو. دوی د روغتیا پاملرنې، جنازو او د کورونو او سوداګرۍ بیارغونې لګښتونه کړي دي. ګڼو دا هم ویلي دي چې خپل عاید یې له لاسه ورکړی دی، ځکه چې یا خو خپله ټپي شوی و او کار یې نشو کولای او یا یې هم د ټپي شویو خپلوانو پالنه کوله.

### i. روغتیايي پاملرنې لګښتونه

ډېرو مرکه شویو د درملنې لګښتونو په اړه خبرې کړې. ځینې لا تر اوسه د خپل ځان یا کورنۍ د غړیو د دوامداره طبي اړتیاوو مالي بار په غاړه لري.

*"زه نه شم ویلای چې ژوند ماته څومره سخت شوی دی. له پېښې وروسته ما باید د ۳۰۰ تر ۴۰۰ پورې نسخې دوا اخیستې وای، باور دې وشه چې نور د دوا توان نه لرم. ما نږدې د کور هر شی پلورلی دی؛ څو خپلې کورنۍ ته خواړه برابر کړم او د کور کرایه پرې کړم."*[١٦١]

*"پښې له مورږ هرڅه واخسیتل. زوی مې له لاسه ورکړه او لور مې په پښو ټپي شوه. مور خپل کور له لاسه ورکړ او خپله ټوله شتمني مې پلورلې ده؛ څو د خپلې لور د درملنې لپاره پیسې برابرې کړم."*[١٦٢]

د افغانستان په ځینو برخو کې د روغتیايي پاملرنې کمښت له وجې یو شمېر قربانیان اړ کوي چې د هېواد بلې برخې یا د پاکستان، ایران په څېر ګاونډیو هېوادونو ته سفر وکړي چې لګښتونه ورسره زیاتیږي:

*"دواړه لاسونه او پښې مې ماتې شوې وې، سر او ټول بدن مې ډېرو پرچو لړیدلی و. ماته ناشونې وه چې په افغانستان کې یې ښه درملنه وکړم. په همدې دلیل پاکستان ته لاړم چې د خپل ښې لاس درملنه وکړم. د نور بدن درملنه مې په افغانستان کې وکړه. چپه پښه مې ۳۲ ځله عملیات شوه او ډاکټرانو راته وویل چې ۵ نورو ته هم اړتیا لرې چې چپه پښه دې په بشپړه توګه ښه شي. سرېیره پرې دې سر مې هم څو پرچې خوړلې وې. دقیقآ ما ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ [ ۲۶۶۶۷] ډالر په خپلې درملنې ولګول او زه نږدې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ چې [ ۱۳۳۳۳] ډالرکېږي نورو ته اړتیا لرم چې ډاکټرانو له لوري توصیه شویو عملیات پرې ترسره کړم."*[١٦٣]

[١٦٠] ۱۰۱ شمېره مرکه
[١٦١] ۲شمېره مرکه
[١٦٢] ۴۱ شمېره مرکه
[١٦٣] ۶۰شمېره مرکه

*"زما ټپي پښه دوامداره درملنه غواړي. زه درد احساسوم. په داسې حال کې چې زه باید په منظم ډول په قلات او قندهار کې روغتیايي اسانتیاوې ترلاسه کړم چې دا پیسې غواړي او زه يې له عهدې وتلی نه شم."* [١٦٤]

*"ما نږدې ۱۱۰۰۰ ډالر د خپلو سترګو په درملنه لګولي دي چې ډېرې پیسې پوروړی یم. اوس غواړم چې د نورې درملنې په موخه پاکستان ته لاړ شم، خو پیسې نلرم."* [١٦٥]

یو سړی چې کورنۍ يې ټوله د طالبانو او افغان ملي دفاعي امنیتي ځواکونو د درنو توپونو ډزو له امله زیانمنه شوې وه وویل چې لا هم د خپلو ټپي خپلوانو په درملنه پیسې لګوي.

*"زموږ کورنۍ هڅه کوي چې له پښېښو سره مبارزه وکړي، پنځه کاله وړاندې پښېښه وشوه؛ مګر تر اوسه باید موږ هغه پورونه خلاص کړو چې د خپلې کورنۍ د درملنې لپاره موکړي دي. ما یو ځل هېواد پرېښود او ترکیې ته د کار لپاره لاړم. ما په یوه ساختماني سایټ کې کار کوه او کورنۍ ته به مې پیسې لېږلې او دوی د خپلو لګښتونو پورونه پرې کول."* [١٦٦]

## ii. د ملکیت زیان

یو شمېر مرکه شویو د خپل ملکیت د رغولو په اړه خبرې وکړې چې د شخړو له امله زیانمن شوي و. یو مرکه شوي وویل: چې اړ و څو پور وکړي چې خپل تجارت په پښو ودروي ځکه دوکان يې د طالبانو او افغان ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو (چې د نړیوالو ځواکونو له لوري حمایه کېدل) د بریدونو په پایله کې وران شوی و[١٦٧] یو بل د ناچاوده بم په اړه وویل چې یو زوی يې ورته وژلی او بل يې ټپي کړی و او هم يې کورنۍ غوا ورته وژلې وه چې د دوی د کورنۍ د عاید یوازینۍ سرچینه وه.[١٦٨]

یو بل سړي چې کور يې په ۲۰۱۶ کال کې د افغان ملی او امنیتی ځواکونو د توپونو د ډزو په پایله کې سخت زیانمن شوی و وویل چې اوس وس نه لري چې د برید په پایله کې ویجاړې شوې کوټې ورغوي او هم په دغه برید کې د دوی د خپلوانو دوه تنه وژل شوي او پینځه نور ټپیان شوي و. دوی اوس هم په وران ویجاړ کور کې ژوند کوي.[١٦٩]

## iii. د عاید وړتیا له لاسه ورکول

په دغو مرکه شویو کې ګڼ شمېر له پېښې وروسته د عاید وړتیا له لاسه ورکولو په تړاو خبرې وکړې، چې په ځینو کورنیو کې دا مالي بې وسي تر ډېر وخت پورې وه، لکه کله چې د کورنۍ یوازینی سرپرست وژل شوی یا داسې معلول شوی و چې نور يې کار نشو کولای.

یو مرکه شوي وویل چې څه ډول يې کورنۍ لوی مالي زیانونه تجربه کړي دي، کله يې چې پلار په یو هوایي برید کې چې ۲۰۱۸م کال کې نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا په لار اچول شوي و وژل شو. پلار يې د منو باغ کې کار کاوه او د هغه له تجربې پرته هغوي وړتیا نه درلوده چې اداره يې کړي چې په پایله کې به يې حاصل هم کم و.[١٧٠] نورو هم ورته تجربې شریکې کړي دي:

*"پېښې زه له فزیکي پلوه په یو معلول شخص بدل کړم. زه د یو عادي وګړي په څېر کار نشم کولای. زه د خپلې کورنۍ یوازینی شخص یم چې څلورو زامنو، دوه لورګانو او یوې ناروغې مېرمن ته روزي ګټم. د پېښې په پایله کې ما کاروبار له لاسه ورکړ او هم مې د خپلو اولادونو تعلیم. سربېره پر دې زما د مېرمنې روغتیایي حالت ورځ تر بلې خرابېدونکې دی. اوس زما لپاره یوازینۍ د عاید سرچینه دکور په حویلۍ کې د سبزۍ کرل او په بازار کې يې پلورل دي. زما بالغ ماشومان دا کار کوي او که حالات هم داسې دوام وکړي نو له دې پرته بله لار نه لرم چې کور وپلورم او خپلو ماشومانو ته نفقه برابره کړم."* [١٧١]

١٦٤ ۱۰۱ شمېره مرکه
١٦٥ ۱۰ شمېره مرکه
١٦٦ ۱۰۲ شمېره مرکه
١٦٧ ۱۱۱ شمېره مرکه
١٦٨ ۸۴ شمېره مرکه
١٦٩ ۱۱ شمېره مرکه
١٧٠ ۲۶ شمېره مرکه
١٧١ ۴۹ شمېر مرکه

*"دغه پېښه موږ نه یوازې دا چې له فزیکي معلولیت سره مخ کړو بلکې له مالي اړخه یې هم وځپلو. لکه څرنګه چې زما مېړه د کورنۍ یوازینی سرپرست و. سربېره پر دې خپلو زخمونو زه هم له کار کولو منعه کړم. زه اوس د ژوندي پاته کېدو لپاره د یوې عادي ډوډۍ په لټه کې یم، او په کلکه د خلکو په مرستو تکیه کوم."* [172]

*"زما د لیورې ټول ملکیتونه هم د پېښې په ترڅ کې ویجاړ شوي و او له هغه دولس ماشومان پرته له کوم شتمنۍ څخه پاتې شوی چې ټول یې له خوارځواکۍ سره مخ دي. زه خپل کوشش کوم خو نشم کولای چې د خپلو ماشومانو ترڅنګ د هغوی اړتیاوې هم پوره کړم."* [173]

*"موږ ډېر زړه ور سړی له لاسه ورکړ کوم چې زموږ د کورنۍ ته د روزي ګټونکی او ډېر زیارکښ و. هغه یو معمار و چې د میاشتې یې ۱۵ زره افغانی [۲۰۰] ډالر عاید درلود او زموږ میاشتنی ګذاره پرې ښه کېدله. همدارنګه ما ۶۰ زره افغانی [۸۰۰ ډالر] د خپل زوی د جنازې او تکفین په مراسمو ولګول، چې اقتصاد یې راته خراب کړ. ما باید دغه رقم له خپلوانو قرض کړی وای. په ۵۸ کلنۍ کې اوس زه له کاره لویدلی یم. موږ دا مهال په کور کې یوه کونډه او درې یتیمانان لرو. دا یوه لویه ننګونه ده چې نفقه ورته برابره کړو او د ناروغتیا په صورت کې د دوی درملنه یو بل دوامداره تشویش دی."* [174]

## iv. په ښځو د مالي ستونزو اغیزې

ډېری مرکه شویو ښځو خپل مېړونه په شخړه کې له لاسه ورکړي و چې زیاتره وخت د خپلې کورنۍ لپاره د نفقې برابروونکي و. دغو ښځې له مالي پلوه له سختو حالاتو سره مخ شوي؛ ځکه چې د *برحاله* چارواکو له لورې د ښځو پر کار کولو ډول ډول محدودیتونه لګول شوي او همدارنګه د محرم شرط[175] چې ښځو د تلو راتلو په برخه کې مالي او لوجیستیکي ستونزې جوړوي او د هغوي د تګ را تګ آزادي محدودوي،[176] د هغوي د کار کولو وړتیا یې محدوده کړې ده.

یوې ښځې چې مېړه یې د حکومت ضد نامعلومو عناصرو له لورې کورته پر لار وویشت او ووژل شو داسې وویل:

*"د کورنۍ یوازینی روزي راوړونکی او یوازینی هیلې له لاسه ورکولو درد زغمل ډېر ګران دي. هغه له څو کلونو زده کړو وروسته کار موندلی و او کله چې مړ شو زموږ ټولې هیلې ورسره له منځه لاړې. زه باید څلور ماشومان وساتم؛ خو د هېڅ ډول عاید لپاره لاره نه لرم. مور او پلار مې راسره مرسته کوي؛ مګر نه پوهېږم چې تر کومه دا مرسته دوام کوي."* [177]

نورې ښځې هم له ورته تجربو سره مخ شوې وې او یوې یې وویل:

*"مېړه مې د کورنۍ یوازینی نفقه راوړونکی و، زه یو بې سواده کونډه یم چې څلور ماشومان یعنې یو زوی او درې لونې لرم. له ټولو مشر یې نهه کلن دی، په کابل کې راته لیور وویل چې له کوره یې ووځو؛ مګر موږ د کرایې وس نه درلود. زه د خپلو ماشومانو د ډوډۍ لپاره پوره هڅه کوم. څو میاشتې وروسته اړ شولو چې د خپل مور او پلار کور ته ستانه شو، ژوند ډېر سخت دی، د صفاکارۍ دندې پسې ګرځېدلی یم خو پیدا مې نه کړه. د خاوند ملګرو راسره یو څه مرسته کوله؛ مګر هغه هم اوس قطع شوې ده."* [178]

[172] ۵۳ شمېره مرکه

[173] ۲۲ شمېره مرکه

[174] ۱۲۵شمېره مرکه

[175] محرم یو نارینه سرپرست دی

[176] د بېلګې په ډول وګورئ، یوناما، د *برحاله چارواکو اخلاقي څارنه په افغانستان کې: پر بشري حقونو یې اغیزې.* سرچینه: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/human_rights_situation_in_afghanistan_october_-_december_2024_-_english.pdf.

[177] ۵۷ شمېره مرکه

[178] ۵۷شمېره مرکه

*"مېړه مې ناروغ دی، سم کار کولای نه شي. که زوی مې ژوندی وای، اوس به یې کار کاوه او مور به اقتصادي ستونزې نه درلودې. سربېره پر دې که مې غوښتل چې سفر وکړم او په اوسني چاپېریال کې وګرځم، نو هغه به زما محرم هم وای. "*[179]

*"هغه خپل څلور کلن زوی او بې روزګاره مېرمن شاته پرېښودل؛ داسې مېرمن چې نه دنده لري او نه کوم عاید. دوی ډېر سخت حالات تجربه کوي، نه ورسره د حکومت له لوري مرسته کېږي او نه هم د نورو له خوا. فقط کله ناکله یو څو خپلوان ورسره مرسته کوي. له هغې ورځې وروسته یې یوه ورځ هم ښه ژوند نه دی کړی. "*[180]

*"زوی مې د ښوونځي زده کوونکی و، مور په تمه وه چې یو ورځ به غټ سړی شي، د کورنۍ نوم به وځلوي او خپل هېواد ته به خدمت وکړي، څو زه او پلار یې د وياړ او خوشالۍ ژوند ولرو. دا مهال زه یوازینۍ نفقه پیدا کوونکې یم، له ګڼو مالي او ټولنیزو ستونزو سره مخ یم، ځکه په داسې ټولنه کې له یو ځوان سړي پرته ژوند کول؛ په ځانګړې توګه هغه مهال چې په کور کې پېغلې لوڼې وي ډېر ستونزمن کار دی. "*[181]

*"زه آن خپلې لوڼګانې بهر استولی نه شم چې دنده پیدا کړي؛ ځکه فقر هم دی او طالبان هم اجازه نه ورکوي او هغوی یې بندې کړې دي. "*[182]

## ۷. په ماشومانو د مالي ستونزو اغېزې

ګڼو مرکه شویو وویل له پېښې وروسته مالي ستونزو اړ کړل چې خپل ماشومان له ښوونځي وباسي او د کورنۍ د ملاتړ لپاره یې کار ته ولېږي:

*"مور خپل ټول ملکیت له لاسه ورکړ او زه د کورنۍ یوازینۍ نفقه ګټونکې شوم. زه ۱۵ کلنه وم او خویندې او ورونه مې ډېر واړه و. د اقتصادي ستونزو او فقر له وجې مې ښوونځي ته هم دوام ورکولای نه شو. د تره زوی مې هم له ورته برخلیک سره مخ شو، چې هغه هم له کوچنیوالۍ کار ته مخه کړه. اوس ۳۵ کلن دی. د برید پرمهال ۱۲ کلن و، هغه هم د خپلې کورنۍ نفقه پیداکوونکی شو. "*[183]

*"زما د ورور کوچني ماشومان اړ دي چې له خپل مشر ورور سره په شریکه کار وکړي؛ څو خپلې مور او خویندو ته ډوډۍ پیدا کړي. که پلار یې ژوندی وای؛ نو دوی به کار ته نه اړکېدل، بلکې ښوونځي ته به تلل. "*[184]

*"زه او زما خویندې د اقتصادي ستونزو له امله ښوونځي ته تللی نه شو. غوښتل مو چې په ګډه ښوونځي ته لاړ شو، خو هېڅ مو ملاتړ نه کاوه او مور ډېرې کوچنۍ و."*[185]

*"زما د تره زوی له فقر ډک حالت کې ژوند کوي. مور او ورور یې د ژور خفګان قرباني شوي دي. د هغه ماشومان له ښوونځي نه پاتې دي، ځکه چې اقتصادي وس نه لري او اړ دي چې کار وکړي؛ څو د کورنۍ نفقه برابره کړي. کورنۍ یې خوره وره او ناخوښه ده او د نوموړي له مړینې وروسته مور ټول اوس رواني کړاو کې شپې سبا کوو. "*[186]

*"زما ماشومان نه ابتدائیه ښوونځي او نه هم منځني ښوونځي ته تللی شي ځکه مور وس نه لرو؛ دا ځکه چې زه په ټېټي ځان د داسې کار توان ځان کې نه ګورم چې د هغوی د تعلیم لګښت برابر کړم. نو ماشومان مې له وړوکوالي کار ته اړ شول. له دغه ټولو کلونو وروسته اوس زما ماشومان ښه دنده پیدا کولای نه شي؛ ځکه چې زده کړېنه دي کړې او د شرایطو وړ نه دي. "*[187]

[179] ۷۰شمېره مرکه
[180] ۱۱۲ شمېره مرکه
[181] ۷۰شمېره مرکه
[182] ۱۴۶شمېره مرکه
[183] ۱۹شمېره مرکه
[184] ۱۰۵شمېره مرکه
[185] ۱۶۳شمېره مرکه
[186] ۲۰شمېره مرکه
[187] ۱۰۹شمېره مرکه

ځینې مرکه شویو وویل چې د ګڼو مالي ستونزو له امله یې حتی په دې هم سوچ کړی و چې خپل ماشومان وپلوري یا یې کوچني والي کې ودولو ته اړ شي. یوه ښځه چې پلار یې په ۱۹۹۶ کال کې د شمالي ټلوالې غړیو ووېشت او وژلی و وویل:

*"کله چې زما پلار ووژل شو، موږ له وړاندې هم یوه غریبه کورنۍ و او د هغه له مړینې سره زموږ اقتصادی ستونزې نورې هم زیاتې شوې، ما او مشرې خور مې زده کړې ونه کړې او نه موکوم مسلک درلود. موږ په ټولنه کې د برخې اخیستنې چانس لکه څرنګه چې نور خلک ترې ګټه اخلي له لاسه ورکړ. د پلار له نشتوالي سره زه او مشره خور مې په کم عمر کې، ماشومتوب کې ودونو ته اړ شولو. "* [188]

نورو کسانو هم دا ډول تجربې بیان کړې:

*"زه یو غریب او د خپلې کورنۍ یوازینی نفقه راوړونکی کس یم. فکر نه کوم چې بېرته د پخوا په څېر روغ شم. په هېواد کې د معلولینو لپاره خدمتونه په نشت حساب دي او خلک هم معلولین کمزوري او په کمه سترګه ورته ګوري. که حالات همداسې روان وي، شونې ده چې خپله ۱۱کلنه لور بوډا سړي ته د یو څو افغانیو په بدل کې واده کړم؛ څو د کورنۍ پاتې غړي وژغورم. که داسې ونه کړم نو بله لاره نه لرم؛ پرته له دې چې تنګی زوی مي درنو کارونو ته واستوم. "* [189]

*له مالي پلوه موږ هرڅه له لاسه ورکړل؛ ځکه چې زموږ زوی چې د کورنۍ یوازینی ملاتړکوونکی و؛ اوس له موږ سره مرسته نشي کولای. علاوه له دې مې خپل ټولنیز حیثیت هم له لاسه ورکړ. هېڅوک له موږ سره قرض ته چمتو نه دي او کله چې ما له خپل ګاونډي څخه یو اندازه اوړه وغوښتل؛ هغه په غوسه وړاندیز وکړ چې خپله لمسۍ وپلورم او د کورنۍ نفقه برابره کړم؛ نو هیڅ څه نشته چې زه ورته ژوند وکړم. "* [190]

"کله چې مې مېړه ورک شو او په مړو کې وشمیرل شو؛ موږ له سخت فقر سره مخ شو، حتی ما غوښتل چې خپله وړه لور وپلورم؛ خو چا نه غوښتل چې هغه واخلي." [191]

[188] ۱۶۲شمېره مرکه
[189] ۱۰۱شمېره مرکه
[190] ۳شمېره مرکه
[191] ۱۴۶شمېره مرکه



"زما ایمان لا هم پیاوړی پاتې شوی دی، خو هېرول یې اسانه نه دي. ودونه کومه ستونزه نه لري، خو کله چې په ډله ییزه غونډه کې ګډون کوم، خاطرې بېرته راژوندۍ شي. که خدای مه کړه داسې پېښه بیا رامنځته شي نو څه به کېږي؟ کله چې غواړو ځانګړې ورځې، لکه د شیعه ګانو د رمضان مراسم یا د نوي کال جشنونه، ولمانځو، طالبان زموږ د امنیت لپاره اضافي تدابیر نیسي. دا چاره ما دې ته اړ باسي چې فکر وکړم، ایا موږ د اندېښنې لپاره رښتیا هم دلیل لرو."

یوناما، کابل، ۲۰۲۵.

## د. ټولنیزې اغیزې

**وحیده**[192]

د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۳مه د وحیدې مېړه د جوزجان ولایت د ګڼې ګوڼې په بازار کې په موټر سایکل کې ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله ټپي شو او بله ورځ مړ شو. وحیده ونه توانېده چې خپل مېړه تر مړینې دمخه ووینې؛ ځکه چې روغتون ته د تګ لپاره یې د ټکسي کرایه نه درلوده. یوه اونۍ وروسته د وحیدې خسر وویل چې باید هغه له کوره ووځي. ځکه نومورې له خپلو دوو ورنو سره اوسیده، چې هغه زلمی زامن درلودل او د وحیدې محرم نه و. نومورې وویل چې د وحیدې د ابرو لپاره به ښه دا وي چې بېرته د خپل پلار کور ته ستنه شي.

وحیدې وویل: "څه وخت وروسته زما خسر له داعش سره یوه عریضه کېښوده؛ څو زما د اولادونو سرپرستي ترلاسه کړي؛ خو زه په کلکه ودرېدلم او جوته مې کړه چې مرګ ته حاضره یم؛ خو خپله اولادونه به پرېنږدم [...] زموږ په ولسوالۍ کې د کونډو ښځو لپاره ژوند خورا ستونزمن دی، هغوی باید ټولنیزو او کلتوري فعالیتونو په اړه ډېرې محتاطې وي. له همدې امله زه غوره ګڼم چې په کور پاتې شم."

۴۵سلنه مرکه شویو وویل چې پېښو نه یوازې په دوی باندې، بلکې د هغوی پر کورنیو او ټولنو هم منفي اغیزې کړې دي. دوی د ټولنیزو مراسمو، لمانځلو او د خپلو ټولنو او کورنیو دننه د نورو ټولنیزو اړیکو په برخه کې د ګډون په منفي اړخونو خبرې وکړې.

### i. له معلولیت سره تړلې پیغور

په مرکو کې یو عام ټکی د معلولیت لرونکو کسانو په وړاندې د منفي اغېز چلند و. کوم کسان چې د وسله والې نښتې له امله معلول شوي وو وویل چې پیغور او منفي نظرونو یې ژوند په مختلفو ډولونو اغیزمن کړی دی.

د بېلګې په توګه یو شمېر مرکه شویو وویل چې د معلولیت سره تړلی پیغور د هغوي او د دوی په خپلوانو دا منفي اغېز درلود چې د ژوند ملګري د پیدا کېدو او واده کولو چانس له لاسه ورکړي.

*"په پېښه کې زما د تره درې ټپي شوې لوڼې ډېرې سختې متاثرې شوي دي، یوې خپله پښه له لاسه ورکړه، یوه له لیدو کتو ولوېده او دریمه یې له اوریدو وغورځېده. دوی عادي ژوند نه لری. هېڅوک له دوی سره واده ته چمتو نه دی او دوی به د خپل ژوند په اوږدو کې ځوریږي او په خپلو خپلوانو به د ملاتړ تکیه کوي."* [193]

*"ورور مې فلج شوی دی او زما د چپ لاس د مشکلاتو له وجې هېڅوک له ماسره د واده کولو وړاندیز نه کوي. زه د ډېرو خپلوانو په ناستو پاستو کې برخه نه اخلم؛ ځکه چې زه د خپل چپ لاس له امله د شرم احساس کوم."* [194]

زیات شمېر مرکه شویو وویل چې دوی شرم احساسوي؛ ځکه چې ټپونه یې د دې لامل ګرځي چې د خپلې کورنۍ ملاتړ وکړي.

*"زه د بې زړه توب، حقارت او معلولیت احساس کوم. اولادونه مې هم کله چې ماته ګوري د نا امیدۍ او خفګان حس کوي چې پلار یې پوره جوړ نه دی [...] زه همېشه احساس کوم چې ای کاش زه یو روغ سړی وای او ټول غړي مې روغ رمټ وای."* [195]

[192] ۵۲ شمېره مرکه
[193] ۹۵شمېره مرکه
[194] ۹۴شمېره مرکه
[195] ۹۶شمېره مرکه

*"له رواني پلوه جوړ نه یم، ډېره خفه یم او نه غواړم چې له خلکو سره اړیکه ونیسم. ماته درنه رواني صدمه رسیدلې ده. زه تل درد احساسوم او له هغه کارونو لویدلی یم چې یو روغ رمټ انسان یې ترسره کوي. همېشه د نورو په پرتله د کمترۍ احساس کوم."[196]*

د معلولیت له امله پیغور – یا د فزیکي ستونزو له امله ټولنیزو راټولیدنو ته نه لاسرسی - ځینې خلک له ټولنیزو اړیکو څخه ځان شاته کوي.

*"زه نور دا نه خوښوم چې ټولنې ته بهر شم. بدن مې ټول د سوځېدو نښو نیولی، درې میاشتې مې حرکت کولای نه شو. له هغه وروسته مې غوره وګڼله چې په کور پاتې شم او خپل مخ خلکو ته ونه ښایم [...] زه غونډو یا مسجد ته تللی نه شوم، داسې مې انګیرله چې ټول ماته ګوري."[197]*

*"زوی او خورېې مې د یو څو مترو مزل لپاره ټوله تکیه په امساګانو کوي. دا چاره یې په ټولنیزو او فرهنګي فعالیتونو کې ونډې ته زیان رسوي. دوی فقط کولای شي چې له کوره ووځي، د کور څنګ ته چېرته کېني او بېرته را وګرځي."[198]*

*"زه نور ځان د ټولنې برخه نه ګڼم، خلک ماته اشاره کې، د معیوب کلمه کاروي. زه د خوشالۍ په مراسمو او لمانځلو کې برخه اخیستلی نه شم، ړوند یم. دې حالت زما ټوله کورنۍ اغیزمنه کړې ده، ځکه چې هر وخت بیرون ځم، باید هغوی راته لار وښیي."[199]*

یو نارینه مرکه شوي د هغه شرم په اړه وویل چې له ټولنې یې احساسوي. ځکه نور نو د خپلې کورنۍ د ملاتړ توان نه لري.

*"زه د اته کسیزې کورنۍ لپاره د ډوډۍ برابرولو لویدلی یم . چې پکې څلور زامن، درې لوڼې او یوه مېرمن شامل دي . خلک تل اوازې خپروي چې ګیني زه د خپلې مېرمنې بار یم. هغې ته د پلار د کورنۍ له لوري ډېره لږه مرسته ورکول کېږي او سربېره پر دې د لاسي صنایعو او مالدارۍ له لارې هم لږ عاید لاسته راوړي. زه د دغو ټولو بدمرغیو په لیدو شرمېږم او نا امیده کېږم."[200]*

## ii. په ټولنیزو ناستو کې ونډه اخیستنه

یو شمېر مرکه شویو وویل چې له پېښې وروسته یې په ټولنیزو ناستو پاستو کې ونډه اخیستې نه ده، ځکه دا ورته د خپلو مړو شویو کسانو یادونه تازه کوي:

*"خور مې غوره ګڼي چې په کور پاتې شي، هغه نه خوښوي چې په ټولنیزو او کورنیو غونډو کې ګډون وکړي. کله یې چې مشره لور ودېدله نو ژړل یې او د خپلې لور د واده محفل کې یې هم ژړل."[201]*

ګڼ شمېر مرکه شویو وویل چې له پېښې وروسته یې په ټولنیزو غونډو کې ونډه نه ده اخیستې؛ ځکه دا یې غمجن کوي یا په عاطفي لحاظ ورته سخته ده:

*"د دغه پېښې له امله مې رواني وضعیت ګډوډ شوی دی، له هېچا سره د خبرو کولو څخه خوند نه اخلم، همېشه غواړم چې ځانته او ګوښه ووسم، په ټولنیزو غونډو کې ګډون ماته خوښې نه راکوي، د کورنۍ غړي مې نور په ټولنیزو ناستو کې ګډون نه کوي او زیاتره وخت له دغو مراسمو ډډه کوي، مګر بیا هم جومات ته د لمانځه لپاره ځو."[202]*

[196] ۱۲۶شمېره مرکه
[197] ۱۰۳شمېره مرکه
[198] ۵۴شمېره مرکه
[199] ۱۲۶ شمېره مرکه.
[200] ۱۰۱ شمېره مرکه.
[201] ۲۲ شمېره مرکه.
[202] ۸۱ شمېره مرکه.

*"کله چې څوک د رواني روغتيا له ستونزو سره مخ شي، خلک بیا اکثره وخت له هغه او کورنۍ سره يې خپل چلند بدلوي، شاید هغوی فکر وکړي چې زه ناتوان یم او نشم کولای چې خپلې ټولنې ته خیر ورسوم."*[۲۰۳]

*"زما د کورنۍ غړو تر ننه پورې هغه پېښه له یاده نه ده ویستلې، له همدې امله دوی په ودونو او نورو خوشالیو کې ونډه نه اخلي."*[۲۰۴]

*"اته کاله کېږي، مګر د مېړه د مړینې درد لا هم زما سترګې له اوښکو ډکې ساتي. له هغه بدې ورځې راهیسې زه له مراسمو او د خپلو خوېندو او خپلوانو له لیدو څخه ډډه کوم."*[۲۰۵]

یوې ښځې وویل چې د حکومت خلاف نامالومو عناصرو د ځانمرګي برید په پایله کې مېړه يې ټپي او معلول شو چې اوس په ویلچر کې ګرځي. د عکاسۍ دوکان يې هم په یوه پېښه کې له منځه لاړ اوس له مجبورۍ په بازار کې واړه توکي پلوري. د دغې پېښې له امله اوس دوی وس نه لري چې په ټولنيزو فعالیتونو کې ونډه واخلي.

*"لورګانې مو ډېر څه شی نه لري، له موږ څخه کالي او بوټان غواړي چې ودونو ته لاړې شي. خو نه پوهېږي چې موږ يې ولې پوره کولای نه شو او ژاړي. موږ زیاتره وخت ټولنیزو مراسمو کې ځکه ونډه نه اخلو چې وس يې نه لرو."*[۲۰۶]

د مرګ ژوبلې ډېرو پېښو د پرګنو په ټولنیز ژوند اغېز کړی دی. د کندز ولایت کې د مدرسې د فراغت مراسمو پرمهال د افغان ملي اردو له لوري د هوايي برید یو قرباني زیاته کړه: *" له دغه پېښې وروسته زموږ په کلي کې ټولنيز او فرهنګي مراسم لکه پخوا په خیر نه لمانځل کېدل. نوموړې پېښې نږدې په سیمه کې د هر یو په ژوند اغېزه کړې وه."*[۲۰۷]

یو بل سړي چې د داعش خراسان له لوري د شیعه ګانو په جومات کې د برید پرمهال ټپي شوی و وویل:

*"په ټوله کې اغېزه ډېره زیاته وه، له پېښې وروسته موږ د شیعه ګانو په توګه نه شو کولای چې په اسانۍ سره په ټولنيزو فعالیتونو کې راټول شو. موږ وېرېږو چې ممکن بله پېښه وشي. داعش خراسان کولای شي چې دغه ډول غونډې په اسانۍ هدف وګرځوي. ځکه موږ ډېر کم لمونځ، د وداه مراسم او نور ټولنيز محافلو کې ګډون کوو، موږ يې په ټولنه کې منزوي کړي یو."*[۲۰۸]

[۲۰۳] ۹۳ شمېره مرکه.
[۲۰۴] ۶۲ شمېره مرکه.
[۲۰۵] ۵۲ شمېره مرکه.
[۲۰۶] ۱۷۰ شمېره مرکه.
[۲۰۷] ۶۰ شمېره مرکه.
[۲۰۸] ۱۲۴ شمېره مرکه.



۲۰۰۹ کال کې د افغانستان په شمالي ولایت سرپل کې بېځایه شوې ښځې او ماشومان.

یوناما / اریک کانالستین، سرپل، ۲۰۰۹.

## iii. پر ښځو ځانګړې اغېزې

ښځو د خپلو نارینه خپلوانو د لاسه ورکولو د ټولنیزو اغیزو په اړه ، د تبعیض او جنډر پر بنسټ تاوتریخوالي په ګډون، خبرې وکړې، ځکه چې په افغانۍ ټولنه کې نارینه وو ته ارزښت ورکول کېږي او نارینه د نفقې برابروونکي بلل کېږي. هغه ښځې چې نارینه خپلوان یې وژل شوي د محرم د نه لرلو له امله یې د تګ راتګ ازادي محدود شوې ده او په ټولنیزو فعالیتونو کې یې ګډون زیانمن شوی دی:

*"په ځانګړې توګه د جمعې په شپه مور، ډېر ژاړو، زه له محرم پرته راوځم چې ما لپاره ډېره ستونزمنه ده. زه ځینې کورنۍ له خپلو محرمو سره وینم او درد احساسوم. زه په کور کېنم او په دې فکر کوم چې که مېړه مې ژوندی وای؛ نو د خپلو ګاونډیانو په څېر به یوه خوشاله کورنۍ وای."* [۲۰۹]

*"مور، دا فکر نه کاوه؛ زما پلار چې یوازې یې د یو ډاکټر په توګه دنده ترسره کوله به ووژل شي. کله چې مې مور ناروغه وي، نو کابل ته تګ ورته ډېر ستونزمن وي؛ ځکه چې له ځان سره محرم نه لري."* [۲۱۰]

*"تاسې پوهېږئ چې زمونږ په ټولنه کې د کونډو ژوند اسانه نه دی، له هغه وخت راهیسې مې نوی کالي په تن کړي نه دي، سینګار توکي مې نه دي کارولي او نه مې په ټولنیزو محافلو کې، د وادونو په شمول، ګډون کړی دی. دا یوازې په همدې مقصد چې ځان له احتمالي تورونو وساتم لکه له نکاح پرته اړیکې، زنا یا نور ورته تورونه. وخت ناوخت چې کوم مجلس ته لاړه شم داسې احساسوم چې خلک به ماته ګوري."* [۲۱۱]

یوې ښځې زیاته کړه چې کله یې مېړه چې د ټکسي ډریور و د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له لوري د طالبانو پرضد په لاره اچول شویو عملیاتو پرمهال ووژل شو. د مېړه کورنۍ یې ورسره مرسته ونه کړه چې د خپلو اولادونو د ډوډۍ بندوبست وکړي او له دې سره یې فزیکي تاوتریخوالی کاوه. له دې وروسته د مېړه له کوره ووتله او د خپل پلار کورته لاړه.[۲۱۲]

یوې بلې ښځې زیاته کړه چې مېړه یې څنګه ووژل شو، دا او وړه لور یې ټپیان شول؛ کله چې د دوی موټر په یوې فشاري چاودېدونکي بم سره ولګېد کوم چې طالبانو په سړک کې ښخ کړی و، هغې وویل:

*"کونډې ښځې او یتیمان په تېره بیا چې کله یې وزله وي؛ په کلي کې لکه د ځځلو د سطل حیثت پیدا کوي. ټولنه او خپلوان چې هر زیان وغواړي ورته یې رسولی شي. زما ۱۵ کلن زوی د ماښام لمانځه په تکل له کوره ووت، وروسته بله ورځ سهار د هغه مړ جسد په یوه دښته کې موندل شوی و. هغه په بې رحمۍ سره په مرګ وهل شوی و. زه ډاډه یم چې خسرګنۍ مې زوی وژلی دی ځکه چې پلار یې نه درلود او دا دوی ته جرئت ورکوي چې داسې بې رحمه جرم ترسره کړي. د وېرې، خپلو اولادونو ژغورنې او د خسرګنۍ له لوري، لور له جنسي تېري خوندي ساتلو لپاره د خپل زوی له وژلو شپږ ورځې وروسته خپلې پلرنۍ کور ته کډه شوم."* [۲۱۳]

[۲۰۹] ۱۷۳شمېره مرکه.
[۲۱۰] ۳۰ شمېره مرکه .
[۲۱۱] ۵۵ شمېره مرکه.
[۲۱۲] ۱۶۴شمېره مرکه.
[۲۱۳] ۵۳ شمېره مرکه.

# ٤ برخه: د مرستو یا تاوان د تر لاسه کولو لپاره د قربانیانو هڅې


د مرکه شویو څخه وپوښتل شو چې ورپېښ شوي زیان ته د رسیدګۍ په پار د اړوندو مسولینو لخوا کومې هڅې ترسره شوي دي.

له نیمايي څخه زیاتو مرکه شویو (۵۵ سلنه) د دې هڅه نه ده کړې چې د پېښې په اړه شکایت[۲۱۴] وکړي او یا د مرستې یا تاوان د ترلاسه کولو لپاره دوسیه پرانیځی.[۲۱۵] پاتې (۴۹٪) مرکه شویو یا شکایت کړی او/یا یې دعوا ثبت کړې ده. د دې راپور لپاره د نارینه مرکه شویو یوه لویه برخه (۵۰ ٪) شکایت ثبت کړی او/یا یې دعوا کړې ده، په داسې حال کې چې یوازې (۳۵٪) ښځینه مرکه شویو دغه چاره ترسره کړی. دا کیداي شي د دی ښکارندوي وي چې سرچینو ته لاسرسي کې د نارینه وو په پرتله ښځو ته ډېر خنډونه موجود دي.

د مرکه شویو له ډلې هغه کسانو چې شکایتونه او/یا دعوې یې وړاندې کړې وې، ډېری [شکایتونه او دعوې] یې د پخواني حکومت دفترونو ته وړاندې کړې وې. تر ټولو ډېر یې د جمهوریت پر مهال: د والي دفترونو (۳۱)، پولیسو (۲۳) او د ولسوالیو دفترونه (۱۵) ته وړاندې کړې وې. ځینو مرکه شویو خپل شکایتونه او/یا دعوې څو ادارو ته وړاندې کړې وې.

که څه هم ټولې پیښې چې په دی راپور کې یادې شوي د طالبانو د راتګ، د ۲۰۲۱ کال د آګست میاشتې ۱۵مې نیټې، څخه مخکې پیښې شوي او ډېر شکایتونه او دعوې هم په هم هغه وخت کې ثبت شوي، اووه لس مرکه شویو خپل شکایتونه یا دعوې په افغانستان کې *برحاله* چارواکو ته وړاندې کړي دي.
له هغې ډلې چې شکایتونه او/یا دعوې یې کړې، د نیمايي څخه ډېرو (۶۴٪) یې ویلې چې د عدالت غوښتنې، تاوان ترلاسه کولو او/یا بل هر ډول خسارې او غرامت ترلاسه کولو په تړاو، دوی هیڅ ډول ځواب نه دی تر لاسه کړی او یا یې هڅې بې پایلې وې. آن هغه مرکه شویو چې ویلي یې وو د تاوان د ترلاسه کولو لپاره یې هڅې کړي تر ډېره د ترسره شوو هڅو څخه خوښ نه وو. هغوی ویلي چې د زیان سره متناسب تاوان او غرامت نه دی ورکړل شوی.

[۲۱۴] د دې راپور د موخو لپاره، د "شکایت" اصطلاح د هغو بېلابېلو ممکنه کړنو د پوښښ لپاره کارول شوې چې ښايي د قربانیانو لهخوا ترسره شوې وي، که هغه په لیکلي بڼه وي او که په شفاهي ډول. دا شکایتونه ممکن بېلابېلو اړخونو ته وړاندې شوي وي، په شمول (خو محدود نه) د پخواني حکومت، طالبانو، نړیوالو پوځي ځواکونو، او د ملګرو ملتونو ځانګړو پروسیجرونو ته. شکایت کېدای شي د تصدیق، بښنې، مالوماتو، عدالت ته د لاسرسي، او/یا د تاوان، جبران یا نورو مرستو غوښتنه هم شامل وي.
[۲۱۵] په خپلو ځوابونو کې، قربانیانو ډېر ځله د "تاوان" غوښتنه په پراخه مانا کې یاده کړې، پرته له دې چې حتمي یې قانوني جبران ته اشاره کړې وي. همدارنګه، قربانیانو د مرستو نورو ډولونو ته هم اشاره کړې، لکه د معلولینو د میاشتنۍ مرستې پیسې، د خوړو، یا نورې اختیاري مالي او مادي بشري مرستې، کوم چې د پیښې تر رامنځته کېدو وروسته له بېلابېلو اړخونو څخه ترلاسه شوي، هغه که د دوی خپله یا د دوی د کورنۍ د غړو لپاره وي.




## الف. د شکایتونو او/یا دعوو پر وړاندی خنډونه

*"... ما له خپل زوی سره په پټې کې، چې جومات سره نږدې دی، د حاصلاتو په راټولولو بوخت وم. زه لږ څه لرې وم، خو زوی مې جومات ته نږدې وو چې یو بې پیلوټه الوتکه راغله او پر جومات یې ډزې وکړې. مور نه پوهېدو چې دا بې پیلوټه الوتکه چا رالېږلې وه چې پر جومات برید وکړي. مور ټولو ځانونه پر ځمکه وغورځول او څو دقیقې وروسته مې ولیدل چې زوی مې په چره پر سر لګېدلی وو. ما خپل زوی سمدستي ځایي روغتون ته یووړ او د لومړنیو درملنو وروسته مې کابل ته انتقال کړ.*

*دې پېښې زموږ پر ټول کلي اغېز وکړ ځکه ځینو خلکو خپل ژوند په کې د لاسه ورکړ. موږ ډېر غریب خلک یو او په ډېره ستونزه د خپلو ناروغانو درملنه کولای شو. دې پېښې نه یوازې په رواني ډول موږ اغېزمن کړو بلکې په مالي لحاظ یې هم پر موږ اغېز وکړ، ځکه د ټپیانو درملنه کې پیسو ته اړتیا وه. موږ نه پوهېدو چې د تاوان لپاره چا ته شکایت وکړو او یا چېرته دعوا وړاندې کړو. تر اوسه هېڅ ډول رسمي څېړنه نه ده ترسره شوې."*[۲۱۶]

له نیمایي څخه زیاتو مرکه شویو (۵۵ ٪) هېڅ ډول شکایت او/یا دعوا نه ده کړې. هغه خنډونه چې د شکایتونو او د دعوو پر وړاندې موجود وو: د ملاتړ او دعوو اړوند، د لاسرسي وړ لارو چارو په اړه نه پوهاوی؛ اداري خنډونه (بیروکراسي)؛ په دې باور نه درلودل چې کوم اقدام به ترسره شي؛ او د غچ اخیستنې وېره وه.

### i. د پروسو په اړه د پوهې نشتوالی

ډېرو مرکه شویو وویلي دي چې دوی شکایت یا دعوه نه ده ثبت کړې، ځکه هغوی نه پوهېدل چې څنګه او چېرته یې ثبت کړي. یو سړي چې ۱۱ کلنه خور یې د نړیوالو ځواکونو د درنو وسلو د کارولو له امله په چره باندې ټپي شوې وه، وویل، چې هېڅ ډول لیکلی شکایت یا د تاوان دعوا یې نه ده کړې، ځکه د دې پروسې په اړه ناخبره وو او لوستل یې هم نه شو کولای:

> *"زه نالوستی سړی یم. ما د مرتکب پر وړاندې هېڅ لیکلی شکایت نه دی ثبت کړی. زه د کومې رسمي څېړنې په اړه هم نه پوهېږم. زه د هر ډول تاوان ترلاسه کولو په اړه ناخبره ووم."*[۲۱۷]

یوه ښځه چې د افغان ملي پوځ له خوا د درندو وسلو د کارولو په پایله کې یې خاوند او ماشومان وژل شوي وو، وویل چې هغه نه پوهېده چې د تاوان د ترلاسه کولو لپاره چاته ورشي. همدارنګه، هغې زیاته کړه چې د هغې پېښې وروسته چې خاوند او ماشومان یې په کې ووژل شو، هغه په داسې حالت کې نه وه چې د دغسې پروسې د پرمخ وړلو توان ولري:

> *"په حقیقت کې زه نه پوهېدم چې د کومې ادارې څخه د تاوان غوښتنه وکړم. زه تازه کونډه شوې ښځه وم چې خپل خاوند او ماشومان مې له لاسه ورکړي وو او خپله هم ټپي شوې وم. ما په دې اړه هېڅ فکر هم نه کاوه."*[۲۱۸]

په ټپي حالت کې، د کورنۍ د غړو د وژنې وېر او د ټپیانو درملنې ته پاملرنه هغه لاملونه وو چې خلکو شکایت یا دعوا نه ده ثبت کړې:

> *"نه، [ما د تاوان لپاره هېڅ شکایت یا دعوه نه ده کړې] زه په خپل غم کې مصروفه وم."*[۲۱۹]
>
> *"نه، دا د جګړې وخت وو، هېڅ چا د دې پروا نه درلوده چې څه پیښ شوي، مونږ د خپلو ټپیانو په درملنه بوخت وو."*[۲۲۰]

### ii. اداري خنډونه

ځینو مرکه شویو د شکایت کولو یا دعوې د ثبت پر مهال اداري خنډونه بیان کړي. د مثال په ډول، ځینو وویلي چې د ټولنې د غړو د لاسلیکونو ترلاسه کول یو له خنډونو څخه وو:

> *" زه د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست ته لاړم، خو هغوی زموږ سره هېڅ مرسته ونه کړه. هغوی موږ ته وویل چې موږ باید د پېښې د واقع کېدو ثبوت ولرو او د دې لپاره په اسنادو د ملایانو او مشرانو لاسلیکونو ته اړتیا وه. خو کله چې موږ د ملایانو او مشرانو خواته لاړو او د لاسلیک غوښتنه مو وکړه، هغوی زموږ غوښتنه ونه منله، ویل یې داسې ډېرې پېښې شوي دي. هغوی نه غوښتل مونږ سره مرسته وکړي. نو د اسنادو له نشتوالي له امله ما هېڅ مرسته ترلاسه نه کړه."* [۲۲۱]

[۲۱۶] ۱۸ مه مرکه.
[۲۱۷] ۳۱ مه مرکه.
[۲۱۸] ۱۵۴ مه مرکه.

[۲۲۰] ۱۰۲ مه مرکه.
[۲۲۱] ۱۷۲ مه مرکه.

*" موږ له ځينو موسسو څخه هم د مرستې غوښتنه وکړه، خو هغوی وويل چې بايد د شورا لاسليک شوي اسناد دوی ته وړاندې شي څو دا تاييد کړي چې پېښه رامنځته شوې ده. خو شورا پرله پسې ځنډونه جوړول او نه يې غوښتل له موږ سره مرسته وکړي. وروسته جمهوريت نسکور شو او هېڅ هم پاتې نه شول.[222]"*

د هغو پېښو قربانيانو چې د طالبانو د راتګ څخه لږ وړاندې رامنځته شوې وې ويلي چې کله دوی دې ته تيار شول چې رسمي شکايت يا دعوه وکړي، حکومت رانسکور شو او هغوی احساس وکړ چې بله مرجع نشته چې ورڅخه مرسته وغواړي.

*" د پېښې څخه څو مياشتې وروسته زه د والي دفتر ته د تاوان د ترلاسه کولو لپاره لاړم، خو ما و نه شو کړای چې د اسنادو پروسه بشپړه کړم، ځکه کارمندان ډېر بوخت وو او يا به ځينې ورځې دفتر کې حاضر نه وو. وروسته حکومت راوپرځيد او ما ونه شو کولای چې هغه پروسه تکميل کړم." [223]*

*"موږ هېڅ ډول شکايت نه و ثبت کړی. دا پېښه د جمهوريت د سقوط څخه يوه مياشت وړاندې رامنځته شوې وه، او موږ خلکو سره بوخت وو چې زموږ سره د خواخوږی او دعا لپاره راتلل.[224]"*

## iii. پر چارواکو د باور نه شتون

*"ما هيڅ شکيلې خوا ته شکايت ونه کړ. زه د ښخولو په مراسمو، جنازو، او د خپلو ماشومانو په درملنه کې ډېر زيات بوخت وم. ما وخت نه درلود چې شکايت وکړم. برسېره پر دې، زه پوهېدم چې حکومتي چارواکي نه شي کولای چې زما شکايت ته رسېدګي وکړي. هغوی نه شو کولای چې مرتکبين عدالت ته حاضر کړي، او نه يې هم زما مړه ماشومان بېرته راژوندي کولای شول[225]".*

ډېرو مرکه شويو چې شکايت يا دعوه يې نه وه ثبت کړې يو ځواب يې ورکړی، هغه دا چې د تاوان لپاره يې شکايت نه و ثبت کړی، ځکه چې هغوی فکر کاوه چې مسولين به يې خبرې وانه وري. په ډېرو قضيو کې، په عمومي ډول داسې احساس څرګند شوې وو چې د عامه ادارو پر وړتيا او عادلانه چلند باور موجود نه و. ډېرو يې ويلي وو چې دوی يوازې عادي ملکيان دي او په دې يې باور نه درلود چې چارواکي - د پخواني حکومت او *برحاله* چارواکي - به د دوی خبرې واوري:

*"نه، ما هېڅ شکايت نه وو ثبت کړی، ځکه که مې کړی هم وای، بې مانا به وی.[226]"*

*"د جګړې وخت وو، موږ فکر کاوه چې زموږ غږ به وانه اورېدل شي، ځکه موږ يوازې بې دفاع عادي ملکيان وو. نو موږ د پېښې په اړه شکايت ونه کړ، او ما هم هغه وخت فکر کاوه چې زموږ غږ به هېڅ وانه اورېدل شي.[227]"*

*"موږ غريبې کورنۍ يو، هېڅ څوک به زموږ د خپګان غږ وانه اوري." [228]*

ډېرو مرکه شويو ويلي چې دوی د شکايت د ثبتولو څخه کومه هيله نه درلوده، ځکه باور يې نه درلود چې چارواکي به د دوی د شکايتونو په ځواب کې کوم رغنده اقدام وکړي.

مرکه شويو يقين درلود چې د شخړې د لوريو تر منځ پراخ فساد موجود وو او دا د دوی شکايت يا تاوان غوښتلو په وړاندې يو خنډ وو، ځکه دوی فکر کاوه چې نه به د دوی موضوع جدي ونيول شي او نه به په بې طرفانه ډول غور پرې وشي. يو سړی چې وراره/خوريي يې د طالبانو په هدفي وژنو کې وژل شوی وو، وويل:

[222] ۱۷۱ مه مرکه.
[223] ۱۳۹ مه مرکه.
[224] ۸۱ مه مرکه.
[225] ۳۴ مه مرکه.
[226] ۲۶ مه مرکه.
[227] ۶۱ مه مرکه.
[228] ۶۷ مه مرکه.

*"موږ به څنګه چا ته شکایت کړی وای؟ جمهوری حکومت کې فساد وو او خپل ولس یې نه شو ساتلی، په داسې حال کې چې برحاله  حکومت د پخوانیو طالب جنګیالیو له لوري اداره کېږي. موږ چېرته ولاړ شو او څه وکړو؟ په پښتو کې یو متل لرو چې وایي: کله چې قاضي پخپله مجرم وي، نو موږ خپله قضیه چا ته راجع کړو؟"*[229]

نورو مرکه شوو هم همداسې لیدلوري درلود:

*"کله چې مونږ غریب، نالوستي، کمزوري یو او د قانون حاکمیت نه لرو؛ کله چې نږدې زمونږ ټول کلی د یوې سختې او غیر انساني ډلې له خوا چې طالبان ورته ویل کیږي کنټرول کیږي - هغه ډله څوک چې ملکی وګړو ته په بی پروایی سره مرګ ژوبله اړوي [......]  نو مونږ به څنګه د تاوان غوښتنه وکړو؟  ایا هغوی موږ ته تاوان راکوي؟ موږ له دې وېرېږو چې وژل کېږو، تېښتې کېږو، یا له خپلو کورونو بې ځایه کېږو. موږ وېرېږو که د تاوان غوښتنه وکړو، زموږ لورګانی به د طالبانو سره په زور واده کولو ته اړ کړل شي. هغوی به موږ ته هېڅ ډول تاوان یا هغه کسان چې مو له لاسه ورکړي بیرته راونه ګرځوی. هغوی به زموږ لپاره ستونزې لا پسې زیاتې کړي. له دې امله موږ چوپ پاتې شو او هېڅکله مو د عدالت لپاره خپل غږ پورته نه کړ."*[230]

*"تر اوسه هېڅ مسؤلې ډلې کوم اقدام نه دی کړی. مرتکبین اوس په واک کې دي. ما اورېدلي چې په غونډو کې هغوی په ښکاره ډول دا مني چې [زما] په ښار کې یې د ماین چاودنې ترسره کړي او پر دې کار وياړي. [...] ما هېڅ شکایت نه دی ثبت کړی، ځکه پوهېږم چې اوسنی حکومت نه یوازې داسې شکایتونو ته غوږ نه نیسي، بلکې کېدای شي ما ته نورې ستونزې هم جوړې کړي."*[231]

*"څوک به دا جرئت وکړي چې د ناتو ځواکونه عدالت ته راوبولي؟ هغوی خپلو تاوتریخجنو کړنو ته د جګړې په نوم قانوني توجیه ورکوی."*[232]

د یو سړي چې په کور یې د افغان ملي اردو له خوا د توغول شوي توپ مرمۍ لګیدلو له امله، مور او پلار، دوه خویندې او ورور یې وژل شوی، وویل چې د *برحاله*  چارواکو واک ته رسېدو وروسته د عمومي بښنې د اعلان سره د پخواني حکومت افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو او منسوبینو پر وړاندې د شکایت کولو مخه نیول شوې.[233]

## iv. د غچ اخیستنې څخه ویره

د ډېرو خلکو په وینا د غچ اخیستنې وېره هغه عمده دلیل وو چې دوی د شکایت یا دعوه نه وه کړې.

یو کس په داسې حال کې چې د خپل دکان مخې ته ولاړ وو او د افغان ملي پولیسو له لوري په پښه وېشتل شوی وو، وویل:

*"ما غوښتل چې پر پولیسو دعوه وکړم او د هغوی پر ضد په ځایي اداره کې شکایت ثبت کړم، خو د ټولنې او قومي مشرانو سره له مشورې وروسته – چې ډېرو یې د امنیتي ځواکونو سره په یو ډول تړاو درلود – راته وویل چې که زه داسې وکړم نو سختې پایلې به ولري. له همدې امله، ما دا کار ونه کړ. زه د خپل او خپلې کورنۍ د خوندیتوب په اړه اندېښمن وم او غوښتل مې چې د پولیسو د قوماندان له لوري د غچ اخیستنې مخنیوی وشي. دا اصلي لامل وو چې ما د شکایت او  دعوې د ثبتولو څخه ډډه وکړه."*[234]

یوې ښځې چې خاوند او د هغه دوه د کاکا زامن په هوايي برید کې په داسې حال کې وژل شوي وو چې د کروندې څخه د کور پر لور روان وو، وویل، هغې د وېرې له امله شکایت ونه کړ، ځکه داسې آوازې وې چې د دوی پر کلي بل هوایي برید هم پلان شوی وو.[235]

[229] ۱۰۴ مه مرکه.
[230] ۱۴۸ مه مرکه.
[231] ۱۰ مه مرکه.
[232] ۱۱۱ مه مرکه.
[233] ۳۲ مه مرکه .
[234] ۴۹ مه مرکه.
[235] ۱۲۳ مه مرکه.

یو سړی وویل چې خپلوان یې په ټکسي کې سپاره وو چې په ښخ شوي ماین والوتله او ټول سپاره کسان په کې ووژل شول، د پیښې په اړه "هیڅ چا د شکایت کولو جرئت ونکړ":

*"...کله چې دا پېښه رامنځته شوه، طالبانو سمدستي سخت غبرګون وښود. هغوی پر موږ چیغې ووهلې او اخطار یې راکړ چې ولې پر هغه ښخ شوي فشاري ماین ورغلي یو چې دوی د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو لپاره ښخ کړی وو. دوی آن د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لپاره هیڅ ښښنه ونه غوښته. دوی زمونږ په کلی کې هیڅ چا ته هم نه وو ویلي چې باید پام وکړي او په هغه ځای ورنه شي چیرې چې دوی ماینونه ښخ کړي وو، کوم چې هیڅ د منلو وړ نه وو. دوی کولای شو چې موږ یې د دې پیښې څخه مخکې خبر کړي وای، تر څو موږ د پېښې د رامنځته کېدو مخه نیولې وای... موږ زړور وو او اوس هم زړور یو، خو وېره مو لرله چې که موږ خبرې وکړو یا د طالبانو پر ضد شکایت وکړو، هغوی به موږ ته لوی خطر پېښ کړي."[۲۳۶]*

یو سړي چې په ۱۵ کلنۍ کې د طالبانو له هغه برید څخه ژوندی پاتې شوی وو چې د دوی پر کلي یې کړی وو؛ په هغه برید کې یې پلار او تره د نورو پنځو کسانو سره یو ځای اعدام شوي وو. نوموړي وویل چې دوی شکایت ونه کړ، ځکه باور یې نه درلود چې څوک به مرتکبین عدالت ته حاضر کړي، او وېره یې درلوده چې طالبان به بېرته د دوی کلي ته راستانه شي:

*"کله چې زه یو سړی د اوږدې بیرې سره ووینم، وېرېږم او راته هغه څه راپه زړه شي چې طالبانو زموږ سره کړي وو. زه وېرېږم چې هغوی به زموږ کلي ته بېرته راشي او موږ ته به بیا زیان ورسوي."[۲۳۷]*

## ب. ناکامې دعوې یا شکایتونه

ډیری کسان چې شکایتونه یا دعوې یې کړې وې، د پایلو څخه یې راضي نه وو. ډېرو یې ویلي وو چې هېڅ ځواب یې د چارواکو له لوري نه دی ترلاسه کړی، د مرستې غوښتنې یې رد شوې وې، او یا هم بې‌ځوابه پرېښودل شوي وو.

### i. هېڅ اقدام نه دی ترسره شوی

د شکایتونو او دعوو د ناکامیدو عمده لامل دا وو چې چارواکو یې د رسیدګۍ لپاره هېڅ اقدام نه وو کړی.

په ډېرو مواردو کې، که څه هم د لوړپوړو چارواکو له لوري خلکو ته ډاډ ورکړل شوی وو، خو مرکه شویو د خپلو شکایتونو او دعوو په مقابل کې هېڅ ځواب نه وو ترلاسه کړی. یو سړي چې کور یې د طالبانو له لوري د موټر بم د چاودنې له امله سخت زیانمن شوی وو (او په دې پېښه کې پخپله مرکه‌شوی، مور یې او ۱۲ کلن زوی یې هم ټپیان شوي وو)، وویل:

*"لکه څنګه چې دا یوه ډېره غټه پیښه وه، د ولایت والي، ولسوال، د پارلمان ځیني غړي زمونږ کور ته راغلل او مونږ سره یې ژمنه وکړه چې په مالي لحاظ به د زموږ ملاتړ کوي، خو هیڅ عملی اقدام ترسره نه شو. موږ د تاوان لپاره د ولسوال او والي دفترونو ته عریضې کړې وې. په هغه وخت کې، [پټ ساتل شوی] د پارلمان مشر او زموږ د کلي اوسېدونکی و، له موږ سره یې ژمنه وکړه چې نورو حکومتي ادارو ته د تګ اړتیا نشته، ځکه هغه به پخپله زموږ ټول زیانونه جبران کړي، خو هېڅ هم ونه شول."[۲۳۸]*

یو سړي چې درې زامن یې د افغان ملي اردو د هاوان د مرمۍ له امله وژل شوي وو - کومه چې د هغه د کور په انګړ کې لګېدلې وه - د پېښې په تړاو د ولسوال او پولیسو دفتر ته ورغلی وو. وروسته هغه د ولایت له مرستیال والي سره کتلي و، چې هغه ورسره د تاوان د ورکولو ژمنه کړې وه. څو اوونۍ وروسته، نوموړي دا موضوع د والي له دفتر سره تعقیب کړه:

[۲۳۶] ۱۴۸ مه مرکه.
[۲۳۷] ۱۹ مه مرکه.
[۲۳۸] ۴۳ مه مرکه .

*"کله مې چې د هغه شمېرې سره تماس ونیو، هغه کس چې ځواب یې راکړ ویوښتل: تا ته دا شمېره چا درکړې؟ ما ورته وویل: د ولسوال دفتر. بیا هغه کس راته ډېرې سپکې خبرې وکړې او ویې ویل: ته او هغه کس چې تا ته یې دا شمېره درکړې دوزخ ته لاړ شئ او گند وخورئ! او که ما ته دې بیا زنګ ووهه بندي به دې کړمه."*[۲۳۹]

یوه ښځه چې پلار یې د طالبانو د غړو له لوري ویشتل شوی او وژل شوی وو، څو ځله بېلابېلو ادارو ته د پېښې د راپور کولو او د څېړنې د غوښتنې لپاره ورغلې و:

*" طالبانو له ما سره ژمنه کړې وه چې هغوی به تحقیق کوي او مرتکب به پیدا کوي. د ولایت والي، امنیه قوماندان او د ملي امنیت مشر ټولو له ما سره ژمنه وکړه چې په دې اړه به څېړنه کوي او مرتکب به مالوموي. د ګلبدین حکمتیار د حزب اسلامي قوماندان [...] هم له ما سره وعده کړې وه چې څېړنه به کوي. خو تر اوسه هېڅ پایله نه ده ترلاسه شوې. د پېښې تر شا انګېزه او د مرتکبینو هویت تر اوسه ناڅرګند پاتې دي."*[۲٤۰]

نورو ویلي وو چې دوی د خپل شکایت په اړه هېڅ مالومات نه وو ترلاسه کړي، او دې نتیجې ته رسېدلي وو چې چارواکو په دې اړه هېڅ اقدام نه دی کړی.

*"[ځینې] چارواکي د څېړنې لپاره راغلل، خو زه د تحقیق او پایلې په اړه یې ډېر نه پوهېږم."*[۲٤۱]

*"حکومتي چارواکو، د ولسوال او د ولسوالی امنیه قوماندان په ګډون وویل چې دا یو تروریستی برید وو او دوی به یې تعقیب کړي، خو هېڅ پایله یې نه درلوده. موږ نه پوهېږو چې ایا کوم رسمي تحقیق شوې دی او که شوې وي، پایله یې څه وه.*[۲٤۲]*"*

د ډېرو قربانیانو خپلوانو د چارواکو سره خپل شکایتونه په دوامداره ډول تعقیب کړي، ځینې د څو کلونو پورې. د بېلګې په توګه، یو سړی چې دوه ورونه یې د حکومت پلوو ملېشو له خوا په داسې حال کې وژل شوي وو چې د یوې جنازې په مراسمو کې یې په ۲۰۱۲ کال کې ګډون کړی وو، هغه وویل چې د پېښې په وخت کې یې د ولایت له والي، امنیه قوماندان او د ولسمشر دفتر ته عریضه کړې وه. هغه وویل چې پولیسو د مرتکبینو د نیولو لپاره عملیات ترسره کړل، خو هغوی وتښتېدل. نږدې نهه کاله وروسته، کله چې هغه ښار چې دوی په کې اوسېدل د طالبانو لاس ته ولوېد، دوه مرتکبین د *برحاله* چارواکو له لوري ونیول شول. وروسته هغه ته وویل شول چې د طالبانو مشر عمومي بښنه اعلان کړې ده، مانا یې دا وه چې مرتکبینو ته سزا نه ورکول کېږي. هغه وویل چې هغوی خوشې شول او بهر ته وتښتېدل.[۲٤۳]

یو بل کس چې زوی او لور یې د افغان ملي اردو ځواکونو د هاوان د مرمۍ له امله وژل شوي وو، او خپله مرکه شوی او د کورنۍ پنځه نور غړي یې ټپیان شوي وو، وویل چې هغه د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست ته عریضه کړې وه تر څو د خپلو لمسیانو لپاره ترې مالي مرسته تر لاسه کړي. هغه وویل چې دغه عریضه یې د والي له دفتر او محکمې سره هم شریکه کړې وه، خو هېڅ چا هیڅ اقدام ونه کړ، که څه هم هغه خپله دعوه نږدې دوه کاله تعقیب کړې وه. هغه زیاته کړه چې کله یې د خپلو اسنادو د بېرته اخیستلو غوښتنه وکړه، ورته وویل شول چې اسناد سوځول شوي او له منځه تللي دي.[۲٤٤]

## ii. د چارواکو لخوا د غوښتنې ردول

ځینو خلکو ویلي چې کله دوی د مرستې غوښتنه کړې یا یې شکایت وړاندې کړی، نو هغه کس یا کسانو چې دوی ورسره لیدلي وو، د دوی د مرستې غوښتنه یې رد کړې وه. یوه مرکه شوې چې ۱۷ کلن زوی یې د طالبانو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ترمنځ په نښته کې وژل شوی او لمسی یې ټپي شوی وو، دواړو خواوو ته ورغلې وو تر څو د هغه د کور بیا جوړولو لپاره ترې د مرستې غوښتنه وکړي چې د پېښې په پایله کې په بشپړه توګه له منځه تللی وو:

[۲۳۹] ۲۷ مه مرکه.
[۲٤۰] ۳۰ مه مرکه.
[۲٤۱] ۱۵۰ مه مرکه.
[۲٤۲] ۱۰۰ مه مرکه.
[۲٤۳] ۱۳۴ مه مرکه.
[۲٤٤] ۱۱ مه مرکه.

*"د پېښې وروسته زه د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو پوستې ته ورغلم او هغوی ته مې مالومات ورکړل چې دوی زما کور ویجاړ کړی دی او باید تاوان یې راکړي. هغوی راته وویل چې ما باید هېڅکله طالبانو ته په خپل کور یا ګاونډ کې ځای نه وی ورکړی، او زیاته یې کړه چې په جنګ کې هېڅ ډول جبران یا تاوان نشته. ما بیا د طالبانو قوماندان [پټ ساتل شوی] نه د مرستې غوښتنه وکړه او ورته مې ویل: 'ستاسو د کړنو له امله زما کور وران شوی' ایا لږ تر لږه راسره مرسته کولای شئ چې کور مې بیا ورغول شي؟' د طالبانو قوماندان په ځواب کې وویل: 'دا زموږ مسوولیت نه دی چې تا ته د دې لپاره تاوان درکړو."*[٢٤٥]

ځینو نورو ویلي چې هغوی طالبانو ته، د خښ کړل شوو فشاري ماینونو له امله د دوی خپلوانو د وژل کېدو او ټپي کېدلو لپاره شکایت ته ورغلي وو. هغوی ته زیاتره وخت ویل شوي وو چې دا یوه پېښه وه او دوی باید په الله کلک ایمان ولري. یو سړی چې د سفر پر مهال یې موټر د طالبانو له لوري په خښ کړل شوي فشاري ماین ختلی وو، په پېښه کې ۱۳ کسان وژل شوي وو چې شپږ یې د ده د کورنۍ غړي وو. نوموړی د عریضې سره طالبانو ته ورغلی وو، او د تاوان او د مرتکبینو د سزا غوښتنه یې کړې وه. هغه وویل:

*"کله چې ما خپله عریضه هغه ته وسپارله، هغه زه تشویق کړم چې باید زړور اوسم او وې ویل چې الله به ما ته د هغو کسانو په بدل کې جنت راکړي چې ما له لاسه ورکړي دي. هغه هېڅ اقدام ونه کړ."*[٢٤٦]

یو بل سړي وویل چې تراکتور یې پر فشاري ښخ شوي ماین وختوت او ماین وچاودېد. د هغه تراکتور له منځه ولاړ او دواړه پښې یې سختې ټپي شوې. نوموړي د پېښې په تړاو طالبانو ته مراجعه کړې وه:

*"ما غوښتل پوه شم چې ولې زه هدف وګرځول شوم. په ځواب کې د طالبانو [.....] قوماندان راته وویل چې هغوی په تېروتنه زما تراکتور د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د پوځي موټر سره اشتباه کړی وو، کوم چې په اصل کې د دوی د ماین هدف وو. مرتکبینو دا پېښه یوازې یوه غیر قصدي حادثه وبلله چې الله به زما په تقدیر کې لیکلې وه، او هغوی خوشحاله وو چې زه ژوندی پاتې وم*[٢٤٧]*."*

## iii. د پخواني حکومت، د افغانستان اسلامی جمهوریت پرځیدل

د پخواني حکومت پرځیدل د شکایتونو او تاوان غوښتلو د نه تعقیب لوی لامل ګڼل شوی دی:

*" د پېښې څو میاشتې وروسته زه د والي دفتر ته د تاوان غوښتلو لپاره لاړم، خو ما ونه شو کړای چې د اسنادو د طی مراحل کولو پروسه بشپړه کړم، ځکه کارکوونکي ډېر بوخت وو او یا په ځینو ورځو دفتر کې حاضر نه وو. وروسته حکومت راوپرځید او ما ونه شو کولای چې هغه پروسه بشپړه کړم."* [٢٤٨]

یو تن وضعیت داسې تشریح کړ چې د پخواني حکومت د نسکوریدو پر مهال د ده په ولایت کې امنیتي وضعیت څومره خراب وو، او له همدې امله هغه ونه توانېد چې د خپل ورور د وژنې په اړه حکومتي چارواکو ته مراجعه وکړي:

*"دغه پېښه په ډېر حساس وخت کې رامنځته شوه، هغه مهال د ولایت د مرکز د کنټرول لپاره سختې نښتې روانې وې. د پخواني حکومت اداري جوړښت داسې ښکارېده لکه تقریبا چې له منځه تللی وي. یوازینۍ پاتې ځواک، افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو وو، چې د خپلو پوځي پوستو څخه د وتلو په حالت کې وو. زموږ لپاره ډېر خطرناک و چې د څېړنې غوښتنه وکړو. موږ حتی د خپل ژوند په قیمت هڅې وکړې تر څو د خپل ورور جسد د جګړې له میدان څخه انتقال کړو."*[٢٤٩]

یو سړی چې د تره زوی یې، چې د ټکسي چلوونکی وو، د طالبانو له لوري په یو چیک پاینټ (پلټنځای) کې ویشتل شوی او وژل شوی وو. نوموړي وویل چې د پېښې څخه څو میاشتې وروسته، مرتکبین د ملي امنیت له خوا ونیول شول او تمه وه چې

[٢٤٥] ۱۳ مه مرکه.
[٢٤٦] ۶۵ مه مرکه.
[٢٤٧] ۱۰۱ مه مرکه.
[٢٤٨] ۱۳۹ مه مرکه.
[٢٤٩] ۱۳۴ مه مرکه.

قضیه به محکمې ته وړاندې شي. خو د حکومت له پرځېدو وروسته، تورن کسان خوشې شول او اوس هغوی د خپل ښار په سړکونو کې ویني.[۲۵۰]

## iv. په دولتي چارواکو د فساد او تبعیض تورونه

**خان یوسفي**

*"په [نېټه]، د ماسپښین وروسته، زما ۱۰ کلن زوی د کلا دروازه پرانیسته [...] چې د افغان ملي پولیسو د ګزمې له ټانک سره مخامخ شو، پر هغه یې ډزې وکړې او په سینه یې وویشت. کله چې زما مېرمن دا صحنه ولیده، د زوی د ژغورلو لپاره یې ورمنډه کړه، خو هغه هم په مخامخ تندي کې په مرمۍ ولګېده. زوی مې په هماغه ځای کې مړ شو، او مېرمن مې سخته ټپي شوه.*

*زه د پولیسو امنیې قوماندانۍ ته ورغلم او د دې ظالمانه پېښې په اړه مې شکایت وکړ. په لومړي سر کې هغوی راته وویل: "ته باید اظهارات ورکړې چې ستا زوی د حکومت ضد عناصرو د ډزو له امله وژل شوی، تر څو مونږ تا ته یو څه تاوان درکړو." ما دا خبره رد کړه، خو هغوی ما ته ګواښ وکړ چې که دا ونه منم ، نو دوی به ما د حکومت ضد ډلو د غړیو په تور ونیسي. له همدې امله، ما ځان غلی وساته. [...]*
*زه تاوان ته هېڅ اړتیا نه لرم، ځکه زما زوی به بیا ژوندی نه شي. ما یوازې د عدالت غوښتنه کوله*[۲۵۱]*.*

ځینو خلکو ویلي وو چې د دوی د شکایتونو او دعوو ردېدو لامل دا و چې د دوی په باور د چارواکو ترمنځ فساد او تبعیض موجود دی. د بېلګې په توګه، یوې مېرمن د طالبانو له واکمنېدو وروسته *برحاله* د کار او ټولنیزو چارو ریاست ته د خپل زوی لپاره چې د هاوان د مرمۍ له امله سخت ټپي شوی وو د مرستې غوښتنې لپاره مراجعه کړې وه. هغې ته د *برحاله* چارواکو له لوري ویل شوي وو چې د هغې د قومیت له امله، هغه د مرستې لپاره د شرایطو وړ نه ده.[۲۵۲]

خلکو په تکرار سره ویلي چې، د دوی په نظر، د چارواکو د فساد له امله دوی ته مالي مرستې نه دي ورکړل شوي:

> *"د جمهوریت د حکومت پر مهال، زما کاکا څو ځلې هڅه وکړه چې ما ته د مالي مرستې کارت ترلاسه کړي، خو د فساد له امله زه ونه توانېدم چې مالي مرسته تر لاسه کړم.*[۲۵۳]*"*

> *" د پولیسو په ګډون، حکومتي چارواکي د پېښې او قربانیانو ته د اوښتي زیان په اړه خبر وو، خو هېڅ ډول اقدام یا څېړنه ونه شوه. د ولایت ټول [...] چارواکي جنګ سالاران او د جنرال دوستم نږدې متحدین وو. هغوی په خپلو شخصي معاملو او فساد کې بوخت وو او د خلکو او ټولنې پر حال بې پروا وو.*[۲۵۴]*"*

> *"ما سره هېڅ مرسته ونه شوه. یوازې راته وویل شول چې د شهیدانو د کارت لپاره نوم لیکنه وکړم، خو د پېچلې اداري پروسې او د چارواکو د ناوړه چلند له امله مې دغه کارت هم تر لاسه نه کړ."*[۲۵۵]

[۲۵۰] ۲۰ مه مرکه.
[۲۵۱] ۷ مه مرکه.
[۲۵۲] ۹۰ مه مرکه.
[۲۵۳] ۱۲۶ مه مرکه.
[۲۵۴] ۵۴ مه مرکه.
[۲۵۵] ۲۳ مه مرکه.



هغه ښځې چې د ۲۰۱۹ کال د اګست په ۱۸مه په کابل کې د واده پر یوه تالار په ځانمرګي برید کې یې خپلوان له لاسه ورکړي:

*"چاودنې ښیښې ماتې کړې او هر لورې ته دورې وې. خوښي او خوشحالي یې په غمیزه، چیغو او وېرې بدله کړه. د میزونو سپین پوښونه د ګډونوالو په وینو سره شول، او خلک، د ټېپیانو په ګډون، له هوټله د وتلو په حال کې وو. هر څوک د هوټل د تالارونو دننه او بهر د خپلو عزیزانو په لټه کې وو".*

*"ما کلونه کلونه ماتم کړی او لا یې هم کوم. نه پخواني حکومت او نه اوسنیو طالبانو له موږ سره کومه مرسته کړې ده. کېدای شي پخواني حکومت له ځینو قربانیانو سره مرسته کړې وي، خو موږ ته هېڅ مرسته ونه رسېده. موږ هغه وخت هم بېوزله وو او اوس هم بېوزله یو".*

وکیل کوهسار/AFP، کابل، ۲۰۱۹.

## ج. د تاوان د ترلاسه کولو او هڅو ډولونه

د نیمايي څخه زیاتو (۶۴ ٪) مرکه شویو چې شکایت او/یا دعوه یې ثبت کړې وه ویلي دي چې د دوی هڅې یې پایلې پاتې شوې. دغه کسانو بېلابېلو ادارو ته، په ګډون د پخواني حکومت، طالبانو (په هیواد باندې د واکمنیدو څخه مخکې)، او *برحاله* چارواکو (د واکمنۍ څخه وروسته) ته شکایت او/یا دعوې وړاندې کړې وې.

له بلې خوا، د هغو کسانو له ډلې چې شکایت او/یا دعوې یې کړې وې، شپږ دیرش سلنې یې ویلي چې یو نه یو ډول ځواب، لکه مالي یا بل ډول ملاتړ، یې تر لاسه کړی. که څه هم ځینو کسانو ځواب تر لاسه کړی وو، خو قربانیان یې د پایلې څخه ډېر کم خوښ وو. ډېرو یې ویلي چې ځواب د هغه تاوان په پرتله چې هغوی ته رسیدلی وو نا انډول وو.

### i. نغدي مرستې

ځینو کسانو د شکایت یا دعوې په ځواب کې پیسې ترلاسه کړې وې. ترلاسه شوې پیسې، په ډیر توپیر سره، له ۵۰۰۰ څخه تر ۷۰۰۰۰۰ افغانیو پورې وې (چې د ۶۷ څخه تر ۹۳۳۳۳ امریکایي ډالرو سره برابرې دي). د دغو مرستو د ورکړې څرنګوالی هم بېلابېل وو، ځینې یې په یو وار د پخواني حکومت د بیلابیلو ادارو له خوا ورکړل شوي دي، لکه د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست، د والی دفتر، د کار او ټولنیزو چارو ریاست او د ولسمشر دفتر له خوا. ځینو قربانیانو بیا د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا پیسې ترلاسه کړې وې، نړیوالو ځواکونه د همدردی له مخې پیسې ورکړې وې په داسې حال کې چې د پیسو په ورکړه مکلف نه وو.

ډېرو مرکه شویو ویلي، هغه مرستې چې دوی تر لاسه کړې وې، د هغو لګښتونو د پوره کولو لپاره کافي نه وې چې دوی کړي وو، لکه د خپلو کورونو او کاروبارونو بیا رغونه، د جنازې د مراسمو لګښتونه یا د ټپیانو د درملنې مصارف. د یو سړي پلار او ورور د نړیوالو پوځي ځواکونو د یوه هوایي برید په ترځ کې وژل شوي وو، هغه برید کې د ده د کورنۍ کور هم زیانمن شوی وو. په دې بردی کې یاد سړی، د هغه مور، او لس ورونه او خویندې یې چې ټول د پېښې پر مهال د ۱۳ کلونو څخه کم وو ټپیان شوي وو. هغه وویل:

*"څو میاشتې وروسته، افغان حکومت زموږ کورنۍ ته ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ [۲۶۶۷ امریکایي ډالر] د پلار او ورور د مرګ د تاوان په توګه ورکړې، خو دا اندازه دومره کمه وه چې د تدفین لګښتونه یې هم پوره نه کړل. له دې وروسته موږ سره هېڅ پیسې پاتې نه وې چې د ټپیانو د درملنې لپاره مو مصرف کړې وی."*[256]

ځینو خلکو د مرستې لپاره حکومت او یا *برحاله* چارواکو ته غوښتنلیکونه ورکړي وو او دوامداره معاش یې ترلاسه کړی. د دغو مرستو اندازه او سرچینې بېلابېلې وې. د بېلګې په توګه، یو شخص ویلي چې هغه د ۲۰۱۸ کال وروسته، کله یې چې زوی د طالبانو له لوري ووژل شو، د شهیدانو او معلولینو له ریاست څخه یې هره میاشت ۶۰۰۰ افغانۍ [۸۰ امریکايي ډالر] ترلاسه کولې.[257] یو بل سړی، چې درې زامن یې وژل شوي او یو بل یې د ځانمرګي برید په پایله کې سخت ټپي شوی وو، وویل چې د پخواني حکومت شهیدانو (وژل شوو کسانو) لپاره یې مالي مرستې ورکولې، خو اوسنی حکومت د یتیمانو ملاتړ کوي. هغه وویل چې هر یتیم ماشوم د میاشتې ۲۰۰۰ افغانۍ [۲۷ امریکایي ډالر] ترلاسه کوي، چې دا پیسې هر شپږ میاشتې وروسته *برحاله* د شهیدانو او معلولینو ریاست له لوري ورکول کېږي. د هغه معلول زوی هم همدومره پیسې تر لاسه کوي.[258]

ډېرو خلکو ویلي چې د پخواني حکومت له لوري یې تقاعد ترلاسه کاوه چې د طالبانو راتګ نه وروسته بند شو.[259] ځینو نورو د پخواني حکومت له لوري میاشتنی مرستې نه وې ترلاسه کړی، خو اوس یې د *برحاله* چارواکو له لوري تر لاسه کړې.[260] ځینو یادونه کړې چې د طالبانو تر راتګ وروسته د دوی د میاشتنی مرستې اندازه د پخواني حکومت په پرتله راکمه شوې ده:

[256] ۹۷ مه مرکه.
[257] ۱۱۵ مه مرکه.
[258] ۷۵ نمبر مرکه (کنړ ولایت، ۲۰۱۸)
[259] ۷۲ نمبر مرکه
[260] ۱۲۶ نمبر مرکه

*" په پخواني حکومت کې زه د شهیدانو او معلولینو د چارو له ریاست سره ثبت شوی وم، او هر کال به ما ۶۰۰۰۰ افغاني (۸۰۰ امریکایي ډالر) ترلاسه کولې. دا اندازه اوس د برحاله چارواکو له خوا نږدې نیمایي ته راکمه شوې ده."*[٢٦١]

ډیرو کسانو ویلي پرته له دې چې کوم شکایت وکړی، په یو ځل یې پیسې تر لاسه کړې دي.

*" ما کوم شکایت نه وکړی، خو د پیښې په اوومه ورځ د والي دفتر له لوري له ما سره د هر وژل شوي کس په سر ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ (۱,۳۳۳ امریکایي ډالر) مرسته وشوه. په ټوله کې، زموږ کورنۍ ته د پنځو وژل شوو غړو لپاره ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ (۶,۶۶۷ امریکایي ډالر) ورکړل شو."*[٢٦٢]

*" پخواني حکومت هر شهید ته د درناوي په موخه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ (۱,۳۳۳ امریکایي ډالر) ځانګړې کړې. سربېره پر دې، د قربانیانو کورنیو ته د ښار په څنډه کې یو یو دوکان ورکړل شو."*[٢٦٣]

سربېره پر دې، یو شمېر مرکه شویو د نړیوالو پوځي ځواکونو له لوري، پرته له دې چې مسول وګڼل شي، پیسې ترلاسه کړې وې، دا پیسې هغه افغان ملکیانو [یا د هغوی کورنیو] ته ورکړل شوي چې د جګړو په پایله کې وژل شوي، ټپیان شوي، یا یې مالونه زیانمن شوي وو.

**غلام محی الدین**

د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ په ۳۰مه نېټه، د ماسپښین پر مهال، د غلام محی‌الدین کورنۍ له یوې جنازې څخه د کور پر لور روانه وه، چې د دوی موټر د امریکایي بېپیلوټه الوتکې د برید هدف وګرځېد. د هغه پلار، مور، کاکا، ترور او د کاکا زوی ماشوم یې په دغه برید کې ووژل شول.

د پېښې وروسته، له هغه سره د ولسمشر اشرف غني د دفتر د رییس مرستیال تلیفوني اړیکه ونیوله. نوموړي د پېښې له امله ښښنه وغوښته او وېې وویل چې ولسمشر غني او د افغانستان امنیتي ځواکونه سره د دې برید په اړه له امریکایي ځواکونو هیڅ مشوره نه وه شوي او نه هم خبر شوي وو. څو ورځې وروسته، یو شمیر افغان پوځیانو او د امریکایي ځواکونو یو غړي د غلام محی‌الدین او د هغه د ورور د لیدو لپاره د دوی کور ته ورغلل. امریکایي ځواکونو غړي ومنله چې دغه برید یې د ناسمو مالوماتو پر بنسټ ترسره کړی، ځکه ورته ویل شوي وو چې د طالبانو ځینې مهم مشران په موټر کې سپاره وو.

*"په دغه غونډه کې ما د عدالت او تاوان غوښتنه وکړه، خو ما هېڅ ځواب ترلاسه نه کړ. د غونډې په پای کې، ماته یو پاکټ راکړل شو چې په هغه کې یوازې ۲۰۰۰ امریکایي ډالر موجود وو."*[٢٦٤]

یو سړی، چې په ۲۰۱۰ کال کې د نیوزیلینډ د پوځي ځواکونو د هوایي عملیاتو په ترڅ کې یې پلار او ورور وژل شوي وو، وویل:

*" د ۲۰۲۱ کال د اګست میاشتې څخه مخکې، [د شهیدانو او معلولینو د چارو د ریاست استازی په ولسوالۍ کې] ما سره تیلیفوني اړیکه ونیوله او راته یې وویل چې د نیوزیلینډ حکومت غواړي ما ته دیت راکړي. ځکه ما [د نیوزیلینډ له یوه خبریال] سره دوه ځلې خبرې وکړې، خو هغه دا مالومات تأیید نه کړل."*[٢٦٥]

ځینو مرکه شویو له غیر حکومتي ادارو څخه یو ځلي مرستې تر لاسه کړي.

[٢٦١] ۱۰۱ نمبر مرکه
[٢٦٢] ۳۵ نمبر مرکه
[٢٦٣] ۷۰ نمبر مرکه
[٢٦٤] ۹ مه مرکه
[٢٦٥] ۱۴۰ مه مرکه.

*"یوه موسسه، چې نوم یې راته په یاد نه دی، راغله او موږ ته یې د هر وږل شوي کس لپاره ۱۵۰۰۰ افغانۍ [۲۰۰ امریکایي ډالر] راکړې."*[۲۶۶]

*"ما د ټپي کېدو او معلول کېدو لپاره نه د جمهوري دولت او نه هم د طالب جنګیالیو لهخوا مرسته ترلاسه کړې[...]. ما یوازې له یوې نړېوالې موسسې څخه، چې نوم یې راته نه دی یاد، ۵۰۰۰۰ افغانۍ [۶۶۷ امریکایي ډالر] ترلاسه کړي دي."*[۲۶۷]

## ii. ببښنه او مالومات[۲۶۸]

ډېرو مرکه شویو د پېښې په اړه هېڅ مالومات نه دي ترلاسه کړي، آن هغه کسان هم چې هڅه یې کړې وه د پېښې په اړه رسمي شکایت ثبت کړي، ویلي چې له هغو ادارو څخه چې شکایت یې ورته کړی وو، هېڅ ځواب نه دی ترلاسه کړی. ځینو ویلي چې سره له دې چې هغوی رسمي شکایتونه هم ثبت کړي وو، یوازینۍ اداره چې وروسته یې د پېښې په اړه ورسره اړیکه نیولې، یوناما وه.[۲۶۹]

ځینو مرکه شویو ویلي چې دوی د پېښو په اړه تصدیق او ببښنه تر لاسه کړې. دا یې په تیره جګړه کې دبېلابېلو شکیلو خواوو څخه، لکه د ولسمشر دفتر، طالبان، د والي او ولسوال دفترونه، امنیتي ځواکونه، او د نړیوالو پوځي ځواکونو څخه ترلاسه کړي. ببښنې ډېری وخت د عدالت غوښتنې په پار د قربانیانو د کورنیو له منظمو هڅو وروسته شوې دي:

*"د یوه قرباني پلار د پاکستان کوېټې سیمې ته سفر کړی وو، چیرته چې اتکل کېده د طالبانو رهبري شورا مېشته وه. هغه له یوې اوونۍ ډېر وخت تېر کړ څو د قضایي مسؤلینو سره د شکایت د ثبت لپاره وګوري، خو ونه توانېد له اړوندو طالب چارواکو سره وګوري. هغه یوازې د ټیټې کچې طالب چارواکو سره وکتل، څو هغوی دا پیغام د طالبانو د شورا قضایي څانګې ته ورسوي. څو ورځې وروسته، د طالبانو یو قوماندان [....]، چې ویل کېدل د دغه وژنې مسؤل دی، ببښنه یې وغوښته چې د بې ګناه کس وژنه یې په تېروتنې سره کړې. دا پیغام د سیمې د خلکو له لوري، چې زموږ کور ته راغلي وو، راورسول شو."*[۲۷۰]

*"د پېښې څخه سمدستي وروسته، موږ ته مالومه شوه چې طالبانو دښخ شوي فشاري ماین [په چاودنه] کې تېروتنه کړې، ځکه دوی زموږ موټر د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د رېنجر موټر سره اشتباه کړی وو. د سیمې ځایي طالب قوماندان د تېروتنې مسوولیت ومنه او له موږ یې وغوښتل چې اجازه ورکړو څو قومي مشران د طالبانو په استازیتوب ببښنه وغواړي، خو موږ د جرګې راتګ ونه منه. هغوی یوازې زموږ د زیان لپاره خواخوږي څرګنده کړه."*[۲۷۱]

ډېری وختونه ببښنې د یو ځلي/وار مالي مرستو سره ترسره شوي. د افغان ملي اردو لخوا د ترسره شوې هوایي برید یوې قربانۍ، چې په کې د هغې نهه کلن وراره وژل شوی او د هغې او د کورنۍ اووه نور غړي په کې ټپيان شوي وو، وویل چې د والي مرستیال په روغتون کې له هغوی سره وکتل او د پېښې په اړه یې ببښنه وغوښته او ویې ویل چې دغه پېښه یوه تېروتنه وه. هغه کورنۍ ته د وراره د جنازې د مراسمو لپاره ۱۰۰۰۰ افغانۍ [۱۳۳ امریکایي ډالر] ورکړې او ژمنه یې وکړه چې د هغوی د درملنې لګښتونه به پوره کړي. هغې وویل، څو ورځې وروسته حکومت نسکور شو او د دوی کورنۍ هیڅ مالي مرسته تر لاسه نکړه.[۲۷۲]

[۲۶۶] ۹۴ مه مرکه.
[۲۶۷] ۹۶ مه مرکه.
[۲۶۸] که څه هم ببښنه په عمومي توګه د رضایت یوه بڼه بلل کېږي، چې د قربانیانو د تاوان (جبران) د حق سره تړاو لري، او مالومات یې د قربانیانو د حقیقت موندنې له حق سره تړلي دي، خو قربانیانو دا دواړه مسایل یو له بل سره تړلي بللي دي او د پوښتنو په ځوابونو کې یې یوځای یاد کړي دي.
[۲۶۹] ۷ مه مرکه؛ ۱۴ مه مرکه.
[۲۷۰] ۲۴ مه مرکه.
[۲۷۱] ۹۸ مه مرکه.
[۲۷۲] ۱۳۵ مه مرکه.

سرېره پردې، هغه مرکه شویو چې ښځې یې ترلاسه کړې وې، ډېرو یې احساس کړی چې دا ښځې د دوی د حالت په بدلولو کې هېڅ کومه اغېزه نه ده کړې؛ هغوی یادونه کړې چې د یادې پېښې په تړاو هېڅ څوک نه دي نیول شوي، تحقیقات نه دي شوي او نه چاته سزا ورکړل شوې:

*"د پېښې په اړه د یوناما له لوري د مطبوعاتي اعلامیې له خپرېدو وروسته، وضعیت مثبت تغیر وکړ. زمونږ د ټولنې مشرانو کابل ته سفر وکړ او له ولسمشر اشرف غني او د دفاع وزیر سره یې وکتل. ټولو چارواکو، په ګډون د ولسمشر اشرف غني، د پېښې لپاره ښځنه وغوښته او وې ویل چې دا یوه تېروتنه وه؛ سره له دې، د دغه جدي جرم په تړاو هېڅ څوک ونه نیول شو، نه تحقیقات وشو او نه چاته سزا ورکړل شوه."*[273]

*"مونږ [...] ولسوال او د امنیې قوماندان سره وکتل. هغوی وویل: 'مونږ د پېښې له امله ښځنه غوارو' خو مرتکبین تر اوسه پېژندل شوي او نیول شوي نه دي."*[274]

ځینو مرکه شویو ویلي چې د پخواني حکومت د ځینو چارواکو سره یې لیدنې کړې؛ هغوي یا خو مسولیت نه دی منلی او یا یې د پېښې مسوولیت پر نورو اچولی، لکه طالبانو یا نړیوالو پوځي ځواکونو.

*"افغان حکومت او د ولسمشر دفتر  پېښه تصدیق کړه او وې ویل چې دغه پېښه د امریکایي ځواکونو لهخوا ترسره شوې ده. خو امریکایانو په دې اړه هېڅ اقدام ونه کړ؛ نه یې پېښه ومنله او نه یې ښځنه وغوښته."*[275]

*"سره له دې چې د وخت [والي] زما نیکه سره ولیدل او د هغه د لمسي د وژل کېدو لپاره یې ورسره خواخوږي څرګنده کړې وه، خو د چارواکو لهخوا هېڅ اقدام ونه شو. والي په ځواب کې وویل چې کېدای شي کومه غلطفهمي وي او ښایي په پېښه کې ښکېل کسان له طالبانو سره تړاو ولري."*[276]

### iii. عدالت ته لاسرسی

"هېڅ چا په دې اړه تحقیق ونه کړ. که چا کړی وي، زه پرې خبر نه یم. زه ۷۵سلنه باوري یم چې هېڅ چا تحقیق یا تعقیب یا پېښه نه ده مستند  کړې. هېڅ چا له ما سره په دې اړه مرکه نه ده کړې. هېڅ کومې موسسې هم له ما څخه په دې اړه پوښتنې نه دي کړې. نن دا لومړی ځل دی چې له ما څخه په دې اړه څوک پوښتنه کوي."[277]

ډېری مرکه شویو  چې د پیښو په اړه یې د ځان یا خپلو کورنیو لپاره د عدالت د ترلاسه کولو هڅې کړې وې، ویلي چې هڅې یې ناکامه وې. مرکه شویو په اند، تر ډېره د پاتې راتلو لامل د هغو چارواکو نه اقدام او انکار  وو چې دوی ورغلي وو، په دې کې دواړه، د پخواني حکومت چارواکي، طالبان (په هیواد باندې د واکمنیدو څخه مخکې)، او *برحاله*  چارواکي (د واکمنۍ څخه وروسته) شامل دي.

*"ما د سیمې طالب جنګیالیو ته خپل شکایتونه وړاندې کړل، خو هېڅ یوه یې زما اندېښنو او پوښتنو ته ځواب ورنه کړ. هغوی زما د زوی په وژنه کې لاس لرل رد کړل. زه پوهېدم چې هغه د طالبانو لهخوا وژل شوی وو او له همدې امله مې د جمهوریت حکومت چارواکو ته شکایت ونه کړ."*[278]

*"دغه پېښه په ۲۰۲۱ کال کې رامنځته شوې وه، خو ما دغه شکایت په دې وروستیو کې د طالبانو رژیم پر مهال ثبت کړ. ما یوه عریضه ولیکله او هغه مې د سرپل والي ته وړاندې کړه. والي ماته وویل چې هغه څه نه شي کولای او زه باید کابل ته لاړ شم. ما ورته وویل چې که ما کابل ته د تګ لپاره پیسې لرلې، نو زه به تاسی ته نه وي راغلی."*[279]

[273] ۶۰ مه مرکه.
[274] ۹۴ مه مرکه.
[275] ۶۲ مه مرکه.
[276] ۸ مه مرکه.
[277] ۱۹ مه مرکه.
[278] ۱۱۵ مه مرکه.
[279] ۳۷ مه مرکه.

د یو سړي وراره او ورور هغه مهال ووژل شول چې د افغان ملي اردو یو غړی له یوې پوستې څخه پرې ډزې وکړې، هغه وویل چې قوماندان ته ورغی تر څو پوښتنه ترې وکړي چې ولې یې داسې کړي:

*"هغوی وویل چې دوی فکر نه کوي چې دوی دې قربانیان ویشتلي وي، کېدای شي دا د افغان ملي پولیسو له خوا ویشتل شوي وي. موږ هغوی ته وویل چې موږ ولیدل چې ډزې همدوی کړي او په هغه وخت کې افغان ملي پولیسو ډزې نه کولې. هغوی هېڅ ځواب نه درلود. موږ سیمه پرېښوده او قربانیان مو خاورو ته وسپارل."*[280]

سره له دې چې هغوی انکار کړی وو، یاد سړي لا هم هیله لري چې مرتکبین به عدالت ته وړاندې شي.

ځینی خلک چې د پېښو په اړه د شکایت لپاره چارواکو ته ورغلي وو، ویلي چې پخواني حکومت به قربانیان د طالبانو غړي بلل څو د هغوی د وژنو لپاره توجیه پیدا کړي. یو مرکه شوي د خپلې ټولنې د هغو هڅو په اړه وویل چې د پنځو ماشومانو د وژنې پر وړاندې یې د عدالت غوښتنه کوله، دغه ماشومان د افغان ملي اردو د غړو لهخوا د درنو وسلو د د کارولو له امله ووژل شول:

*" د پېښې څخه وروسته، موږ یو لاریون تنظیم کړ او لویه لاره مو د درې ساعتونو لپاره بنده کړه. والي له موږ څخه وغوښتل چې د هغه سره خبرې وکړو، د لاریون استازو د هغه سره وکتل او هغه ته یې په شفاهي ډول شکایت وکړ. خو والي هیڅ ونکړل. هغه وویل: ' تاسو طالبان یاست، تاسو طالبانو ته خواړه ورکوی. تاسو طالبانو ته ځای ورکوی'."*[281]

یو شمېر مرکه شویو ویلي چې چارواکو ورته ویلي وو چې هغوي نه شي کولای مرتکبین عدالت ته وسپاري ځکه هغوي دومره قدرت نلري چې دا چاره ترسره کړي:

*"زما او [د بل قرباني] کورنۍ په کابل کې د ملي امنیت شورا چارواکو ته ورغلي وو او د پېښې په اړه مو ورته شکایت وړاندې کړ. د چارواکو ځواب دا وو چې دوی باور لري [امریکایي] بې پیلوټه الوتکې تېروتنه کړې او غلط هدف یې ویشتلی، او دوی د امریکایانو په مقابل کې صلاحیت نه لري.*[282]*"*

*"ما خپل شکایت د پخواني [حکومت] ولایتي پولیسو ته وړاندې کړ. خو هغوی راته وویل چې د [یاد قوماندان] د کنټرول وس نه لري. [...] د ولایتي پولیسو له خوا ماته حتی دا مشوره راکړل شوه چې د ټولنې په توګه باید له طالبانو سره مرسته وکړو تر څو د هغه پر پوستې برید وکړي او هغه ووژني."*[283]

سره له دې، ځینو مرکه شویو ویلي چې د دوی د شکایتونو په پایله کې، په بیلا بیلو بڼو، عدالت او حساب‌ورکونې ترسره شوې. یو سړي چې زوی یې د محلي پولیسو (اربکیان)[284] د غړو له خوا وژل شوی وو، وویل چې مرتکبین ونیول شول، محاکمه شول او په اوږدمهاله بند سزا محکوم شول. هغه وویل، هغوی یوازې د پنځو میاشتو بند تر تېرولو وروسته خوشې شول، هغه په دې باور وو چې د رشوت له امله خوشې شوي.[285]

یو سړي چې ورور یې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له خوا د طالبانو سره متقابلو ډزو پر مهال ویشتل شوی او وژل شوی وو، وویل د تیر حکومت له نسکوریدو وروسته *برحاله* چارواکو ته د عدالت غوښتنې لپاره ورغلی وو. هغه وویل:

*"مجرم خپل جرم ومنه؛ په ورته وخت کې د هغه د ملګرو چې عیني شاهدان وو، پر هغه پولیس افسر یې شهادت ورکړ چې زما ورور یې ویشتلی وو. زما د کورنۍ غړي د محاکمې په څیر غونډه کې حاضر وو. وروسته مې خبر تر لاسه کړ چې مجرم د طالبانو [برحاله چارواکو] لهخوا وژل شوی او عدالت پلې شوی .*[286]*"*

[280] ۱۰۵ مه مرکه.
[281] ۱۳۸ مه مرکه.
[282] ۱۱۳ مه مرکه.
[283] ۵۱ (الف) مه مرکه.
[284] د اربکی اصطلاح د تیر حکومت د افغانستان اسلامي جمهوریت په وخت کې هغه چا ته کارول کیده څوک چې د افغان محلی پولیسو له غړو سره وو.
[285] ۱۰۶ مه مرکه.
[286] ۱۳۳ مه مرکه.

## iv. د قربانیانو لپاره د غیرنغدي مرستو ډولونه

ځینو مرکه شویو ویلي چې د پېښې څخه وروسته یې په یوځایي ډول له پخواني حکومت او له موسسو (غیرحکومتي سازمانونو) څخه خوراکي مرستې ترلاسه کړې:

*"ما د پېښې بشپړ جزییات پخواني [حکومت] والي سره شریک کړل. هغه ما سره یوائځې د خوراکي توکو مرسته وکړه، چې څلور بوجۍ اوړه، یوه بوجۍ وریجې، یوه بوجۍ لوبیا او د غوړیو دوه ډبې په کې شامل وو."[۲۸۷]*

*"تر اوسه پورې مې د پېښې په اړه له هېڅ شخص یا اداري سره مالومات نه دي شریک کړي، او نه مې د چا پر وړاندې رسمي شکایت ثبت کړی دی. [...] موږ د شهیدانو او معلولینو له ریاست څخه د خوراکي توکو یو څه مرسته ترلاسه کړه."[۲۸۸]*

*"د پېښې وروسته یوې غیرحکومتي موسسې ما سره د غنمو د اوړو، لوبیا او بورې هر یوه څخه دوه-دوه بوجۍ مرسته وکړه. له بل چا څخه ما ته هېڅ مرسته نه ده رسېدلې.[۲۸۹]"*

*"حکومت زما ملاتړ ونه کړ. یوې غیرحکومتي ادارې، چې نوم یې راته په یاد نه دی، یو ځل ما سره د خوراکي توکو مرسته وکړه، چې په کې اوړه، وریجې او د پخلي غوړي شامل وو."[۲۹۰]*

ډېرو مرکه شویو، د دې پوښتنې په ځواب کې چې آیا کومه مرستې یې ترلاسه کړې، وویل چې په دولتي روغتونونو کې یې وړیا درملنه ترلاسه کړې؛ سره له دې چې د تمې سره سم دې خدمت ته لاسرسی د دوی حق دی.[۲۹۱]

یو سړی، کله چې دی درې کلن و، په کلي باندې یې د امریکایانو هوایي برید له امله ټپي شوی وو، هغه وویل چې په متحده ایالاتو کې یې درملنه شوې وه:

*" دا پېښه زما صحیح په یاد نه ده، ځکه زه فکر کوم چې درې کلن وم. ما د پلار، مور، او ورونو او خویندو په ګډون د خپلې کورنۍ لس غړي له لاسه ورکړل. زه د خپل ورور او خور سره ژوندی پاتې شوی وم. ما هر څه له لاسه ورکړل؛ زموږ لپاره هېڅ پاتې نه وو. زه، زما ورور او خور مې ډېر سخت ټپیان شوي وو. زه د هغه پېښې زیان تر اوسه احساسوم او دا به د ژوند تر پایه راسره وي. خلکو راته وویل چې په کلي کې ټول کورونه د بمبارۍ له امله ویجاړ شوي وو؛ یوازې زه، له خپل ورور او خور سره، او د کلي یوه بله نجلۍ په سیمه کې پاتې وو... زما ډېر کم په یاد دي... زه په کلي کې وم او د خپل کور مخې ته مې له نورو ماشومانو سره لوبې کولې کله چې دا پېښه وشوه. له هغې وروسته زه نه پوهېږم څه پېښ شول. بې هوښه شوم. کله چې نورمال شوم، نو زه د امریکا په واشنګټن ډي.سي. کې، د خپلې خور او ورور سره په یوه روغتون کې وم. زه نه پوهېږم چې موږ چا امریکا ته انتقال کړي وو [وروسته پوه شوم] چې کله امریکایي ځواکونو زمونږ کلي بمبار کړی وو او کنټرول یې تر لاسه کړی وو، هغوی موږ د پېښې په ځای کې په سخت ټپي حالت کې موندلي وو. دوی مونږ راپورته کړي او واشکنټن ته یې وړي وو. د امریکایي ادارو تر ملاتړ زه شاوخوا درې کاله هلته وم. وروسته، بیا پرته له خپلې خور او ورور څخه، افغانستان ته راستون شوم. زه د کار او ټولنیزو چارو وزارت ته وسپارل شوم او په یو دارالایتام کې شامل شوم."[۲۹۲]*

سره د دې چې  افغانستان ته له راستنېدو وروسته د هغوی د موندلو لپاره هڅو ته دوام ورکړې، دغه سړي له خپلې خور او ورور سره، چې د امریکا په متحده ایالاتو کې پاتې شوي، اړیکه له لاسه ورکړې ده.

یوه ښځه چې خاوند یې د پولیو واکسیناتور وو او د طالبانو له لوري په ډزو وژل شوی، وویل، دوی هېڅ ډول مالي مرسته یا تاوان نه دی ترلاسه کړی. خو د هغې مشر زوی ته د خپل پلار پر ځای په روغتون کې د واکسیناتور دنده ورکړل شوې وه.[۲۹۳]

[۲۸۷] ۱۱ مه مرکه.
[۲۸۸] ۶۱ مه مرکه.
[۲۸۹] ۹۶ مه مرکه.
[۲۹۰] ۱۷ مه مرکه.
[۲۹۱] ۳۶ مه مرکه، ۵۳ مه مرکه.
[۲۹۲] ۸۲ مه مرکه.
[۲۹۳] ۷۲ مه مرکه.




د هلمند ولایت د مرکز لښکرګاه ښار کې د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۲۳مه د یوې هوایي حملې وروسته، افغان کلیوال د روغتون له ودانۍ بهر یو جسد پر چپرکټ انتقالوي.


د هوایي برید یوې ښځینه قربانۍ یوناما ته وویل:

*"زه به هېڅکله هغوی ونه بښم [د برید عاملین]، ځکه چې ما ډېر کړاوونه ګاللي دي. که هغوی ماته مالي مرسته راکړي، زه به وکولای شم د خپلې پښې درملنه وکړم، نو ښايي هغوی وبښم. زه نه پوهېږم چې د هرې ځبرېنې پایله به څه وي".*

نور محمد/AFP، ۲۰۱۹.

# ۵ برخه: د قربانیانو اړتیاوو ته رسیدنه

له مرکه شویو څخه وپوښتل شول چې تېرو پېښو ته د رسیدګۍ لپاره اوس تر ټولو مهم څه دي. تر ټول عام ځواب یې دا وو: مالي تاوان، د ورته پېښو د تکرار د مخنیوي هڅې او عدالت ته لاسرسی. مرکه شویو په ځواب کې معمولا ویلي چې هېڅ شی نه شي کولای هغه څه بدل کړي چې تېر شوي دي، او نه هم د دوی د کورنۍ هغه غړي راژوندي کولای شي چې وژل شوي دي.




## الف. مالي جبران

د مرکه شویو ډېره برخه - د ۱۹۵مرکه شویو څخه ۱۵۷ تنو (۸۱ سلنه) - ویلي چې دوی مالي جبران ته اړتیا لري، څو بېرته هغه حالت ته ور وګرځي چې د پېښې تر رامنځته کېدو وړاندې یې درلود.[۲۹۴] هغوی ویلي چې دغه پیسې به د هغو زیانونو د جبران لپاره وکارول شي چې ور رسېدلي دي، لکه د درملنې لګښتونه، د وران شویو کورونو یا ملکیتونو بیا رغونه، د کورنۍ د غړو د مړینې یا معلولیت له امله د له لاسه تللي عاید جبران، او د پاتې پورونو پرې کول:

> *"که د ټولې نړۍ ټولې شتمنۍ هم ترلاسه کړم، زما زوی به بېرته ژوندی نه شي؛ نو له همدې امله زه مالي جبران ته اړتیا نه لرم. خو د خپلې مېرمنې د درملنې لپاره مالي مرستې ته اړتیا لرم."[۲۹۵]*

[۲۹۴] لکه څنګه چې پورته تصریح شوی، د "تاوان" اصطلاح د مرکه‌کوونکو له‌خوا تل د قانوني جبران په مانا نه ده کارول شوې، بلکې په هغې کې د مالي مرستو او مالي ملاتړ نور ډولونه هم شامل دي.
[۲۹۵] ۷ مه مرکه.

*"د ډاکټرانو په وینا، زما د ځان پورتنۍ برخه کې لا هم یوه وړوکې چره پاتې ده چې عملیات ته اړتیا لري او دغه عملیات په پاکستان کې ترسره کېدای شي؛ نو زه به مالي جبران ته اړتیا ولرم."*[۲۹۶]

*"زه د خپل تېپې زوی د درملنې لپاره مالي مرستې ته اړتیا لرم. د هغه کړاو تر نن پورې محسوسیږي. زه همدارنګه یو څه اندازه پیسو ته اړتیا لرم څو خپل کور پرې بیا ورغوم. دا هغه څه دي چې زه ورته اوس تر ټولو ډېر لومړیتوب ورکوم."*[۲۹۷]

*"ما د خپلې ورېرې د درملنې لپاره ډېرې پیسې مصرف کړې؛ که مور ته مالي تاوان راکړل شي، مور به ډېر خوښ شو. که څه هم زه باور لرم چې د هغې ښه روغتیا زموږ لپاره له هر څه نه مهمه ده."*[۲۹۸]

*"زما د کورنۍ پنځه غړي اوس هم درملنې او دوا ته اړتیا لري. مالي تاوان به له موږ سره ډېره مرسته وکړي... او دا به موږ ته دا وړتیا راکړي چې خپل ویجاړ شوی کور بیا ورغوو."*[۲۹۹]

*"په اوسني وخت کې، زه او زما کورنۍ لپاره مالي جبران تر ټولو مهمه ده. لکه څنګه مې چې یادونه وکړه، ما د خپل کور د بیارغونې لپاره ډېرې پیسې مصرف کړې دي. مالي جبران به له ما سره دا مرسته وکړي چې لږ تر لږه بېرته هغه مالي حالت ته ورسېږم چې د دې غمیزې تر رامنځته کېدو مخکې وم."*[۳۰۰]

*"مونږ د خپلې کورنۍ یو غړی له لاسه ورکړ، او د هغه د جنازې او فاتحې په مراسمو کې مو ډېرې پیسې ولګولې. موږ اړ شو چې د کورنۍ د نورو غړو د درملنې او علاج لپاره هم پیسې ورکړو. اوسمهال موږ په ورځني ژوند کې له ډېرو مالي ستونزو سره مخ یو. زموږ کور ویجاړ شوی او موږ یې د بیارغونې وړتیا نه لرو. آن دا هم نه شو کولای چې خپل ماشومان ښوونځي ته واستوو. ځکه زموږ کورنۍ مالي ملاتړ ته اړتیا لري."*[۳۰۱]

*"اوس زما لپاره تر ټولو مهمه خبره مالي جبران دی، څو وکولای شم خپل ویجاړ شوی کور بیا ورغوم. دا به د زما او زما له کورنۍ سره مرسته وکړي چې په ټولنه کې خپل پخوانی ټولنیز حیثیت بېرته ترلاسه کړو."*[۳۰۲]

*"زه ډېر مالي ملاتړ ته اړتیا لرم څو د خپلو ماشومانو ژوند وژغورم، ځکه زه معلول یم او د کار کولو توان نه لرم."*[۳۰۳]
"په دې وخت کې زموږ لپاره تر ټولو مهمه موضوع مالي جبران دی. موږ پیسو ته اړتیا لرو، څو هغه درانه او مخ په زیاتېدو قرضونه چې د نورو خلکو راباندې دي، ادا کړو."[۳۰۴]

[۲۹۶] ۱۰۰ مه مرکه.
[۲۹۷] ۵۸ مه مرکه.
[۲۹۸] ۴ مه مرکه.
[۲۹۹] ۱۶ مه مرکه.
[۳۰۰] ۱۳ مه مرکه.
[۳۰۱] ۶ مه مرکه.
[۳۰۲] ۴۲ مه مرکه.
[۳۰۳] ۵۳ مه مرکه.
[۳۰۴] ۱۲۳ مه مرکه.



*"زه څه ووایم؟ زه د خوړلو لپاره د غنمو یوه دانه نه لرم. موږ په کور کې لس کسان یو. ژوند تېرول ډېر سخت دي".*

یوناما، کابل، ۲۰۲۵.

## ب. عدالت

شاوخوا نيمايي مرکه شويو – د ۱۹۵ قربانيانو څخه ۹۴ تنو (۴۸ سلنه) - ويلي چې دوی د عدالت غوښتونکي دي او غواړي چې مرتکبين د خپلو کړنو لپاره مسول وګڼل شي:

*"هغه کسان چې زما زوی يې وژلی او زما مېرمن يې ټپي کړې، بايد عدالت ته حاضر کړل شي. زه هيله لرم چې هېڅ بله کورنۍ بيا داسی ډول وحشي عمل سره مخ نه شي."* [۳۰۵]

*"د دې پېښې مرتکبين بايد ځواب ورکړي چې ولې يې زما بې ګناه خور، پلار او ورور په نښه کړي دي.[۳۰۶]"*

*"تېرو جګړو په افغانستان کې ډېر ملکيان چې په وسله والو شخړو کې يې لاس نه درلود، ډېر اغېزمن کړي دي. ملکيان وژل شوي، ټپيان شوي، معلول شوي او د دوی شتمنۍ له منځه تللي دي. د دې جرمونو مرتکبين بايد مجازات شي.[۳۰۷]"*

*"که هر چا زموږ په هېواد کې جنګي جرمونه ترسره کړي وي، بايد عدالت ته حاضر او سزا ورکړل شي.[۳۰۸]"*

*"موږ عدالت غواړو، هغه کسان چې په دې پېښو کې ښکېل وو بايد د نړيوالو قوانينو له مخې يې تحقيق ترسره او سزا ورکړل شي.[۳۰۹]"*

ځينو قربانيانو له نړيوالو قضايي بنسټونو وغوښتل چې د جنګي جرمونو په تړاو څېړنې او عدلي تعقيب پيل کړي:

*"نړيوالې عدلي او جنايي ادارې بايد د پخواني حکومت د ځواکونو له خوا ترسره شويو جرمونو په اړه دوسيې پرانيزي، څېړنې وکړي، او مرتکبين يې، پرته له دې چې اوس په کوم هېواد کې اوسي، مجازات کړي."* [۳۱۰]

*"موږ د يوناما د بشري حقونو له څانګې څخه غوښتنه کوو چې زموږ قضيه د باوري نړيوالو ادارو، په ځانګړي ډول نړيوالو محکمو ته راجع کړي. مرتکبين اوس په واک کې دي. او موږ نه شو کولای د هغوی پر وړاندې شکايت وکړو ځکه زموږ ژوند به له خطر سره مخ شي. نن ورځ د هېواد دننه عدالت ناشونی دی.[۳۱۱]"*

ډېرو مرکه شويو د نړيوالو پوځي ځواکونو د مسؤليت په اړه خبرې کړي چې بايد د خپلو ځواکونو له خوا په افغانستان کې ترسره شويو هر ډول سرغړونو څېړنه وکړي:

*"نړيواله ټولنه، په ځانګړي ډول لوېديځ قدرتونه، اخلاقي مسؤليت لري چې له هغو خلکو سره مرسته وکړي څوک چې د دوی د ناحقه جګړې او خونړي اشغال له امله، چې زموږ هېواد ته يې راوړې وو، سخت اغېزمن شوي دي. د امريکا تر مشرۍ لاندې ناټو ځواکونو په زرګونو ملکي وګړي ووژل او ټپيان يې کړل. هغوی بالاخره له هېواده په غيرمسؤلانه ډول ووتل او د خپلو دوو لسيزو د ظلمونو او جګړو قربانيان يې بې له تاوان او دوامدارې مرستې پرېښودل.[۳۱۲]"*

*"زه د دې پېښې له امله سخت ځوربدلی يم، هڅه کووم پوه شم چې ولې زه، يو بې ګناه ملکي وګړی چې يوازې مې غوښتل په سوله يزه توګه د خپلې کورنۍ لپاره پيسې وګټم، هدف وګرځېدم. زه چې کله هغه مرتکبين وينم چې له حساب ورکونې پرته ګرځي، او دا چې په امريکا يا ناټو کې هېڅ داسې اداره نه وه چې زما د درد او شکايت واوري او*

[۳۰۵] ۷ مه مرکه.
[۳۰۶] ۳۱ مه مرکه.
[۳۰۷] ۳۳ مه مرکه.
[۳۰۸] ۱۱ مه مرکه.
[۳۰۹] ۹ مه مرکه.
[۳۱۰] ۴۹ مه مرکه.
[۳۱۱] ۱۳۹ مه مرکه.
[۳۱۲] ۹۸ مه مرکه.

*مجرمین عدالت ته حاضر کړي – سره له دې چې دوی په نړیواله کچه د بشري حقونو د مدافعانو په نوم پېژندل کېږي – دا خبره ما ته ډېره دردوونکې ده او تل به مې ځوروي.[۳۱۳]"*

ځینې مرکه شویو په رسمي عدلي بهیرونو باور نه لري:

*"زه فکر نه کوم چې مسؤل کسان به بندیان شي. دا کار د پخواني حکومت په وخت کې هم نه شو ترسره کېدای، کله چې مسؤل کسان لا همدلته وو. اوس څوک نه پوهېږي چې هغوی چیرته دي. څوک کولای شي چې پیدا یې کړي؟ هېڅ څوک."[۳۱٤]*

*"زه باور لرم چې اوس عدالت ترلاسه کول ناشوني دي، ځکه مرتکبین ښه پېژندل شوي او طالبان په واک کې دي. [والي] هغه مهال د طالبانو قوماندان وو. اوس هغه په ولایت واک چلوي.[۳۱۵]"*

*"که تاسو ټول مرتکبین ونیسئ او یو یو محکمې ته راولی، بیا هم زما خاوند او زما د ماشومانو پلار به بیرته راژوندی نه شی.[۳۱٦]"*

یو شمېر مرکه شویو لیوالتیا ښودلې چې د رسمي عدالت نه بهر، مرتکبینو ته سزا ورکړي یا غچ ترې واخلي:

*"د الله له لوري سزا."[۳۱۷]*

*"مور اوس ژور غم او درد سره ژوند کوو. مور نه شو کولای خپل زوی هېر کړو. مور هر وخت دعا کوو چې الله دې مرتکبینو ته سخته سزا ورکړي." [۳۱۸]*

*"چارواکو د قضیې سمه څېړنه ونه کړه او مرتکبین یې ونه موندل. د خپلې کورنۍ په مرسته، مور په شخصي ډول پلټنې کوو [څو مالوم کړو] مرتکب څوک دی. زه د غچ اخیستو پلان لرم.[۳۱۹]"*

*"که مرتکب راڅرګند شي، کیدای شي چې په غچ کې به ووژل شي. مور یوازې [د هغوي] د ځای په اړه مالوماتو ته اړتیا لرو.[۳۲۰]"*

## ج. د پیښو د تکرار د مخنیوی هڅې

تقریباً نیمايي مرکه شویو - د ۱۹۵ څخه ۹۲ تنو (۴۷ سلنه) - ویلي چې د داسې اقداماتو هیله یې درلوده چې دوي ته د ورپیښو شوو پېښو د تکرار څخه مخنیوی وشي.

*"زه د هېڅ شي تمه نه لرم، خو دا هیله لرم چې هیڅکله بل څوک زما په شان داسې زیانمن نه شي.[۳۲۱]"*

*"هیڅ شی به زما زامن بېرته را ژوندی نه کړي، خو هیله لرم چې داسې بدې پېښې بل هېڅ چاته پیښې نه شي.[۳۲۲]"*

*"زه نه غواړم بل څوک دې هغه درد او کړاو تېر کړي چې ما تجربه کړی. زه د یوې کونډې د ژوند په سختی ښه پوهیږم.[۳۲۳]"*

[۳۱۳] ۴۹ مه مرکه.
[۳۱٤] ۱۶ مه مرکه.
[۳۱۵] ۱۹ مه مرکه.
[۳۱٦] ۷۴ مه مرکه.
[۳۱۷] ۶۴ مه مرکه.
[۳۱۸] ۱۱۵ مه مرکه.
[۳۱۹] ۷۳ مه مرکه.
[۳۲۰] ۱۲۸ مه مرکه.
[۳۲۱] ۱۲ مه مرکه.
[۳۲۲] ۷۵ مه مرکه.
[۳۲۳] ۷۴ مه مرکه.

*"مور، دعا کوو چې هېڅ کورنۍ دې خپل ماشوم په داسې بد حالت کې له لاسه ور نه کړي.[۳۲۴]"*

*"زه هیله لرم دا ناچاودي توکي  له منځه یوړل شي، څو بل څوک ترې اغېزمن نه شي.[۳۲۵]"*

*"[مور] هیله لرو چې په راتلونکې کې داسې پېښې بیا تکرار نه شي، ځکه دا د عامو خلکو پر ژوند ډېر بد اغېز لري. [۳۲۶]"*

*"زما لپاره تر ټولو مهم دا دي چې داسې هڅې وشي چې په راتلونکې کې د دې ډول پېښو مخه ونیول شي. ما ډېر کړاوونه ګاللي دي او لا هم ځورېږم، نه غواړم زما خلکو ته داسې څه پېښ شي.[۳۲۷]"*

ډېرو مرکه شویو د سولې هیله څرګنده کړې:

*"مور، ټول اوس ښه یو — الحمد لله. زه په خپل هېواد کې دایمي سوله غواړم او هیله لرم چې جګړه د تل لپاره پای ته ورسېږي."*

*"زه نور نه غواړم د یوه ډز غږ هم واورم.[۳۲۸]"*

*"د ملکیانو د مرګ ژوبلې څخه مخنیوی باید د جګړې د ټولو خواوو لپاره لومړیتوب وي. زه هیله لرم چې زما کلی به په راتلونکې کې د شخړو څخه خوندي وي.[۳۲۹]"*

*"زه ټولو خلکو ته د سوله بیز ژوند هیله لرم.[۳۳۰]"*

*"زه دعا کوم چې هرڅوک په امان او خوښۍ کې ژوند وکړي.[۳۳۱]"*

## د. چوپړتیاوو ته لاسرسی

شاوخوا دریمه برخه مرکه شویو – د ۱۹۵ څخه ۵۸ تنو (۳۰ سلنه) - ویلي چې د پېښو عواقبو ته د رسیدګۍ لپاره، اړتیا لري چې چوپړتیاوو ته لاسرسی ولري. له هغوی څخه پوښتل شوي وو چې په مشخص ډول څه ډول چوپړتیاوو ته اړتیا لري؛ په عام ډول ځوابونه، زده کړې او روغتیايي چوپړتیاوو ته د لاسرسي په اړه وو.

*"زه غواړم چې چوپړتیاوو ته لاسرسی ولرم، په تېره بیا ښوونځیو، روغتیايي [چوپړتیاوو] او انډول پرمختګ ته.[۳۳۲]"*

*"زه له حکومت او نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کوم چې د ټولو لپاره عدالت او عادلانه چلند یقیني کړي او اړینې چوپړتیاوې لکه زده کړې، روغتیا او عدالت برابر کړي. مور، افغانان ملاتړ ته سخته اړتیا لرو.[۳۳۳]"*

*"مور، مناسبو [روغتیايي] کلینیکونو او ښوونځیو ته اړتیا لرو.[۳۳۴]"*

*"[زه هیله لرم] زما زوی د پرمختللې درملنې لپاره د هېواد څخه بهر ته ولېږل شي، او باید هڅې وشي چې زمور په هېواد کې د جګړې مخه ونیول شي څو راتلونکو افغان نسلونو ته زیان ونه رسیږي.[۳۳۵]"*

[۳۲۴] ۱۴ مه مرکه.
[۳۲۵] ۱۷ مه مرکه.
[۳۲۶] ۱۸ مه مرکه.
[۳۲۷] ۱۰۷ مه مرکه.
[۳۲۸] ۵۱ (الف) مه مرکه.
[۳۲۹] ۸۵ مه مرکه.
[۳۳۰] ۱۱۸ مه مرکه.
[۳۳۱] ۱۲۷ مه مرکه.
[۳۳۲] ۱۹ مه مرکه.
[۳۳۳] ۱۰۶ مه مرکه.
[۳۳۴] ۱۶۵ مه مرکه.
[۳۳۵] ۵۴ مه مرکه.

## هـ. ښښنه او منل

د ۱۹۵ مرکه شویو څخه ۳۵ تنو (۱۸ سلنه) يې ويلي چې دوی دا هیله درلوده چې ښښنه به ترې وغوښتل شي په داسې حال کې چې د ۱۹۵ مرکه شویو څخه ۲۳ تنو (۱۲ سلنه) يې ويلي چې دوی غواړي چې پيښې تصديق شي:

*"مونږ ښښنه او تصدیق غواړو، خو څنګه؟ هغه خلک تللي او اوس د لاسرسي وړ نه دی.[۳۳۶]"*

*"زه هیله لرم پوه شم چې ولی یو چا مونږ سره داسی وکړل چی دوی به اوس هم په دې پښیمانه یی او کنه."[۳۳۷]*

*"مونږ یوه رسمی ښښنه غواړو. د امریکا حکومت باید رسما د دی پیښی په اړه ښښنه وغواړی.[۳۳۸]"*

*"زه نه پوهیږم چی تصدیق کول/منل به مونږ ته کومه ګټه ورسوی یا نه، خو دا به ښه وی چی ویی منی.[۳۳۹]"*

## و. مالوماتو ته لاسرسی

ډېرې مرکه شوي توانېدلي چې په تفصيل سره هغه پېښه تشريح کړي چې د دوی او/يا د دوی د خپلوانو د زيان سبب شوې وه. د ۱۹۵ مرکه شويو څخه یوازې ۱۶تنو (۸ سلنه) ويلي چې مالوماتو ته لاسرسی د دوی له لومړيتوبونو څخه وو.
هغو کسانو چې د مالوماتو غوښتنه يې کړې وه، تر ډېره يې غوښتل پوه شي چې د تحقيق پايله څه وه او ولې دوی په نښه شوي دي.

*"موږ د پېښې په اړه مالومات غواړو. موږ غواړو پوه شو چې آیا کومه څېړنه شوې ده او که شوې وي، نو پایله يې څه وه. که څېړنه نه وي شوې، نو غواړو پوه شو چې ولې د داسې لوېي او مهمی پېښې په اړه هېڅ څېړنه نه ده ترسره شوې.[۳۴۰]"*

*"زه غواړم قاتل مالوم شي او وپوښتل شي چې ولې يې دا کار کړی. ولې يې زما خاوند وژلی؟[۳۴۱]"*

ډېرو مرکه شويو د عدالت پروسه هغه لاره ګڼلې چې له مخې يې ګمان کيده، د دوی په نښه کيدو د لامل په اړه ځوابونه ترلاسه کړي:

*"بله مسئله چې زه يې غوښتنه لرم، عدالت دی؛ ځکه مرتکبين باید عدالت ته حاضر کړل شي او ترې وپوښتل شي چې ولې يې د عامو خلکو کورونه ویجاړ کړي.[۳۴۲]"*

*"موږ غواړو مرتکبين مشخص او عدالت ته وړاندې شي. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې د پېښې تر شا انګیزه مالومه او د مرتکبینو پېژندنه وشي کوم چې تر اوسه ناڅرګنده پاتې دي. زه اوس هم تیار یم چې د خپل پلار قضیه تعقیب کړم. موږ غواړو پوه شو چې ولې او په کوم دلیل هغه ووژل شو.[۳۴۳]"*

[۳۳۶] ۶ مه مرکه.
[۳۳۷] ۱۲۷ مه مرکه.
[۳۳۸] ۹ مه مرکه.
[۳۳۹] ۱۴ مه مرکه.
[۳۴۰] ۹ مه مرکه.
[۳۴۱] ۵۷ مه مرکه.
[۳۴۲] ۴۳ مه مرکه.
[۳۴۳] ۲۸ مه مرکه.

## ی. نورې اړتیاوې

د ۱۹۵ مرکه شویو څخه ۳۶ تنو (۱۹سلنه) ویلي چې دوی نورې اړتیاوې لري تر څو د پېښو عواقبو ته رسیدګي وکړي. ډېرو خلکو ویلي چې دوی د معیشت فرصتونو، د خوراکي توکو مرستو او نورو بشري مرستو ته اړتیا لري.

*مرکه شویو، په ځانګړې توګه هغو ښځو چې خاوندان یې په جګړه کې وژل شوي، د معیشت فرصتونو ته اړتیا یاده کړې ده:*

*"موږ غریبان یو او زما خاوند کار نه لري. زه له تاسو غوارم چې له زما خاوند سره د کار په پیدا کولو کې مرسته وکړئ، او یا موږ اړتیا لرو چې د حکومت او مرستندویه ادارو له لوري راسره مالي مرسته وشي.[۳۴۴]"*

*"د یوې ځواني ښځې په توګه ژوند کول ډېر ستونزمن دي. زه یوازې ۲۵ کلنه یم، او د ژوند پرمخ وړلو لپاره جامې ګنډم او خرڅوم یې. زه د یوناما د بشري حقونو څانګې څخه غوارم چې د معیشت فرصتونو د برابرولو په برخه کې مرسته وکړي، ځکه زه د کالیو ګنډلو او ګنډ کار (ګلدوزۍ) مهارت لرم.[۳۴۵]"*

*"که له موږ سره مرسته وشي او په کلي کې یو وړوکی کاروبار، لکه دوکان، راته جوړ شي، دا به راته زمینه برابره کړي چې خپله کورنۍ وساتم او خپلو کلیوالو ته هم د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې اسانتیا برابره کړم.[۳۴۶]"*

*"زه مالي مرستو او د معیشت فرصتونو ته سخته اړتیا لرم، تر څو وکولای شم خپل ژوند پر مخ یوسم او خپلې لورګانې پرې وساتم.[۳۴۷]"*

ځینو مرکه شویو ویلي چې دوی د خوراکي توکو مرستې ته هم اړتیا لري:

*"دا به اوس ما سره څه مرسته وکړي که مرتکبین محکمې ته حاضر کړل شي؟ زه ډېر پوروړی یم او کافي خواړه نه لرم. ایا تاسو کولای شئ ما د خوراکي توکو په بدل کې د کار کولو په یوې پروژه کې شامل کړئ؟ که نه، مالي تاوان یا مالي مرسته به ما سره ډېره مرسته وکړي.[۳۴۸]"*

*"زه هیله لرم چې مرستندویه غیر دولتي اداري به له ما سره د درملنې په برخه کې مرسته وکړي تر څو په هیواد دننه یا بهر مې درملنه وکړم، او له ما سره  مالي مرسته وکړي څو لږ تر لږه دري وخته ډوډۍ ولرم. [...] زه ډېری وختونه په تشه یا نیمه خیټه ویده کېږم.[۳۴۹]"*

مرکه شویو ټینګار کړی چې قربانیانو ته د تاوان او مرستې اړوند اقداماتو کې باید کونډې او معلول کسان هم شامل کړل شي:

*"زه له نړیوالې ټولنې غوښتنه کوم چې له افغانانو سره خپلې مرستې زیاتې کړي، او تر ټولو مهمه دا چې له هغو قربانیانو سره مرسته وکړي چې د خپل بدن غړي یې له لاسه ورکړي او نور د عادي ژوند د دوام توان نه لري.[۳۵۰]"*

*"زه د ملګرو ملتونو پر ادارو [غږ کوم] چې د خوړو د وېش او نورو پروګرامونو کې هغه ښځې شاملې کړي چې په تېرو شخړو کې کونډې شوې او خپل خاوندان یې له لاسه ورکړي دي.[۳۵۱]"*

*"زه د ملګرو ملتونو او نورو ډونرانو څخه غوښتنه کوم چې له معلولینو سره خپله پوره مرسته ونه سپموي، په ځانګړي ډول کله چې د معلولیت لامل تېرې وسلهوالې شخړې وي. ډېره مننه چې زموږ غږ مو پورته کړ.[۳۵۲]"*

[۳۴۴] ۱۱۸ مه مرکه.
[۳۴۵] ۴۵ مه مرکه.
[۳۴۶] ۵ مه مرکه.
[۳۴۷] ۴۴ مه مرکه.
[۳۴۸] ۷۶ مه مرکه.
[۳۴۹] ۱۴۳ مه مرکه.
[۳۵۰] ۹۵ مه مرکه.
[۳۵۱] ۲۰ مه مرکه.
[۳۵۲] ۱۰۱ مه مرکه.

ډېرو مرکه شویو له *برحاله* چارواکو غوښتي چې د وسله‌والو شخړو د قربانیانو اړتیاوو ته د رسیدګی په پار لازم ګامونه پورته کړي:

> *"موږ هیله لرو چې د شهیدانو او معلولینو چارو ته درسیدګی برحاله ریاست زما د وروړکورنۍ ته یو څه مالي مرسته برابره کړې وي."*[353]

> *"موږ له سخت حالت سره مخ یو. موږ له اسلامي امارت څخه، چې اوس په واک کې دي، غوښتنه کوو چې زیانمنیدونکو او د جګړې له امله معلول شوو کسانو ته، په ځانګړې ډول هغوي چې د طالبانو د تحریک له لورې زیانمن شوي، د شته سرچینو سره سم ورته جدي پاملرنه وکړي."*[354]

> *"زه د ملګرو ملتونو څخه غوښتنه کوم چې طالبان وهڅوي چې د تېرې وسله‌والې شخړې قربانیانو حقونه له پامه ونه غورځوي او په خپلو پروګرامونو کې دې دغو قربانیانو ته لومړیتوب ورکړي."*[355]

# ٦ برخه: جبري ورکېدل

> *"زما د ورور له ورکېدو راهیسې، زموږ کورنۍ په یوه ناڅرګند حالت کې ده. په بل عبارت، موږ نه شو کولای قرباني مړ یا ژوندی وګڼو، چې زموږ ډېره خوښي یې اخیستې او زموږ په ټولنیزو مراسمو لکه کوژدن او واده یې ژوره اغیزه کړې ده، ځکه چې زموږ د کورنۍ ډېری غړي غوره ګڼي چې خوښي ونه کړي*[356]*".*

نړیوال بشري حقونه اجباري ورکېدنه داسې تعریفوي: "کله چې یو شخص د هغه د خوښې خلاف د دولت د مختلفو څانګو یا کچو د چارواکو، یا تنظیم شویو ډلو یا د شخصي افرادو له خوا چې د هغوي په استازیتوب عمل کوي، یا د دولت په مستقیم یا غیر مستقیم ملاتړ، رضایت یا ملتیا نېول شوي، توقیف شوي، یا تښتول شوی وی یا په بل ډول له خپلې ازادۍ محروم شوي، چې په تعقیب یې د اړونده کسانو د برخلیک یا د هغوي د ځای د ښکاره کولو په اړه انکار یا له ازادۍ څخه د محرومیت نه انکار رامنځ ته شوي وي، کوم چې دغه شخص د قانون له ساتنې بهر ساتي".[357]

اجباري ورکیدنه د یوه شخص د آزادۍ او امنیت حق، له شکنجې او ناوړه چلند سره د نه مخ کېدو حق، او د قانون په وړاندې د یو شخص په څېر د پېژندلو حق نقضوي. دا همدارنګه د ژوند حق نقضوي یا د دغه حق په وړاندې جدي ګواښ رامنځ ته کوي.[358] د اجباري ورکیدنې په اړه د ملګرو ملتونو کاري ګروپ په ډاګه کړې چې "د یوه ورک شوي شخص په څېر د یوه کس بندي کول، او د اوږدې مودې لپاره یې له خپلې کورنۍ څخه په انزوا کې ساتل یقینا د یوه انسان د بند د شرایطو له حق څخه سرغړونه ګڼل کیږي او د دغه ګروپ له خوا د شکنجې په څېر انګیرل کیږي".[359] د بشري حقونو کمیټې دغه راز موندلې چې په اجباري ډول د ورک شوي شخص د خپلوانو وضعیت څوک چې د اوږدې مودې لپاره د شخص د برخلیک یا د ځای په اړه مالومات نه لري، شکنجه یا ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند رامنځ ته کوي.[360]

[353] ۱۴۴ مه مرکه.
[354] ۹۸ مه مرکه.
[355] ۹۵ مه مرکه.
[356] ۱۳۱ مه مرکه.
[357] د جبري ورکېدو څخه د ټولو اشخاصو د ساتنې اعلامیه (۱۹۹۲)، مقدمه.
[358] د جبري ورکېدو څخه د ټولو اشخاصو د ساتنې اعلامیه (۱۹۹۲)، لومړی (۱) ماده.
[359] د ملګرو ملتونو اقتصادي او اجتماعي شورا، په اجباري یا غیرداوطلبانه ډول د ورکو شوو اشخاصو د کاري ګروپ راپور، E/CN.٤/۱۹۸۳/۱٤ (۱۹۸۳)، ۱۳۱ پرګراف.
[360] د بشري حقونو کمیټه، لیک شمیره ۱۹۸۱/۱۰۷، المیدا دی کیینتیروس د یوروګوای په وړاندې، ۱۹۸۳ کال د جولای په ۲۱مه، د بشري حقونو کمیټې له خوا اتخاذ شوي نظریات، ۱۴م پرګراف؛ ۲۰۰۰/۹۵۰، سارما د سریلانکا په وړاندې، ۲۰۰۳ کال د جولای ۳۱مه، د بشري حقونو کمیټې له خوا اتخاذ شوي نظریات، ۹.۵م پرګراف؛ ۲۰۰۴/۱۳۲۷، ګریووا د الجیریا په وړاندې، ۲۰۰۷ کال د جولای ۱۰مه، د بشري حقونو کمیټې له خوا اتخاذ شوي نظریات ۷.۷م پرګراف؛ ۲۰۰۸/۱۷۷۶، بشاشه د لیبیا په وړاندې، ۲۰۱۰ کال د اکتوبر ۲۰مه، د بشري حقونو کمیټې له خوا اتخاذ شوي نظریات، ۳.۴، ۷.۵ پرګرافونه.

که څه هم افغانستان د جبري ورکېدو څخه د ټولو اشخاصو د ساتنې نړیوال کنوانسیون نه دی تصویب کړی، د نړیوال بشري حقونو قانون او نړیوال بشردوستانه قانون له مخې، جبري ورکېدل د افغانستان د یو شمیر مکلفیتونه څخه سرغړونه ده، د جبري ورکېدو منع د دودیز قانون یوه برخه هم ده.[٣٦١]

د ۲۰۱۸ کال د جزا قانون چې د پخواني حکومت لخوا اعلان شو، د جبري ورکېدو جرم یې د بشریت پر وړاندې د جرم[٣٦٢]د یوې برخې په توګه تعریف کړ، خو نه د یو خپلواک جرم په توګه.

په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو ترمنځ د جبري ورکېدو ۳۴ تورونو په اړه راپور ورکړ، او یادونه یې وکړه چې د قربانیانو د کورنیو لخوا د دوی د برخلیک او ځای په اړه د مالوماتو د ترلاسه کولو هڅې ناکامې شوي.[٣٦٣] په هغه وخت کې، یوناما ځایي او مرکزي چارواکو سره دادخواهي وکړه چې د هغو کسانو د برخلیک او ځای مالومولو لپاره تحقیقات وکړي چې په جبر سره ورک شوي وو؛ د هغوی کورنیو ته د تحقیقاتو د پایلو په اړه خبر ورکړي؛ او مسؤل کسان حساب ورکړي.[٣٦٤] همدارنګه په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د جبري ورکېدو د یوولسو قضیو په اړه، چې ۲۰۱۷ او ۲۰۲۰ کلونو ترمنځ پیښې شوې وې، مالومات د ملګرو ملتونو د جبري یا ناداوطلبانه ورکېدو کاري ډلې ته واستول.

د دې راپور د موخو لپاره، یوناما د جبري ورکېدو د قربانیانو له کورنیو سره اته مرکې ترسره کړي.

## الف. د قربانیانو په کورنیو باندې اغیز

د جبري ورکېدو د قربانیانو د کورنیو غړو هغه عاطفي اغیز بیان کړی چې نه پوهیږي عزیزانو ته به یې څه پیښ شوي وي، ځینو حتی ویلي چې د خپلوانو د مړینې په اړه پوهیدل به ورته یو ډول "سکون" وي:

*"ټوله کورنۍ یو ډول دوامداره رواني شکنجې سره مخ ده. هره ورځ، مور هیله لرو چې زمور دروازه ټک ټک شي او څوک مور ته خبر راکړي چې زما ورور مړ دی یا ژوندی. سربیره پردې، د هغه میرمن او ماشومان نه شي کولای هغه هیر کړي او هره دقیقه تمه لري چې هغه کور ته راشي. دوی حتی ځینې وختونه قانع کیږي او چمتو دي چې د هغه د مړینې تکان ورکوونکی خبر واوري، ترڅو رواني سکون ترلاسه کړي."* [٣٦٥]

د جبري ورکېدو د قربانیانو خپلوانو په دې اړه خبرې کړي چې څنګه، د وخت په تیریدو سره سره، دوی لاهم درد او کړاو ګالي ځکه دوی نه پوهیږي چې عزیزانو ته به یې څه پیښ شوي وي:

*"دا زمور په کورنیو اغیزه کوي ځکه چې د هغه د برخلیک په اړه هیڅ خبر نشته، چې ایا هغه مړ دی یا ژوندی. هر ځل چې زه د هغه ماشومان ګورم، دوی له ما څخه د خپل پلار په اړه پوښتنه کوي، مګر زه هیڅ ځواب نه لرم. د کورنۍ ټول غړي او په ځانګړې توګه د هغه ماشومان له دې پیښې راهیسې ډیر ځوریږي. داسې ښکاري چې دا به د هغه ټوله کورنۍ او ماشومان د ژوند په اوږدو کې ځوروي. دا یو نه ختمیدونکی کړاو ښکاري."*[٣٦٦]

مرکه شویو کسانو د هغه ویرې په اړه خبرې کړې چې د دوی د خپلوانو د جبري ورکېدو له امله رامنځته شوې. یوه مرکه شوې چې ورور یې د ملي امنیت ریاست د شپې عملیاتو په جریان کې ورک شو، وویل هغه ویره درلوده چې څوک به هغه پسې هم راشي او هغه د یو څه وخت لپاره پټ شو، او ځان یې له خپلې کورنۍ څخه جلا کړ.[٣٦٧] یوې بلې مرکه شوې وویل چې هغه د خپل میړه له ورکېدو وروسته اړ شوه چې کډه وکړي:

[٣٦١] همدارنګه د سره صلیب نړیوالې کمېټې څېړنې د دودیز نړیوال بشري قانون په اړه، ۹۸ اصل وګورئ.
[٣٦٢] د افغانستان د جزا قانون ۲۰۱۷ ماده ۳۳۵.
[٣٦٣] د افغانستان په بندی خانو کې د بندیانو سره چلند، د ۲۰۱۹ کال اپریل میاشت، ۱۷م مخ. د لاسرسي وړ: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_-_report_on_the_treatment_of_conflict-related_detainees_-_١٧_april_٢٠١٩.pdf.
[٣٦٤] یوناما او د بشري حقونو لپاره عالي کمیشنری دفتر، *د شکنجې منع او په افغانستان کې د بندیانو د حقونو رعایت: د سولې یو لامل*، د ۲۰۲۱ کال فبرورې میاشت، ۱۶م مخ. د لاسرسي وړ: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/the_handling_of_complaints_of_gbvawg_english_١٤١٢٢٣.pdf.
[٣٦٥] ۱۱۹ مه مرکه.
[٣٦٦] ۱۳۰ مه مرکه.
[٣٦٧] ۱۱۹ مه مرکه.

*"کله چې دا پېښه وشوه، مور دومره ویره او اضطراب درلود چې خپل کور، کلي او سیمه مو په بشپړه توګه پرېښوده او بل ځای ته کډه شو".*[۳۶۸]

ځو مرکه شویو د خپلو خپلوانو د جبري ورکېدو سره تړلې اندیښنه او خپګان له امله رامنځته شوې روغتیايي ستونزې بیان کړي:

*"د [ورک شوي کس] مور د پېښې د ناوره رواني اغېزو له امله د سترګو د لید کمزورتیا او اضطراب سره مخ ده."*[۳۶۹]

*"زما پلار لا هم د سترګو له ستونزو څخه رنځیږي او حوصلې یې ډېره کمه شوې ده. هغه په دوامداره توګه درد لري او د خپګان احساس کوي. زما مور ورځ تر بلې کمزورې کېږي، او ورځ تر بلې اندېښمنه او غمجنه کېږي."*[۳۷۰]

ډېرې کورنۍ له مالي پلوه اغېزمنې شوي، ځکه چې په جبري ډول ورک شوي کسان ټول نارینه وو، د دوی له ورکیدو نه مخکې هغوي د خپلې کورنۍ په عوایدو کې ونډه درلوده. په ځینو مواردو کې، په جبري ډول ورک شوی شخص یوازینی کس وو چې کورنۍ ته یې ډوډۍ وړله.

## ب. د ورکو شویو خپلوانو د موندلو هڅې

ټولو مرکه شویو د خپلو ورکو شویو خپلوانو د موندلو لپاره د پراخو هڅو په اړه خبرې کړي، د هغوي په لټون کې د مرستې لپاره یې له مختلفو ادارو، لکه پخواني حکومت، طالبانو (د واک له نیولو مخکې)/ *برحاله* چاواکي (د واک له نیولو وروسته)، د سره صلیب نړیوالې کمېټه، د یوناما د بشري حقونوڅانګه، او نورو نړیوالو او ملي غیر دولتي سازمانونو سره اړیکه نیولې.

یو سړي چې زوی یې په ۲۰۱۸ کال کې د ملي امنیت ریاست یونیفورم لرونکو کسانو لخوا د نیول کیدو وروسته، د جبري ورکېدو قرباني شو، وویل چې له هغې وروسته یې ۶۸ غوښتنلیکونه پخواني حکومت ته او ۱۶ غوښتنلیکونه اوسني *برحاله* چارواکو ته سپارلي دي، خو تر اوسه یې کومه پایله نه ده ترلاسه کړې:

*"ما دا عریضې ډېرو ځایونو او ډېرو خلکو ته ورسولې، خو هیڅ چا زمور سره مرسته ونه کړه. هرکله به چې ما ولایت یا قوماندانۍ ته عریضه وړله، نو ورکه به شوه. هیڅ چا به یې په اړه هیڅ مالومات نه راکول. نه مور کومه پایله ترلاسه کړه او نه هم چا زمور سره مرسته وکړه. هیڅ چا زمور عریضې ته غور ونه نیوه."*[۳۷۱]

یو بل کس وویل چې هغه د امنیه قومندانۍ مشر جنرال رازق [د هغه وخت د کندهار د امنیه قومندانۍ مشر]، د سره صلیب نړیوالې کمیټې او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ته شکایتونه کړي ترڅو مالومه کړي چې د هغه ورور ته، په ۲۰۱۴ کال کې د افغان ملي پولیسو افسرانو لخوا، د جبري ورکیدو وروسته څه پیښ شوي دي. د هغه شکایت د افغانستان د ملي پولیسو یو قوماندان ته راجع شو چې له هغه سره یې له لیدنې ډډه وکړه او بالاخره یې د هغه لیکلي شکایت په ځواب کې وویل چې د هغه د ورور د نیولو څخه خبر نه دی. کله چې سړی د خپل شکایت په اړه د پولیسو مرکزي دفتر ته ورغی، هغه ته خبر ورکړل شو چې شکایت یې ورک شوی دی. د طالبانو له واکمنۍ وروسته، سړي د استخباراتو عمومي ریاست ته مراجعه وکړه او له هغوی څخه یې وغوښتل تر څو هغه سړی ونیسي چې د هغه ورور یې نیولی وو. هغه د استخباراتو عمومي ریاست لخوا ونیول شو، خو د *برحاله* چارواکو لخوا خوشې شو، چې د عمومي ښښنې یادونه یې وکړه.[۳۷۲]

یو بل مرکه شوی چې ورور یې په ۲۰۱۶ کال کې په جبر سره ورک شوی وو، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او سره صلیب نړیوالې کمیټې په ګډون مختلفو ادارو ته یې شکایتونه کړي وو. هغه وویل:

*"ما د قومي مشرانو سره یو ځای له جنرال رازق سره ځلور ځله کتنه ترسره کړه. بالاخره، جنرال رازق مور ته وویل چې مور باید د خپل ورور قضیه پرېږدو. هغه وویل چې هغه شاوخوا شل ورځې ژوندی وو، خو اوس مړ شوی دی، او مور باید نور د هغه لټون ونه کړو. ما له هغه وغوښتل چې لږ تر لږه د هغه د جسد ځای مور ته وښيي ترڅو مور یې*

[۳۶۸] ۱۴۶ مه مرکه.
[۳۶۹] ۱۱۹ مه مرکه.
[۳۷۰] ۱۲۹ مه مرکه.
[۳۷۱] ۱۴۵ مه مرکه.
[۳۷۲] ۱۳۱ مه مرکه.

*نښبي ومومو او ممکن د هغه لپاره قبر جوړ کړو. په هرصورت، موږ هیڅکله دا مالومات ترلاسه نه کړل. پایله ناکامه وه."*[۳۷۳]

حکومتي چارواکو ته د بډو ورکولو په ګډون، ډېرو مرکه شویو د خپلو خپلوانو د موندلو لپاره د پام وړ پیسې ورکړې وې:

*"زما د ورور د ځای او د قضیې د شرایطو په اړه د هر ډول مالوماتو ترلاسه کولو لپاره، موږ په سلګونو زره افغانۍ – تر ډېره ځایي چارواکو ته د شیریني [رشوت] ورکولو او کابل او کندهار ته د تګ راتګ لګښتونو لپاره - مصرف کړې. مګر د ورځې په پای کې، زموږ هیڅ یوې هڅې کومه مثبته پایله ورنه کړه، یوازې غلطې ژمنې او دوکې. دوهم، زما ورور یو عادي پرچون پلورونکی وو، د هغه له ورکېدو وروسته، د هغه کوچنی کاروبار، چې د هغه د کورنۍ د عاید یوازینۍ سرچینه وه، له زوال سره مخ شو."* [۳۷۴]

*"موږ د قرباني د خوشې کولو په برخه کې د مرستې لپاره، پخوانیو حکومتي چارواکو ته په بډو ورکولو سره ډېرې پیسې مصرف کړې دي."* [۳۷۵]

## ج. د حقیقت او حساب ورکولو لپاره د کورنیو غوښتنه

اکثریت مرکه شوي د خپلو خپلوانو د جبري ورکېدو په اړه بې ځوابه پاتې دي. یو کس وویل چې د هغه د هڅو سره سره، د پخواني حکومت لخوا د هغه د ورور د جبري ورکېدو په اړه هیڅ پلټنه نه ده شوې، خو د واک له نیولو وروسته، برحاله چارواکو تحقیق وکړ او د هغه د ورور جسد یې وموند. د وژنې حالات نامالوم پاتې دي.[۳۷۶] هغه کورنۍ چې مرکې ورسره شوي د خپلو عزیزانو د برخلیک په اړه د ځوابونو په هیله دي:

*"زموږ کورنۍ لا هم له دې غمجنې پېښې څخه کړېږي. موږ نه شو کولای په بشپړه توګه د پایلو سره مقابله وکړو. موږ لاهم هیله لرو چې یوه ورځ به زما ورور له موږ سره بیرته یوځای شي. دا زموږ لپاره اسانه نه ده چې خپل ورور هیر کړو او د هغه د موندلو هڅه ودروو."* [۳۷۷]

"موږ لا هم د هغه د بیرته راتګ په تمه یو. موږ دا منو چې هغه احتمالاً شهید شوی دی، خو موږ لا هم د هغه په تمه یو."[۳۷۸]

*"دا زموږ لپاره مهمه ده چې دا خلک وپېژنو او له دوی څخه مالومات ترلاسه کړو ترڅو پوه شو چې ولې یې زما زوی بوته، دلیل یې څه وو، او د هغه ګناه څه وه. موږ باید پوه شو چې ولې هغه په داسې ډول وړل شوی، هغه به اوس چیرته وي، او هغه ته به څه پیښ شوي وي."* [۳۷۹]

مرکه شویو د ورته پیښو د تکرار مخنیوی او د عاملینو د حساب ورکونې پر اهمیت هم ټینګار وکړ، او ویې ویل چې دوی نه غواړي نورې کورنۍ هم له ورته وضعیت سره مخ شي:[۳۸۰]

*"د جمهوري رژیم پر مهال په کندهار کې ډېر خلک ورک شول. د قربانیانو خپلوان باید پوه شي چې ورک شوي کسان چیرته دي. دوی د عدالت او حساب ورکونې غوښتنه کوي ترڅو عاملین حساب ورکړي او د داسې پیښو د تکرار څخه مخنیوي وشي. زما قضیه په کندهار کې د سلګونو کورنیو ترمنځ یوه بیلګه ده. سره له دې چې موږ ډېرې هڅې کړې دي، هیڅ چا ځواب ورنه کړ."* [۳۸۱]

[۳۷۳] ۱۲۹ مه مرکه.
[۳۷۴] ۱۱۹ مه مرکه.
[۳۷۵] ۱۴۵ مه مرکه.
[۳۷۶] ۱۲۸ مه مرکه.
[۳۷۷] ۱۱۹ مه مرکه.
[۳۷۸] ۱۳۲ مه مرکه.
[۳۷۹] ۱۴۵ مه مرکه.
[۳۸۰] ۱۲۹ مه مرکه.
[۳۸۱] ۱۳۰ مه مرکه.

*"د کندهار د برید ځواک [ملي امنیت ریاست-۰۳] د ځانګړو ځواکونو یوه بدنامه ځانګه وه چې د آمریکا د استخباراتي ادارې مستقیم ملاتړ یې درلود او د بشري حقونو د ټولو اصولو او د جګړې د قوانینو په پام کې نه نیولو سره د شپې له خوا د ظالمانه چاپو د ترسره کولو لپاره مشهوره وه. دې ځانګې د غلطو استخباراتي مالوماتو پر بنسټ ډېر بې ګناه افغان ملکي وګړي ځورولي او شکنجه کړي دي. موږ له نړیوالې ټولنې او نړیوالو قضایي ارګانونو څخه غوښتنه کوو چې دوی حساب ورکړي."*[382]

# ۷ برخه: د *برحاله* چارواکو لیدلوری

د جمهوري حکومت د راپرځېدو او په افغانستان باندې د طالبانو واکمنۍ سره هغه اصلي لارې بندې شوې چې قربانیانو به د هغو چینلونو له لارې د مرستې غوښتنه کوله یا به یې ترلاسه کولې.

پرته د هغو اعلانونو څخه چې د *برحاله* چارواکو لخوا قربانیانو او د هغوی خپلوانو ته د میاشتنۍ مرستو په اړه کېږي، اوسمهال د وسله والو شخړو قربانیانو ته د *برحاله* چارواکو لخوا د چمتو شوي ملاتړ د اندازې او بڼو په اړه لږ عام مالومات شتون لري. د بېلګې په ډول، د ۲۰۲۵ کال د اپریل په ۲مه نېټه، د *برحاله* چارواکو ویاند، ذبیح الله مجاهد رسنیو ته د جګړې د قربانیانو کورنیو ته د کلنۍ تادیې اړوند راپورونو په اړه وضاحت ورکړ. هغه وویل چې د کلنۍ بودیجې څخه (چې لا تر اوسه عام شوې نه ده)[383] ۱۲.۵ میلیارده افغانۍ (تقریبا ۱۶۶.۶۷ میلیونه امریکایي ډالر) د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له لارې یتیمانو، کونډو او معلولیت لرونکو کسانو ته چې د طالبانو، پخواني رژیم یا نورو ملکي وګړو سره تړاو لري، ځانګړې شوې دي.[384]

د وسله والو شخړو قربانیانو ته د *برحاله* ادارو او نادولتي موسسو لخوا وړاندې شوو چوپړتیاوو د بڼه پوهیدو لپاره او د محدودو عامو مالوماتو په پام کې نیولو سره، یوناما *برحاله* چارواکو سره د ولایتونو په کچه د دوی د *برحاله* ادارو لخوا وړاندې شوو چوپړتیاوو د اندازې او ډولونو او په دې برخه کې د پېژندل شویو تشو په اړه مرکې کړې.[385]

## الف. د ولایتونو په کچه د *برحاله* ادارو لخوا چمتو شوې ځوابونه

یوناما د وسله والو شخړو قربانیانو ته د دوی د ریاستونو لخوا وړاندې شوو چوپړتیاوو په اړه له ۲۳ *برحاله* چارواکو سره مرکې کړې دي. د وسله والو شخړو د قربانیانو د اړتیاوو د پوره کولو مسؤله اداره *برحاله* د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت او په ولایتي کچه د هغې ریاستونه دي.

د ولایتونو په کچه *برحاله* د شهیدانو او معلولینو د چارو ریاستونو څخه ټولو نهو مرکه شویو ویلي چې دوی د وسله والو شخړو قربانیانو او د هغوی خپلوانو ته میاشتنۍ مرستې یا پیسې ورکړې دي. د هرې ادارې لخوا ذکر شوې مقدارونه مختلف وو: د معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره، په میاشت کې له ۲۰۰۰ څخه تر ۲۰۰۰۰ افغانیو پورې (د معلولیت شدت او نوعیت پورې اړه لري)، او د کونډو او یتیمانو لپاره په میاشت کې له ۲۰۰۰ څخه تر ۷۰۰۰ افغانیو پورې.[386]ډېرو مرکه شویو *برحاله* رسمي چارواکو ټینګار کړی چې دوی د میاشتنۍ مرستې د ترلاسه کوونکو په نوم لیکنه کې له تبعیض پرته چلند کوي او ویلي یې دي چې د افغانستان د ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پخواني غړي او د هغوی خپلوان هم ملاتړ ترلاسه کوي، او د افغانستان د ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو خپلوان هم د نورو کسانو په څیر چې د دوی له ادارې څخه

[382] ۱۱۹ مه مرکه.
[383] ملګري ملتونه، په افغانستان کې وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې: د سرمنشي راپور، A/79/947-S/2025/372، ۳ پاراګراف.
[384] ذبیح الله (..ذبـیح الله م) [@Zabehulah_M33]، X (پخوانی ټویټر)، ۲ اپریل ۲۰۲۵، د ماښام PM7:35. دلته د لاسرسی وړ ده: https://x.com/Zabehulah_M33/status/1907449357068067220 او https://x.com/Zabehulah_M33/status/1907449379914486026.
[385] هغه معلومات چې د اوسنیو چارواکو سره د مرکې له لارې راټول شوي دي د مرکه شویو کسانو د نظرونو په اړه بصیرت وړاندې کوي، مګر ممکن د اوسنیو ټولو نظرونو یا پالیسیو استازیتوب ونکړي.
[386] یو هـ برحاله چارواکي وویل چې که چیرې یوه کونډه بیا واده وکړي، نو د هغې تقاعدي معاش به بند شي.

میاشتنۍ مرستې ترلاسه کوي.[۳۸۷] ګڼ شمېر مرکه شویو یادونه کړې چې د بودیجوي محدودیتونو له امله، له دوی څخه غوښتل شوي وو چې د تمویل اندازه او/یا د هغو خلکو شمیر کم کړي چې دوی یې ملاتړ کوي. *برحاله* د شهیدانو او معلولینو چارو ریاستونو څخه مرکه شویو د ملاتړ نورو بڼو یادونه کړې، د معلولیت لرونکو خلکو لپاره د ویلچیرونو چمتو کول، مسلکي روزنه او په ځايي سوداګرۍ کې د معلولیت لرونکو خلکو لپاره د کارموندنې فرصتونو برابرول، او د خوړو مرستې چمتو کول په کې شامل دي.

یوناما *برحاله* د کار او ټولنیزو چارو ریاست له شپږو چارواکو سره مرکې کړې دي. ډېرو یې په دارلایتامونو کې د وسله والو شخړو قرباني ماشومانو ته د ملاتړ چمتو کولو یادونه کړې. یوه *برحاله* چارواکي وویل چې دوی په وسله والو شخړو کې د وژل شویو کسانو د کورنیو غړو ته میاشتنۍ مرسته ورکوي.

*برحاله* د عامې روغتیا ریاست له دریو چارواکو سره مرکې ترسره شوې. یوه یې یادونه کړې چې د وسله والو شخړو پرمهال ټپیان شوي خلک د خپلو ټپونو، لکه په بدن کې د پاتې شوو چرو، د درملنې لپاره دوی ته رازي. یو بل یادونه وکړه چې د لومړنیو روغتیايي پاملرنو سربېره، *برحاله* چارواکي کلینیکونو کې مشورې او فزیوتراپي چوپړتیاوې وړاندې کوي، او همدارنګه د روږدو د درملنې مرکزونه اداره کوي.

یوناما د پنځو *برحاله* والیانو سره هم مرکې کړې دي. که څه هم ډېرو یې ویلي چې *برحاله* د شهیدانو او معلولینو چارو ریاستونه د قربانیانو د اړتیاوو اړوند اصلي مسؤلیت لري، دوو یې ویلي چې د دوی دفترونه د وسله والو شخړو د قربانیانو په ګډون اړمنو کسانو ته د مالي ملاتړ د چمتو کولو لپاره احتیاطي بودیجه لري.

یوه مرکه شوي *برحاله* چارواکي یادونه کړې چې دا لومړی ځل وو چې یو کس د وسله والو شخړو د قربانیانو د اړتیاوو په هکله هغوي سره خبرې کړې.[۳۸۸]

## ب. د وسله والو شخړو له امله د اغېزمن شویو قربانیانو او پرګنو په ملاتړ کې تشې

له هغو *برحاله* چارواکو څخه چې مرکه ورسره شوي، پوښتنه وشوه چې دوی د وسله والو شخړو له امله د اغېزمن شویو قربانیانو او ټولنو لومړنۍ اړتیاوې څه ګڼي. یوازې یوه مرکه شوي وویل چې هغه په هغو چوپړتیاوو کې کومه تشه نه ده لیدلې چې اوس مهال د وسله والو شخړو قربانیانو ته وړاندې کیږي.[۳۸۹]

د قربانیانو سره د مرستې په وړاندې تر ټولو عام خنډ **مالي محدودیتونه** ګڼل شوي، مرکه شویو ویلي چې شته سرچینې د قربانیانو او د هغوی د کورنیو د اساسي اړتیاوو د پوره کولو لپاره کافي نه دي.[۳۹۰] ګڼ شمېر مرکه شویو ویلي چې د نړیوالې ټولنې ملاتړ د طالبانو له واکمنۍ څخه مخکې حالت ته په کتو سره اوس ناکافي او/یا نابرابر دی، دا قربانیانو او ټولنو ته د اساسي چوپړتیاوو په وړاندې کولو کې د هغوي وړتیا اغېزمنوي.[۳۹۱] مرکه شویو ډېری وخت په نړیواله ټولنه، په ګډون د غړو هیوادونو، ملګرو ملتونو او نړیوالو غیر دولتي موسسو څخه غوښتې چې **د افغانستان لپاره خپل ملاتړ زیات کړي**.[۳۹۲]

که څه هم بودیجوي محدودیتونه په اوسنیو حالاتو کې د قربانیانو د ملاتړ مخه نیسي، هغه *برحاله* چارواکو چې مرکې ورسره شوي د قربانیانو د لومړنیو اړتیاوو په اړه یې خپل نظرونه هم وړاندې کړي دي. ډېری هغه لومړیتوبونه چې د *برحاله* چارواکو لخوا یاد شوي هغه موارد منعکس کوي چې پخپله د قربانیانو لخوا یاد شوي (لکه څنګه چې د دې راپور په پنځمه برخه کې بیان شوي). هغه لومړیتوبونه چې د *برحاله* چارواکو لخوا په ګوته شوي - لنډیز یې په لاندې ډول دی - د هغو اړتیاوو سره تړاو لري چې د دوی په باور اوس مهال د وسله والو شخړو د قربانیانو لپاره نه دي ورکړل شوي:

[۳۸۷] ۱۶مه، ۲۰مه او ۱۹ مه مرکه
[۳۸۸] ۹مه مرکه
[۳۸۹] ۱۰مه مرکه
[۳۹۰] اوله، ۱۱مه او ۱۶ مه مرکه
[۳۹۱] ۵مه او ۱۸ مه مرکه
[۳۹۲] ۱۶مه، ۲۱مه، ۲۰ مه او ۲ مه مرکه

- **د معلولیت لرونکو اشخاصو د ځانګړو اړتیاوو** ته رسیدګي کول مهم دي، لکه د امکان په صورت کې د معلولیت لرونکو اشخاصو ته په کاري فرصتونو کې د سیټونو ځانګړي کول؛[۳۹۳] مسلکي روزنه؛[۳۹۴] د ځانګړو روغتیایي چوپړتیاوو شتون ډاډمن کول، د بیلګې په ډول د مصنوعي غړو، ویلچیرونو او رواني-ټولنیز برخو کې د ملاتړ چمتو کول؛[۳۹۵] او د معلولیت لرونکو اشخاصو په وړاندې د تبعیض سره د مبارزې لپاره د پوهاوي لوړول.[۳۹۶]
- د وسله والو شخړو د قربانیانو لپاره **د کارموندنې او معیشت فرصتونو ته اړتیا**، د هغو کسانو په ګډون چې معلولیت لري. مرکه شویو یادونه کړې چې نغدي مرستې او خوراکي توکو چمتو کول لنډمهاله حل لاره ده او خلکو ته اجازه نه ورکوي چې په اوږد مهال کې په ځان بسیا شي.[۳۹۷] یوه *برحاله* چارواکي وویل چې د هغه په اند، قربانیان او د هغوی کورنۍ "وړیا مرسته" نه غواړي، بلکې دوامداره کار، زده کړه او د کار فرصتونه غواړي.[۳۹۸]
- د وسله والو شخړو د قربانیانو لپاره **روغتیایي پاملرنو** کې د تشو په اړه ډیرو مرکه شویو، رواني-ټولنیز ملاتړ ته اړتیا په ګوته کړې ده.[۳۹۹] د درملو کمښت او د وړ روغتیاپالانو نه شتون هم د *برحاله* چارواکو د مسؤلیت په اړوندو برخو کې د ننګونو په توګه یاد شوي.
- **د قربانیانو بشري اړتیاوې**، لکه سرپناه او خواړه.[۴۰۰] مرکه شویو کسانو د کورونو او نورو زیربناوو،[۴۰۱] لکه د ښوونځیو[۴۰۲] د بیارغونې اهمیت په اړه هم خبرې کړې چې په جګړه کې ویجاړ شوي یا زیانمن شوي دي.
- **د کونډو او هغو ښځو اړتیاوې چې د کورنیو مشري کوي**، لکه هغه ننګونې چې دوی د خپلو کورنیو د ملاتړ په برخه کې ورسره مخ دي.[۴۰۳] ډیرو *برحاله* چارواکو د ښځو د ملاتړ لپاره هغوي ته د مسلکي زده کړو وړاندیز کړی ترڅو په ځان بسیا شي او بهرنۍ مرستې ته د دوی اړتیا راکمه شي.[۴۰۴]
- **زده کړې ته د ماشومانو لاسرسی یقیني کول**، په ځانګړې توګه د رامنځته شوې وسله والې جګړې له امله معلول شوو ماشومانو ته.[۴۰۵]

ځینو مرکه شویو **عدالت ته د لاسرسي، ښښنې غوښتلو یا قربانیانو ته د رسیدلي زیان د منلو** څخه یادونه کړې،[۴۰۶] لکه، له قربانیانو څخه باید ښښنه وغوښتل شي،[۴۰۷] او حتی دا نظر یې څرګند کړی چې ښښنه، عدالت او تاوان ترلاسه کول د وسله والې شخړې د قربانیانو "سترې اړتیاوې" دي.[۴۰۸]

ډیرو مرکه شویو چې عدالت ته د لاسرسي، ښښنې او د زیان منلو مفکورو په اړه یې بحث کړی، په هغه څه تمرکز کړی چې دوی یې د نړیوالو پوځي ځواکونو مسؤلیت ګڼي، د دوی د خپلو ځواکونو په ګډون چې د افغانستان په وسله واله شخړه کې یې برخه اخیستې وه، نه د افغان خواوو. په کندوز ښار باندې د ۲۰۱۶ کال د هوایي برید په اړه،[۴۰۹] یوه مرکه شوي وویل چې

[۳۹۳] ۶مه مرکه
[۳۹۴] ۲۱مه مرکه
[۳۹۵] ۳مه مرکه
[۳۹۶] ۶مه مرکه
[۳۹۷] ۱۲ مه او ۵ مه مرکه
[۳۹۸] ۱۴ مه مرکه
[۳۹۹] ۹مه او ۱۷ مرکه
[۴۰۰] ۱۵ مه ،۱۶ مه او ۱۸ مه مرکه
[۴۰۱] ۲۰مه ،۱۷ مه او ۸ مه مرکه
[۴۰۲] ۴مه مرکه
[۴۰۳] ۱۹ مه مرکه
[۴۰۴] اوله او ۱۶مه مرکه
[۴۰۵] ۱۱ مه او ۱۴ مه مرکه
[۴۰۶] ۱۱مه او ۴ مه مرکه
[۴۰۷] ۱۱مه مرکه
[۴۰۸] ۴ مه مرکه
[۴۰۹] https://unama.unmissions.org/unama-investigating-allegations-۳۲-civilian-deaths-air-strikes-kunduz

نړیوالو پوځي ځواکونو چې د برید مسؤل وو، ښځو ته یې نه ده غوښتې او ویلي یې دي چې د دې پېښو لپاره "خلک عدالت غواړي".[٤١٠]

نورو *برحاله* چارواکو دا نظر څرګند کړی چې په افغان جګړه کې ښکیل غړي دولتونه "اخلاقي مکلفیت" لري چې د هیواد په بیارغونه کې مرسته وکړي او له افغانانو سره مرسته وکړي.[٤١١]

*برحاله* چارواکي چې مرکې ورسره شوي، په عمومي ډول یې **په افغانستان کې د سولې** په اړه خپل نظرونه وړاندې کړي. ډېرو یې ویلي چې دوی باور لري چې د تیرو شخړو پورې اړوند مسئلې حل شوي او په افغانستان کې پرګنې په سوله کې څنګ په څنګ ژوند کوي، پرته له دې چې د جګړې پر مهال د هغوي تراو په پام کې ونیول شي.[٤١٢] په هرصورت، نورو دا منلې چې د تبعیض سره د مبارزې او زغم زیاتولو اړتیا ده، او وړاندیز یې کړی چې د عامه پوهاوي پروګرامونه دې جوړ شي ترڅو په پرګنو کې د منلو او درناوي کچه لوړه شي.[٤١٣] کم شمېر *برحاله* چارواکو دا نظر هم څرګند کړی چې پرګنې باید "تیر هېر کړي او مخ په وړاندې لاړ شي"[٤١٤] "غچ" به یوازې نورې ستونزې رامنځته کړي. د دې نظرونو څخه ځینې یې، لکه څنګه چې مخکې په دې راپور کې یادونه وشوه، په څرګند ډول د قربانیانو د لیدلورو سره په ټکر کې دي، څوک چې هره ورځ د ورپېښ شوو مواردو د عواقبو سره ژوند کوي او نه شي کولای "تیر هېر کړي او مخ په وړاندې لاړ شي".

# ۸ برخه: د غیر دولتي سازمانونو لیدلوري

یو شمیر نړیوال او ملي غیر دولتي سازمانونه، او همدارنګه د ملګرو ملتونو ادارې، په افغانستان کې په بیلابیلو سکتورونو کې د وسله والو شخړو قربانیانو ته ملاتړ وړاندې کوي. یوناما د ۲۳ غیر دولتي موسسو سره مرکې کړې چې د وسله والو شخړو قربانیانو سره په مختلفو برخو کې: لکه نغدي مرسته، زده کړه او مسلکي روزنه، روغتیایي پاملرنه، ماین پاکي، او نورو برخو کې مرستې کوي. مرکه شوي په ملي او نړیوالو غیر دولتي موسسو کې شامل کسان وو چې په افغانستان کې بشري مرستې چمتو کوي.

## الف. د وسله والې شخړې اغیزې

له مرکه شویو څخه وپوښتل شول چې خپل لیدلوري شریک کړي چې څنګه وسله واله شخړه په هغو ټولنو دوامدره اغیزه کوي، کومې چې دوی یې ملاتړ کوي. دوی یو لړ مسئلې یادې کړې چې په لویه کچه د قربانیانو لخوا یې هم یادونه شوې [دریمه برخه وګورئ: په قربانیانو باندې د جګړې اغیز] چې لاندې مواردو ته شاملېږي:

- **رواني روغتیا** د وسله والو شخړو په قربانیانو باندې **اغیزه کوي**، لکه خپګان، اضطراب، او د پېښې وروسته سترس.[٤١٥]
- د وسله والو شخړو د قربانیانو په منځ کې د **فزیکي معلولیت** عام کیدل.[٤١٦]
- د شخړو په پایله کې **په کور دننه د بې ځایه شویو** خلکو اړتیاوې.[٤١٧]
- د هغو کسانو روغتیایي اړتیاوې چې په جګړه کې ټپیان شوي، په ځانګړې توګه **هغه کسان** چې د چاودنو په پایله کې یې **د بدن غړي د لاسه ورکړي دي.**
- د زیربناوو ویجاړول.[٤١٨]

[٤١٠] ۱۵ مه مرکه
[٤١١] ۱۹ مه ، ۴مه او ۵ مه مرکه
[٤١٢] ۱۰ مه، ۳مه ،۲۱مه او ۲۲مه مرکه
[٤١٣] ۱۲ مه او ۱۱مه مرکه
[٤١٤] ۱۴ مه مرکه
[٤١٥] ۷مه او ۱۰مه مرکه
[٤١٦] ۱۵ مه مرکه
[٤١٧] ۱۸ مه او ۲۱مه مرکه
[٤١٨] ۹ مه مرکه

- **د جګړې څخه پاتې شوي چاودیدونکي توکو** او پرېښودل شوو ماینونو له امله بالقوه خطر.

څو مرکه شویو د قربانیانو او د هغوی په کورنیو باندې د وسله والې جګړې پراخ او دوامداره اغېزو په اړه تبصرې کړې:

> *"پېښو [...] د قربانیانو او د هغوی د کورنیو په ژوند او هوسایني ژوره اغېزه کړې ده. ډېرو خپل د کورنۍ غړي- په ځینو مواردو کې ماشوم، په ځیني نورو مواردو کې یې مور، یا کورنۍ ته ډوډۍ وړونکی- له لاسه ورکړي دي. نورو ته په دې پېښو کې فزیکي زیان اوښتی او لاهم له فزیکي ستونزو څخه کړېږي یا معلول دي، نه شي کولای کار وکړي او د کورنۍ عاید کې برخه واخلي او ژوند وکړي. د هغوي رواني هوسانیه د هغې دردناکې تجربې له امله په ژور ډول اغېزمنه شوې، چې دوی باندې تېره شوې ده."*[٤١٩]

## ب. د وسله والو شخړو له امله د اغېزمن شویو قربانیانو او پرګنو په ملاتړ کې تشې

له غیر دولتي سازمانونو څخه وپوښتل شول چې دوی د قربانیانو لپاره د چوپړتیاوو او د پرګنو اړتیاوو اړوند کومې تشې په ګوته کوي. هغه تشې چې د غیر دولتي سازمانونو لخوا یادې شوي د هغو سره سمون لري چې د *برحاله* چارواکو لخوا په خپلو مرکو کې یادې شوي او همدارنګه د هغو اړتیاوو سره چې پخپله قربانیانو یې یادونه کړې وه.

- د قربانیانو سره د مرستې په برخه کې غیر دولتي موسسو ته تر ټولو عامه ننګونه **بودیجوي محدودیتونه** وو. دوی یادونه وکړه چې محدودې سرچینې د دوي وړتیا راکموي تر څو د ټولنې اړتیاوو ته رسیدګې وکړي نو دوی ډونرانو څخه د اضافي بودیجې غوښتنه وکړه. د چوپړتیاوو یوه وړاندې کوونکې وویل چې د دوی د ځینو پروژو بودیجه هره میاشت تمدید کیږي، دا چارې مختل کوي او د کارمندانو په ساتلو، اداري او نورو لوژستیکي چارو کې ننګونې رامنځته کوي.[٤٢٠]

- څو غیر دولتي موسسو **د *برحاله* چاراواکو د لاسوهنې** په اړه خبرې وکړې چې د چوپړتیاوو وړاندې کولو کې د دوی وړتیا اغېزمنوي، په ځانګړې توګه په ښځو او نجونو باندې لګول شوي محدودیتونو څخه یې یادونه وکړه. د کندهار څخه د چوپړتیاوو یوه وړاندې کوونکې یادونه وکړه چې *برحاله* ولایتي چارواکي د هغوی د پروژو څخه ښځینه ګډونوالې منعه کوي، هغه معلولیت لرونکې ښځې چې مسلکي زده کړو کې ګډون کوي کوم چې هغوي سره په کارموندنه کې مرسته کوي.[٤٢١] یو بل کس وویل چې د طالبانو له واکمنۍ مخکې، د دوی په اداره کې اروا‌پوهانو کولای شول ښځو او نارینه و ته رواني ملاتړ وړاندې کړي، په داسې حال کې چې اوس ښځینه اروا‌پوهانې یوازې د ښځو درملنه کولای شي او نارینه اروا‌پوهان یوازې د نارینه و درملنه کولای شي، دا چاره د دوی د اداري د پاملرنې اندازه محدودوي.[٤٢٢]

- ډېرو غیر دولتي موسسو د قربانیانو لپاره **د اساسي چوپړتیاوو**، په ځانګړې ډول روغتیایي پاملرنې او سرپناه **ته د لاسرسي** په اړه خبرې کړې. ځینو د ښاري مرکزونو په پرتله په کلیوالي سیمو کې د شته چوپړتیاوو د توپیر یادونه کړې. مرکه شویو دا هم ویلي چې د محرم اړتیا، چې د *برحاله* چاراواکو لخوا وضع شوې، چوپړتیاوو ته د ښځو د لاسرسي په وړاندې خنډونه رامنځته کوي. د مثال په توګه، هغه ښځې چې په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي اجازه نلري چې د درملنې لپاره د محرم پرته د اوږد واټن سفر وکړي.[٤٢٣] یوه مرکه شوي وویل چې په بامیان ولایت کې، دوی د وسله والو شخړو له قربانیانو سره ولیدل، هغوي په خپلو ولسوالیو کې روغتیایي چوپړتیاوو ته د لاسرسي غوښتنه کوله ځکه چې دوی د بامیان ښار روغتون ته د سفر توان نه درلود.[٤٢٤]

[٤١٩] ١٢ مه مرکه
[٤٢٠] ١۶ مه مرکه
[٤٢١] ٣مه مرکه
[٤٢٢] ٩ مه مرکه. یادونه: که څه هم په افغانستان کې د روانپوهانو یا ډاکټرانو لخوا د مقابل جنس د ناروغانو د درملنې په اړه کوم ښکاره بندیز نشته، خو یوناما داسې راپورونه تایید کړي چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د برحاله ریاست محتسبین روغتیایي کلینیکونه (د نورو کاري ځایونو، رستورانتونو او بازارونو ترڅنګ) څاري، تر څو د ښځو او نارینوو د یو ځای کېدو پر ضد اقدام وکړي.
وګورئ :په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت: د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر – دسمبر تازه معلومات، (یوناما، ۲۷ جنوري ۲۰۲۵)، مخونه ۲–۴.
[٤٢٣] ١٨ مه مرکه
[٤٢٤] ١۵ مه مرکه

- ځو مرکه شویو د وسله والو شخړو قربانیانو ته، په ځانګړې توګه هغه قربانیان چې د پخواني حکومت امنیتي ځواکونو سره یې تړاو درلود د **خدماتو په وړاندې کولو کې** د *برحاله* چارواکو لخوا د **نه تبعیض** ډاډمن کولو په اړه خبرې وکړې.[425]

- ډیرو مرکه شویو د وسله والو شخړو د قربانیانو لپاره **د معیشت فرصتونو، د کار پیدا کولو او نورو مالي ملاتړونه**[426] په اړه خبرې وکړې. دوی وویل چې کونډې او معلولیت لرونکي خلک چې د کار موندلو لپاره مبارزه کوي په ځانګړي ډول ملاتړ ته اړتیا لري.[427]

- د وسله والو شخړو د قربانیانو ته **د ځانګړو روغتیایي پاملرنې** په اړه، غیر دولتي موسسو ویلي چې د رواني-ټولنیز ملاتړ،[428] فزیوتراپي او بیا وړ کولو،[429] او د معیوبینو لپاره د مصنوعي غړو چمتو کولو لپاره د ارتوپیډي مرکزونو د تقاضا د پوره کولو لپاره کافي سرچینې شتون نلري.[430] نورو په عمومي ډول د قوي روغتیایي سکتور او د کارمندانو او درملو کمښت په څیر مسئلو د حل کولو په اړه خبرې کړې.[431]

- ځو مرکه شویو **د وسله والو شخړو د قربانیانو د حقونو** او د وسله والو شخړو د میراث **په اړه د پوهاوي لوړولو** ته د اړتیا په اړه خبرې کړې. دوی د منځګړیتوب او انتقالي عدالت پروسو، او همدارنګه په جوماتونو او رسنیو کې د پوهاوي لوړولو د کمپاینونو وړاندیز وکړ ترڅو د غچ اخیستلو پر ځای بښنه وهڅول شي، په ټولنو کې همغږي پیاوړې شي، او د معلولیت لرونکو اشخاصو د حقونو په اړه پوهه ښه شي.[432] ځینو مرکه شویو د دې اړتیا په اړه خبرې کړي چې مجرمین عدالت ته حاضر شي او د خپلو جرمونو لپاره مسؤل وګڼل شي.[433] ځینو نادولتي موسسو وویل چې دوی فکر کوي چې په اوسنیو شرایطو کې به د وسله والې شخړې میراث له منځه وړل او د بښنې هڅول ستونزمن وي، ځکه چې خلک ډیرې جدي اړتیاوې لري، لکه سرپناه او مالي مرستې.[434] مرکه شویو دا هم ویلي چې په افغانستان کې اوسنی سیاسي فضا د انتقالي عدالت یا منځګړیتوب لپاره مناسبه نه ده، یوه مرکه شوي وویل:

*"موږ د دې حکومت لخوا د لګول شویو محدودیتونو له امله په آزاده توګه خبرې نه شو کولای. که تاسو خپل نظرونه یا خپلې ستونزې او ننګونې شریکې نه شی کړای، نو د ټولنې ستونزې په ورځني ژوند کې لا پسې زیاتې کیږي. هیڅ داسې اداره نشته چې خلکو ته د دې حق ورکړي چې خبرې بې واوریدل شي. دا محدودیتونه د وسله والې شخړې د میراث په نښه کولو کې د هیواد په وړاندې یو خنډ دی. دوی د هیواد د پرمختګ مخه نیسي."*[435]

# ۹ برخه: پایلې

لکه څنګه چې د دې راپور په پیل کې منل شوي، تر اوسه پورې، په افغانستان کې د وسله والو شخړو د قربانیانو حقونو ته د رسیدګۍ هڅې نابرابرې او په پراخه توګه ناکافي دي. دا کیدای شي د دې واقعیت سره اړخ ولري چې وسله والې شخړې د دې لامل شوي چې نورو مسئلو ته، لکه امنیت ته لومړیتوب ورکړل شي؛ او د تیرو ستونزو د حل لپاره د سیاسي ارادې نشتوالي کوم چې د داسې اشخاصو څخه اغیزمنه ده چې د شخصي ګټو لپاره د بشري حقونو څخه تاریخي سرغړونو او ناوړه ګټه اخیستنو مسئله له پامه غورځوي. هغه شیې چې د قربانیانو د حقونو په اړه د خبرو اترو د پیل لپاره فرصتونه کېدای شو - په ۲۰۰۱ کال کې د بن کنفرانس، په ۲۰۰۵ کال کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د "عدالت غوښتنه"

[425] ۳مه ،۱۹مه، او ۷ مه مرکه
[426] ۶ مه، ۷مه، ۱۴مه ، ۱۷مه، ۱۰مه ، ۸مه، او ۹ مه مرکه
[427] ۲مه ،۳مه، ۴مه ، ۸مه ، او ۱۴مه مرکه
[428] ۲۱مه او ۱۰ مه مرکه
[429] ۳مه او ۲۰ مه مرکه- این بې غوښتنه کړې چې راپور د خپرېدو نه مخکې له هغوی سره شریک شي
[430] ۵مه مرکه
[431] ۴مه او ۱۹ مه مرکه
[432] ۲ مه ، ۱۱ مه او ۳ مه مرکه
[433] ۱۲ مه مرکه
[434] ۵ مه ،۷ مه او ۱۸ مه مرکه
[435] ۱۶ مه مرکه

راپور خپرول، او وروسته د انتقالي عدالت په اړه د حکومت د عمل پلان منظوریدل، په ۲۰۲۰ کال کې د دوحې تړون - پرته له دې چې د افغان ملکي وګړو ته رسیدلي زیان ومنل شي؛ پرته له دې چې د حقیقت، عدالت، جبران، او نه تکرار تضمینونو لپاره داسې میکانیزم جوړ شي چې د قربانیانو حقونو تعریف کړي او واقعي ګامونه پورته کړل شي، تیر شول.

که څه هم په افغانستان کې وسله وال تاوتریخوالي کې د طالبانو له واکمنۍ راهیسې د پام وړ کموالی راغلی، خو د وسله والو شخړو ډیرو قربانیانو وضعیت لاهم خراب دی. د قربانیانو د حقونو د تحقق په برخه کې هیڅ پرمختګ نه دی شوی، او هغه بشري ناورین چې هیواد د طالبانو له واکمنۍ راهیسې ورسره مخ دی، د ځینو قربانیانو لپاره زیانونه لا پسې زیات کړي دي.

افغانستان ته څرګنده اړتیا ده چې د وسله والو شخړو له امله رامنځته شوي کړاوونه په رسمیت وپیژني، خپل تیر سره روغه وکړي، او د نړیوالو حقوقو له مخې د قربانیانو د حقونو د ترلاسه کولو په لور سفر پیل کړي. د قربانیانو غږ باید په دې برخه کې د هر ډول هڅو په محور کې وي او په داسې حال کې چې افغانستان مخې ته اوږد سفر لري، د دې راپور هدف دا دی چې هغه خبرې اترې بیا پرانیزي چې مخکې تګ ته اړتیا لري.

## پر ملکي وګړو د جګړې اغېز

په افغانستان کې ملکي وګړو ته رسېدلی ژور او نه جبرانیدونکی زیان په دې راپور کې شریکو شویو شهادتونو کې څرګند دی. د جګړې په اوږدو کې، یوناما - د افغان مدني ټولنې او نړیوالې ټولنې سره یوځای - په دوامداره توګه د جګړې له ښکیلو خواوو څخه غوښتي چې ملکي وګړو ته د زیان کمولو لپاره کافي اقدامات وکړي. سره له دې، دا څرګنده ده چې ټولې خواوې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د نړیوال قانون له مخې د خپلو مکلفیتونو په پوره کولو کې پاتې راغلي دي.

هغه زیان چې قربانیانو تجربه کړی د ژوند ټولو اړخونو ته شامل کیږي: له فزیکي ټپونو څخه نیولې چې د معلولیت سبب ګرځي، تر اقتصادي زیانونو او د دوی په ټولنیز ژوند او عاطفي حالت باندې اغېزو پورې موارد په کې شامل دي. د وخت په تېرېدو سره سره، د قربانیانو د حقونو او اړتیاوو د پوره کولو لپاره د اقدام نشتوالی پدې مانا دی چې ډیری یې کلونه یا حتی لسیزې وروسته هم اغېزې احساسوي.

## د قربانیانو لخوا د جبران غوښتلو لپاره هڅې

هغه مرکې چې یوناما ترسره کړې - د قربانیانو د غږونو له لارې - دا په ډاګه کوي چې د جګړې ښکیلو خواوو تر کومې کچې رامنځته شوی زیان منلی او مسؤلیت یې پر غاړه اخسیتي دی، او تر کومې کچې، که په هر ډول وي، د عدالت، حقیقت او جبران لپاره د قربانیانو حقونه په پام کې نیول شوي دي.

هغه ننګونې چې د قربانیانو لخوا بحث پرې شوی په عمده ډول د هغو خنډونو او ځنډ په اړه دي چې دوی د مالي او یا د ملاتړ نورو ډولونو په ترلاسه کولو کې د هغو میکانیزمونو له لارې چې د پخواني حکومت له لورې رامنځته شوي وو، ورسره مخ شوي دي، نورې سرچینې لکه غیر دولتي موسسې، د ملګرو ملتونو ادارې، او نړیواله بشري ټولنې یې د دې تشو ډکولو لپاره پریښودې.

د نړیوال بشري حقونو قانون او د نړیوال بشردوستانه قانون په اړه د جدي سرغړونو د قربانیانو لپاره د خسارې او تاوان د حق اساسي اصول او لارښوونې سپارښتنه کوي چې دولتونه باید د قربانیانو د حقونو او حل لارو په اړه د مالوماتو ورکولو لپاره لارې چارې رامنځته کړي، او همدارنګه ټولو قانوني، روغتیایي، رواني، ټولنیز، اداري او نورو چوپړتیاوو ته چې کیدای شي دوی ورته د لاسرسي حق ولري، د مالومات ورکولو لپاره لارې پرانیزي.[٤٣٦] په هرصورت، د مرکه شویو کسانو نیمایي څخه ډیر د پیښې وروسته د شکایت یا دعوې هڅه نه وه کړې، د دې چارې لپاره یې د بیلابیلو خنډونو یادونه کړې - د پروسو په اړه د پوهاوي نشتوالی، بیروکراتیک خنډونه او همدارنګه د دوی نظرونه چې د مرستې غوښتلو هڅه به بې مانا وي او/یا ممکن د دوی په وړاندې د غچ اخیستنې پایله ولري. هغو کسانو چې شکایتونه یې کړي وو، د ځواب په لټه کې یې ګڼ شمیر ادارو ته مراجعه کړې وه، چې دا د واضح لارو او پروسو نشتوالی نور هم روښانه کوي چې له لارې یې کیدای شي قربانیانو د جبران

[٤٣٦] بنسټیز اصول، ۲۴مه ماده

غوښتنه کړې وای. غمجن شوي قربانیان او/یا د دوی خپلوان د جبران په لټه کې په یوه پیچلي او ځورونکې فضا کې پرېښودل شوي وو.

د هغو کسانو په منځ کې چې د جبران غوښتنه یې کړې وه، اکثریت یې د پایلو څخه ناخوښي څرګنده کړې، ډېرو یې ویلي چې دوی هیڅ ځواب نه دی ترلاسه کړی یا د مرستې څخه انکار شوی، دا د هغو میکانیزمونو نه اغیزمنتیا په ډاګه کوي چې هغه وخت یې شتون درلود.

د هغو کسانو په منځ کې چې ځواب یې ترلاسه کړی، ډېرو مرکه شویو د "جبران" د یو ډول د ترلاسه کولو یادونه کړې. دا اصطلاح په جدي ډول په قانوني لحاظ د خسارې جبران لپاره نه ده کارول شوې او قربانیانو ته د بیا ورټیا ورکولو یا هغوي سره نورو مرستو ته اشاره کوي. ترلاسه شوې مرستې په یو ځلي /داوطلبانه مرستې په ډول او همدارنګه هغه مرستو ته شاملېږي چې معلول شوو کسانو ته یا د هغوي د کورنیو غړو ته د طبي پاملرنې او میاشتنۍ مرستې په ډول ورکړل شوې. دا د بېلابېلو ادارو/لوریو څخه لکه د پخواني یا اوسني حکومت، د شخړې نورو خواوو او/یا غیر دولتي سازمانونه له خوا ترلاسه شوې. په هر صورت، مرکه شویو کسانو په مکرر ډول راپور ورکړی چې دوی ته دا ستونزمنه وه چې پوه شي چې له کوم ځای څخه ملاتړ ترلاسه کړي او څنګه پروسه پرمخ بوځي. سربېره پردې، سره د دې چې یو څه ملاتړ ترلاسه شوې خو تر ډېره د رسیدلي تاوان په پرتله ناکافي وو. دا هیڅ روښانه نه ده چې د پیښې او سرغړونې د ماهیت، یا د رامنځته شوي زیان د کچې ارزولو لپاره کومه ارزونه ترسره شوې ده یا نه. هیڅ داسې سیسټم شتون نلري چې د وسله والې شخړې قربانیانو ته هغه ملاتړ چمتو کړي چې دوی ورته اړتیا لري او هغه زیانونو ته رسیدګي وکړي چې دوی د بشري حقونو جدي سرغړونې او ناوړه ګټې اخیستنې له امله تجربه کړي دي.

د ډېرو مرکه شویو څخه چې ښځنه غوښتل شوې وه خو د پیښې مسؤلیت ورسره نه وو منل شوی، هغه لوري ته چې دوی مراجعه کړې وه رامنځته شوې زیان یې "یوې پیښې" ته منسوب کړی وو. نورو یادونه کړې، هغه ښځنه چې دوی ترلاسه کړې د نورو اقداماتو سره مل نه وه، لکه د رسمي عدالت پروسه چې مرتکبین حساب ته حاضر کړي، او له همدې امله دوی ته دا یوه واقعي ښځنه نه وه.[٤٣٧]

ډېرو لږو مرکه شویو چې د عدالت د ترلاسه کولو لپاره یې مسؤلو خواوو ته مراجعه کړې وه، د دوی په نظر، د قناعت وړ پایلې یې ترلاسه کړې وې. په ډېرو مواردو کې، قربانیان نه پوهېدل چې کوم اقدام ترسره شوی دی یا نه. په نورو مواردو کې، قربانیانو له پروسې څخه نارضایتي څرګنده کړې. یوناما د طالبانو له واکمنۍ مخکې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه خپل وروستي راپور کې، پخواني حکومت، نړیوالو پوځي ځواکونو او طالبانو ته یادونه کړې وه چې اړتیا ده په هغو پیښو کې تحقیقات پیاوړي کړي چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل کیږي.[٤٣٨]

که څه هم مرکه شویو ډېری وخت د پخواني حکومت څخه د تاوان د ترلاسه کولو لپاره خپلې هڅې او تجربې شریکې کړې، خو راپورته شوې اندېښنې او مسئلې لا هم د *برحاله* چارواکو سره پاتې دي، چا چې د قربانیانو د حقونو د تحقق لپاره یې کوټلي ګامونه نه دي پورته کړي. د افغانستان د بشري حقونو اړوند مکلفیتونو د ترسره کولو لپاره، د مسؤلینو په توګه، *برحاله* چارواکي د قربانیانو د حقونو د تحقق لپاره لومړنی/اساسي مسؤلیت لري. نور دولتونه چې د شخړې لوري وو هم مکلفیت لري چې د نړیوالو قوانینو څخه، دوی ته منسوب شوو، سرغړونو له امله د رامنځته شوي زیان تاوان ورکړي.

## د قربانیانو اړتیاوو ته رسیدګي

قربانیان باید د وسله والې شخړې وروسته د دوی حقونو ته د رسیدګي لپاره د هر ډول اقداماتو یا پروسو په ډیزاین او پلي کولو کې مرکزي رول ولري.

کله چې له دوی څخه وپوښتل شول چې اوس د دوی لپاره څه مهم دي، تر ټولو عام ځوابونه دا وو: مالي تاوان، عدالت ته لاسرسی او د بیاپیښیدو څخه د مخنیوی هڅې. مرکه شویو معمولا دا ځواب هم ورکړی چې د پیښې د بدلولو یا د دوی د کورنیو وژل شویو غړو راژوندي کولو لپاره هیڅ څه نه شي کیدای. ډېری قربانیان او د هغوي کورنۍ د دوړې ورونکې کس د

[٤٣٧] د بېلګې په توګه، د بنسټیزو اصولو د ۲۲مې مادې (ه) ته وګورئ، چې پکې راغلي دي چې عامه ښځنه باید د حقایقو د منلو او د مسوولیت د قبلولو له څرګندونې سره یو ځای وي.
[٤٣٨] د ۲۰۲۰ کال د ملکي وګړو د خوندیتوب راپور(، مخونه ۹۲ – ۹۶.

مړينې يا بې وسه کېدو له امله، د کورونو او ملکيتونو ويجاړېدلو او عزيزانو ته يې د روغتيايي پاملرنې لګښتونو له امله، سخت مالي حالت سره مخ شوي دي. دا د مرکه شويو لومړيتوبونه په ګوته کوي چې د يوناما سره يې شريک کړي. په هرصورت، قربانيان د بيلابيلو سرغړونو څخه کړېدلي او يو لړ اړتياوې او لومړيتوبونه لري، چې د وخت په تېرېدو سره کېداي شي بدل شي.

## د وسله والو شخړو د قربانيانو لپاره د ملاتړ شته ډولونه

که څه هم په عمومي توګه، هغه *برحاله* چارواکي چې مرکې ورسره شوې دا يې منلې چې قربانيان ملاتړ ته سخته اړتيا لري، خو دوی تر ډېره په تيرو شخړو کې ملکيانو ته د اوښتي زيان په اړه د طالبانو د رول د منلو څخه انکار کړی. دوی همدارنګه په افغانستان کې د *برحاله* چارواکو په توګه د خپلو مسؤليتونو په اړه هم پاملرنه نه ده کړې چې د وسله والو شخړو د قربانيانو د حقونو د تحقق لپاره ګامونه پورته کړي. په هرصورت، دوی د ځينو ننګونو په اړه ځانګړي ليدلوري وړاندې کړې چې دوی په ولايتي کچه د قربانيانو حقونو ته د رسيدګۍ پر مهال تجربه کړي، کوم چې په عموم کې د قربانيانو او غيردولتي موسسو د لومړيتوبونو سره سمون لري.

# ۱۰ برخه: سپارښتنې

په افغانستان کې اوږده جګړه او د ښکيلو اړخونو شمير، او د هيواد اوسني سخت بشري وضعيت په نظر کې نيولو سره، د قربانيانو حقونو ته د رسيدګۍ لپاره يوه همغږې تګلاره اړينه کوي. دا هم اړينه ده چې ټول ښکيل اړخونه، ملکي وګړو ته رسيدلي زيان کې خپل رول ومني او د تيرو غلطيو د سمولو لپاره مسؤليت په غاړه واخلي. *برحاله* چارواکي مسؤليت لري چې د افغانستان مکلفيت د نړيوالو بشري حقونو په اړه ترسره کړي. د نړيوالو حقوقو له مخې، نور دولتونه چې د شخړې لوري وو هم مکلف دي چې د نړيوالو حقوقو له مخې دوی ته منسوب شوو سرغړونو له امله رامنځته شوي زيانونه جبران کړي.

په افغانستان کې د اوسني وضعيت په پام کې نيولو سره -- د مرستو کړکيچ چې د مرستو د کميدو او په *برحاله* چارواکو بانديې د لګول شويو بنديزونو سره لا زياتيږي-- د جګړې پخوانيو خواوو ته واضح اړتيا ده څو د داسې يوه نوښت ملاتړ وکړي چې د قربانيانو حقونه تحقق پيدا کړي، په ځانګړې توګه د جبران په اړه.

دا هم بايد ومنل شي چې د بشري حقونو په اړه د *برحاله* چارواکو اوسنيو پاليسيو، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو د حقونو په اړه، د يو شمير غړو دولتونو سره - د هغو دولتونو په ګډون چې د جګړې خواوې وې او/يا يې په افغانستان کې د وسله والې شخړې پرمهال ونډه اخيستې وه - د دوی د ښکيلتيا مخه نيولې ده. دا د وسله والو شخړو د قربانيانو د حقونو په اړه د ګډې ښکيلتيا لپاره هم ننګونې رامنځته کوي. په هر حال، د نورو مسئلو په اړه لکه د مخدره توکو سره د مبارزې او خصوصي سکتور لپاره د ښکيلتيا ځينې لارې رامنځته شوي کوم چې کېدای شي د قربانيانو د حقونو په اړه د *برحاله* چارواکو او غړو دولتونو ترمنځ د ښکيلتيا لپاره يو ماډل په توګه وکارول شي.[۴۳۹] له همدې امله، دا سپارښتنې په داسې ډول ترتيب شوي چې د *برحاله* چارواکو او غړو دولتونو ترمنځ تعامل او همکاري مجسم کړي، کومو چې د افغانستان په وسله واله شخړه کې برخه اخيستې وه. *برحاله* چارواکي او غړي دولتونه به په افغانستان کې د قربانيانو د حقونو د تحقق لپاره تر يوې کچې ژمنتيا او ښکيلتيا ته هم اړتيا ولري.

په دې راپور کې وړاندې شوې سپارښتنې د لومړنيو ګامونو يوه ټولګه وړاندې کوي چې بايد په افغانستان کې د قربانيانو د حقونو د تحقق لپاره واخيستل شي. دا سپارښتنې د انتقالي عدالت لپاره د يوې هراړخيزې طرحې د وړاندې کولو هڅه نه کوي، ځکه چې دا ډول پروسه بايد لومړی او د ټولو په سر کې د قربانيانو او د هغوی د کورنيو سره په مشوره ترسره شي ترڅو يوه هراړخيزه، له کلتوري پلوه مناسبه، او د قربانيانو په محوريت باندې ولاړه لار يقيني کړي. دا هم اړينه ده چې په افغانستان کې د قانوني، اداري او نورو چوکاټونو بشپړه بياکتنه ترسره شي ترڅو داسې چاپيريال جوړ شي چې د قربانيانو لپاره د

[۴۳۹] د امنيت شورا د ۲۶۷۹ (۲۰۲۳) پريکړه ليک (S/۲۰۲۳/۸۵۶، ضميمه) سره سم د افغانستان په اړه د خپلواکې ارزونې سپارښتنو او د افغانستان په اړه د ځانګړو استازو د دريمې غونډې په اړه د بحثونو وروسته، چې د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳۰ او د جولای په لومړۍ نېټه په دوحه کې ترسره شوه، يوناما د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او د خصوصي سکتور په اړه يوه کاري ډله پيل کړه. وګورئ: د افغانستان وضعيت او د نړيوالې سولې او امنيت لپاره د هغې اغيزې - د عمومي منشي راپور [EN/AR/RU/ZH] (A/۷۹/۷۹۷-S/۲۰۲۵/۱۰۹).+

رښتیا، عدالت او زیان ترلاسه کولو آسانتیا رامنځته شي. له همدې امله اړینه ده چې په دې راپور کې د لیکل شوو سپارښتنو ورهاخوا د قربانیانو د حقونو د تحقق لپاره نورې هڅې هم ترسره شي.

## مشوره

د قربانیانو د حقونو د ترلاسه کولو لپاره باید دوی، د دوی غږونه او د دوی لومړیتوبونه، د هر ډول هڅو په محور کې وي. د قربانیانو لپاره مهمه ده چې د جبران د ترلاسه کولو اړوند پروګرامونو او پالیسیو په ډیزاین او پلي کولو کې ګډون وکړي. په داسې حال کې چې دا راپور کولای شي د وسله والې شخړې د قربانیانو اړتیاوو د پوهیدو لپاره د پیل ټکي په توګه کار وکړي، په دې اړه لا ډیرې سلا مشورې او بحثونه اړین دي.

**سپارښتنې:**

۲۳. د افغانستان *برحاله* چارواکي باید د وسله والو شخړو له قربانیانو سره د هغوی د اړتیاوو په اړه مشورې وکړي او د دې مشورو پر بنسټ، د قربانیانو لپاره د جبران او نورو مرستو لپاره هراړخیز پلانونه جوړ کړي. مشورې باید ټول ګډونه او د جنسیت برابري په کې رعایت شي، او باید د ټولو ګډونوالو خوندیتوب، امنیت او محرمیت خوندي وساتي.

۲۴. *برحاله* چارواکي باید د شته ادارو د ظرفیت بشپړه بیاکتنه وکړي ترڅو په اداري او قانوني چوکاټونو کې د تشو پېژندلو په ګډون، هغو قربانیانو ته د خسارې جبران ورکړي چې د جګړې اړوند نړیوالو حقوقو څخه سرغړونې له امله زیانمن شوي وي.

## د حقیقت غوښتونکي

په حقیقت باندې د پوهیدلو حق قربانیانو، د هغوی خپلوانو او عامو خلکو ته دا حق ورکوي چې د قرباني کیدو لاملونو په اړه مالومات وغواړي او ترلاسه یې کړي او همدارنګه د نړیوالو بشري حقونو د سترو سرغړونو او د نړیوال بشردوستانه قانون سرغړونو اړوند لاملونو او شرایطو په اړه مالومات ترلاسه کړي، او د دغو سرغړونو په اړه له واقعیته خبر شي. په دې کې د هغو قربانیانو د برخلیک او ځای په اړه مالومات شامل دي چې کیدای شي ورک شوي وي، د مثال په توګه، د مرتکبینو هویت او تر هغه ځایه چې کیدای شي دغه سرغړونه په رسمي ډول منظور شوې وي.

د حقیقت موندلو اړوند نوښتونه د قربانیانو د حقونو د تحقق لپاره خورا مهم دي ځکه چې دوی د سرغړونو د ثبتولو سربېره کولای شي د قربانیانو د تجربو په پېژندلو کې مرسته وکړي ترڅو هغوی ته دا فرصت برابر کړي چې دوی سره ترسره شوو پیښو په اړه خبرې وکړي او هغه زیان چې دوی ورسره مخ شوي دي، ویې مني.

**سپارښتنې:**

۲۵. د افغانستان *برحاله* چارواکي باید داسې یو میکانیزم رامنځته کړي چې له لارې یې قربانیان، د هغوی خپلوان او عام خلک وکولای شي مالومات ترلاسه کړي او د سرغړونو په اړه له حقیقت څخه خبر شي.

## د خسارې جبران

د نړیوالو بشري حقونو او بشردوستانه قوانینو د جدي سرغړونو قربانیانو سره د ملاتړ لپاره تاوان خورا مهم دی ځکه چې دا د هغوی د ځورونکو تجربو د سختو اغیزو په کمولو کې مرسته کوي. د تاوان د جبران په پروګرام کې، دولت د سرغړونې پیښې څخه رامنځته شوی زیان ومني، مسؤلیت یې په غاړه واخلي او له قربانیانو ته ګټې او امتیازات وړاندې کړي.

په دې راپور کې له قربانیانو سره د مرکې پر مهال څرګنده شوه چې د تاوان جبران چې تر ډیره د مالي تاوان په بڼه د هغوی د زیانونو د جبران لپاره ترسره کېږي د دوی لپاره یو مهم لومړیتوب دی. د جبران نورو بڼو په اړه هم خبرې شوي، لکه د زده کړې، روغتیا، او کورونو او په عموم کې د استوګنې د برخې (تاوان)، د روغتیایي او رواني پاملرنې ته اړتیا (بیا ورکول)، او د ورکو شویو کسانو د موندلو هڅې (رضایت).

روښانه ده چې قربانیان بېلابېلې اړتیاوې لري؛ هغوی د سرغړونو بیلابیلو ډولونو سره مخ شوي او اړتیاوې او لومړیتوبونه یې یو له بل سره توپیر لري. د تاوان بڼه باید د قرباني او د هغوی د کورنۍ د ځانګړې وضعیت له مخې وټاکل شي. تاوان کولای

شي د افرادو ترڅنګ د ډلو، پرګنو او حتی سیمو لپاره هم وټاکل شي. تاوان بیا په خپل وار د بشري مرستو او/یا د پراختیایي مرستو د تکمیلي پروګرامونو په طرحه او جوړښت کې مرسته کولای شي.

**سپارښتنې:**

۲۶. د قربانیانو د سلا مشورو او اړتیاوو پر بنسټ، د افغانستان *برحاله* چارواکي باید د جبران او د قربانیانو د مرستې هراړخیز پروګرامونه جوړ کړي.

۲۷. *برحاله* چارواکي باید له هغو پخوانیو خواوو سره چې د افغانستان په جګړه کې ښکیل وو او قربانیانو ته مسؤلیتونه هم لري، د تاوان او د قربانیانو د مرستې د پروګرامونو په جوړولو کې د همکاري لارې ولټوي.

۲۸. غړي دولتونه باید هغه مالي مرسته افغانستان ته ځانګړې کړي چې د وسله والو شخړې د قربانیانو د اړتیاوو او لومړیتوبونو پر اساس برابره شوې وي.

## د تکرار د مخنیوي تضمینونه

ډیرو مرکه شویو په پرله‌پسې توګه ټینګار کړی چې باید د دوی تجربې په راتلونکي کې بیا تکرار نه شي. دا "د تکرار د مخنیوي تضمینونو" له مفکورې سره سمون لري، چې له دولتونو غواړي د سرغړونو د بیا تکرار د مخنیوي لپاره عملي او محسوس اقدامات وکړي.[۴۴۰] دا په خپل وار سره اداري/حکومتي او ټولنیزو اصلاحاتو ته اړتیا لري تر څو داسې چاپیریال رامنځته کړي چې بشري حقونه او نړیوال بشردوستانه حقونه خوندي او درناوی یې تضمین شي.

**سپارښتنې:**

۲۹. *برحاله* چارواکي باید د نړیوالو معیارونو او اصولو سره سم د "وړتیا ارزونه" پروسه تطبیق کړي څو هغه کسان چې د نړیوالو بشري حقونو قانون او نړیوال بشردوستانه قانون نقض کړی، له امنیتي ځواکونو څخه لرې کړل شي.

۳۰. *برحاله* چارواکي باید امنیتي ځواکونه ته، د قانون پلي کوونکو ادارو کارکوونکو په ګډون، د نړیوالو بشري حقونو قانون او نړیوال بشردوستانه قانون مسلکي روزنه برابره کړي.

۳۱. *برحاله* چارواکي باید د افغانستان د نړیوالو بشري حقونو د ژمنو د پلي کولو لپاره لازم اقدامات ترسره کړي تر څو د بشري حقونو درناوی، خوندیتوب او پوره کول یقیني شي، په ګډون د:

**د.** هغه تبعیضي فرمانونه او مقررات لغوه کول چې د ښځو او نجونو بشري حقونه او بنسټیزې ازادۍ محدودوي، د هغوی د ثانوي او لوړو زده کړو او د کار فرصتونو پر لاسرسی لګیدلي بندیزونه لرې کول، د تګ راتګ ازادي ته یې درناوی، او د دوی د ورځنی ژوند په چارو کې له لاسوهنې څخه ډډه کول؛

**ز.** ډاډ ترلاسه کول چې د *برحاله* چارواکو له لوري صادر شوي ټول قوانین، تګلارې، فرمانونه او نورې لارښوونې د نړیوالو بشري حقونو له قانون سره سمون ولري؛

**ر.** د بشري حقونو د سرغړونو د مخنیوی لپاره په بیړې سره قانوني، د پالیسی په بڼه او عملی ګامونه اخیستل، په ځانګړي ډول د ناقانونه وژنو، خپلسرو نیونو، توقیفونو، شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي لپاره، او د نړیوالو بشري حقونو د اصولو سره سم د سرغړونو د ترسره کېدو پر مهال حساب ورکونه یقیني کول.

۳۲. *برحاله* چارواکي او د جګړې ټول پخواني اړخونه باید بېړني اقدامات ترسره کړي څو ناچاودو توکو او پرېښودل شوو چاودېدونکې توکو له امله رامنځته کیدونکي خطرونه له منځه یوسي، چې ماین پاکي، عامه پوهاوی، او د ټولنې د خلکو د خبرولو لپاره د پوهاوي کمپاینونه په کې شامل دي.

[۴۴۰] بنسټیز اصول، ۲۴مه ماده

## د تحقیقاتو او څېړنو اړوند مسؤلیتونه

دولتونه د نړیوالو بشري حقونو قانون او نړیوال بشردوستانه قانون له مخې مکلف دي چې د ادعا شویو سرغړونو تحقیقات او څېړنې ترسره کړي. د جنایي مواردو حساب ورکونه – چې په دې کې د مرتکبینو څخه تحقیقات او څېړنې شامل دي – د ډېرو مرکه شویو له لوري یو مهم لومړیتوب په توګه یاد شوی دی. خو هغوی معمولا په دې هم اندېښنه ښودلې چې دا بهیرونه معمولاً بېطرفانه نه وي او ښايي د غچ اخیستنې یا ځورونې د خطر سبب شي.

**سپارښتنې:**

۳۳. *برحاله* چارواکي باید داسې میکانیزمونه رامنځته کړي چې د وسلهوالو شخړو پر مهال د بشري حقونو د نړیوال قانون او نړیوال بشردوستانه قانون څخه د ادعا شویو سرغړونو د ترلاسه کولو او تحقیقاتو لپاره اغیزمنې وي.

۳۴. ټول هغه غړي دولتونه چې پوځي ځواکونو یې په افغانستان کې حضور درلود، باید ډاډ ترلاسه کړي چې د خپلو ځواکونو له لوري په افغانستان کې د بشري حقونو د نړیوال قانون او نړیوال بشردوستانه قانون د ادعا شویو سرغړونو خپلواکه او بې طرفانه تحقیقات او څېړنې، د نړیوالو معیارونو سره سم، ترسره کوي.

## جبري ورکېدنې

د هغو کسانو د کورنیو غړي چې د شخړې پر مهال په اجبار سره ورک شوي، لا هم د خپلو خپلوانو د برخلیک په اړه له مالوماتو محروم دي. دوی حق لري چې د خپلو خپلوانو د برخلیک او ځای په اړه مالومات ولري.

**سپارښتنې:**

۳۵. *برحاله* چارواکي باید د جبري ورکېدنې څخه د ټولو خلکو د مخنیوي د نړیوال کنوانسیون د مکلفیتونو د منلو په اړه غور وکړي.

۳۶. *برحاله* چارواکي باید داسې میکانیزمونه رامنځته کړي چې د جبري ورکېدنې د ادعاوو د ترلاسه کولو او تحقیقاتو امکان برابر کړي، د کورنیو اړتیاوې یې پوره کړي، هغوی ته د خپلو عزیزانو د برخلیک او ځای په اړه مالومات ورکړي او د تاوان مناسبې لارې چمتو کړي.

۳۷. د وسلوالې شخړې ټول لوري باید د ورکو کسانو (ژوندي یا مړه) د ځای او وضعیت په اړه هر ډول موجود ریکارډونه یا مالومات وړاندې کړي.

## د قربانیانو اړتیاوو ته رسېدنه

*برحاله* چارواکي د خلکو د بشري حقونو د تأمین مسؤلیت لري، په ځانګړي ډول د خوړو، مناسب کور، زده کړه، روغتیا، ټولنیز امنیت، اوبو، حفظالصحې او کار حقونه. د وسلهوالې شخړې قربانیان د هغو زیانونو له امله چې ورسره مخ شوي، ځرګندې اړتیاوې لري—لکه مشورتي خدمتونه، د خپلو ټپونو دوامداره تداوي، او د هغو کورونو او کاروبارونو بیارغونه چې په جګړه کې ویجاړ یا زیانمن شوي دي.[441] ډېرو مرکه شویو قربانیانو ویلي چې دوی تر اوسه داسې ملاتړ نه دی ترلاسه کړی او نه پوهېږي چې دا ډول ملاتړ له کومه ځایه او څنګه ترلاسه کړي. *برحاله* چارواکو او د چوپړتیاوو د وړاندې کولو اړوند بنسټونو هم د قربانیانو لپاره د شته مرستو په ډولونو او پراخوالي کې د پام وړ تشې یادې کړې دي.

**سپارښتنې:**

۳۸. *برحاله* چارواکي باید د شهیدانو او معلولینو د چارو له وزارت سره په همغږۍ د وسله والې شخړې د قربانیانو لپاره د موجودو ملاتړونو او چوپړتیاوو د مالومولو لپاره یوه هراړخیزه ارزونه ترسره کړي.

[441] د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال تړون، د ۱۹۶۶ کال د دسمبر ۱۶مه.

۳۹. *برحاله* چارواکي باید د شهیدانو او معلولینو د چارو له وزارت سره په همغږۍ د وسله والې شخړې له قربانیانو سره مشورې وکړي تر څو د هغوی اړتیاوې او هغوی ته اړینې چوپړتیاوې په سمه توګه وپېژني. دا مشورې باید ټول ګډونه وي، د جنسیت له پلوه متوازنې، بې‌طرفه او د ټولو ګډونوالو محرمیت او امنیت تضمین کړي.

۴۰. *برحاله* چارواکي باید د وسله‌والې شخړې د قربانیانو لپاره د موجودو چوپړتیاوو په اړه مالوماتي سرچینې او لارښوونې جوړې کړي او دغه مالومات په پراخه او عادلانه توګه ټولنې ته ورسوي.

## د جګړې له امله د معلولو شویو کسانو ځانګړو اړتیاوو ته رسېدنه

د معلول شوو کسانو د حقونو نړیوال کنوانسیون، چې افغانستان یې غړی دی، *برحاله* چارواکي مکلف کوي چې داسې ګامونه واخلي چې معلول کسان وکولای شي د نورو په څېر په مساوي ډول په خپل ټولنیز ژوند کې ګډون وکړي. د وسله والو شخړو هغه قربانیان چې د شخړو له امله معلول شوي، دوه مهمې مسئلې یې یادې کړې دي: د تبعیض تجربه او کارموندنه کې خنډونه.

**سپارښتنې:**

۴۱. *برحاله* چارواکي دې د عامه پوهاوي کمپاینونه او فعالیتونه پر لاره واچوي تر څو د معلول شوو کسانو د حقونو په اړه د پوهاوي کچه لوړه او په ټولنه کې منفي ذهنیتونه، تعصبونه او غلطې انګیرنې له منځه یوړل شي.

۴۲. *برحاله* چارواکي دې هغه ګامونه واخلي چې د معلولینو ګډون په کاري بازار کې تضمین کړي، د بېلګې په ډول: د معلولیت پر بنسټ د هر ډول کار په اړه د تبعیض منع کول، په عامه سکتور کې د معلولیت لرونکو کسانو استخدام او د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنیزو پروګرامونو ته د هغوی د لاسرسي تضمینول.

## د وسله والې شخړې له امله اغېزمنو شوو ښځو او نجونو ځانګړو اړتیاوو ته رسېدنه

نږدې ټولې هغه ښځې چې د دې راپور لپاره ورسره مرکې شوي او د وسله والې شخړې په ترڅ کې یې نارینه خپلوان قرباني شوي، ویلي چې دوی د خپلې کورنۍ د ملاتړ لپاره د کار زمینه غواړي. خو د *برحاله* چارواکو له لوري پر ښځو او نجونو لګول شوي محدودیتونه هغوی د کار په مارکېټ کې له ډېرو برخو (په ځانګړي ډول ملکي خدمتونو) څخه محرومويٍ.[٤٤٢]

**سپارښتنې:**

۴۳. *برحاله* چارواکي دې د ښځو د ګډون لپاره ګامونه واخلي، په ځانګړي ډول: د جنس او جنسیت پر بنسټ د هر ډول تبعیض منع کول؛ ښځو ته د پوهنتون، تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنیزو پروګرامونو ته د بشپړ او برابر لاسرسي تضمینول.

۴۴. *برحاله* چارواکي دې هغه محدودیتونه لرې کړي چې ښځو لپاره د کار په مارکېټ کې ګډون محدودوي، په ځانګړي ډول:
**د)** د شپږم ټولګي څخه پورته د ښځو او نجونو په زده کړو بندیز، او همدارنګه په طبي انستیتیوتونو کې د ښځو په زده کړو بندیز؛
**ذ)** له ۷۸ کیلومترو څخه د زیات سفر لپاره د محرم شرط؛ (
**ر)** د ښځو پر کار بندیز، په ځانګړي ډول په غیر دولتي سازمانونو او د عامه خدمتونو په ډېرو برخو کې.

[٤٤٢] دبرحاله چارواکو لخوا د لګول شوو محدودیتونو په اړه، وګورئ :یوناما، *په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت تازه معلومات: د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر – دسمبر* (۲۷ جنوري ۲۰۲۵)، ضمیمه :د *de facto واکمنو له‌خوا د هغو پرېکړو مهالوېش چې پر ښځو او نجونو اغېز کوي.*
لاسرسی لري په: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/human_rights_situation_in_afghanistan_october_-_december_٢٠٢٤_-_english.pdf.


# الف ضمیمه: د مرکه شویو ډیموګرافیک ویش

د ۲۰۲۴ کال د جون او ۲۰۲۵ کال د ډسمبر تر منځ، یوناما له ۱۹۵ کسانو سره د وسله والو شخړو د اوږدمهاله اغېزو په اړه مرکې وکړې. د ۱۹۵ کسانو له ډلې څخه، ۵۲ (۲۸ سلنه) یې ښځې وې .


سره د دې چې یوناما خپله نهایي هڅه کړې تر څو د مرکه شویو تنوع د جنیست، عمر، قومیت، جغرافیوی موقعیت، او د پیښو د ډولونو له پلوه چې دوی یې زیانمن کړي، یقیني کړي.

یوناما د افغانستان د ۳۲ ولایتونو له خلکو سره مرکې کړې دي.[۴۴۳] په لاندې ګراف کې د مرکه شویو جغرافیایي ویش ښودل شوی دی.


## د مرکو جغرافیایي ویش




[۴۴۳] د افغانستان ټول ولایتونه پرته له پنجشیر او نورستان ولایتونو څخه.





په دې مرکو کې هغه پېښې شاملې دي چې د ۱۹۹۴ او ۲۰۲۱ کالونو ترمنځ رامنځته شوې دي. ټولې پېښې د طالبانو د واکمنۍ (۱۵ اګست ۲۰۲۱) څخه مخکې رامنځته شوې دي




د مرکه شویو په وینا د پېښو مرتکبین په لاندې ډول ښودل شوي دي.

ځینې پېښې د یو څخه زیاتو مرتکبینو ته منسوبې شوې دي، ځکه مسؤلین نه دي مشخص شوي (د مثال په توګه، هغه مواردو کې چې د جګړې دواړو اړخونو ترمنځ د ځمکنۍ نښتې له امله ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې وې).


ناپېژندل شوي
۱۶
طالبان
۸۰
ناپېژندل شوي حکومت پلوه ځواکونه
۲
شمالي ائتلاف
۵
د ملي امنیت ریاست
۹
نړیوال پوځي ځواکونه
۱۸
داعش
۱۴
اربکیان/ حکومت پلوي ملیشه
۶
افغان ملي امنیتي ځواکونه
۲۶
افغان ملي پولیس
۹
افغان ملي اردو
۳۳
افغان محلي پولیس
۱
ناپیزندل شوي د حکومت ضد عناصر
۱۴
۰ ۱۰ ۲۰ ۳۰ ۴۰ ۵۰ ۶۰ ۷۰ ۸۰ ۹۰
حکومتي پلوي ځواکونه
نور
طالبان

# ب ضمیمه: د *برحاله* چارواکو د بهرنیو چارو وزارت یاداښت

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**نېټه:** ۱۴۴۸/۰۲/۱۹

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (UNAMA) د بشري حقونو څانګې د «هېر شوي: د افغانستان د وسله والې جګړې وروسته د قربانیانو حقونه» تر سرلیک لاندې د راپور د مسودې په اړه د افغانستان د اسلامي امارت ملاحظات او ځواب؛

د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (UNAMA) د بشري حقونو څانګې له خوا د «هېر شوي: د افغانستان د وسله والې جګړې وروسته د قربانیانو حقونه» تر سرلیک لاندې راپور له موږ سره د شریکولو څخه مننه کوو. راپور مو په دقت سره مطالعه کړ. موږ د جګړو د قربانیانو د وضعیت انعکاس، د هغوی د ستونزو مطرح کول او د هغوی د حقونو د تأمین لپاره هر هغه صادقانه او بې پرې اقدام ستایو چې د قربانیانو د ژوند د ښه والي او د هغوی د مشروع حقونو د تحقق سبب شي. دا یو څرګند حقیقت دی چې د افغانستان څو لسیزې جګړو د میلیونونو افغانانو پر ژوند ژورې فزیکي، رواني، ټولنیزې او اقتصادي اغېزې کړې دي، او دا واقعیت باید په بشپړ ډول درک شي.

سره له دې، زموږ په اند راپور په ګڼو برخو کې د تاریخي واقعیتونو د بشپړ انعکاس، حقوقي دقت، د مسئولیتونو د متوازن وېش او د موضوعاتو د بې‌پرې ارزونې له پلوه له جدي نیمګړتیاوو سره مخ دی. د جګړې د بېلابېلو ښکېلو اړخونو د مسئولیتونو په انعکاس کې یو شان معیار نه دی رعایت شوی، چې زموږ په اند د راپور پر توازن، حقوقي دقت او هر اړخیز انعکاس یې اغېز کړی دی. له همدې امله، لاندې مشاهدې او ملاحظات وړاندې کوو.

۱. **د جګړې د اصلي علت او مسئولیت په اړه:**

راپور د جګړې د ناوړه پایلو یادونه کړې، خو د دغو پایلو اصلي لامل یې په کافي او څرګند ډول نه دی بیان کړی. د افغانستان د خلکو پر وړاندې د رامنځته شوو پراخو زیانونو، مرګ‌ژوبلې، بې‌ځایه کېدو، رواني صدماتو او ټولنیزو ستونزو اساسي لامل د افغانستان پر وړاندې بهرنۍ پوځي مداخله وه، چې د امریکې متحده ایالاتو او د هغوی د نړیوال ائتلاف له پوځي یرغل سره پیل شوه او د شلو کلونو لپاره یې د افغانستان خپلواکي او حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او د افغان ولس اساسي حقونه تر اغېز لاندې راوستل. که دغه پوځي مداخله نه وای رامنځته شوې، افغانستان به له دې کچې ناورین سره نه مخ کېده.له همدې امله، د جګړې د قربانیانو، بشري زیانونو او ویجاړیو د ارزونې پر مهال باید د جګړې د پیل، دوام او پراختیا اساسي مسئولیت هم د هغو دولتونو او ځواکونو پر غاړه وېټندل شي چې د جګړې بنسټیز عاملین وو. د نړیوالو حقوقو او د دولتونو د نړیوال مسئولیت د اصولو له مخې، د جګړې د پایلو، تلفاتو او رامنځته شویو زیانونو په اړه لومړنۍ مسئولیت هغو لوریو ته راجع کېږي چې جګړه یې پیل کړې او د هغې د دوام اساسي لامل ګرځېدلي دي.

۲. **د جګړې د حقوقي ماهیت په اړه:**

د راپور د شالید په برخه کې د افغانستان جګړه د څو «کورنیو وسله‌والو جګړو» په توګه تعریف شوې، حال دا چې دا اصطلاح د تاریخي او حقوقي واقعیتونو انعکاس نه کوي. څنګه کیدای شي د امریکې متحده ایالاتو، ناټو او لسګونو نورو هېوادونو د پوځیانو، جنګي الوتکو، استخباراتي شبکو، ځانګړو ځواکونو، مستقیمو عملیاتو، هوایي بریدونو او پراخو نظامي مداخلو واقعیت له پامه وغورځول شي او جګړه د نړیوالې وسله والې جګړې پر ځای کورنۍ وسله واله جګړه وبلل شي .

اسلامي امارت له لومړۍ ورځې دغه جګړه د بهرني اشغال پر وړاندې مشروع مقاومت باله او په همدې اساس یې تل د جګړې پر نړیوال ماهیت ټینګار کړی دی. له همدې امله، اړینه ده چې د جګړې د حقوقي ماهیت ارزونه د نړیوالو حقوقو له معیارونو سره په مطابقت او له بشپړ حقوقي دقت سره ترسره شي.

### ۳. د جګړې د نه تکرار، سولې او عمومي عفوې په اړه:

راپور د موندنو له مخې د جګړې ډېری قربانیان د تاوتریخوالي د نه تکرار، تلپاتې سولې او ثبات غوښتونکي دي. دا غوښتنه د اسلامي امارت له پالیسۍ سره همغږي لري. د همدې موخې د تحقق لپاره اسلامي امارت عمومي عفوه اعلان کړه، څو د انتقام، دښمنۍ او نویو شخړو مخه ونیول شي، د جګړې پای ته زمینه برابره شي او د روغې جوړې، ټولنیز یووالي او دوامدار ثبات لپاره مناسب چاپېریال رامنځته شي.

سره له دې، راپور څرګندوي چې دغه عمومي عفوه د افغانستان له نړیوالو مکلفیتونو سره اړخ نه لګوي. په همدې اساس، د راپور هغه برخې او سپارښتنې چې په مستقیم یا غیرمستقیم ډول د عمومي عفوې مشروعیت، اغېزمنتیا یا دوام تر پوښتنې لاندې راولي، یا داسې اقدامات وړاندیز کوي چې په عملي توګه د دې پالیسۍ د کمزوري کېدو سبب ګرځي، د جګړې د قربانیانو له څرګندې غوښتنې، یعنې د تاوتریخوالي د نه تکرار او د تلپاتې سولې د ټینګښت له موخې سره همغږي نه لري.

د اوږدې جګړې له پای وروسته، لومړیتوب باید د سولې ټینګښت، روغې جوړې او د شخړو د بیا راژوندي کېدو مخنیوی وي. په همدې اساس، عمومي عفوه د جګړې د دوام وسیله نه، بلکې د جګړې د پای، د متقابل باور د بیاورتیا او د ټولنې د یووالي لپاره یو مهم تدبیر دی. هره داسې سپارښتنه چې په عملي توګه د دې پالیسۍ اغېز کمزوری کړي یا د تقابلي او انتقامي چلند د بیا رامنځته کېدو زمینه برابره کړي، د تلپاتې سولې، ټولنیز ثبات او د جګړې د نه تکرار له موخو سره په ټکر کې واقع کېږي.

### ٤. د قربانیانو څخه د بخښنې غوښتنې او د مسئولیت منلو په اړه:

راپور د ځینو قربانیانو هغه غوښتنه منعکس کړې چې مسئولین او مرتکبین باید د خپلو کړنو مسئولیت ومني او له قربانیانو څخه بخښنه وغواړي. دا غوښتنه، په اصل کې، باید هغو ټولو لوریو ته متوجه وي چې د افغانستان د څو لسیزو جګړو پر مهال یې د نړیوال بشري حقونو او نړیوال بشردوستانه حقوقو د سرغړونو او د ملکي وګړو د زیانمنېدو مسئولیت درلود.

خو راپور دا غوښتنه تر ډېره یوازې اسلامي امارت ته متوجه کړې، په داسې حال کې چې د جګړې اصلي ښکېل بهرني دولتونه، د هغوی پوځي ځواکونه او نورې وسله‌والې ډلې چې د جګړې په اوږدو کې د پراخو تلفاتو، ویجاړۍ او سرغړونو مسئول ګڼل کېږي، په ورته ډول نه دي مخاطب شوي. هغه دولتونه او بهرني پوځي ځواکونه چې په افغانستان کې یې پوځي عملیات ترسره کړي او د جګړې په اوږدو کې د پراخو بشري زیانونو سبب ګرځېدلي، باید د خپلو کړنو مسئولیت ومني، له افغان ولس او قربانیانو څخه رسمي بخښنه وغواړي او د جګړې د زیانونو د جبران لپاره عملي او اغېزمن اقدامات ترسره کړي.

### ٥. د راپور په مسوده کې د پنځمې سپارښتنې په اړه:

راپور د خپلې پنځمې سپارښتنې له مخې له اسلامي امارت څخه غواړي چې له پخوانیو ښکېلو اړخونو او د شخړې له ټولو اړوندو لورو سره د قربانیانو د جبران، تاوان ورکولو او د مرستو د پروګرامونو د جوړولو په برخه کې همغږي او همکاري وکړي.

د جګړې په اوږدو کې د بهرنیو دولتونو او ځواکونو د اساسي رول په پام کې نیولو سره، مناسب به دا وای چې یوناما په لومړي ګام کې له نړیوالې ټولنې او هغو دولتونو څخه غوښتنه کړې وای چې د قربانیانو د جبران او ملاتړ لپاره اړینې مالي او تخنیکي سرچینې برابرې کړي، او وروسته له اسلامي امارت څخه وغوښتل شي چې د دغو مرستو د رسېدو لپاره لازم شرایط او اسانتیاوې برابرې کړي، څو مرستې په شفاف، عادلانه او اغېزمن ډول د افغانستان قربانیانو ته ورسېږي.

### ۶. د قربانیانو د ملاتړ او جبران مسئولیت:

راپور د قربانیانو د ملاتړ او جبران لپاره د سرچینو او امکاناتو د کمښت یادونه کړې، خو د دې موضوع په اړه یې د مسئولیتونو بشپړ او متوازن انځور نه دی وړاندې کړی. د نړیوالو حقوقي، اخلاقي او بشري اصولو له مخې، د قربانیانو د جبران، بیارغونې او دوامدار ملاتړ لومړنی مسئولیت باید هغو دولتونو او لورو ته متوجه وي چې په افغانستان کې یې د جګړې، پوځي عملیاتو او د پراخو بشري او مادي زیانونو په رامنځته کېدو کې مستقیم رول درلود. همدغه لوري باید د جګړې د پایلو د جبران، د قربانیانو د ملاتړ او د اوښتو زیانونو د جبران لپاره اغېزمن او عملي اقدامات ترسره کړي. خو له بده مرغه، تر اوسه د دغو مسئولیتونو د ادا کولو، د جګړې د زیانونو د مؤثر جبران او د قربانیانو د دوامدار ملاتړ په برخه کې د هغوی له لوري کافي او ملموس اقدامات نه دي ترسره شوي.

په ورته وخت کې، باید دا حقیقت هم په پام کې ونیول شي چې اسلامي امارت خپله د څو لسیزو جګړو له پایلو، ویجاړیو او اقتصادي محدودیتونو څخه اغېزمن شوی دی. سره له دې، د خپلو موجودو امکاناتو او ظرفیتونو په چوکاټ کې یې د افغان ولس، په ځانګړي ډول د جګړې د قربانیانو، د ملاتړ او مرستې لپاره هڅې کړې او لا هم خپلو هڅو ته دوام ورکوي. د دغو اقداماتو تفصیل په راتلونکو برخو کې وړاندې کېږي.

له همدې امله، د قربانیانو د ارتیاوو د پوره کولو او د هغوی د جبران اساسي مسئولیت یوازې د افغانستان پر اسلامي امارت ور اچول د مسئولیتونو د عادلانه وېش له اصل سره سمون نه لري. راپور باید د قربانیانو د ملاتړ او جبران په برخه کې د ټولو مسئولینو ونډه په متوازن، بې‌پرې او غیرتبعیضي ډول منعکس کړي.

### ۷. د سپارښتنو د وېش عدم توازن:

د راپور له ټولټال ۴۴ سپارښتنو څخه ۳۶ یې په مستقیم ډول د افغانستان اوسنیو چارواکو ته متوجه شوې، درې یې ټولو ښکېلو اړخونو ته او یوازې څلور یې د ملګرو ملتونو غړو هېوادونو ته ځانګړې شوې دي.

د سپارښتنو دغه وېش د جګړې له تاریخي واقعیتونو، د جګړې د بېلابېلو ښکېلو اړخونو د مسئولیت له کچې او د شخړې له اصلي عواملو سره متناسب نه ښکاري. تمه کېده چې د جګړې د اصلي بهرنیو ښکېلو لورو او نورو مسئولینو مسئولیتونو ته هم د سپارښتنو په برخه کې متوازن او متناسب انعکاس ورکړل شوی وای. خو راپور، په عملي توګه، د سپارښتنو ډېره برخه د افغانستان اسلامي امارت چارواکو ته متوجه کړې او د جګړې د نورو اصلي ښکېلو لورو مسئولیت ته یې محدوده پاملرنه کړې ده. دا ډول وېش د جګړې د ټولو ښکېلو اړخونو د مسؤلیتونو له متوازن او عادلانه انکاس سره سمون نه لري.

### ۸. د حقوقي معیارونو د تطبیق د یوشان والي په اړه:

د راپور په ځینو سپارښتنو کې له هغو دولتونو او نړیوالو ځواکونو څخه چې په افغانستان کې د جګړې او پوځي عملیاتو برخه وو، غوښتنه شوې چې د نړیوال بشردوستانه حقوقو او نړیوال بشري حقونو د احتمالي سرغړونو په اړه څېړنې ترسره کړي. په دې برخه کې احتیاطي او غیرقطعي اصطلاحات کارول شوي دي.

په ورته وخت کې، راپور د هغو ګڼو پېښو یادونه هم کوي چې د بهرنیو ځواکونو د عملیاتو له امله پکې ملکي وګړو ته مرګ‌ژوبله او نور جدي زیانونه اوښتي دي، خو د دغو پېښو په اړه د «احتمالي سرغړونو» اصطلاح کاروي، په داسې حال کې چې د اسلامي امارت په اړه له قطعي او الزام‌آورو تعبیرونو څخه استفاده شوې او ورته احتیاطي معیار نه دی رعایت شوی.

د حقوقي اصطلاحاتو او معیارونو دغه متفاوت تطبیق د بې‌پرې او یوشان حقوقي ارزونې له اصولو سره سمون نه لري. که د یوې خوا په اړه د «احتمالي سرغړونو» معیار کارول کېږي، نو همدغه معیار باید د ټولو ښکېلو اړخونو په اړه په مساوي ډول تطبیق شي.

### ۹. د نړیوالې جزایي محکمې د چلند انعکاس:

راپور د نړیوالې جزایي محکمې (ICC) د څارنوال هغه پرېکړه منعکس کړې چې له ۲۰۲۱ کال وروسته یې د افغانستان د وضعیت په اړه د څېړنو تمرکز د افغانستان اسلامي امارت اړوندو ځواکونو او داعش پر ادعا شوو جرمونو محدود کړی دی، حال دا چې د افغانستان د څو لسیزو جګړې په ترڅ کې د جګړې د بېلابېلو ښکېلو اړخونو، په ځانګړي ډول د نړیوالو ځواکونو، په اړه د جدي سرغړونو او ملکي تلفاتو ګڼ مستند راپورونه موجود وو.

د څېړنو د لومړیتوب دغه محدودول، چې د جګړې د نورو اصلي ښکېلو لورو مسئولیتونه په عملي ډول ترې مستثنا کېږي، د عدالت، مساوات او بې‌پرېتوب له بنسټیزو اصولو سره سمون نه لري. د نړیوالو عدلي میکانیزمونو اعتبار هغه مهال خوندي پاتې کېږي چې د ټولو اړخونو د ادعا شوو سرغړونو په اړه یو شان او غیرتبعیضي معیارونه تطبیق شي .له بده مرغه، راپور د دې پرېکړې په انعکاس کې کومه انتقادي حقوقي ارزونه نه ده وړاندې کړې او نه یې د دې انتخابي رویکرد پر اغېزو بحث کړی دی. دا چاره د راپور د توازن، بې پرېتوب او حقوقي اعتبار د لا زیاتې ارزونې اړتیا څرګندوي.

### ۱۰. د څېړنې د میتودولوژۍ په اړه:

د راپور د میتودولوژۍ له مخې، ډېری مرکې د ۲۰۱۶ او ۲۰۲۱ کلونو ترمنځ ترسره شوې دي .زموږ په اند، د افغانستان د شلو کلونو جګړې د بشپړ انځور د وړاندې کولو لپاره اړینه وه چې د ټولې دورې قربانیانو ته په متوازن ډول ځای ورکړل شوی وای او د بېلابېلو پړاوونو پېښې په مساوي ډول څېړل شوې وای .همدارز، په راپور کې د ۱۹۹۴ څخه تر ۲۰۲۱ کال پورې د پېښو په اړه مرکې او معلومات شامل شوي دي. د یادونې وړ ده چې دغه موده د افغانستان اسلامي امارت د رامنځته کېدو له پړاو سره پیل او د امریکایي ځواکونو او د هغوی د متحدینو د حضور تر پای پورې دوام کوي.

د معلوماتو د راټولولو دغه چوکاټ داسې انګېرنه رامنځته کوي چې د راپور اصلي تمرکز تر ډېره د افغانستان اسلامي امارت د ځواکونو پر کړنو او مسئولیتونو دی، حال دا چې د قربانیانو د حقونو او حساب ورکونې موضوع باید د جګړې د ټولو ښکېلو اړخونو په اړه په متوازن او بې‌پرې ډول وارزول شي .سربېره پر دې، که څه هم راپور د مرکه شویو د انتخاب لپاره د جنسیت، عمر، قومیت او جغرافیايي تنوع یادونه کوي، خو د جګړې د ښکېلو اړخونو ترمنځ د توازن د رعایت په اړه ورته معیار نه تر سترګو کېږي.

### ۱۱. د شواهدو او د مسئولیت د انتساب په اړه:

په راپور کې په ګڼو مواردو کې د اشخاصو د شفاهي څرګندونو پر بنسټ مشخصو اړخونو ته د مسئولیت انتساب شوی دی. د دومره مهمو موضوعاتو په اړه اړینه ده چې هر ډول ادعا د کافي، معتبر او کره شواهدو پر بنسټ ولاړه وي، څو د راپور حقوقي اعتبار او استنادي ارزښت خوندي پاتې شي .د بېلګې په توګه، په راپور کې د یوه مرکه شوي کس هغه ادعا شامله شوې چې ګواکې د شکایت له ثبتولو څخه یې ځکه ډډه کړې وه چې وېرېده ښايي لوڼې یې د طالبانو غړو ته په زور د واده کولو لپاره اړې شي. دا ادعا په بشپړه توګه بې‌بنسټه، غیرمستنده او له هر ډول کره شواهدو څخه خالي ده او د حقیقت له څرګندونو واقعیتونو سره هېڅ ډول اړخ نه لګوي .د منل شویو معیارونو او د حقیقت موندنې د اصولو له مخې، د دې ډول جدي او حساسو تورونو مطرح کول باید یوازې د معتبر، کره او د تصدیق وړ شواهدو پر بنسټ ترسره شي، نه د اشخاصو د شخصي ګومانونو، وېرې، اټکلونو او یا ناثابتو څرګندونو پر اساس. د داسې بې‌بنسټه ادعاوو درج کول نه یوازې د راپور مسلکي او حقوقي اعتبار ته زیان رسوي، بلکې د ناسمې انګېرنې، بې‌اساسه تورونو او د عامه افکارو د ګمراه کېدو سبب هم ګرځي.

### ۱۲. د جګړې د میراث، د قربانیانو د حقونو او له تېر سره د چلند په اړه:

په راپور کې سپارښتنه شوې چې افغانستان باید د وسله‌والو شخړو له امله رامنځته شوي کړاوونه په رسمیت وپېژني، له خپل تېر سره روغه وکړي او د نړیوالو حقوقو له مخې د قربانیانو د حقونو د تأمین لپاره عملي بهیر پیل کړي. که څه هم راپور په ځینو برخو کې نورو اړخونو ته هم سپارښتنې کړې دي، خو د دې په ګډون یې ډېری سپارښتنې په مستقیم ډول د افغانستان اسلامي امارت ته متوجه کړې دي.

د افغانستان د څو لسیزو جګړې په رامنځته کېدو او دوام کې ګڼ بهرني دولتونه او د هغوی پوځي ځواکونه مستقیم ښکېل وو. له همدې امله، که د جګړې د میراث، د قربانیانو د حقونو او له تېر سره د مسئولانه چلند موضوع مطرح کېږي، نو مناسب او عادلانه به دا وه چې دغه سپارښتنه، په لومړي سر کې، هغو دولتونو او لورو ته متوجه شوې وای چې د جګړې په اوږدو کې یې اساسي او مستقیم رول درلود او د جګړې د پایلو او رامنځته شویو زیانونو په تړاو ستر مسئولیت پر غاړه لري. یاده سپارښتنه یوازې د افغانستان اسلامي امارت ته متوجه کول، پرته له دې چې د جګړې د نورو اصلي ښکېلو اړخونو لپاره ورته مسئولیت په ورته وضاحت مطرح شي، د متوازن او بې‌پرې ارزونې له اصولو سره سمون نه لري.

### ۱۳. د نړیوالو حقوقي معیارونو د تطبیق په اړه:

د راپور په هغو برخو کې چې د نړیوال بشري حقوقو، نړیوال بشردوستانه حقوقو او نورو اړوندو نړیوالو معیارونو تشریح شوې، د نړیوالو حقوقي مکلفیتونو یادونه تر ډېره په داسې بڼه شوې چې اصلي مخاطب یې د افغانستان اسلامي امارت دی، حال دا چې د افغانستان د څو لسیزو جګړه ګڼ اړخونه لرل او د جګړې ټول ښکېل لوري د نړیوالو حقوقو د رعایت په برخه کې مسئولیتونه او مکلفیتونه لري. له همدې امله، اړینه ده چې نړیوال حقوق او اړوند مکلفیتونه د جګړې ټولو ښکېلو اړخونو ته په مساوي، غیرتبعیضي او بې‌پرې ډول متوجه وګرځول شي، څو د حقوقي ارزونې توازن او اعتبار خوندي پاتې شي.

### ۱۴. د سرغړونو د مرتکبینو په اړه د سپارښتنې د شمولیت ساحه:

په راپور کې سپارښتنه شوې چې هغه کسان چې د نړیوال بشردوستانه حقوقو او بشري حقونو د سرغړونو په ارتکاب کې ښکېل وي، باید د افغانستان له امنیتي جوړښتونو څخه لرې کړل شي. په دې اړه اساسي پوښتنه دا ده چې ولې ورته سپارښتنه، په همدې صراحت او الفاظو، د هغو بهرنیو دولتونو او پوځي ځواکونو په اړه نه ده شوې چې شاوخوا شل کاله یې په افغانستان کې پوځي حضور درلود او د هغوی د ځواکونو په اړه هم د نړیوال بشردوستانه حقوقو او بشري حقونو د سرغړونو ګڼې ادعاوې او مستند راپورونه موجود دي. که د حساب ورکونې اصل مطرح کېږي، نو د هغه تطبیق باید د جګړې پر ټولو ښکېلو اړخونو په مساوي ډول وشي.

### ۱۵. د مسئولیت د منسوبولو د طریقې په اړه:

د راپور د مسئولیت د منسوبولو طریقه هم د پوښتنې وړ ده. د راپور له مخې، د مرکه شویو د څرګندونو پر بنسټ ۸۰ پېښې په مستقیم ډول د افغانستان اسلامي امارت ځواکونو ته منسوب شوې دي، په داسې حال کې چې د نړیوالو ځواکونو مسئولیت یوازې په ډېر محدود شمېر، شاوخوا دریو پېښو کې په صراحت سره یاد شوی دی.

په ورته وخت کې، د جګړې د نورو ښکېلو لورو اړوند پېښې د «ناپېژندل شوي حکومت پلوه ځواکونه»، «افغان ملي اردو»، «د ملي امنیت ریاست»، «اربکیان»، «ناپېژندل شوي» او ورته نورو جلا عنوانونو لاندې وېشل شوې دي، چې په پایله کې یې د هغوی د منسوب شویو پېښو شمېر په ظاهري ډول کم ښکاري. راپور کوم قانع کوونکی وضاحت نه وړاندې کوي چې ولې د پېښو د انتخاب او د مسئولیت د منسوبولو په بهیر کې دغه ډول توپیر رامنځته شوی او ولې د افغانستان اسلامي امارت اړوند پېښې په دومره لوړه کچه په مشخص ډول منعکس شوې، په داسې حال کې چې د جګړې د نورو اصلي ښکېلو اړخونو په اړه ورته معیار نه دی مراعات شوی. دغه ډول انتخابي رویکرد د راپور د موندنو د توازن او اعتبار په اړه جدي پوښتنې راولاړوي.

### ۱۶. د تبعیض د ادعاوو په اړه:

په راپور کې داسې ادعاوې هم شوې چې ګواکې ځینې کسان د قومیت له امله له مرستو محروم شوي دي. اسلامي امارت دا ډول ادعاوې ردوي او ټینګار کوي چې د مرستو، خدماتو او ملاتړ په وړاندې کولو کې د قوم، ژبې، سیمې، مذهب او سیاسي مخینې پر بنسټ د تبعیض هېڅ ډول پالیسي شتون نه لري.

### ۱۷. د امنیتي وضعیت د انعکاس په اړه:

راپور له ۲۰۲۱ کال وروسته د تاوتریخوالي په کچه کې د پام وړ کمښت یاد کړی دی. که څه هم دا تعبیر د وضعیت د بدلون یوه برخه بیانوي، خو د افغانستان د اوسني وضعیت بشپړ انځور نه وړاندې کوي او داسې انګېرنه رامنځته کوي چې ګواکې لا هم وسله‌والې نښتې دوام لري او یوازې یې کچه راټیټه شوې ده.

د راپورونو په ژبه کې د دقیقو او متوازنو اصطلاحاتو کارول ځانګړې اهمیت لري، ځکه همدا اصطلاحات د لوستونکي پر برداشت مستقیم اغېز کوي. له همدې امله، د افغانستان د اوسني وضعیت په بیان کې باید داسې اصطلاحات وکارول شي چې د جګړې له پای ته رسیدو وروسته رامنځته شوی نوی امنیتي وضعیت بدلون په بشپړ او عادلانه ډول منعکس کړي.

**۱۸. د جګړې د قربانیانو د ملاتړ په برخه کې د اسلامي امارت اقدامات:**

اسلامي امارت د افغانستان ټول وګړي د خپل وجود برخه ګڼي او د هغوی خدمت خپل اسلامي او انساني مسئولیت بولي. د جګړې د قربانیانو، د شهیدانو د ورثې، کونډو، یتیمانو او معلولیت لرونکو وګړو د ملاتړ په برخه کې د قوم، ژبې، مذهب، سیمې، عمر، جنسیت او پخوانۍ اداري یا نظامي تړاو پر بنسټ هېڅ ډول توپیر نه کوي. په همدې موخه، د شهیدانو او معلولینو چارو محترم وزارت د نافذه قوانینو او شته امکاناتو په چوکاټ کې د قربانیانو د اړتیاوو د پوره کولو او د ملاتړ د پروګرامونو د پلي کولو لپاره بېلابېل عملي اقدامات تر سره کړي دي.

د شهیدانو او معلولینو چارو محترم وزارت د دغو زیانمنو شویو قشرونو د ملاتړ لپاره د ثبت، تثبیت او خدمتونو منظم سیستم رامنځته کړی او د نغدي، غیر نغدي، روغتیایي، بیارغونې او ټولنیزو خدمتونو د وړاندې کولو ترڅنګ یې د شفافیت، نظارت، شکایتونو د ثبت او عامه پوهاوي میکانیزمونه هم پیاوړي کړي دي.

د پخوانۍ ادارې د ۲۰۰۹ کال قانون یوازې جنګي معلولین تر پوښښ لاندې راوستل، او د سل سلنه معلولیت لرونکو لپاره یې یوازې ۱۵۰۰ افغانۍ میاشتنۍ امتیاز ټاکلی و، چې د اړتیاوو لپاره بسنه نه کوله. البته دغه قانون د نیمګړتیاوو له امله لغوه شوی، او اوس ټول معلولین (د اسلامي امارت پورې تړلي، د پخوانۍ ادارې پورې تړلي، عام ملکي معلولین او مورزادي معلولین) پرته له تبعیضه ثبت شوي او د معلولیت د درجې او کټګورۍ له مخې ورته میاشتني نغدي مساعدتونه د بانکي سیستم له لارې ورکول کېږي. همدارنګه د شهیدانو د ورثه‌وو، یتیمانو او کونډو ترمنځ هم د تبعیض پرته خدمات وړاندې کېږي.

د ثبت او تثبیت بهیر د غوښتنلیک، ارزونې، د ځانګړو کمیسیونونو د تأیید او بانکي تادیاتو پر بنسټ ترسره کېږي. د سروې ټیمونه د مستحقو کورونو ته مراجعه کوي او خدمات د شفاف، عادلانه او منظم میکانیزم له لارې وړاندې کېږي. د وزارت رهبرۍ، ولایتونو او ولسوالیو ته په دوامداره سفرونو، د اړیکو د ځانګړي مرکز، بربېښنایي ثبت او د څارنې ټیمونو له لارې د خدماتو د اغېزمنتیا او حساب ورکونې د پیاوړتیا لپاره اقدامات کړي دي. تر اوسه نږدې ۳۰ زره کسانو خپلې ستونزې د اړیکو مرکز له لارې ثبت کړې دي.

د هغو ادعاوو په اړه چې ګواکې مرستې بندې شوې، وزارت څرګندوي چې د ځینو یتیمانو د مرستو بندېدل د قانون له مخې د ۱۸ کلنۍ د عمر بشپړېدو له امله دي، او د کونډو او معلولینو په مرستو کې بدلونونه د رسمي معیارونو او ارزونې پر بنسټ ترسره کېږي، نه د تبعیض له امله.

د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته په ټول هېواد کې ۶۵۴،۰۶۲ تنه ثبت شوي چې پکې ۳۸۵،۸۵۶ یتیمان، ۹۷،۲۱۸ کونډې او ۱۷۰،۹۸۸ معلولین شامل دي. په دې ډله کې ۱۲۸۰۹۰ تنه د اسلامي امارت د شهیدانو له کورنیو او ۵۲۵۹۷۲ تنه د تیرې ادارې د وژل شویو، معلولینو او ملکي قربانیانو څخه دي چې له هر ډول تبعیض پرته ورته خدمات وړاندې کېږي.

له ۱۴۰۰ تر ۱۴۰۴ لمریز کال پورې شاوخوا ۴۵ میلیارد او ۹۰۸ میلیون افغانۍ د دولت بودجې له لارې د بانکي سیستم په مټ مستحقینو ته ورکړل شوي دي. سربېره پر دې، د خیریه مؤسسو په همکارۍ د میلیونونو ډالرو په ارزښت خوراکي مرستې، ژمنۍ البسه، ویلچیرونه، بربېښنایي څوکۍ، مصنوعي غړي او نور مرستندویه وسایل وېشل شوي دي.

وزارت د بیاځواکمنۍ ځانګړي مرکزونه فعال کړي چې زرګونو معلولینو ته فزیوتراپي، ارتوپیدي، رواني او ذهني روغتیا خدمات وړاندې کوي. زرګونو یتیمانو او کونډو ته د هېواد دننه او بهر تخصصي درملنه او روغتیایي خدمات هم برابر شوي دي. سربېره پر دې مصنوعي پښې او نور حرکي وسایل هم چمتو شوي او دا لړۍ دوام لري، څو معلولین د ژوند ورځني فعالیتونه په اسانه ترسره کړي.

د اقتصادي ځان بساینې لپاره زرګونو کونډو، ښځینه معلولینو او بې سرپرسته کورنیو ته د خیاطۍ ماشینونه، د کورنیو نانوایۍ وسایل او نور تولیدي تجهیزات ورکړل شوي دي. د کار او ټولنیزو چارو وزارت سره په همکارۍ زرګونو یتیمانو او معلولینو ته د کار زمینه برابره شوې، او د قانون له مخې دولتي ادارې د معلولینو لپاره د ۳ سلنه استخدام د تطبیق په موخه همغږي کوي.

همدارنګه زرګونو معلولینو او د شهیدانو ورثه‌وو ته د حج فرصت برابر شوی، سلګونه کسان تعلیمي او تحصیلي پروګرامونو ته معرفي شوي، زرګونو کسانو ته فني او حرفوي زده‌کړې ورکړل شوې، د کوچنیو کاروبارونو د ملاتړ لپاره دوکانونه او ځاروي وېشل شوي، او د سرپناه د برابرولو لپاره د سرپل او میدان وردګو په ولایتونو کې د ۴۲۰ جریبه ځمکې پر سر د استوګنیزو ښارګوټو پروژه پیل شوې چې نورو ولایتونو ته هم پراخېږي.

وزارت د رسنیو، د جوماتونو د خطیبانو او اړوندو ادارو په همکارۍ د عامه پوهاوي پروګرامونه هم پلي کړي او ټینګار کوي چې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته یې هڅه کړې یتیمانو، کونډو او معلولینو ته اقتصادي، روغتیایي، بیارغونې، تعلیمي او ټولنیز ادغام خدمات په عادلانه او شفاف ډول وړاندې کړي، تر څو هغوی وکولای شي په عزتمند ډول ژوند وکړي او په ټولنه کې فعاله ونډه ولري.

## ۱۹. د راپور د موخې او عملي اغېز په اړه:

د قربانیانو د دردونو او کړاوونو انعکاس هغه وخت اغېزناک تمامېږي چې ورسره عملي حللارې، د مسئولینو حساب ورکونه، د جبران اغېزمن میکانیزمونه او د قربانیانو د حقونو د تحقق لپاره مشخص اقدامات هم مل وي.

که راپورونه یوازې د تېرو غمیزو یادونه وکړي، خو د هغو دولتونو او اړخونو مسئولیت ته لازم انعکاس ور نه کړي چې په جګړه کې یې اساسي رول درلود، نو د قربانیانو لپاره به د عدالت او جبران عملي زمینه په بشپړ ډول برابره نه شي.

له همدې امله، اړینه ده چې په دې ډول راپورونو کې د بې‌پرېتوب، توازن، حقوقي دقت او د جګړې د ټولو ښکېلو اړخونو د مسئولیت د عادلانه انعکاس اصول په بشپړ ډول رعایت شي.

**پایله:**

اسلامي امارت یو ځل بیا د افغانستان د جګړو له ټولو قربانیانو سره خپله خواخوږي څرګندوي او د هغوی ملاتړ ته ژمن دی. اسلامي امارت د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې د جګړې د قربانیانو، د شهیدانو د ورثې، کونډو، یتیمانو او معلولینو د ملاتړ او خدمت لپاره عملي اقدامات ترسره کړي او دې هڅو ته به دوام ورکړي.. موږ باور لرو چې د افغانستان د جګړې د قربانیانو لپاره حقیقي عدالت، مؤثر جبران او دوامدار ملاتړ هغه مهال عملي کېدای شي چې د جګړې ټول ښکېل اړخونه، په ځانګړي ډول هغه دولتونه او ځواکونه چې په افغانستان کې یې مستقیم پوځي حضور درلود، خپل حقوقي او اخلاقي مسئولیتونه ومني او د قربانیانو د حقونو د تأمین او د جګړې د زیانونو د جبران لپاره عملي ګامونه پورته کړي.

موږ هیله لرو چې د راپور له وروستي نشر مخکې به پورته ملاحظات او مشاهدې په جدي ډول وارزول شي، څو وروستۍ نسخه د بې‌پرېتوب، توازن، حقوقي دقت او د نړیوالو حقوقي معیارونو له اصولو سره لا ډېره همغږي ولري.

**پای**

## پ ضمیمه: د مرکو او پېښو لیست

لاندې جدول د هغو پېښو لست دی چې د مرکه شوو قربانیانو لخوا بیان شوې دي. په ځینو مواردو کې جزئیات د قرباني په غوښتنه پټ ساتل شوي دي.

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۱ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "په [نېټه] په [ځای] کې، زما پلار د افغان ملي اردو د هاوان د مرمۍ له امله ووژل شو. په سیمه کې د افغان ملي اردو او د حکومت ضد عناصرو ترمنځ سخته نښته وشوه. زما پلار غوښتل چې د خپلې کورنۍ غړي یو خوندي ځای ته یوسي، خو ناڅاپه د افغان ملي اردو له لورې د توغول شوي هاوان یوه مرمۍ پرې ولګېده او ووژل شو." |
| ۲ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "په [نېټه] د سهار شاوخوا ۹ بجې، ما خپله ورځ لکه د نورو ورځو په څېر پیل کړه. د سهار له چای وروسته مې له خپلې مور سره خدای پاماني وکړه، د هغې لاسونه مې ښکل کړل، او دفتر ته لاړم. زما دفتر او زما د زوی د معاملاتو د لاربښوونې دفتر یو و. مونږ له یوه دفتر څخه کار کاوه. د الله ډېر شکر دی چې هغه ما سره په هماغه وخت نه و تللی.<br><br>څنګه چې دفتر ته ورسېدم او پر څوکۍ کښېناستم، شاوخوا پنځه دقیقې وروسته یوه درنه چاودنه وشوه. هر لورې ته دوړې، چیغې، او وینې وې. په یوه شیبه کې، زما د دفتر د مدیر په ګډون، دوو تنو خپل ژوند له لاسه ورکړ او زما په ګډون څلور کسان په کې ټپیان شول.<br><br>دا یو "بوشکه یي ماین" (تعبیه شوی ماین) و چې زما د دفتر دننه په پټه ځای پر ځای شوی و او له لرې ځای څخه چاودنه ورکړل شوه. چاودنې زما دفتر بشپړ ویجاړ کړ او آن دا چې زمونږ نږدې استوګنیزو کورونو ته یې هم زیان واړوه.<br><br>زه یې روغتون ته وړی وم او شاوخوا اته ځله مې عملیات ترسره شول؛ زما پښې ماتې او د بدن نورې برخې مې ټپي شوې وې." |
| ۳ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "د [نېټې] په ماښام زمونږ ګاونډي د کورنۍ د بیړني حالت له امله له [زمونږ کلي] څخه تر [ښار] پورې د سفر لپاره زما له زوی څخه مرسته وغوښته. زما زوی [نوم]، چې د ټکسي موټر چلوونکی وو، په لومړي سر کې دا غوښتنه رد |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | کړه، ځکه چې هغه د [کلي] د خرابو امنيتي حالاتو په اړه اندېښمن و. خو ګاونډي ټينګار وکړ او وې ويل چې که سمدستي مرسته و نه شي، کېدای شي ناروغ خپل ژوند له لاسه ورکړي.<br><br>په پای کې، زما زوی ومنله چې هغوی په خپل موټر کې يوسي . له بده مرغه، کله چې هغه بېرته کلي ته راستنېده، د افغان ملي اردو د تلاشي پوستې پر ټکسي موټر د کلاشينکوفونو ډزې وکړې. په دې پېښه کې [زما زوی] ووژل شو او يوه ښځه د موټر د ښيښو د ماتېدو او د موټر د بې کنټروله کېدو څخه وروسته له دېوال سره د ټکر له امله برسېرنه ټپي شوه.<br><br>د سيمې يوه اوسېدونکي له ما سره اړيکه ونيوله او راته يې وويل چې زما زوی ټپي شوی دی. ما پرېکړه وکړه چې ورشم او هغه روغتون ته يوسم.<br><br>خو له بده مرغه، مور ته اجازه رانه کړل شوه چې پر وخت د پېښې ځای ته ورسېږو. وروسته له څه مودې مور ته د ورتګ اجازه راکړل شوه، خو هغه ډېره وينه له لاسه ورکړې وه، او د ژوند په قيمت ورته تمامه شوه" |
| ۴ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "په [نېټه]، ماته له خپل کور نه زنګ راغی چې طالبانو په [ځای] کې زمونږ د کور له شا څخه پر افغان ملي اردو ډزې کړې او د افغان ملي اردو د متقابلو ډزو په پايله کې زما ورېره په اوږه ټپي شوې وه.<br><br>روغتون ته پر لاره طالبانو زمونږ امبولانس ودرولو، خو کله چې يې ټپي نجلۍ وليده، په بېړه يې مونږ ته د تګ اجازه راکړه. کله چې مونږ [ځای] ته ورسېدو، افغان ملي اردو زمونږ امبولانس ودرولو، او له يوې يا دوو دقيقو وروسته له کوم دليل پرته يې، له دواړو لوريو پر امبولانس ډزې پيل کړې چې په پايله کې يې زما مېرمن او يوه نرسه ټپيانې شوې." |
| ۵ | ۱۷ آپريل ۲۰۲۲ | ميدان وردګ ولايت، جلريز ولسوالي، سنګلاخ سيمه، درد سرايې کلی | "د ۲۰۲۰ کال د اپرېل د ۱۷ نېټې په سهار زه په خپل کور کې وم. ماته له کابل څخه يو مېلمه راغلی و، او يو ځای مو چای څښلو. زوی مې څاروي د څرولو لپاره له کور نه بهر وويستل چې ناڅاپه مې د يوې چاودنې غږ واورېد. ما لومړی فکر وکړ چې ښايي دا به د واده د خوشحالۍ ډزې وي ځکه په هماغه ورځ زمونږ په کلي کې د واده مراسم هم وو. |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
| --- | --- | --- | --- |
| | | | شاوخوا شل دقیقې وروسته، زموږ یو ګاونډي راته وویل چې زوی مې فهیم په دغې چاودنې کې وژل شوی او په پټي کې پروت دی. ما د پېښې ځای ته منډه کړه او کله چې ورسېدم، یو ژور درد مې احساس کړ، ومې لیدل چې د زوی بدن مې ټوټه-ټوټه شوی او ماغزه یې راوتلي دي. ما سخت ټکان وخوړ او هلته کېناستم، لیدل مې چې کلیوالو او خپلوانو مې د هغه د بدن ټوټې راټولولې.<br>فهیم د پرسونل ضد ماین له امله، چې ښایي د روسانو سره د جګړې له وخته به ناچاوده پاتې و، ووژل شو." |
| ۶ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "په [نېټه] شاوخوا د سهار ۶:۰۰ بجې، په [ځای] کې، د افغان ملي اردو/افغان محلي پولیسو له پوستې نه زما د کورنۍ پر دریو غړو هغه مهال ډزې وشوې کله چې هغوی په سیمه کې د مرغانو ښکار کاوه. ورور مې په هماغه ځای کې ووژل شو، او مور مې او بل ورور مې سخت ټپیان شول. د پېښې پر مهال په سیمه کې هېڅ نښته نه وه او د افغان ملي اردو/افغان محلي پولیسو له لورې په قصد سره پر ملکیانو ډزې وکړې.<br>مور مې او ورور مې چې ټپیان شوي وو، په ولایتي روغتون کې بستر شول." |
| ۷ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "په [نېټه] ماسپښین مهال، زما ۱۰ کلن زوی [نوم] د کور عمومي دروازه خلاصه کړه چې د پولیسو د ګزمې ټانک سره مخامخ شو او هغوی پرې ډزې وکړې. هغه پر سینه ولګېده. کله چې زما مېرمنې دغه صحنه ولیده، زمونږ د زوی د ژغورلو لپاره یې منډه کړه خو هغه هم په تندي ولګېده. زوی مې په هماغه ځای کې مړ شو او مېرمن مې سخته ټپي شوه." |
| ۸ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "د [نېټې] د ماسپښین ناوخته، زما ورور، زما د کاکا زوی او دوه ملګري یې د جنازې له مراسمو څخه بېرته راستنېدل چې په [ځای] کې د یوې بې پیلوټه الوتکې د برید هدف وګرځېدل. دوی څلور واړه په دوو موټرسایکلونو سپاره وو او د هغو دوو طالب جنګیالیو د جنازې لمونځ ادا کولو وروسته کور ته راروان وو چې په شپنیو عملیاتو کې وژل شوي وو. کله چې دوی کور ته روان وو، بې پیلوټه الوتکې پرې برید وکړ، چې له بده مرغه درې تنه یې ووژل شول، او [یو] تن ټپي شو.<br>د بې پیلوټه الوتکې د برید پر مهال، د [یو قرباني] پلار په جومات کې وو. هغه خلک چې د جومات پر لور روان وو، ورته یې وویل چې بې پیلوټه الوتکې برید کړی او په موټرسایکل سپاره څلور کسان په کې وژل شوي دي. نوموړی سمدستي پوه شو چې زوی یې او ملګري یې په همدې لار تللی وو. کله چې د پېښې ځای ته ورسېد د خپل زوی او د |

| د مړکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
| --- | --- | --- | --- |
| | | | هغه د ملګرو د بدن ټوټې یې په سړک ولیدلې. هغه له ډېر درد او غمه، هک پک ودرېد او هیڅ نه پوهېده چې څه وکړي.<br><br>وروسته د کلي خلکو په ډېر سخت زړه او درد سره د قربانیانو د جسدونو د ټوټو پر راټولولو پیل وکړ." |
| ۹ | ۳۰ جنوري ۲۰۲۰ | کندوز ولایت، دشت ارچي ولسوالۍ، وزیرخان جم، د سلام پله سیمه | "د ۲۰۲۰ کال د جنوري په ۳۰ نېټه، وروسته د ماسپښینه، زما پلار، زما مور، زما کاکا، زما ترور او زما د کاکا یوه لمسۍ د دشت ارچي ولسوالۍ د دفتانو له کلي څخه زموږ د کور په لور چې د چهاردرې ولسوالۍ په ماماخېلو کې دی، روان وو. د لارې په اوږدو کې د کندوز ولایت، د دشت ارچي ولسوالۍ د وزیر خان جم کلي، د سلام پله په سیمه (د کندز دشت ارچي امین سرک په اوږدو) کې د هغوی کرولا موټر د امریکایي بې پیلوټه الوتکې له خوا په نښه شو. د برید په پایله کې یاد کسان ټول ووژل شول او د دوی موټر ویجاړ شو. تر پېښې یوه ورځ مخکې، زموږ یو نږدې خپلوان په دشت ارچي ولسوالۍ کې مړ شوی و او زما او زما د تره کورنۍ د نوموړي په جنازه کې د ګډون لپاره هلته تلل." |
| ۱۰ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "په [.... نېټه]، د ماښام په ۷:۰۰ بجو، د طالبانو لخوا یو ځای پر ځای شوی د ریموټ په وسیله کنټرول کېدونکی ماین وچاودېد. په پایله کې یې درې تنه ملکي وګړي ووژل شول او زما په ګډون دوه تنه یې ټپیان کړل. تعبیه شوي ماین زما له موټر څخه ۳۰ متره لېرې چاودنه وکړه. د چاودېدونکي توکي پارچو زه په سر او ځان سخت ټپي کړم او زما سترګو ته یې ډېر زیان ورسوه. د چاودنې موخه زه وم ځکه چې ما د مدني فعال او د بشري حقونو د ملاتړي په توګه فعالیت کاوه. تر چاودنې وړاندې ما په فعاله او رضا کارانه توګه مدني فعالیت کاوه. زه [د ولایت د مدني فعالانو د شبکې] غړی وم. د [سیمې] د طالبانو یوې ډلګۍ به تل [زموږ په ښار] کې د تعبیه شوو ماینونو چاودنې کولې." |
| ۱۱ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "په [نېټه]، د ماښام ۷:۳۰ بجې، زه او زما د کورنۍ غړي په [ځای] کې پر خپل کور کې د ډوډۍ په خوړلو بوخت وو. یو ناځاپه د ۳۰-D توپ مرمۍ چې د [ولسوالۍ] د پخواني ملي اردو کنډک له لورې توغول شوې وه، زما د کور د اوسېدو د دوو خونه تر منځ دهلیز یې زیانمن کړ. په پایله کې یې زما د کورنۍ دوه تنه غړي ووژل شول او زما په ګډون شپږ تنه ټپیان شول. |

| د مرګې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | له دې بدې او خطرناکې پېښې وروسته، زموږ ګاونډیان راورسېدل او موږ یې له خاورو څخه را وویستو. زموږ ګاونډیانو ټول ټپیان د ولسوالۍ روغتون ته ولېږدول او له هغه ځایه، دوه تنه ټپیان ولایتي روغتون ته ولېږدول شول. له جراحي عملیاتو او یوې اونۍ بستر کېدو وروسته، ټپیان را ښه شول او له روغتون څخه رخصت شول." |
| ۱۲ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "په [... نېټه]، موږ په خپل کور کې چې په [... سیمه] کې دی، مېلمانه درلودل او شپې بندار او خبرې مو کولې. د شپې ۱۰:۴۵ بجې وې چې ویده شو. یو نا څاپه څو چورلکې زموږ کلي ته راورسېدې او تر بمبار دمخه زموږ پر کور او د انګورو په باغ راوڅرخېدې. زه راویښ شوم او په خپل ځای کې کېناستم او حیران شوم چې څه پېښه ده. زما بیخي هیر و چې کشر زوی مې باغ اوبه کوي. باغ زموږ نه وو؛ زما زوی هغه د پیسو په بدل کې اوبه کاوه. موږ روزمزد کارګران یو.<br><br>زما ټیلیفون ته زنګ راغی هغه زما د کشر زوی زنګ  و چې باغ یې اوبه کاوه. کله چې مې ټیلیفون ته ځواب ورکړ، هغه وویل چې: "زه ټپي یم". ما ټکان وخوړ او د یوې شېبې له پاره مې خبرې او حرکت نه شوای کولای. له هغه وروسته مې حرکت وکړ او مېرمنې ته مې وویل چې: "پورته شه، درځه چې ورشو او وګورو چې څه پېښه شوې ده".<br><br>ما یو لاسي څراغ راواخیست او د کور دروازه مې پرانیسته. کله چې د باندې ووتم، یوه عسکر غږ را باندې وکړ چې: "مه خوځېږه." هغه زه له غاړې کلک و نیولم، زما سر ته یې کځوړه راواغوسته، زما لاسونه یې ولچک کړل او دیوال ته یې مخامخ ودرولم. له ما څخه یې ټیلیفون واخیست. کله چې مې پوښتنه وکړه چې څه کیسه ده، هغوی په درې ژبه راته وویل چې: "خبرې مه کوه".<br><br>دې حالت پنځه دقیقې دوام وکړ. ما د هغوی د مخابرې غږونه اورېدل. ځینو یې انګلیسي خبرې کولې اویو بل ته یې ویل چې د پله لاندې کوم څوک شته. څو دقیقې وروسته چورلکې پُل وویشت.<br><br>له هغه وروسته یې موږ کابل ته بوتلو. هلته ما د ملي امنیت په ریاست کې (دقیق ځای یې راته مالوم نه دی)، دوه شپې تېرې کړې. له هغه وروسته زه د بګرام زندان ته ولېږدول شوم. هلته مې اته شپې نورې هم تېرې کړې. هلته له ما سره ښه چلند وشو او څو ځله تحقیق را څخه وشو. هغوی د طالبانو انځورونه را ښکاره کړل او د هغوی په هکله یې پوښتنې کولې، خو زه نه پوهېدم چې هغوی څوک دي. هغوی زه ونه وهلم خو ماته یې وویل چې طالبانو ته پناه ورنکړم. |

| د مرګي شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | ما د خپل بند په وخت کې د خپل زوی د زنګ په اړه او دا چې هغه به څنګه وي، فکر کاوه. له لسو ورځو وروسته، هغوی زه د بګرام له زندان نه خوشې کړم او ۲۰۰ افغانۍ د لارې کرایه یې هم راکړه.<br>زه خپل کلي ته ولاړم او د تره زوی ته مې وویل چې ما پسې موټر راواستوي. کله چې خپل کور ته نږدې شوم، ما یوه ډله خلک ولیدل چې ژړل یې. هغوی را ته وویل چې دوه زامن مې په همغه پېښه کې ووژل شول: یو مې هغه زوی چې زنګ یې راته وهلی و او بل مې هغه زوی چې زما د ټپي شوي زوی ژغورلو ته ورغلی وو، خو نه و توانیدلی چې هغه وژغوري او ړ شوی و چې تر پله لاندې پټ شي چې وروسته چورلکې وویشت.<br>زما دوهم زوی ۲۲ کلن یا ۲۳ کلن و او د واده یې یوازې دوه میاشتې تېرې شوې وې. د هغه تازه ناوې اوس کونډه ده او د خپل مېړه په غم غمجنه ده (د ژړا په حال کې).“ |
| ۱۳ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "پېښه نږدې ۱۵ کاله وړاندې په [نېټه] هغه مهال وشوه چې [زموږ په کلي] کې د طالبانو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ترمنځ نښته رامنځته شوه. د سپکو او درنو وسلو په جګړه کې یو توغندی زما پر کور ولګید، زما کور اور واخیست او  د کور ټول سامانونه په کې وسوځېدل.<br>دغې غمجنې پېښې زما د ۱۷ کلن زوی ژوند هم واخیست. پر دې سربېره، زما لمسی هم ټپي شو. له دې غمیزې وروسته، زما کلیوال راغلل چې مرسته راسره وکړي خو زما د کورنۍ نور غړي وژغوري چې زما د نړېدلي کور تر چت لاندې بند پاتي وو." |
| ۱۴ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "د [نېټې] شاوخوا د ماښام په ۶:۳۰ بجو، زما درې لمسیان زموږ د کور په انګړ کې [زما په کلي] لوبې کولې، چې ناځاپه د هاوان یوه مرمۍ پر کور ولګېده. د دې پېښې له امله زما شپږ کلنه لمسۍ ځای پر ځای ووژل شوه او زما دوه لمسیان چې عمرونه یې ۱۲ او ۷ کاله وو، ټپیان شول. موږ دواړه ټپیان لومړی [ولایتي روغتون] ته او وروسته [ځای] ایمرجنسي روغتون ته ولېږدول، چې له یوې اوونۍ وروسته دواړه رخصت شول. زه نه پوهېږم چې د دې برید مسوول څوک و، خو دومره پوهېږم چې زموږ د کور په څنګ کې د پولیسو یوه د تلاشي پوسته موجوده وه او زما په اند اصلي هدف هماغه پوسته وه." |

| د قرباني څرګندونې | ځای | نېټه | د مرکې شمېره |
|---|---|---|---|
| "په [نېټه] د ورځې شاوخوا ۱:۳۰ بجه وه چې په [ولایت] کې یوه ناچاوده مرمۍ وچاوده، دوه هلکان يې ووژل او زما د دوو ماشومانو په ګډون يې نهه نور ماشومان ټپيان کړل. پېښه هغه وخت را منځته شوه کله چې ماشومانو دغه ناچاوده مرمۍ له کلي څخه لرې د لوبو له میدان سره نږدې وموندله او تر هغه يې په ډبرو وویشته چې چاودنه يې وکړه. داسې ويل کېږي چې دغه ناچاوده مرمۍ د پخوانيو افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو او پخوانيو طالبانو له جګړې څخه پاتې وه. ځکه چې افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو او د خوست ځانګړې امنيتي قطعې (KPF) به په سیمه کې د طالبانو مرکزونه په نښه کول." | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۵ |
| "نږدې اته کاله وړاندې، په [ولایت] کې د نیمې شپې په مهال ما د کلي د اوبو سیستم لپاره د لمريزو شيښو ساتنه کوله چې يو ناڅاپه مې د راکيټ د لګېدو لوړ غږ تر غوږو شو. څو شېبې وروسته مې ورور زنګ راته وواهه او ويې ويل چې ژر کور ته راشه ځکه زموږ کور نږېدلی دی.<br><br>کله چې هلته ورسېدم، پرته د خاورو او ویجاړۍ هیڅ هم نه وو. له بده مرغه زما دوه ماشومان چې يو ۴ کلن او بل ۱۴ کلن و، وژل شوي وو او زما مېرمن او څلور نور ماشومان چې عمرونه يې د ۳ او ۱۲ کلونو تر منځ وو، ټپيان شوي وو. ټپيان روغتون ته ولېږدول شول.<br><br>زما ورور ماته کيسه کوله چې په سیمه کې د ملي اردو او طالبانو تر منځ نښته روانه وه. طالبانو زموږ له کلي څخه د ملي اردو پر پوسته برید وکړ. په ځواب کې يې افغان ملي اردو هاوان وتوغوه چې له بده مرغه زما پر کور ولګېد." | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۶ |
| "ما یوه لاسي کراچۍ درلوده، کوڅه په کوڅه به ګرځېدم او پلاستيکي لوښي او نور توکي به مې پلورل. زما مشر زوی [نوم] ۱۲ کلن وو، چې ووژل شو. ما چې پخپله زده کړې نه دي کړې، د يوه نالوستي کس په ستونزو ښه پوهېږم. له همدې امله مې [خپل زوی] وهڅاوه چې له ما سره په کوڅو کې د پلاستيکي توکو د پلورلو پر ځای ښوونځي ته ولاړ شي.<br><br>په [نېټه] له سهار چای څښلو وروسته مې هغه ته وويل چې ښوونځي ته ولاړ شي او ما خپله لاسي کراچۍ روانه کړه څو پلاستيکي لوښي وپلورم. يوازې پنځه دقيقې له تګ وروسته موږ یوه درنه چاودنه واورېده چې د کور کړکۍ يې ولړزولې. ما په بېړه او خواشینۍ سره د پېښې ځای ته ځان ورساوه. نور خلک وار دمخه هلته رسېدلي وو او راته | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۷ |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
| --- | --- | --- | --- |
| | | | ووېل چې هغه زما زوی [نوم] دی. هغه په سر سخت ټپي او په وینو ککړ پروت وو. مور هغه [ځای] روغتون ته یوړ خو ډېره ناوخته وه او هغه نور ژوندی نه و.<br>پولیسو پلټنه وکړه خو مالومه کړې چې دا یو تعبیه شوی بم و او که ناچاوده توکی. زه په دې باور یم چې چاودنه د ناچاوده توکي له کبله را منځ ته شوې وه. ځکه چې مور په [ځای] کې په یوه داسې ځای کې اوسو چې هلته ډېرې غونډۍ دي او په نږدې ورځو کې هلته سخت ورښتونه وشول او سېلابونه راغلل. ښايي همدا ناچاوده توکی چې چاودنه یې وکړه، د اورښت او سېلابونو پر مهال له خاورو را بهر شوی وي." |
| ۱۸ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زه په [ولایت] کې اوسېږم او بزګر یم او په تېر کې مې هیڅ کوم نظامي او سیاسي فعالیت نه دی کړی. د جمعې په ورځ [نېټه]، ما له خپل زوی [نوم] سره یوه جومات ته نږدې د خپلو رومیانو په کرونده کې کار کاوه چې رومیان را ټول کړو. زه له جومات څخه یو څه لرې وم خو زما زوی جومات ته نږدې و چې یوه بې پیلوټه الوتکه راغله او جومات یې په نښه کړ. مونږ نه پوهېږو چې دا بې پیلوټه الوتکه چا رالېږلې وه چې جومات په نښه کړي. له برید سره مور ټولو ځانونه په ځمکه وغورځول، له ځو شېبو وروسته، ما خپل زوی ولید چې د بمب په پارچو/چرو په سر لګېدلی و او ټپي وو. ما خپل زوی سمدلاسه ولایتي روغتون ته یوړ او له لومړنۍ درملنې وروسته مې د [ځای] ایمرجنسي روغتون ته ولېږداوه. په لمړیو کې زما زوی فزیکي او رواني ستونزې درلودې، خو اوس د ښه کېدو په حال کې دی." |
| ۱۹ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | په [نېټه]، طالبانو زمونږ په [ولسوالۍ] برید وکړ او ځايي ځواکونه یې پر شا وتمبول. ما له خپل پلار، تره، وراره او نورو کلیوالو سره په کرونده کې کار کاوه. مونږ ټول ونیول شو او پر مونږ یې لاسونه شاته واړول. مونږ ورته ووېل چې مونږ ملکیان یو او په جګړه کې مو برخه نه ده اخیستې، خو هغوی وېل چې تاسو هزاره ګان یاست او باید ووژل شئ. زما پلار او زما تره له نورو پنځو کلیوالو سره یو ځای ووژل شول او زه او نور ټپیان شو. زه هغه مهال ۱۵ کلن وم. طالبانو زمونږ ټول کورونه وسوځول او ویجاړ یې کړل. ټول قربانیان ملکي کروندګر وو. یو هم جنګیالی نه و.<br>کله چې طالبان سیمې ته را ورسېدل، مونږ (ما، زما پلار او زما تره) د غنمو په رېبلو بوخت وو، نو ځکه مونږ وتښتېدو. مونږ د سهار په ۸ بجو د غنمو د کروندې څخه وتښتېدو. مونږ له خپل کلي څخه بلې سیمې ته د تېښتې په حال کې وو چې د طالبانو لخوا ونیول شو. زما په ګډون پنځه نارینه ټپیان شول. زه د سهار په ۸ بجو په داسې حال کې ټپي شوم چې لاسونه مې تر شا تړل شوي وو. زه په کلاشنیکوف په ښۍ اوږه او ښۍ پښې لګېدلی وم. وژل شوي کسان، په داسې حال کې وژل شوي وو، چې لاسونه یې شاته تړل شوي او بیا د طالبانو لخوا ویشتل شوي |

| د مړکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | وو. هغوی چې موږ يې وويشتلو، په پښتو، اردو او چیچني ژبو يې خبرې کولې. زه د هغوی نومونه نه پېژنم، خو دوی د طالبانو شل تنه جنګیالي وو. وروسته له دې چې موږ يې وترلو ۲۰۰ تنه نور طالبان هم راورسېدل. له طالبانو سره کلاشنیکوفونه، ټوپکچې او راکیټونه وو. هغوی زموږ کرنیزو حاصلاتو، غواوو، پسونو، اوزو او کورونو ته اور واچاوه او زموږ ځیني اسونه يې له ځان سره بوتلل. ما ولیدل چې طالبانو دولسو کلیو ته اور واچاوه.<br><br>څو کلونه تېر شول، خو زه اوس هم کله نا کله سم خوب نشم کولای. زما اوس هم په یاد راځي چې دوی زما پلار او زما تره ووژل، او دا راته یاد دي چې څنګه دوی ووژل شول او څنګه دوی زما کور او کلی وسوځاوه او هیڅا هم له ما سره مرسته ونکړه." |
| ۲۰ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "په [نېټه]، له غرمې وروسته، زما د تره زوی چې ټکسي موټر يې چلوه او دنده يې دا وه چې پولیس له [ځای] نه [ځای] ته ولېږدوي، په [سیمه] کې د طالبانو په پوسته کې ودرول شو. طالبانو هغه وویشت او وې واژه. موږ وروسته خبر شو چې طالبانو په ټوپټر د پښې پره په غاړه اخیستې او ویلي يې دي چې هغه پولیس وو، خو هغسې نه وه. هغه یو ملکي کس وو. له پېښې وروسته په همدې ورځ، یوه موټر چلوونکي چې په همدغه لین يې موټر چلوه ماته زنګ وواهه او له دې پېښې او د مړي له ځای څخه يې خبر کړم. زه هلته ولاړم، مړی مې له هغه ځایه روغتون ته ولېږدوه چې غسل ورکړو او له هغه وروسته مې خپل کور ته راوړ." |
| ۲۱ | ۸ جنوري ۲۰۰۹ | کندهار ولایت، میوند ولسوالۍ، کشک نخود د بازار سیمه | "د پېښې دقیق وخت مې په یاد نه دی، خو دومره مې په یاد دي چې د ۲۰۰۹ کال ژمی وو. طالبانو د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ په بازار کې په بهرنیو ځواکونو برید وکړ. هغوی په بهرنیو ځواکونو چې له خپلې هډې څخه د بازار لیدلو ته راوتلي وو، ځانمرګی برید وکړ. په دغه پېښه کې څلور تنه ملکي وګړي چې ټول هټۍ وال وو، ووژل شول او د هټۍ والو په ګډون لس تنه ملکي وګړي ټپیان شول. د برید موخه نړیوال پوځي ځواکونه وو چې له خپلې هډې څخه بازار ته ورغلي وو. هغوي [نړیوال پوځي ځواکونه] له هټۍ والو سره په خبرو بوخت وو چې برید پرې وشو. څو تنه بهرني سرتېري هم ژوبل شول. له پېښې وروسته، هغوي [نړیوال پوځي ځواکونو] لاره بنده کړه او هیڅوک يې نه پرېښودل چې نږدې ورشي. په دغه پېښه کې زما ورور او د هغه زوم ووژل شول او یو وراره مې سخت ټپي شو." |
| ۲۲ | ۸ نومبر ۲۰۲۰ | کندهار ولایت، میوند ولسوالۍ، | "پېښه د ۲۰۲۰ کال په مني کې را منځ ته شوه. کره نېټه يې زما په یاد نه ده، خو دا یوه ډېرهستره پېښه وه چې ډېر ملکیان په کې ژوبل شول. دا پېښه د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ په بازار کې رامنځته شوه. برید طالبانو تر سره کړ، چې یو ځانمرګي بریدګر له چاودېدونکو توکو ډک مازدا موټر ته چاودنه ورکړه، په بازار کې يې ډېر کسان |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | د ولسوالۍ مرکز | ژوبل کړل او سختې وېجاړۍ یې را منځته کړې او شاوخوا کورونه یې هم زیانمن کړل. په دې پېښه کې زما اوښی ووژل شو. هغه د مېوند ولسوالۍ به بازار کې په خپله هټۍ کې توکي خرڅول. نوموړي د مېوند په بازار کې څلور هټۍ درلودې او له خپلو خپلوانو سره یو ځای یې خپله دوکانداري کوله. هغه په یاد برید کې ووژل شو او د هغه څلور هټۍ او مالونه له منځه ولاړل. هغه په قوم بلوچ وو. د پېښې پر مهال زه هم په بازار کې وم، خو زه د پېښې له ځای څخه یو څه لرې وم. ما په خپلو سترګو ولیدل چې ډېر کسان ووژل شول او ډېرې هټۍ ویجاړې شوې. برید طالبانو ترسره کړ او امنیتي سرتېري یې په نښه کړي وو، خو پر ځای یې ملکي وګړي زیانمن شول." |
| ۲۳ | پېټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "په [نېټه] او [... سیمه] کې، یو ناچاوده توکي چاودنه وکړه. زما زوی او زما ورور لرګي ماتول چې د هغوی تبر په چاودېدونکي توکي ولګېد او دواړه ځای پر ځای ووژل شول." |
| ۲۴ | ۲۳ اګسټ ۲۰۱۹ | زابل ولایت، قلات ولسوالۍ، د کاکړانو چینې سیمه | "زما د تره زوی احمد ضیا چې واده یې هم نه و کړی، د زابل ولایت په قلات ښار کې د کلیو د پراختیا له ریاست سره د موټر چلوونکي په توګه دنده تر سره کوله. د ۲۰۱۹ کال د اګست میاشتې په ۲۳ نېټه شاوخوا د ماسپښین په ۳:۰۰ بجو، له خپل دولتي موټر سره ورک شو. هغه د شپې کور ته رانغی. د هغه ټیلیفون هم بند و. زموږ کورنۍ د پولیسو جنایي څانګه او د ملي امنیت اداره له پېښې څخه خبر کړل.<br><br>د اګست په ۲۴ نېټه [سهار وختي] مور ته د امنیه قوماندانۍ نه زنګ راغی چې قرباني د زابل ولایت د ارغنداب په ولسوالۍ کې د طالبانو په بند خونه کې دی. مور [د کورنۍ غړو] هڅه وکړه چې څو تنه سپین ږیري او مخور را ټول کړو او د هغه مهال د طالبانو په نامه ولسوال ته ورشو څو ورسره ووینو. په داسې حال کې چې زموږ د سپین ږیرو ډله د ارغنداب ولسوالۍ مرکز ته پر لاره وه، د سره صلیب د نړۍ والې کمېټې روغتیايي کارکوونکو په قلات کې زموږ د کورنۍ له نورو غړو [د قرباني کس پلار ارغنداب ولسوالۍ ته پر لار وو] سره اړیکه نیولې وه. د سره صلیب کارکوونکو خبر ورکړی وو، چې د ارغنداب ولسوالۍ سره نږدې د شاجوی ولسوالۍ په شانخېل کلي کې یې د یوه شهید جسد موندلی چې طالبانو وژلی دی. هغه زما د تره زوی و. زموږ سپین ږیرو د طالبانو [په نوم] ولسوال څخه پوښتنه کړې وه چې ولې یې زما د تره زوی ونیوه، هغه یې بندي کړ او بیا یې وواژه. په ځواب کې د طالبانو ولسوال یوازې همدومره ویلي و چې قرباني د څه مودې لپاره له هغوی سره و خو اوس شاجوی ولسوالۍ ته لېږدول شوی. له هغه وروسته، نوموړي له سپین ږیرو غوښتي و چې له هغه ځایه ولاړ شي.<br><br>پلاوی له هغې وروسته د پېښې په هکله شاوخوا پوښتنې کړې وې. هغوی د پېښې عیني شاهدان موندلي وو. هغوي ورته ویلي وو - چې هټۍ وال دي – هغوي [ارغنداب ولسوالۍ کې] زما د تره د زوی د وژلو پر مهال هلته |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | حاضر وو. زما د تره زوی لومړی په سر او نورو برخو په مرمیو ویشتل شوی و او له هغه وروسته په موټر پسې تړل شوی او په ځمکه کش کړل شوای و. له همدې امله، د هغه د بدن تر نیمایي ډېره برخه د پېژندلو نه وه. له هغه وروسته، طالبانو یوه موټر چلوونکي ته پیسې ورکړې وې تر څو د هغه مړی له ارغنداب ولسوالۍ څخه د باندې وباسي. هغوی زما د تره زوی د ملي امنیت ادارې ته په جاسوسۍ تورن کړی و." |
| ۲۵ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | " په [نېټه] په [سیمه] کې د حکومت پلوه ځواکونو لخوا پر یو جومات هوایي برید وشو او د پخوانیو طالبانو جنګیالي یې په نښه کړل. په پایله کې دوه سړیان ووژل شول او زما د زوی په ګډون، شپږ تنه نور ټپیان شول. د چاودنې له امله د جومات یوه برخه هم زیانمنه شوه." |
| ۲۶ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "د [نېټې] په شپه، موږ د خپلو پټیو پر اوبه کولو بوخت وو، چې د نړیوالو پوځي ځواکونو چورلکو زموږ په کلي بمبار وکړ. د بمبار له پای ته رسېدو وروسته زما پلار لاړ څو د نورو کلیوالو احوال واخلي. له بده مرغه، کله چې هغه د کلي مرکزي جومات ته ورسېد، د نړیوالو پوځي ځواکونو د چورلکې لخوا چې د افغان ملي اردو کنډک ځمکنۍ ګزمې یې ملاتړ کاوه، په نښه او وویشتل شو.<br><br>افغان کمانډو ځواکونو زموږ پر کور چاپه ووهله او د کور د دروازو په ماتولو سره کور ته رادننه شول. دوی موږ ووهلو او د کور په یوې برخه کې یې محاصره کړو، زموږ کور یې ټول وپلټه او زما د پلار آیفون او زما HTC موبایل یې له ځانه سره یوړل. آن دا چې دوی زموږ د کور بالښتونه هم څیرې او لرې وغورځول. له دې یوه ورځ وروسته نړیوالو پوځي ځواکونو زموږ سیمه بیا بمبار کړه. له بمبار وروسته موږ د خپل پلار جنازه وکړه او هغه مو خاورو ته وسپاره.<br><br>د عاملینو په اړه، زه نه پوهېږم چې دوی څوک دي او له چا سره تړاو لري، خو هغه چا چې دا عملیات یې کول، په دري او پښتو ژبو یې خبرې کولې او سپیان هم ورسره وو." |
| ۲۷ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | " زه د [سیمې] اوسیدونکی یم او زه اوس هم دلته له خپلې کورنۍ سره یو ځای ژوند کوم. دوه لسیزې کېږي چې کروندګر یم او سره له دې چې زموږ کلی د طالبانو تر کنټرول لاندې دی، خو ما له دوی سره هیڅ کومه اړیکه نه درلوده.<br><br>په [نېټه] د ماښام شاوخوا ۶:۰۰ بجې زما ماشومانو د کور په حویلۍ کې لوبې کولې چې یو ناځاپه د هاوان مرمۍ دننه په حویلۍ کې ولګېده. په پایله کې یې زما درې ماشومان چې عمرونه یې ۱۰، ۸ او ۴ کاله و، ځای پر ځای ووژل |

| د مرګې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
| --- | --- | --- | --- |
| | | | شول او بل زوی مې په ښي پښه ټپي شو. موږ ټپي ماشوم [ولايتي] روغتون ته يوړ او بيا مو له هغه ځايه د [ځای] ايمرجنسي روغتون ته ولېږدوه.“ |
| ۲۸ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ”د پېښې په ورځ زه او زما کورنۍ په [ښار] کې د خپل خسر کور ته تللي وو. موږ هلته يو واده ته بلل شوي وو. موږ سره ګاونډيان هم وو. د ورځې شاوخوا ۱۰:۰۰ بجې وې چې يو راکټ د خونې پر بام ولګېد. له نېکه مرغه، په دغه وخت کې ټول له دې خونې بهر وو، يوازې زما يو کوچنی ۴ يا ۵ مياشتنی ماشوم په خونه کې په کټ کې ويده وو. زما ماشوم په څلور پارچو/چرو: دوه په سر او دوه په سينه او ګېډه کې لګيدلی و. موږ هغه په منډه روغتون ته يوړ، او د خدای شکر چې له پراخې درملنې وروسته هغه وژغورل شو. هغه څو ورځې بستر وو، او ما د هغه په درملنه زياتې پيسې مصرف کړې او د يادو لګښتونو د پوره کولو لپاره مې حتی خپل دوکان خرڅ کړ.<br><br>زه نه پوهېږم چې چا او څنګه دا راکټ توغولی وو، خو دا د افغانستان د ازادۍ له ورځې سره برابره وه، نو د دې امکان شته چې د حکومت د مخالفو وسلوالو ډلو لخوا به ويشتل شوی وي.“ |
| ۲۹ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ”په [نېټه] په [سيمه] کې يو ځای پر ځای شوی فشاري چاودېدونکی ماين چې کيداي شي د پخوانيو طالبانو لخوا په عمومي سړک د پخوانيو افغان ملي امنيتي ځواکونو (افغان ملي پوليسو/ افغان محلي پوليسو) په نښه کولو لپاره ځای پر ځای شوی وو، خو زموږ د کورنۍ پر شخصي ټويوټا موټر وچاودېد، چې په پايله کې يې زما د ورور مېرمن او زما وراره ووژل شول او زما د کورنۍ دوه نورې مېرمنې او د پخوانيو افغان محلي پوليسو د يو آفسر په ګډون چې هغه هم زموږ د کورنۍ څخه و، ټپيان شول. ټول قربانيان زموږ د کورنۍ غړي او خپلوان وو. ټپيان د درملنې لپاره په [ښار] کې خصوصي او ولايتي دولتي روغتونونو ته يوړل شول. زما د کورنۍ موټر چې دوی په کې له يو واده څخه بېرته د کور په لور راروان و، په ياده پېښه کې تخريب شو.“ |
| ۳۰ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ”په [نېټه] ماښام شاوخوا ۰۶:۰۰ بجې درې ناپېژانده وسلوالو چې مخونه يې پټ وو، په [سيمه] کې زما پلار له موټر څخه ښکته کړ، په ډزو يې وويشت او وې واژه. د پېښې عاملينو بيا زما د پلار په ټيليفون له موږ سره اړيکه ونيوله او وې ويل چې د خپل پلار جسد مو يوسئ. تر اوسه پورې د دې پېښې تر شا دليل او عاملين يې نامالوم دي. طالبانو په دې پېښه کې خپل لاس لرل رد کړي دي. زما پلار له هيڅا سره شخصي دښمني نه درلوده او د ولسوالۍ د روغتون رئيس و. هغه له ښار څخه د خپل کور په لور راروان و، چې ياده پېښه رامنځته شوه. هغه يو نوموتی جراح ډاکټر و او له دې پېښې مخکې هيڅا ورته د وژنې ګواښ نه وو کړی. له دې پېښې مخکې يو ځل طالبانو نيولی وو، خو خونديي يې بېرته خوشې کړ. طالبانو له هغه غوښتي وو څو له حکومت سره په جګړه کې د |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | دوی د ټپي شوو جنګیالیو درملنه وکړي. زما پلار له دې پرته چې څوک دی او په کومې ډلې پورې اړه لري، او یا دا چې دا د طالبانو غړی دی او که حکومت پلوی شخص دی، د ټولو ټپیانو یو شان درملنه کوله. دوه ځلې د ملي امنیت لخوا هم جلب شوی و او د هغو خلکو په اړه ترې پوښتنې شوې وې چې ده یې عملیاتونه کړي وو. هغه د ناروغانو له هویت ښکاره کولو پرته، ورته ویلي و چې، مسؤولیت یې دا دی څو هر څوک چې درملنې ته اړتیا ولري، باید درمله یې وکړي." |
| ۳۱ | ۹ سپټمبر ۲۰۱۹ | تخار ولایت، درقد ولسوالي، القنق کلی | " د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۹ نېټه ماښام مهال، د تخار ولایت په درقد ولسوالۍ کې زموږ په کلي القنق کې په طالبانو باندې هوايي برید وشو. هغه مهال زموږ کلی د طالبانو تر کنټرول لاندی وو، چې د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا یو راکیټ د کلي په یوه استوکنیزه سیمه باندې ولګېده. زما یوه ۱۱ کلنه خور، بنازګل چې له کوره بهر یې لوبې کولې، په سترګه سخته ټپي شوه. همدا راز په دې پېښه کې د مجاهدینو (طالبانو) لسګونه جنګيالي هم ووژل شول." |
| ۳۲ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | " په [نېټه] د شپې پر مهال په [سیمه] کې پخوانیو افغان ملي امنیتي ځواکونو، افغان ملي اردو، ملي امنیت او ملي پولیسو په ګډه زموږ په کلي کې د طالبانو په ضد پوځي عملیات ترسره کړل او په کلي یې څو هاوانونه او D-۳۰ توپونه وتوغول. یوه د هاوان مرمۍ هغه مهال زموږ پر کور ولګېده، چې زما مور او پلار او ټوله کورنۍ په یوه ریکشه کې له کلي څخه د یو خوندي ځای پر لور په تېښته وو. یوه د هاوان مرمۍ په ریکشه ولګېده، زما مور او پلار، دوه خویندې او یو ورور مې په کې ووژل شول او دوه کوچنې ورونه او یوه خور مې ټپیان شول. دا یوه ډېره وېروونکې شېبه وه. د پېښې پر مهال د طالبانو جنګيالي زموږ له کلي سره نږدې، یوازې څو سوه متره لرې وو. د دې برید موخه طالبان وو، خو نښه غلطه شوه او زموږ کور ولګېد. ځینې هاوانونه د کلي په نورو برخو کې ولګېدل. شپږ میاشتې وروسته زما ټپي شوې خور هم د ټپونو له امله مړه شوه." |
| ۳۳ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "په [نېټه] په [ولایت] کې کله چې د یو شخصي کار ترسره کولو لپاره له خپل کلي نه [یو بل ځای] ته پر لاره وم، د لارې په منځ کې طالبانو حکومت پلوه ځواکونو موټر ته کمین نیولی وو او پر یاد موټر یې ډزې وکړې. د طالبانو یوه مرمۍ له خپل هدف څخه خطا او زما پر اوږه ولګېده او ټپي یې کړم. د [ولسوالۍ] څخه سمدلاسه یو امبولانس راغی او زه یې روغتون ته یوړم او د شکر ځای و چې، بیا یې زه د جمهوري رژیم په یوه وروستۍ چورلکه کې د لا نورې درملنې په موخه [ولایتي] روغتون ته ولېږدولم. له جراحي عملیات وروسته یې مرمۍ زما له اوږې وویسته او زه په [ولایتي] روغتون کې یوه اونۍ او په [ښار] کې تر ۴۰ ورځو پورې د ډاکټرانو تر درملنې لاندې وم." |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۳۴ | ۵ جولای ۲۰۱۹ | پکتیا ولایت، څمکنۍ ولسوالي، چارګۍ/خېرانۍ کلي | ″ د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۵ نېټه د سهار شاوخوا ۱۰:۰۰ بجې یوې شین رنګه چورلکې زموږ په کلیو، چرګۍ او خیرانۍ باندې دورې وهلې. ما دوه کورونه درلودل: یو یې د پکتیا ولایت په څمکنۍ ولسوالۍ په چرګۍ او بل د نوزایي خولا سیمې په خېرانۍ کلي کې دي.<br><br>زه په خیرانۍ کلي کې په خپل کور کې وم چې چورلکې د چرګۍ په کلي چې یوه غرنۍ سیمه ده، بمبار وکړ او زما کور او نږدې نور کورونه یې په نښه کړل، چې له دې ځای څخه یې له ۶ نه تر ۷ کیلو مترو پورې واټن درلود. په یاد بمبار کې زما لور، بادشاه ګله (۸ کلنه) د چورلکې څخه د آر پي جي راکېټ د اور لمبو له امله چې زما پر کور یې توغولی وو، سوځېدلې وه او بې هوښه شوې وه. زما زوی، برکت الله (۱۲ کلن) د دې راکېټ په پارچو په سینه او سر لګېدلی و او ځای پر ځای وژل شوی وو.<br><br>ما په چرګۍ کلي کې زما له کور نه پورته کېدونکې لوګي ولیده؛ نو زه له خپل بل زوی فاتح الله سره له خیرانۍ کلي څخه چرګۍ کلي ته خپل کور ته لاړم. موږ ولیدل چې په ریښتیا هم زموږ په کور قیامت تېر شوی وو. ما خپله ټپي لور، بادشاه ګله په خپل موټر کې روغتون ته روانه کړه، خو هم مهاله ما ولیدل چې دغې چورلکې په خېرانۍ کلي کې زما په دویم کور هم بمبار وکړ، چې زما بل زوی، ۱۰ کلن نجیب الله، زما وراره ۱۶ کلن کریم، زما بل وراره میرزا، زما ورېره، ۱۵ کلنه عایشه د آر پي جي راکېټ په پارچو ولګېدل او ټپیان شول.<br><br>ما خپل موټر په خیرانۍ کلي د خپل کور لور ته ستون کړ څو د خپلې کورنۍ ټپي شوي غړي موټر ته پورته او روغتون ته یې یوسم. موږ هلته نجیب الله، کریم او عایشه په همدې موټر کې واچول او زما یو بله ورېره، ۱۸ کلنه بي بي حلیمه چې واده شوې نه وه له مونږ سره په دې موټر کې راپورته شوه څو ټپیان روغتون ته ورسوو. کله چې موږ ټول په موټر کې وو، چې د چورلکې څخه زموږ پر موټر ډزې شروع شوې، او زما زوی نجیب الله یې په سینه او زما ورېره، بي بي حلیمه یې هم په سینه وویشتله او دواړه ځای پر ځای مړه شول. موږ دواړه مړي، نجیب الله او حلیمه په کور کې پرېښودل او ټپي ماشومان مو د یو کلیوال په موټر کې واچول او د څمکنۍ ولسوالۍ شهرنو روغتون ته مو د بیړنۍ درملنې لپاره یوړل.″ |
| ۳۵ | ۵ اګست ۲۰۱۶ | پکتیا ولایت، څمکنۍ ولسوالي، د ګردیز-څمکنۍ عمومي سرک د ولسوالۍ مرکز سره نږدې | ″ د ۲۰۱۶ کال داګست په ۵ نېټه د جمعې په ورځ د جمعې له لمانځه وروسته شاوخوا ۲:۰۰ بجې زما پلار زما نیا په خپل موټر کې بوتله. له دوی سره زما مور، عزت بي بي، زما ۲ کلن ورور، عثمان او زما د پلار د کاکا زوی، ۳۶ کلن مطیع الله هم وو. زه هغه مهال ۱۸ کلن وم. له خپلې کورنۍ سره له خدای په امانۍ وروسته خپل کلینیک ته لاړم څو خپل د درملتون کارونه تنظیم کړم. د مازیګر شاوخوا ۴:۰۰ بجې زما یو ملګري راغی او د څمکنۍ-ګردیز په |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | عمومي سرک يې د چاودنې خبر راکړ او غوښتنه يې وکړه چې د پېښې ځای ته ورشم او قربانيان له نږدې وګورم. کله چې زه د پېښې ځای ته ورسېدم، ومې کتل چې بدبختانه زما مور او پلار، ځوان ورور، نيا او د کاکا زوی مې مړه پراته دي. ما ډېر سخت ټکان وخوړ او بې هوښه شوم، چې بيا وروسته په کور کې په هوښ راغلم او چې سترګې مې پرانيستې، ومې ليدل چې پنځه جسدونه په کفنونو کې پراته دي. زما پاتې کورنۍ، زما د مېرې مور، څلور ورونو او درې خويندو په ګډون ټولو شاک ليدلی وو. موږ نه شو کولای دا حقيقت ومنو چې زموږ پر کورنۍ، په تېره بيا زما مور او پلار ته څه پېښ شوي دي.<br><br>دا چاودنه هغه مهال رامنځته شوه چې زما د پلار موټر د څمکنۍ ولسوالۍ د نوزايي خولا سيمې څخه تېرېده، چې د وسلوالو مخالفينو (طالبانو) لخوا پر ځای پرځای شوي فشاري ماين وربرابر شو او په موټر کې سپاره ټول په کې ووژل شول.“ |
| ۳۶ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ” د ماښام ۶:۳۰ بجې [د يو ځايي مشهور سياستوال د لور واده] وو. دغه [سياستوال] او څو نورو سياسي څېرو هم په ياد واده کې ګډون کړی وو او د واده تالار ته راغلي وو. زيات شمېر ميلمانه له مخکې راغلي وو. زما په ياد دي چې د يوې سترې چاودنې غږ مې واورېد. زه څو دقيقې بې هوښه وم، خو چې سترګې مې خلاصې کړې، هر لور ته تورتم، خاورې او لوګی و. ما کوښښ وکړ چې ودرېږم او وګورم چې څه شوي دي. کله چې پورته شوم، ومې ليدل چې زيات خلک په وينو کې لت پت او په ځمکه پراته دي. ما وليدل چې د دغه [سياستوال] يو لاس او يوه پښه نشته، او نور سياسيون هم پر ځمکه پراته دي. د ځانمرګي بريدګر سر د تالار په چت کې نښتی وو، او د بدن نيمايي برخه يې په ځمکه پرته وه. ما نه شو کولای له تالار څخه بهر ووځم او تر هغې پورې تم شوم چې، د امبولانسونو او د پوليسو د موټرو اوازونه مې واورېدل. زه د پوليسو يو افسر له تالار څخه بهر راوويستم. هلته مې وليدل چې دوه بلک هاک چورلکې دورې وهې او د چاودنې ساحه ګوري. د شيشو ټوټې زما په بدن لګېدلې وې او زما سر او پښې يې ټپي کړې وې. دا يوه ستره چاودنه وه، چې زموږ په ولايت کې يوه تاريخي چاودنه بلل کېږي. په ياده چاودنه کې ۵۰ عام خلک ټپيان او ووژل شول. زه د ملي امنيت رياست مرکزي دفتر ته د درملنې لپاره ولېږدول شوم.“ |
| ۳۷ | ۲۰ مې ۲۰۲۱ | سرپل ولايت، سيد اباد ولسوالۍ، چکران سيمه | ” د ۲۰۲۱ کال د مې مياشتې ۲۰ نېټه د شنبې ورځ شاوخوا غرمه مهال وو، چې د سيد اباد ولسوالۍ اړوند زموږ کلي چکران کې مې په خپل پټي کې پياز کرل. زموږ کلي سره نږدې يو بل کلی دی، چې مغل جار ورته وايي او هلته طالب جنګياليو يو مرکز جوړ کړی وو. له بلې خوا، افغان ملي اردو زموږ کلي سره نږدې له خپلو وسلو او مهماتو سره ځای پر ځای شوي وو، څو پر طالبانو بريد وکړي. |

| د مرګې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | افغان ملي اردو په طالبانو ډزې وکړې. طالبان وتښتېدل او کلی یې پرېښود، خو څو دقیقې وروسته د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو یوه جنګي الوتکه زموږ د کلي فضاء ته راورسېده او درې بمونه یې وغورځول. دوه بمونه زما پر کور وغورځېدل او دریم یې زما له کور سره نږدې سړک په غاړه ولګېده. زما کور څلور خونې درلودې، چې ټولې یې ویجاړې شوې او هر څه په کې وسوځېدل. زما څلور کلن زوی، ذاکر دننه په خونه کې ویده وو. هغه د بم پر پارچو له لګېدو وروسته ځای پر ځای ووژل شو او د خونې چت پرې کېناست. زما مېرمن په مړوند او سر ټپي شوه او بل زوی مې په پښه او لاس ټپي شو، چې اوس یې هم لاسونه سم کار نه کوي. زما لور په مخ ټپي شوه، خو اوس ښه ده. زه ژوندی پاتې شوم، ځکه له کوره لږ څه لرې په خپله کرونده کې وم. ما د خپلې کورنۍ ټپي شوي غړي د سرپل عامه روغتون ته د درملنې لپاره یوړل.“ |
| ۳۸ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | پټې ساتلې شوي |
| ۳۹ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | پټې ساتلې شوي |
| ۴۰ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | پټې ساتلې شوي |
| ۴۱ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ” دا پېښه په [سیمه] کې د ماسپښین شاوخوا ۲:۰۰ بجې پېښه شوه. [زموږ کلی] د طالبانو او [نږدې کلي] د پخوانیو افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو تر کنټرول لاندې وو. زموږ کور د هغه جومات ترڅنګ و چې د طالبانو جنګیالي به په کې پاتې کېدل. حکومتي ځواکونو د طالبانو پر جنګیالیو برید وکړ. د هغوي هدف هغه جومات و چې د طالبانو جنګیالي په کې وو. دوی پر کلي راکیټونه او ګرنېټونه وغورځول. یو راکیټ هغه مهال زما پر کور ولګېد، چې زما او زما د خپلوانو ماشومانو لوبې کولې. څلور هلکان چې عمرونه یې (۷، ۸، ۱۰، ۱۲) کلونه وو، ځای پر ځای ووژل شول. په دوی کې یو زما زوی و او درې مې وربرونه وو. زما ۱۳ کلنه لور او یوه بله میلمنه انجلۍ په پښو او خېټه کې ولګېدې او ټپیانې شوې. کور بشپړ ویجاړ شو.“ |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۴۲ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ” زه د ملي اردو له پوستې سره نږدې اوسېږم. [د پخواني حکومت د نسکورېدو څخه څه موده مخکې]، طالبان د شپې لخوا په زور سره زموږ کور ته راننوتل او د مرکز په توګه يې ترې کار واخيست. زه او زما کورنۍ ډېر وېرېدلو چې څه به راپېښېږي.<br><br>په بله ورځ د ملي اردو یو افسر ماته زنګ ووهه او اخطار يې راکړ که چېرې طالبان زما له کوره ونه وځي، دوی به پرې د هاوانونو او نورو درنو وسلو برید وکړي. هغه ماته اخطار راکړ چې باید خپله کورنۍ یو بل ځای ته یوسم.<br><br>ما په سیمه کې د طالبانو له قوماندان نه غوښتنه وکړه څو زموږ کور ژر تر ژره پرېږدي. زما کور ډېر لوی و او دوی د پټېدو او دفاعي حالت نیولو لپاره مناسب بللی وو، خو دوی زما کور د ویجاړېدو او تخریب کېدو له خطر سره مخ کاوه. سره له دې چې ما له دوی نه زما د کور پرېښودو غوښتنه وکړه او دا مې ورته وویل چې افغان ملي اردو به زما کور ویجاړ کړي، خو دوی ونه منله چې کور نه ووځي.<br><br>زما وېره هغه وخت په حقیقت بدله شوه چې د دوارو لورو ترمنځ جګړه پیل شوه. دوی هاوانونه او نورې درنې وسلې وکارولې. کله چې جګړه پیل شوه، لومړی طالبانو د افغان ملي اردو په پوسته ډزې وکړې، چې په ځواب کې يې ملي اردو څو هاوانونه وتوغول. یو هاوان مخامخ زما پر کور ولګېد، او زما کور اور واخیست. زما کور بشپړ ویجاړ شو.“ |
| ۴۳ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ”په [نېټه] سهار مهال شاوخوا ۵:۳۰ بجې زه له خوبه پاڅېدم او د سهار لمانځه د ادا کولو په موخه مې جومات ته د تللو اراده وکړه. شل دقیقې وروسته مې د یوې سترې چاودنې غږ واورېد، او ومې لیدل چې زما خونه له دوړو او خاورو ډکه شوه. ما لومړی فکر وکړ چې زما پر کور هاوان ولګېد، خو وروسته پوه شوم چې طالبانو له چاودېدونکو توکو ډک موټر ته له [یو نظامي مرکز] سره نږدې [روغتون] مخې ته چاودنه ورکړه. د دې چاودنې اصلي موخه [د دغه نظامي مرکز] د دېوال نړول وو، څو دوی دغه مرکز ته ننوځي. په دغه چاودنه کې زيات شمېر ملکي وګړي ټپیان شول.<br><br>د دغې چاودنې په پایله کې، زه په تندي د پارچې/چرې لګېدلو له امله ټپي شوم او زما مور او ۱۲ کلن زوی مې د ښیښو د ماتېدو له امله ټپیان شول. مور د درملنې لپاره روغتون ته یوړل شو او زموږ دوه خپلوان چې شدید ټپیان شوي وو، هم روغتون ته ورسول شول. |

| د مرګې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | سرېېره پر دې، زموږ د کور یوه برخه د دې قوي چاودنې له کبله ویجاړه شوه، او د کور دروازه، کړکۍ ګانې او ټولې ښیښې هم ماتې شوې." |
| ۴۴ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | پټې ساتلې شوي |
| ۴۵ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | پټې ساتلې شوي |
| ۴۶ | ۹ اګست ۲۰۲۱ (تقریباً) | خوست ولایت، موسی خیلو ولسوالۍ، زړه کوټ، لمر کلی | " د جمهوریت له سقوط نږدې ۶ ورځې مخکې مازیګر مهال شاوخوا ۴:۰۰ بجې وې چې د پخواني حکومت او طالبانو ترمنځ شدیده جګړه ونښته. موږ دننه په کور کې وو او زیات وویرېدو. زما پلار برات، زما خور نظیفه، ورور مې عابد او ګرانه خور مې (سایره) د کور دننه په یوه خونه کې وو. له کور دننه د یوې ناڅاپي چاودنې وروسته سخت وویرېدو. وروسته مالومه شوه چې چاودنه د جګړې د یو لوري لخوا د هاوان مرمۍ توغولو له امله رامنځته شوې ده. دا څرګنده نشوه، چې مرمۍ چا توغولې، خو مخامخ زموږ په کور ولګېده. زه نه پوهېدم چې څه وکړم. چاودنې زموږ کور ته پراخې ویجاړې واړولې. جګړې خورا زور واخیست. زما پلار، خویندې او ورور په وینو کې لت پت پراته وو. ما ونشو کولای دوی په هغه وخت کې روغتون ته ورسوم، چې بدبختانه زما پلار او زما یوې خور د ټپونو له امله ساه ورکړه او شهیدان شول. زما بله خور او ورور د ټپونو له امله په هماغه شپه په خوست ښار کې په یو خصوصي روغتون کې بستر شول." |
| ۴۷ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "دا پېښه د ماسپښین شاوخوا ۲:۴۰ بجې په عمومي سړک پېښه شوه. کله چې له دریو نورو همکارانو سره له [سیمې] څخه [بل ځای] ته روان وم، نامالومو وسلوالو کسانو پر موږ برید وکړ، وروسته مالومه شوه د طالبانو جنګیالي دي. دوی زه او زما یو همکار اختطاف کړو، خو دوه نور په تېښته بریالي شول. [زما همکار] او زه له دوی سره دوه نیمې میاشتې بندیان وو. زه ډاډه یم چې موږ طالبانو نیولي وو.<br><br>شاوخوا د ماسپښین ۲:۴۰ بجې اتو وسلوالو عمومي سړک بند کړی وو. دوی زموږ موټر ته راغلل او موږ دواړو ته یې وویل چې له موټره ښکته شو. دوی په زور سره له کېنې اوږې راکش کړم او خپل موټر ته یې یوړم او کله چې ما ورسره مقاومت وکړ، په سر یې د ټوپکچې په کُنداغ ووهلم. زما سر په وینو شو او ټولې جامې مې په وینو ککړې |

| د قرباني څرګندونې | ځای | نېټه | د مرکې شمېره |
| --- | --- | --- | --- |
| شوې. دوی زه د موټر د شا په سیټ کې کېنولم او دوه وسلوال طالبان مې یوې خوا او بلې خوا ته کېناستل، زما سترګې او لاسونه یې وتړل او زما ټول شیان او د جیب سامان یې واخیستل.<br><br>له شاوخوا دوه ساعته مزل وروسته دوی زه له موټره ښکته کړم او په داسې حال کې چې سترګې او لاسونه مې لا هم تړلي وو، شاوخوا ۱۵ نه تر ۲۰ دقیقې یې پلی بوتلم. دوی بالاخره زما لاسونه خوشې کړل او په زوره یې دې ته اړ ایستم چې له دوی سره څلور ساعته په منډه مزل وکړم، چې په ترڅ کې یې موږ له غرنیو سیمو تېر شو. تیاره خپره شوه او هیڅ افغان ملي امنیتي او دفاعي ځواکونه رانغلل څو موږ وژغوري. د شپې یو بل موټر راغی او زه او زما همکار یې سترګې تړلي او لاس تړلي بوتلو. موږ درې ساعته تر هغه کور پورې مزل وکړ چې هلته بیا د طالبانو غړو له موږ نه زموږ د کار او سابقې په اړه پوښتنې وکړې او ویې وهلو.<br><br>په دې کور کې له دریو شپو تېرولو وروسته د طالبانو یوې نوې ډلې موږ تر څلور ساعته د موټر مزل وروسته یوې غرنۍ سیمې ته یوړو او سترګې او لاسونه تړلي مو هلته تګ وکړ. موږ یې د ځارویو په غوجل کې په لاسونو او سترګو تړلي او د ځارویو د فضله موادو په منځ کې ۱۸ شپې وساتلو. طالبانو زموږ د کورنۍ مالوماتو په اړه له موږ تحقیق کوه، موږ یې وهلو، بدې ردې یې ویلې او موږ ته یې د محاکمه کولو ګواښ کاوه. په ۱۹مه شپه دوی د خپلې محکمې د فتوا او حکم په اساس په یو شمېر د اسلام ضد کړنو په جرم مجرم وپېژندلو او موږ ته یې امر وکړ چې له خپلو کورنیو سره د وروستي ځل لپاره خبرې وکړو او خپل پیغامونه ورته پرېږدو. ما نشو کولای چې د ټیلیفون یوه شمېره هم را په یاد کړم، خو [زما همکار] وکولای شول له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیسي. دوی بیا موږ یوې ازادې غرنۍ سیمې ته یوړو او پر موږ یې څو خطایي ډزې وکړې څو موږ دې ته اړ کړي چې خپلو کورنیو ته ووایو چې که غوښتنې یې ونه منل شي، دوی به ډېر ژر موږ ووژني.<br><br>په سبا سهار یې موږ بل ځای ته یوړو او هلته یې د کوچیانو په خېمه کې څلور شپې وساتلو او دوامداره یې په ویره او ډار کې وساتلو. د طالبانو یوې بلې ډلې سترګې او لاسونه تړلي بیلابیلو ځایونو ته یوړو. یو ځل یې موږ یو داسې کور ته یوړو چې پر دېوالونو یې د مرمیو داغونه او سوري وو او هلته یې دوه شپې وساتلو. له هغه ځایه یې موږ په داسې حال کې چې زموږ خولې یې بندې کړې وې، یو بل ته ځای بوتلو چې فکر مو کاوه [ځای] به وي او هلته یې ۱۴ شپې په بند کې وساتلو چې نسبتاً ښه چلند یې راسره وکړ.<br><br>زما دقیق په یاد نه دي چې نور کوم ځایونه دي چې دوی موږ هلته وړي وو، خو په پای کې دوی موږ یو بل ولایت ته یوړو. هغوي موږ بیا یو بل ځای ته ولېږدولو او دوه شپې یې هلته په یوه داسې خونه کې واچولو چې د غوایانو غوشایي هم په دېوالونو تپل شوي وو، او بیا یې درې شپې په یوه ځمکتلې کې چې حشرات هم پکې وو، وساتلو. موږ | | | |

| د قرباني ځرګندونې | ځای | نېټه | د مرکې شمېره |
|---|---|---|---|
| ترې غوښتنه وکړه چې په یو سم ځای او خونه کې مو وساتي او وروسته یې بیا یو نوي ځای ته یوړو چې هلته یې راته وویل چې تاسې به سبا ورځ ازاد شئ. سبا سهار یې موږ [یو بل ځای] ته یوړو، او هلته یې له موږ دا اقرار واخیست او ثبت یې کړ چې موږ په کې وویل له موږ سره بد چلند ندی شوی. په پای کې، موږ یې [د ولایت په مرکز] کې له موټرو ښکته کړو او هلته خلک موږ ته انتظار وو چې کور ته مو بوځي." | | | |
| " یوه ورځ له ښاره لرې مې موټر چلوه، ناڅاپه خبر شوم چې ورور مې ټپي شوی او باید په منډه روغتون ته ورشم. د طالبانو یو ځانمرګي بریدګر [د ولایت مقام] سره نږدې ځان ته چاودنه ورکړې وه، زه نه پوهېدم هدف به یې څوک و.<br><br>زما ورور یو ملکي وګړی دی او د منځنۍ کچې شخصي کاروبار کوي. هغه د چاودنې پر مهال په یاده سیمه کې وو، چې په پایله کې یې سخت ټپی شو." | پېټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۴۸ |
| " د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۸ نېټه، ماسپښین شاوخوا ۳:۰۰ بجه د نیمروز ولایت د دلارام ولسوالۍ په حاجي غلام مارکېټ کې چې هلته مې د خوراکي توکو یوه هټۍ درلوده، طالبان زما هټۍ ته ودربدل. دوی د پخواني رژیم د ولسوالۍ د پولیسو لخوا تعقیب شوي وو. طالبان چې سمدلاسه یې له صحنې تښتته کوله، پولیسو پرې له توپېر پرته د کلاشینکوف او پیکا ډزې وکړې. په پایله کې یې، زه په دواړو ښنګرو ولګېدم او سخت ټپي شوم او زما ګاونډۍ هټیوال ووژل شو.<br><br>د وینې بهېدو او شدید درد له امله بې هوښه شوم. ځایي کسانو زه یو نږدې خصوصي روغتون ته یوړم څو لومړنۍ درملنه مې وکړي. وروسته بیا په کندهار کې مومند، یو مجهز خصوصي روغتون ته د ارتوپېډي عملیات ترسره کولو لپاره یوړل شوم. زه یو څه وخت بستر وم، او هلته دا مالومه شوه چې زما یوه پښه په مرمۍ د لګېدو له امله فلج شوې ده." | نیمروز ولایت، دلارام ولسوالۍ، حاجي غلام مارکېټ کې | ۸ اکتوبر ۲۰۱۶ | ۴۹ |
| " زه به د قرباني په استازیتوب چې روغتیا یې ښه نه ده او نشي کولای مرکه وکړي، خبرې وکړم. د قرباني د خپلوان په توګه زما د مالوماتو سره سم، چې کره نېټه یې زما په یاد نه ده څلور نیم کاله مخکې خو په ډېر احتمال سره د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ لومړۍ نېټه وه، یو ماسپښین د زابل ولایت د دای چوپان ولسوالۍ، میزاني ولسوالۍ سره نږدې، د سرې قلعه په سیمه کې، کله چې زما د ښینې د کورنۍ غړي، درې زامن، یوه واده شوې لور او د هغې یو زوی، او زما ښینه په خپل کور کې وو، د جمهوریت د پوستې پولیسو چې د دوی له کور سره نږدې وه، له طالبانو | زابل ولایت، دای چوپان ولسوالي، سره کلا سیمه | ۱ جنوري ۲۰۲۰ (تقریباً) | ۵۰ |

| د مړکي شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | سره وسلواله نښته پیل کړه. د نښتې له پیلېدو لږ وروسته، د هاوان یا راکټ یوه توغول شوې مرمۍ په هغه خونه ولګېده چې قرباني او د هغې لمسی په کې و. په پایله کې یې خونه ویجاړه شوه او هلک ووژل شوه او قرباني ټپي شو. موږ هیڅ نه پوهېدو دا راکټ له کومې خوا راوتوغول شو او چا وتوغوه ځکه د دواړو خواوو ترمنځ ډېره سخته ځمکنۍ جګړه نښتې وه او دواړو خواوو د سپکو او درنو وسلو ډزې کولې." |
| ۵۱ (دوه مړکه شوي) | ۱۸ جون ۲۰۲۱ | جوزجان ولایت، اقچې ولسوالي، اقچه نمای سیمه | [غوث الدین، د قرباني پلار]: " د ۲۰۲۱ کال د جون په ۱۸ نېټه د جمعې ورځ سهار وختي ۴:۰۰ بجې زه د سهار لمانځه د اداء کولو په موخه جومات ته روان وم. د اوړي موسم و او هوا ګرمه وه او زما ټوله کورنۍ زما د دوو ځوانو زامنو، زما ناروغه مور او زما واده شوې خور په ګډون چې زما د ناروغې مور پوښتنې ته راغلي وه، ټول د کور په حویلۍ کې ویده وو. ناڅاپه د اربکیانو له پوستې څخه یو راکټ د جوزجان ولایت د اقچې ولسوالۍ په اقچه نمای سیمه کې زموږ پر کور ولګېد. کله چې مې سترګې پرانیسې، زما مور او خور او پنځه کلن او شپږ کلن دوه زامن په وینو کې پراته دي او هیڅ حرکت نشي کولای. ما منډه کړه څو خپله مور او خور راپورته کړم خو د ځینو ټپونو درلودلو له امله زه هم په ځمکه راپریوتم. زموږ ګاونډیان په چټکۍ سره زموږ مرستې ته راورسېدل، او زه پوه شوم چې زما مور او خور مړې شوي او دوه زامن مې شدید ټپیان شوي دي، چې یو یې په پښه او بل یې په ګېډه لګېدلي وو او دواړه معلول شول."<br><br>[قرباني، بلال]: " زه د شپې په ماشلومه کې آرام ویده وم چې یو ناڅاپه له ویروونکې خوب نه راویښ شوم. ما په حېرانۍ سره ولیدل چې مور مې زما پښې په یو ټوکر تړي. بل دا چې زه کله په ځان پوه شوم، ګورم چې په روغتون کې یم. په روغتون کې له لسو ورځو بستر کېدو وروسته، په دې پوه شوم چې زه خپله پښه نه شم ښورولی. داسې مې احساس کړه چې ړنا ورځ راباندې توره شپه شوه، زما پښه دوه ځلې عملیات شوه، خو له بده مرغه عملیاتونه بریالي نه شول. له هغه وخت وروسته، اوس له لکړو پرته ګرځېدای نه شم ځکه زما پښه شدیده زیانمنه شوه." |
| ۵۲ | ۳ اکتوبر ۲۰۱۶ | جوزجان ولایت، درزاب ولسوالۍ، د ولسوالۍ بازار سیمه | " د دوشنبې ورځ سهار مهال یو هلک زموږ د کور دروازه وټکوله، او ویې ویل چې د ولسوالۍ په بازار کې ستره چاودنه شوې ده او زما مېړه په کې ټپي شوی دی. زیات شمېر خلکو ته زیان واوښت، او زما د مېړه په ګډون ټول مړي او ټپیان د درزاب ولسوالۍ روغتون ته یوړل شول. زما خسر په منډه روغتون ته لاړ او په هماغه ورځ یې زما مېړه د جوزجان ولایتي روغتون ته ولېږدوه. زما مېړه خپل پلار نه غوښتنه کړې وه، ورته یې ویلي و چې زه مړ کېږم او یو ځل باید خپل ماشومان او مېرمن وګورم، خو ما ونشو کولای هغه وګورم ځکه ما د ورتګ لپاره د موټر کرایه |

| د مرګې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | نه لرله. په روغتون کې زما د مېړه عملیات وشو، خو په دغه چاودنه کې د ژور ټپ له امله یې په سبا ورځ خپل ژوند له لاسه ورکړ." |
| ۵۳ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | " د جمعې ورځې سهار ۱۰:۰۰ بجې وې چې زما د کورنۍ او زما د لیوره د کورنۍ ټول اته تنه له خپل کور څخه په یوه موټر کې زما د ۲۰ کلن وراره/خوریي د جنازې او تدفین مراسمو ته چې یوه ورځ مخکې د حکومت لخوا توغول شوو هاوانونو کې وژل شوی و، روان وو.<br><br>خو په لاره زموږ موټر په یو ځای پر ځای شوي فشاري ماین وربرابر شو چې په چاودنه کې یې زما مېړه ووژل شو او زه خپله ټپي شوم او همدا راز زما لور او زما زوی هم ټپیان شول. سربېره پر دې، په دې پېښه کې زما د لیوره د ښځې او د هغې د دوه کلنې لور، خپلوان سړي او موټر چلوونکي په ګډون، څلور خپلوان هم ووژل شول.<br><br>طالبانو د حکومتي ځواکونو یو ټانک ته د سړک غاړې چاودېدونکی ماین ایښی وو، کله چې زموږ موټر پرې تېر شو، چاودنه یې وکړه او یوه خونړۍ پېښه رامنځته شوه. زما مېړه شاوخوا څلور ساعته ژوندی و، او له ما نه شل متره لرې پروت وو، لور مې لس متره لرې پرته وه او زوی مې پنځه متره له ما لرې پروت وو. زما خاوند له ما مرسته وغوښته څو موبایل یې له جیب څخه راوباسم او د مرستې لپاره یو چاته زنګ ووهي، خو ما ورته وویل چې زه حرکت نشم کولای ځکه دواړه پښې مې ماتې دي. بیا هغه کوښښ وکړ چې په خپل لاس باندې ټیلیفون له جیبه راوباسي، خو ونه توانېد. همدارنګه د زما د لیوره ښځه هم ژوندۍ وه، او زما مېړه او هغې دواړو له مرینې مخکې د مرستې چیغې وهلې. حکومت درې ځلې کوښښ وکړ چې مړي او ژوندي پورته کړي، خو هر ځل پرې طالبانو له یوه نږیدلې کور څخه چې دوی هلته پټ وو، برید کاوه. حکومتي ځواکونو په څلورم ځل د طالبانو پر پټنځای لوی برید وکړ او په دې وتوانېدل چې مړي او ټپیان پورته کړي. خو له بده مرغه، زما مېړه او د زما د لیوره ښځه تر هغه وخته مړه شوي وو او زه او زما دوه ماشومان یې وژغورلو." |
| ۵۴ | ۶ سپټمبر ۲۰۱۶ | جوزجان ولایت، شبرغان ښار، افغان تیپه کلی، خواجه برهان سیمه | " د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر په ۶ نېټه د سهار مهال شاوخوا ۹:۳۰ بجې وې چې، یو هلک زموږ د کور دوازه وټکوله او وېې ویل چې د ځارویو په څرځای کې یوه چاودنه شوې، چې زما زوی، وراره او یو بل ماشوم په کې ټپیان شوي دي. زه په یوه کرایي موټر کې په منډه د پېښې ځای ته لاړم، او ومې لیدل چې زما د زوی په ګډون درې واړه هلکان په وینو کې لت پت پر ځمکه پراته دي. زه د پېښې له رامنځته کېدو نیم ساعت وروسته د پېښې ځای ته ورسېدم. دا پېښه د جوزجان ولایت د شبرغان ښار اړوند د خواجه برهان سیمې په افغان تیپه کلي کې هغه مهال رامنځته |

| د مرګي شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | شوه، کله چې یو پسه د هاوان په یوې ناچاودې مرمۍ پښه کېښوده، چې په چاودنه کې یو پسه او درې هلکان ټپیان شول." |
| ۵۵ | ۲۵ اکتوبر ۲۰۱۵ | جوزجان ولایت، خماب ولسوالۍ، اتفاق پائین کلی، دانه ګي سیمه | " د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۲۵ نېټه، د یکشنبې ورځ ماښام لمانځه وخت و او له ما سره خپل نوی زېږېدلی ماشوم و او په خپله خونه کې وم. زما مېړه د ماښام لمانځه ادء کولو لپاره جومات ته روان و، چې یو ناڅاپه د حکومت لخوا توغول شوې یوه د هاوان مرمۍ د جوزجان ولایت د خماب ولسوالۍ په دانه ګي کلي کې زموږ د کور د دروازې مخې ته ولګېده چې له امله یې زما مېړه ووژل شو. د دې مرمۍ پارچو له امله څلور نور کسان سخت ټپیان شول: زما ۱۷ کلنه لور، زما لیور او د هغه ۹ کلن زوی چې یوه ورځ مخکې له روانو وسلوالو نښتو له امله له خپل کلي څخه زموږ کور ته راتښتېدلی و او دلته یې پناه اخیستې وه، او زما د بل لیوره ښځه چې زموږ په ګاونډ کې وو. سربېره پر دې، د دې چاودنې له امله زموږ د کور یوه برخه هم زیانمنه شوه." |
| ۵۶ | ۲۵ اکتوبر ۲۰۱۵ | جوزجان ولایت، خماب ولسوالۍ، دانه ګي کلی | "زه او زما پلار د جوزجان ولایت د خماب ولسوالۍ په دانه ګي کلي کې د خپل کاکا په کور کې وو، چې د ماښام لمانځه مهال، د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۲۵ نېټه شاوخوا ۴:۳۰ بجې، د هاوان یوه مرمۍ د هغوی په کور ولګېده او زه بې هوښه شوم. کله چې په هوښ راغلم، ومې لیدل چې زیات شمېر ګاونډیان راټول شوي، چیغې وهي او ژاړي. ما ولیدل چې زما یوه سترګه ړنده شوې، کاکا مې وژل شوی او زما د پلار، د کاکا د لور او د دوه نورو کاکاګانو ښځو په ګډون څلور نور کسان ټپیان شوي او په وینو ککړ وو.<br><br>د هاوان دا مرمۍ د خم اب ولسوالۍ بازار ته نږدې سیمه کې د ولسوالۍ مقام دننه څخه حکومتي ځواکونو توغولې وه. زموږ یو خپلوان د هاوان مرمۍ توغولو عیني شاهد و او دوی ته یې ویلي و چې دا مرمۍ مه توغوئ ځکه هلته طالبان نشته. طالبانو له بل کلي څخه د حکومتي ځواکونو پر یوه مرکز برید وکړ او سمدلاسه له سیمې وتښتېدل. خو سره له دې، حکومت بیا هم په خپلو ړندو راکیټونو او هاوانونو د ملکیانو کورونه په نښه کړل، چې یوه د هاوان مرمۍ زما د کاکا پر کور ولګېده." |
| ۵۷ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | " زما مېړه ځوان او یو تکړه ډاکټر و. هغه اووه کاله طب ولوست او په دې وروستیو کې په [سیمه] کې په یوه روغتون کې د ډاکټر په توګه په دنده وګمارل شو. په [نېټه] شاوخوا ۸:۰۰ بجې کور ته د راتللو پر مهال ناپېژاندو کسانو په ډزو ویشت او ووژل شو." |

| د مرګې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۵۸ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ˮ په [نېټه] د ماسپښین ناوخته په [سیمه] کې د طالبانو او افغان ملي اردو ترمنځ، وروسته له هغه ،سخته نښته پیل شوه چې طالبانو د افغان ملي اردو پر مرکز د هاوان مرمۍ وتوغولې. دغې نښتې څو ساعته دوام وکړ او دواړو لورو یو پر بل د هاوان او راکیټ مرمۍ وتوغولې. له بده مرغه، د هاوان یوه مرمۍ زموږ پر کور ولګېده او د کور د څو خونو له زیانمنولو سربېره یې زه او زما زوی [نوم] د هاوان مرمۍ پر پارچو له لګېدو سره ټپیان شو.<br>زه سرېیرن ټپي وم، خو زما زوی سخت ټپي شوی وو. موږ هغه [ولایتي] روغتون ته یوړ، خو د ټپونو د ژوروالي له امله یې هغه یو بل روغتون ته ولېږه او په هغه روغتون کې له اووه ورځو تېرولو وروسته له روغتون نه رخصت شو، خو له هغې وروسته مو د درې میاشتو لپاره په دوامداره توګه هره اونۍ یو ځل روغتون ته راووست.ˮ |
| ۵۹ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ˮ نږدې دوه کاله مخې شاوخوا د ماسپښین ۱:۰۰ بجه زما دوه د کاکا زامن او یو کلیوال ملګری [ښار] ته روان وو خو د کور د لپاره اړین توکي واخلي. سړک ډېر خراب وو، نو دوی له موټر څخه ښکته شول او پلي روان شول. له دوی څخه یو تن یې په ناپامۍ کې پښه پر یو ښخ شوي ماین کېښوده او چاودنه یې وکړه. په دغو درې کسانو کې زما د کاکا زوی او کلیوال ملګری شهیدان شول او بل د کاکا زوی مې سرېیرن ټپي شو. دغې چاودنې هغه ډېر لړې غوږځولی و خو ټپونه یې ژور نه وو.ˮ |
| ۶۰ | ۲ اپریل ۲۰۱۸ | کندز ولایت، دشت ارچي ولسوالۍ، لغمانیانو کلی | ˮ زما په یادښت د ۲۰۱۸ کال د اپریل په لومړۍ نېټه د ماسپښین شاوخوا ۱۲:۰۰ بجې وې، زه د کندز ولایت د دشت ارچې ولسوالۍ لغمانیانو کلي کې د ګوجر اخندزاده مدرسې د دستار بندۍ مراسمو کې وم، چې د افغان ملي اردو دوه وړې چورلکې سیمې ته راورسېدې. خلک ډاډه وو چې بریدونه به نه کوي ځکه د دستار بندۍ مراسم د کندز له والي او په کندز ولایت کې له امنیتي ادارو سره له همغږۍ وروسته تنظیم شوي وو. د کندز ولایت او ځینې نورو ولایتونو څخه په سلګونو کسانو په دې مراسمو کې برخه اخیستې وه. غرمه شوه او د غرمې ډوډۍ – خیرات-تیاره وه او د دې سیمې او نورو نږدې سیمو لسګونه کروندګر، کاریګر او د سیمې نور غریب خلک او د نورو ګاونډیو کلیو څخه ماشومان او همدارنګه د سیمې د دوه ښوونځیو زده کوونکي هم راغلي وو چې ډوډۍ وخوري. ناڅاپه په دغه غونډه برید وشو، نږدې کورونه او د ښوونځي ودانۍ هم په سیمه کې تر برید لاندې راغلې. دواړو چورلکو نږدې ۲۰ دقیقې په دغو ځایونو راکېټونه وویشتل او ډزې یې پرې وکړې. د دغه برید په پایله کې د سړیانو او هلکانو په ګډون، ۶۴ ملکیان ووژل شول او د هلکانو از زما په ګډون ۲۰۳ تنه نور ټپیان شول. د زما په ګډون شاوخوا ۷۰ تنه شدید ټپیان شوي وو.ˮ |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۶۱ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ” په [نېټه] زموږ د کلي غونډیو ته نږدې په یوه ازاده ساحه کې یوه ناچاودې مرمۍ وچاوده. د دې چاودنې په پایله کې زما ۸ کلن زوی هغه مهال ووژل شو او زما د خپلوانو درې ماشومان چې عمرونه یې د ۹ او ۱۲ کلونو ترمنځ وو، ټپیان شول، چې دغه ناچاودې مرمۍ یې په ډبره وویشته. د دې پېښې پر مهال دغه ماشومان د کلي په جومات کې د قران کریم پر زده کړه بوخت وو.“ |
| ۶۲ | ۱۹ جولای ۲۰۱۸ | کندز، چهاردرې ولسوالۍ | ” د ۲۰۱۸ کال د جولای په ۱۹ نېټه، د سهار شاوخوا ۱۰:۰۰ بجې په کندز ولایت کې د امریکايي ځواکونو دوه جنګي جیټ الوتکو زما پر کور او زما کور تر څنګ، زما د خپلوانو پر کورونو درې بمونه وغورځول. په پایله کې یې، درې واړه کورونه په بشپړه توګه ویجاړ شول او زما ۱۴ خپلوان چې ټول ملکي وګړي وو - زما د دوو ورونو او خور د کورنیو غړي، دوه سړیو، دوه نارینه ماشومانو، شپږو ښځینه ماشومانو او دوه ښځو په ګډون - په یاده پېښه کې ووژل شول. یوازې یو کوچنۍ هلک له دې پېښې ژوندی پاتې شو. له پېښې وروسته خلک راغلل څو قربانیان له خاورو راوباسي. یوازې د دوه نجونو پرته، د ټولو مړو شوو قربانیانو جسدونه وموندل شول.“ |
| ۶۳ | ۱۱ جنوري ۲۰۱۶ | تخار ولایت، درقد ولسوالي، نورخیل پائین کلی | ” د ۲۰۱۶ کال د جنوري په ۱۱ نېټه، د شپې مهال د تخار ولایت د درقد ولسوالۍ په نورخیل پائین (لاندې نورخیل) کلي باندې د نور خیل بالا (پاس نورخیل) کلي کې د افغان ملي اردو له پوستې څخه یوه د هاوان مرمۍ وتوغول شوه، چې زما د ورور، نظر محمد د کور د اوسېدو خونې پر بام ولګېده. هغه یو ملکي وګړی وو، چې له خپلې مېرمن او درې میاشتنۍ لور سره یوځای په یاده پېښه کې ووژل شول. په یاده خونه کې زما د ورور څلور نور بچیان، درې زامن او یوه لور، هم وو، خو دوی ته زیان نه و رسېدلی. په هغه وخت کې زه او زما کورنۍ هم په یاد کور کې اوسېدو. د پېښې پر مهال ما خطرناکې چیغې واورېدې، سمدلاسه پوه شوم چې هاوان زما د ورور د اوسېدو پر خونه ولګېد. زه د هغه خونې ته ورغلم او ومې لیدل چې ورور مې، د هغه مېرمن او یوه کوچنۍ لور یې مړه شوي دي. تر ما وروسته زموږ ګاونډیان هم زموږ کورته راورسېدل.“ |
| ۶۴ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ” دا پېښه داسې رامنځته شوه چې زه او زما درې نور کلیوال سیمې ته لاړو څو د طالبانو د غړي جسد چې زما اوښی هم وو، پیدا کړو چې د حکومت پلوه ملیشو او افغان ملي پولیسو لخوا په هماغه سهار وژل شوی وو. کله چې موږ سیمې ته ورسېدو، د پولیسو او حکومت پلوه ملیشو لخوا راته کمین نیول شوی وو، پر موږ یې ډزې وکړې او زه او زما نور کلیوال یې ټپیان کړل. دوی موږ ته اجازه نه راکړه څو د خپل خپلوان مړي ویسو. دوی د مړي جسد ته بې احترامي وکړه، په موټر پسې یې وتړه او په کلي کې یې په موټر پسې کش کړ په داسې حال کې چې د وژل شوي |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | شخص کورنۍ او د هغه مور او ښځه له خپلو کورونو راووتلې تر څو جسد ترلاسه کړي. کلیوال راغلل او موږ یې روغتون ته یوړو. ډاکټرانو په روغتون کې زما ټپوته وتړل، خو ونه توانیدل چې زما له زنګون څخه مرمۍ راوباسي." |
| ۶۵ | ۲۷ نومبر ۲۰۱۹ | کندز ولایت، امام صاحب ولسوالۍ، قُرغان تیپه کلی | " د ۲۰۱۹ کال د نومبر په ۲۷ نېټه، زما د کورنۍ، زما د پلار کورنۍ، زما د خور کورنۍ او زما د یو بل خپلوان کورنۍ په ګډون، د څلورو کورنیو غړي د امام صاحب ولسوالۍ په ایخیم چال کلی کې زما د کاکا زوی واده ته روان وو. په لاره کې زموږ پیک آپ موټر د طالبانو پر ځای په ځای شوي فشاري ماین وربرابر شو، چې په پایله کې یې، د ۱۶ سپرلیو څخه د موټر چلوونکي، زما د لور او زما په ګډون درې تنه ژوندي پاتې شول او پاتې دیارلس تنه نور - د یو سړي، درې ښځو، درې هلکانو او نجونو په ګډون - ووژل شول او موټر بشپړ تخریب شو. د دې پیښې شپږ قربانیان زما د کورنۍ غړي وو: زما ښځه، زما دوه زامن او درې لورګانې. هغه سیمه چې دا پېښه په کې رامنځته شوې وه، د طالبانو تر کنټرول لاندې وه او پېښه پر هغه سړک رامنځته شوه چې ماینونه په کې ځای پر ځای شوي وو. پر سړک د خطر یا د چاودېدونکو توکو د چاودنې د خطر هیڅ نښې لګول شوې نه وې څو پر دغه سړک د تللو نه یا کارولو څخه ډډه وکړو. موټر چلوونکی یو ځایي اوسېدونکی و او په دې ولسوالۍ کې د هغو سیمو په اړه بشپړ مالومات درلودل چې ماینونه پکې ایښودل شوي وو. د سیمې د اوسېدونکو په وینا، د سړک د غاړې ځای پر ځای شوی دغه فشاري بم په وروستیو کې د طالبانو لخوا  د افغان ملي امنیتي ځواکونو په نښه کولو لپاره ایښودل شوی و." |
| ۶۶ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | پټې ساتلې شوي |
| ۶۷ | ۸ فبروري ۲۰۲۰ | بلخ ولایت، چمتال ولسوالۍ، د رزاق کلا کلی | " دا پېښه د ۲۰۲۰ کال د فبرورۍ په ۸ نېټه سهار مهال ۷:۰۰ بجې د بلخ ولایت د چمتال ولسوالۍ په رزاق کلا، چې د جار قلعه په نوم هم یادېږيؤ کلي کې هغه مهال رامنځته شوه، کله چې یوې الوتکې په یاد کلي بمبار وکړ. په دې برید کې زما د کاکا زوی او د هغه  مشر زوی او دوه نور ملکي وګړي، چې ټول سره ګاونډیان او ملګري وو او د سهار له لمانځه وروسته سره د کلي جومات کې ناست وو او خبرې یې کولې، ووژل شول. زما د کاکا زوی د خپل کور دورازې سره نږدې د خوراکي توکو یوه هټۍ درلوده، او دوی ټول هلته سره ناست وو، چې ناڅاپه یوه الوتکه راغله او په چټکۍ سره یې سیمه بمبار کړه. په دې بمبار کې دوه تنه - یو ماشوم او یو ځوان هلک- ووژل شول او درې نور - یو کوچنی هلک او دوه ځوان هلکان- ټپیان شول، چې ټول ملکي وګړي وو. په دغو تلفاتو کې یو بل ۱۳ کلن هلک هم شامل و، او هغه مهال ټپي شو چې په خپل کور کې یې لوبې کولې. په قربانیانو کې زما د کاکا زوی، ۴۵ کلن شاه |

| د مرګ شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | رسول سخت ټپي شوی و او ۱۸ کلن زوی يې، محمد رسول د ژورو ټپونو له امله ځای پرځای ووژل شو. د هغه بدن ټوټې-ټوټې شوی و چې په سختۍ سره مو د هغه د بدن ټوټې راټولې او په سبار سهار مو خاورو ته وسپاره. شاه رسول په بدن باندې په پارچو لګېدلی و او ټول بدن يې ټپي و چې د ټپونو او وينې بهيدنې له امله مورږ نشو کولای د هغه بدن ته لاس يوسو. سربېره پر دې، د شاه رسول د کور يوه برخه هم تخريب شوې وه او د هغه د کور د عمومي دروازې دېوالونه او دروازه هم زيانمنه شوې وه. په دې پېښه کې طالبانو ته هيڅ تلفات نه وو اوښتي، او ټول قربانيان عادي ملکي وګړي وو." |
| ۶۸ | ۱۸ سپټمبر ۲۰۲۰ | سمنګان ولايت، دره صوف پائين ولسوالۍ، تاجک دهي کلی | " د ۲۰۲۰ کال د سپټمبر په ۱۸ نېټه شاوخوا د شپې ۱۱:۳۰ بجې د طالبانو او حکومت ترمنځ يوه سخته نښته پيل شوه. مورږ ډېر وويرېدو او تمه مو نه وه چې دا جګړه به په چټکۍ سره شدت ومومي. مورږ په دره صوف پائين کې د طالبانو او حکومت ترمنځ ډېر سختې جګړې ليدلې وې. طالبان د بازار ساحې ته ورسېدل، ځينې يې په جامع جومات کې ځای پر ځای شول، ځينې په بازار کې او ځينې زمورږ کور سره نږدې ځای پر پرځای شول. کله چې جګړه پيل شوه، مورږ خپلو کورونو ته ننوتلو او هلته دننه پاتې شو.<br><br>شاوخوا دوه ساعته وروسته د شپې مهال ۱:۳۰ بجې د افغان ملي اردو الوتکې زمورږ پر سرونو الوتنې پيل کړې. ما فکر وکړ چې جګړه پای ته رسېدلې ده، خو زما فکر ناسم و. الوتکې زمورږ پر کور دوه راکيټونه وغورځول. دا زما د پلار حاجي عزيز کور دی، چې هلته زه او زما ورونه ګډ ژوند کوو. دا دوه منزله کور دی او د راکيټ تر لګېدو وروسته يې يوه برخه زيانمنه شوه او زما د کورنۍ اته غړي په کې ټپيان شول.<br><br>يوه پارچه زما د ځوانې ۱۷ کلنې لور، صديقې پر ګېډه ولګېده او په پايله کې يې د هغې لوبې او کوچنۍ کولمې زخمي او شديده وينه بهيدنه رامنځته شوه. زما وريره، ۱۶ کلنه فضيله په ښه شديده زخمي شوه. څلور کوچني ماشومان په سترګو، سر او پښو ټپيان شول او دوه مشرانې ښځې، چې يوه زما خواښې، ۸۰ کلنه ماه ګل او بله زما ورو خواښې، ۸۲ کلنه دُردانه سربېرنې ټپيانې شوې." |
| ۶۹ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | " په [نېټه] ما په [يو حکومتي دفتر] کې په يوه تحريري ازموينه کې ګډون وکړ. زما په ياد دي چې د سهار شاوخوا ۱۰:۰۰ بجې يوه زوروره چاودنه وشوه [...] طالبانو د ملي امنيت رياست مخې ته د يو موټر بم چاودنه وکړه، چې زمورږ د ازموينې له صحنې يوازې ۱۰-۲۰ مترو پورې لرې واټن کې وه. له چاودنې وروسته ځينې طالبان د ملي امنيت رياست کمپ ته ننوتل او ډزې پيل شوې. [...] |

| د مړکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | زما سترګه او لاس ټپي شوي وو. د ښيښې يوه شاوخوا ۱۰ سانتي متره ټوټه زما په سترګه او يوه اوسپنه مې په لاس ولګېده. زه د بيړنۍ درملنې لپاره ولايتي روغتون ته ولېږدول شوم او د جراحي عملياتو ترسره کولو لپاره له هغه ځايه ولايتي روغتون ته يوړل شوم.<br><br>له هغې وروسته زه خپل کلي ته راغلم. طالبانو زموږ کلی نيولی و او داسې فکر يې وکړ چې زه دننه د ملي امنيت په رياست کې وم او زه يې د حکومت پر جاسوسۍ تورن کړم. [...] کليواليو او طالبانو زه په دې محکوم کړم چې زه دننه د ملي امنيت په کمپ کې وم. دوی زه خپل مرکز ته يوړم او ماته يې په عام محضر کې د ويشتلو او وژلو سزا واوروله. له نېکه مرغه، زما د کورنۍ غړو او د دوو سترو قومونو مشرانو مداخله وکړه او زما د بې ګناهۍ ضمانت يې وکړ.<br><br>په ۲۰۲۱ کال په آګست کې کله چې طالبان واک ته ورسيدل زه دوی يو ځل بيا ونيولم او ملي امنيت رياست ته په جاسوسۍ او په ياد رياست باندې ترسره شوي بريد کې پر ټپي کېدو تورن کړم. خو د قومي مشرانو په منځګړيتوب بالاخره زه دوی بېرته خوشې کړم. زه اوس په يوه لرې پرته سيمه کې اوسېږم چې زما له کلي څخه ډېره لرې ده. کليوالو او طالبانو دواړو زما سپکاوی وکړ، چې اوس په ډېرو سختو شرايطو کې د ژوند شپې سبا کوم. ما په دغه پېښه کې خپله سترګه، خپل کاري فرصت او عايد، دنده او د انسانيت حس له لاسه ورکړي دي." |
| ۷۰ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | " زما زوی په يو ځانمرګي بريد کې خپل ژوند له لاسه ورکړ. [...] د طالبانو يو ځانمرګي بريدګر په يو مارکيټ کې د پوليسو يو افسر په نښه کړ، چې په پايله کې يې زما زوی ووژل شو." |
| ۷۱ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | پټې ساتلې شوي |
| ۷۲ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | " زما مېړه د [ولسوالۍ په روغتون] کې د واکسيناتور په توګه دنده ترسره کوله. [...] زموږ ګاونډيانو موږ ته وويل چې هغه نيول شوی دی. موږ د هغه لټه پيل کړه، خو هيڅ ګټه يې ونکړه. په پای کې موږ هغه په يو غره کې وموند چې لاسونه او سترګې يې تړل شوي وې او مړ وو، هغه ويشتل شوی و." |

| د مرګې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۷۳ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ” زما پلار د ولسوالۍ په روغتون کې د واکسیناتور په توګه دنده ترسره کوله. [...] خلکو موږ ته وویل چې هغه نیول شوی دی. زموږ کورنۍ په هغه پسې لټه پیل کړه او په داسې حالت کې مو وموند چې لاسونه او سترګې یې تړل شوي وې او مړ و. هغه ویشتل شوی و.“ |
| ۷۴ | ۲۲ سپتمبر۲۰۱۴ | کونړ ولایت، اسد اباد ښار، شهیدانو پارک مخه | ” کله چې زه خبره شوم چې مېړه مې په یو ځانمرګي برید کې مړ شوی، په سترګو مې توره تیاره شوه. دا زما لپاره ډېره سخته او لکه د قیامت د ورځې په شان وه. ما یې فکر هم نه و کړی چې څه به کووم. ما درې ماشومان درلودل، او وروستی زوی مې له دې پېښې شاوخوا یوه میاشت وروسته وزیږېده.“ |
| ۷۵ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ” زما زامنو د بازار په منځ کې لاسي کراچۍ او د سوپ خرڅولو کراچۍ درلودې. [...] هلته یو ځانمرګی برید وشو، چې زما د پنځو زامنو څخه درې یې مړه شول او یو یې خپل لاس له لاسه ورکړ. [...] فرق نه کوي چې دا برید چا وکړ؟ خو زما زامن بېرته نه راځي.“ |
| ۷۶ | ۷ اکتوبر ۲۰۱۹ | ننګرهار ولایت، جلال اباد ښار، سپینه مانۍ سیمه | ” ما په افغان ملي پولیسو کې د بیاځلې دندې اخیستلو لپاره پر اسنادو جوړولو پیل وکړ. د اسنادو د کار خلاصولو لپاره اړتیا وه چې د جلب او جذب مرکز ته لاړ شم. کله چې له هغه ځایه بېرته په یو بس موټر کې له نورو نویو جذب کېدونکو ځوانانو او ملکیانو سره یوځای راتلم، د سپینې مانۍ مخې ته د چاودېدونکو موادو ډک زرنج وچاودېده. [...] له چاودنې وروسته زه بې هوښه شوم او کله چې په هوښ راغلم، ومې لیدل چې په موټر کې یم او زما دوه ملګري دننه په موټر کې مړه شوي دي. د بم پارچې تر اوسه پورې زما پر ښي پښه او د کیڼ غوږ شاته شته.“ |
| ۷۷ | ۱۲ می ۲۰۲۰ | ننګرهار ولایت، کوز کنړ ولسوالۍ، زرګرانو سیمه | ” زه د محلي پولیسو قوماندان، شیخ اکرم د جنازې په مراسمو کې د ګډون لپاره له بهسودو ولسوالۍ څخه د کوز کونړ ولسوالۍ پر لور روان وم. د جنازې ځای ته په رسېدو مې ولیدل چې ډېر زیات خلک راټول شوي دي. [...] یو ځانمرګي بریدګر د جنازې لمانځه پر مهال ځان ته چاودنه ورکړه. زه پر ځمکه وغورځېدم او بې هوښه شوم او زه د نورو جسدونو لاندې شوی وم. [...] خلک د قربانیانو د ژغورنې لپاره راورسېدل، خو دوی فکر وکړ چې زه مړ یم. خو وروسته زه وخوځېدم او دوی زه راوویستم او راته یې وویل چې کېنه او د موټر تر رارسېدو پورې په تمه شه. زه هیڅ نه پوهېدم، دوی زما سترګې په بنداج وتړلې ځکه له ما وینې بهیدې، خو په دې پوه نشوم چې څومره وخت یې ونیوه او څومره خلک یې له ما سره یوځای په موټر کې یوړل. زه به کله بې هوښه شوم او کله به په هوښ راغلم؛ بې حاله وم. خو پوهېدم چې دوی مې روغتون ته وړي. ماته یې یوه پیچکاري وکړه چې وروسته زه بې هوښه شوم. |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | زما د بدن ډېرې برخې ټپي شوې وې او زما له ټول بدن نه يې پټۍ تاو کړې وې او نږدې ټول وخت زه بې هوښه وم. زما خپلوانو زه ونه پېژندم، خو زما زوی چې کله زما لاس ونيوه، ويې پېژندم. [...] زه په دولتي روغتون کې ۱۷ يا ۱۸ ورځې بستر وم، او کله چې له روغتون څخه رخصت شوم، دواړو سترګو مې زيات درد کوه. زه يو خصوصي روغتون ته لاړم او څلور مياشتې تر درملنې لاندې وم. [...] زما کينه سترګه لا هم سم ليدل نه کوي، لکه يوه پرده چې پرې راغلې وي او تل درد کوي. زه نه پوهېږم چې د دې برید عاملين څوک دي، خو په ډېر احتمال سره کېدای شي هغه څوک وي چې له بهرنيانو څخه نفرت لري." |
| ۷۸ | ۱۳ می ۲۰۱۸ | ننګرهار ولايت، جلال اباد ښار، څلورمه ناحيه، مستوفيت څلورلارې | "۲۰۱۸ کال و چې د ننګرهار ولايت د پوهنې رياست ته خپلې دندې ته روان وم. د سهار شاوخوا ۱۰ بجې وې، چې د جلال اباد ښار مستوفيت رياست ته نږدې لومړی يو ځانمرګی برید وشو او بيا ډزې پيل شوې. ما فکر کوه چې دا داعش دي، چې دوی يې بيا په رسنيو کې د دې برید مسؤوليت هم ومانه. زما پښه او ورون دواړه ټپي شوي وو. د سره صليب نړيوالې کمېټې نږدې کلينيک ته مې ځان ورساوه، خو دوی کافي درمل نه درلودل، زما پښه يې وتړله او د عامې روغتيا ولايتي روغتون ته يې يوړم او هلته يې زما عمليات وکړ او زما له ښنګري څخه يې د بم پارچه راوويسته." |
| ۷۹ | ۵ سپټمبر ۲۰۲۰ | کونړ ولايت، سرکانو ولسوالۍ، باروګۍ شاه سيمه | " د ۲۰۲۰ کال د سپټمبر په ۲۰ نېټه د کونړ ولايت د سرکانو ولسوالۍ د باروګۍ شاه په سيمه کې مور په خپل کور کې وو، چې د طالبانو او افغان ملي اردو ترمنځ نښته پيل شوه. دواړو لورو يو پر بل ډزې کولې او ځمکنۍ جګړه پيل شوې وه، خو د افغان ملي اردو لخوا يو توغول شوی هاوان زمونږ پر کور ولګېده. زه، زما وراره او زما د ورور ښځه ټپيان شو او زمونږ کور يو څه تخريب او د کور سامانونه پکې وسوځېدل... نور ټپيان ژر روغ شول، خو زه سخت ټپي وم او زما کولمې او ځيګر زيانمن شوي وو." |
| ۸۰ | ۲۸ نومبر ۲۰۱۹ | خوست ولايت، عليشيرو ولسوالۍ | " مونږ کوچيان يو، ډېرې مېږې، وزې او اوښان لرو، نو ځکه په له يو ځای نه بل ځای ته کډه وړو او په يو ځای نه پاتې کېږو. هر چېرې چې هوا ښه وي، بارانونه وي او ځمکه شنه وي او واښه ولري، مونږ هلته پاتې کېږو... د ۲۰۱۹ کال د نومبر په ۲۸ نېټه د شپې شاوخوا ۱۱:۴۵ بجې ډيورنډ فرضي کرښې سره نږدې د خوست ولايت په عليشيرو ولسوالۍ کې يوې امريکايي بې پيلوټه الوتکې په داسې حال کې زما د کورنۍ غړي په نښه کړل، چې دوی په يوه سپينه کرولا موټر کې کور ته راروان وو. په دې برید کې زما پلار، مور، د ورور ښځه، خور او زما يو کليوال ملګری ووژل شول. زما د ورور ښځې په همدې شپه يو هلک زېږولی و او د درملنې لپاره ځايي روغتون ته وړل شوې وه. کور ته د راتللو پر مهال د بې پيلوټه الوتکې هدف وګرځېدل او ټول په دې پېښه کې مړه شول او هيڅوک |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | په کې ټپیان او ژوندي پاتې نه شول. نوی زیږېدلی ماشوم ټپي یا مړ نه و، ځکه هغه له دوی سره په موټر کې نه و او په کور کې یې پرېښی و.“ |
| ۸۱ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ” زما مشر ورور، [نوم]، د طالبانو لخوا وویشتل شو او مړ شو... هغه د خوست استیناف څارنوالۍ د عامه امنیت د څانګې څارنوال و... هغه په خپل موټر کې خپل دفتر ته پر لاره وو، چې د طالب وسلوالو لخوا اووه ډزه په ګېډه کې وویشتل شو. نوموړی د ټپونو له امله په روغتون کې ومړ. مور د هغه مړی له روغتون څخه کور ته راوړ او د جنازې مراسم مو ورته ترسره کړل.“ |
| ۸۲ | ۲۰۰۵ | کندهار ولایت، پنجوایي ولسوالۍ، سیدان کلی، زنګ آباد سیمه | ” د دې پېښې کره نېټه مې په یاد نه ده، خو په ډېر احتمال سره چې ۲۰۰۵ کال و... امریکایي ځواکونو د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ د سیدانو کلي په زنګ آباد سیمه کې زموږ په کور بمبار وکړ. دوی ته مالومات ورکړل شوي وو چې په دې کلي کې طالبان دي. له پېښې وروسته زه بې هوښه شوی وم او له همدې امله څو ورځې په کوما حالت کې وم. ما په دې پېښه کې د خپل پلار، مور او ورونو او خویندو په ګډون، د خپلې کورنۍ لس غړي له لاسه ورکړل. زه، زما ورور او خور مې ژوندي پاتې شو. ما هر څه له لاسه ورکړل، هیڅ شی موږ ته پاتې نه شول. زه او زما ورو او خور شدید ټپیان شوي وو. زه تر اوسه هم د دې پېښې زیان محسوسوم او زما د ژوند تر پای پورې به همداسې دوام ومومي. خلکو راته وویل چې زموږ په کلي کې ټول کورونه د بمبار په پایله کې ویجاړ شوي دي، یوازې زه او زما خور او ورور او یوه ماشومه نجلۍ په کلي کې له دې صحنې روغ پاتې شو. نورو کلیوالو یا خپل ژوند له لاسه ورکړی او یا دا چې له بمبار مخکې یې کورونه پرېښې و.“ |
| ۸۳ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ” شاوخوا درې کاله مخکې د طالبانو او پخواني حکومت ځواکونو ترمنځ د نښتې پر مهال په [سیمه] کې زموږ پر کور یوه د هاوان مرمۍ ولګېده. زه نه پوهېږم چې دا مرمۍ کوم لوري توغولې وه. په دې پېښه کې زما یو زوی مړ شو او زه، زما مېره او یوه لور او یو بل زوی مې ټپیان شو.“ |
| ۸۴ | ۱۰ مې ۲۰۱۹ | فاریاب ولایت، دولت آباد ولسوالۍ، چهارشنغو کلی | ” پنځه کاله مخکې غرمه مهال مې خپلو ماشومانو ته وویل چې لاړ شئ او هغه غوایان راولئ چې ما څر ته استولي وو... په دې وخت کې ما د چاودنې غږ واورېد. کله چې له کوره ووتلم، ومې لیدل چې یو ماین چاودېدلی او ځینې ماشومان یې وژلي او ټپیان کړي دي. زما یو زوی ځای پر ځای وژل شوی او د بل چا زوی سخت ټپي شوی و. زما د ټپي شوي زوی درملنه د ګاونډیانو په ګډ اقدام سره وشوه، چا د مرستې په توګه او چا په پور پیسې راکړې؛ او |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | موږ وکولای شول چې د درملنې لپاره يې پاکستان ته يوسو. زما زوی ژوندی پاتې شو خو تر نن ورځې پورې لا هم له درد څخه شکايت کوي... دا چاودنه د يو ناچاوده ماين وه، خو په دې ونه پوهېدو چې چا دا کار کړی وو." |
| ۸۵ | ۱۵ اګست ۲۰۱۸ | فارياب ولايت، قيصار ولسوالۍ، چهلګزي سيمه، دو آبه کلی | " د ۲۰۱۸ کال د اګست په ۱۵ نېټه د ورځې مهال د طالبانو او پخواني حکومت وسلوالو ځواکونو ترمنځ نښته رامنځته شوه، چې په ترڅ کې يې افغان ملي اردو د فارياب ولايت د قيصار ولسوالۍ اړوند چهلګزي سيمې د دو آبه کلي د چينايانو کمپ په نوم سيمه بمبار کړه. په دغه کمپ کې د افغان ملي اردو له وتلو وروسته د سړيو او ماشومانو په ګډون يو شمېر ملکي وګړي راټول شوي وو. په پايله کې، اته ملکي وګړي ووژل شول او زما د زوی، عصمت الله په ګډون، پنځه تنه نور ټپيان شول... هغه خپله يوه سترګه او يوه ګوته له لاسه ورکړه، چې اوس په يوه سترګه روند دی." |
| ۸۶ | ۱۶ جنوري ۲۰۱۸ | فارياب ولايت، خواجه سبز پوش ولسوالۍ اداري مرکز، بازار سيمه | " شپږ کاله مخکې د طالبانو او پخواني حکومت وسلوالو ځواکونو ترمنځ د وسلوالې نښتې پر مهال د طالبانو لخوا يوه توغول شوې د هاوان مرمۍ د خواجه سبز پوش ولسوالۍ د ګڼې ګوڼې ډک بازار کې ولګېده. دا په دې ولسوالۍ کې د بازار ورځ وه او په دې ورځ په سلګونو خلک بازار ته راغلي وو. په دې پېښه کې څو تنه مړه او زما او زما د کاکا په ګډون لسګونه خلک ټپيان شول. ځينې هټۍ او د ملکيانو جايدادونه تخريب شول. زما ټپونه ژور نه و، ځکه زه يو څه وخت وروسته روغ شوم. خو له پېښې دوه کاله وروسته زما کاکا چې زما خسر هم و، ژوندی پاتې نشو او د شديدو ټپونو له کبله يې ساه ورکړه." |
| ۸۷ | ۳۱ ډسمبر ۲۰۱۸ | فارياب ولايت، شيرين تګاب ولسوالۍ، اسلام قلعه سيمه، د خواجه سبزپوش – شيرين تګاب لويه لار | " د پېښې نېټه مې په ياد نه ده، خو دومره ويلی شم چې شاوخوا شپږ کاله مخکې هغه مهال رامنځته شوه چې د طالبانو او پخواني حکومت ځواکونو ترمنځ د يوې وسلوالې نښتې په ترڅ کې يو راکټ په داسې حال کې د فارياب ولايت، شيرين تګاب ولسوالۍ په اسلام قلعه کلي کې زما پر کور ولګېد چې زما د کورنۍ ټول غړي دننه په کور کې وو. په پايله کې يې زما دوه لورګانې (چې يوه يې ۱۶ کلنه او بله ۷ کلنه وه) ووژل شوې، او زه، زما يو زوی، زما مېرمن او يوه بله لور مې ټپيان شو. زما مېرمنې له وخت مخکې زيږون وکړ، چې نوې زيږيدلی ماشوم يې هم مړ شو... زما ۱۴ کلن زوی د تل لپاره معلول او فلج شو. د هغه د بدن لاندينۍ برخه کار نه کوي." |
| ۸۸ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | " موږ په خپل کلي [...] کې وو. ما [خپل ورور] ته وويل چې څاروي اوبو ته مه بيايه ځکه جګړه نښتې وه، او د هغې پر ځای له کور سره نږدې څاه نه اوبه راوباسه او څارويو ته يې ورکړه. هغه زما خبره ومنله، خو ناڅاپه يوه د |

| د مرګي شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | هاوان مرمۍ پر همدې ځاه ولګېده چې هغه هم دغه مهال له ځاه سره نږدې ولاړ وو. هغه ټپي شو او پښه یې څو ځایه ماته شوه.“ |
| ۸۹ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ” زه له خپلې مور سره یوځای د سودا اخیستلو لپاره له کوره بهر ولاړم. په هغې کې د سودا اخیستلو پر مهال په ښار کې د طالبانو او ځانګړو ځواکونو ترمنځ جګړه ونښته. [...] مور ژر خپل کور ته ستانه شو، چې کور ته د رسېدو سره سم یو راکیټ زموږ پر کور ولګېد. زه هک پک او وارخطا شوم او حرکت مې نشو کولای ځکه پښې مې یو څه وخت فلج شوې او بې حرکته وې. د جګړې شدت مخ پر زیاتېدو وو، چې ومې کتل ځینې پولیس د خپلو ټوپکونو سره زموږ خوا ته راروان دي. دوی زموږ دروازه وټکوله او موږ ته یې وویل چې له کوره ووځئ ځکه دوی غوښتل دلته سنګر ونیسي او زموږ له کوره جګړه وکړي. موږ دوی ته وویل چې بل داسې ځای نشته چې هلته لاړ شو. موږ دوی ته زارۍ وکړې چې،”زما پلار ناروغ دی.“ خو دوی بیا هم په لوړ غږ او ټینګار سره وویل چې باید دا کور پرېږدئ. زما پلار چې له مخکې ناروغ و، شوک او فزیکي صدمه یې ولیده او په سبا وفات شو، چې په ډېر احتمال سره د زیات فشار او خپګان له امله ومړ. امنیتي ځواکونه یو ځل بیا زموږ کور ته راغلل او موږ ته یې وویل چې له کوره ووځئ. دوی زما مور د کلاشینکوف په کُنداغ ووهله. له موږ سره بله لاره نه وه او اړ شو چې خپل کور پرېږدو.“ |
| ۹۰ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ” د ماښام تیاره پر خپرېدو وه چې زه د کور په حویلۍ کې له خپل زوی سره ولاړ وم. هغه له کوره بهر روان وو، چې ما ورته وویل له کوره بهر مه وځه، او څه ولاړ شه خونې ته ننوځه. هغه د کور په حویلۍ کې و چې یو هاوان زموږ د ګاونډي پر کور ولګېد. زه دا نشم ویلای چې چا او له کوم ځایه دا هاوان وتوغوه. له بده مرغه، د هاوان مرمۍ زموږ د ګاونډي په کور کې یو کس مړ او زما زوی یې ټپي کړ. زما د زوی یوه پښه او لاس ټپي شول، چې هغه اوس په یوه پښه معلول او لاس یې ډېر په سختۍ کار کوي.“ |
| ۹۱ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ” خپل کور ته پر لاره وم چې ومې لیدل خلک په تېزۍ سره منډې وهي او له سیمې تښتي. ما له یو کس نه پوښتنه وکړه: ” څه پېښه ده؟“ هغه وویل چې طالبانو په ولسوالۍ برید وکړ او بازار یې ونیوه. کله چې کور ته راورسېدم، ګورم چې زموږ پر کور هاوان لګېدلی وه او مېره مې په کې مړ وو. د غواګانو او مېږو په ګډون، ځینې څاروي هم مړه شوي وو. زموږ پر کور د هاوان دوه مرمۍ لګېدلې وې، چې مالي او ځاني زیان یې اړولی وو. زما د مېړه له ښخولو او دفن کولو وروسته موږ دغه سیمه پرېښوده او بل ځای ته لاړو. کله چې له یو څه وخت وروسته بېرته خپل کور |

| د مرګي شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | ته راغلم، زموږ هر څه لوټ شوي وو او هیڅ پاتې نه وو. زما مېړه د ولسوالۍ په بازار کې هټۍ درلوده، چې د هغه هټۍ هم لوټ شوې وه." |
| ۹۲ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | " د طالبانو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ترمنځ جګړه ونښته. یوه د هاوان مرمۍ زموږ د ګاونډي پر کور ولګېده، چې یوه پارچه یې زما د مېړه په ګېډه ولګېده. هغه ټپي شو او په یوه لاسي کراچۍ کې مو بل کلي ته یوړ. په هغه کلي کې مو په یوه روغتون کې د هغه لومړنۍ درملنه وکړه، او وروسته مو د نورې درملنې لپاره ولایتي روغتون ته انتقال کړ. ټپونه یې ورځ تر بلې خرابېدل. موږ هغه یو بل روغتون ته یوړ، خو د بدن په داخل کې د وینې بهېدنې او میکروبي کېدو له امله هغه ومړ." |
| ۹۳ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | " افغان ملي اردو زما د لور د کور پر لور یو راکیټ وتوغوه، او هغه یې په داسې بد حالت کې د سینې په کیڼ اړخ وویشته چې خپل یو کلن زوی ته یې شیدې ورکولې. سرېېره پر دې، د هاوان یوه مرمۍ زموږ د ګاونډي پر کور ولګېده چې په پایله کې یې یوه ښځه مړه او بله سخته ټپي شوه. د دې پېښې له رامنځته کېدو وروسته زما د لور خوابنې ماته زنګ ووهه او ویې ویل چې لور مې ټپي شوې ده. که څه هم، د درنو وسلو کارولو او سخت جنګ له امله موږ ونشو کولای هلته لاړ شوه او زما لور وژغورو. موږ په لاوډسپیکر کې پر افغان ملي اردو غږ وکړ چې جګړه ودروي ځکه چې هلته یوه ټپي شوې مېرمن باید ژر تر ژره روغتون ته ولېږدول شي، خو دوی موږ ته اجازه رانکړه چې دا کار وکړو. سبا سهار وختي کله چې موږ پرېکړه وکړه چې دواړه ټپیان روغتون ته یوسو، د دواړو ټپیانو چې زما لور هم په کې وه، د زیاتې وینې بهیدنې له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ." |
| ۹۴ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | " موږ د خپل کور په حویلۍ کې ناست وو چې زموږ پر کور بمبار وشو. د دې هوايي برید په پایله کې، زما د کور نهه غړي – څلور هلکان، درې نجونې او دوه سړي مړه، او زما او زما د ځوان ورور په ګډون، شپږ تنه نور سخت ټپیان شو." |
| ۹۵ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "ماښام ناوخته د طالبانو او افغان ملي اردو ترمنځ نښته پیل شوه. زموږ کورونه په هغو سیمو کې وو چې هلته طالبانو خپل مرکزونه جوړ کړي وو. افغان ملي اردو څو هاوانونه وتوغول او زموږ پر کلي ولګېدل. دوه د هاوان مرمۍ زما د کاکاګانو پر کورونو ولګېدې... زه د دوی کورونو ته په منډه ورسېدم ځکه زه له دوی سره په ګاونډ کې اوسېدم. هلته له رسېدو وروسته مې ولیدل چې په تلفاتو کې د دوی د کورنیو غړي هم شامل دي. دغو هاوانونو د دوی درې زامن او یوه لور وژلې وه. زما د کاکا د کورنۍ اووه نور غړي ټپیان شول. په ټپیانو کې زما کاکاګان، یوه د کاکا |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | ښځه، يو زوی او درې لورګانې يې شاملې وې. د هغه درې لورګانې د تل لپاره فلج شوې او نور عادي ژوند نشي کولای. د دوی کور ډېر زيات ويجاړ شو. " |
| ۹۶ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "مونږ د پخوانيو محلي پوليسو امنيتي پوستې سره نږدې اوسېدو... سهار وختي د پخوانيو طالبانو او پخوانيو افغان ملي امنيتي او دفاعي ځواکونو ترمنځ په سيمه کې نښته پيل شوه. طالبانو زموږ کور سره نږدې د محلي پوليسو پر پوسته له دوه يا درې کيلو متره لرې واټن څخه د راکيټونو او هاوان بريدونه وکړل... د ځمکنۍ جګړې په څلورمه ورځ د هاوان ځينې فيرونه زموږ پر کور ولګېدل. زه دننه په کور کې وم او پلار مې، چې له عمومي دروازې سره نږدې ولاړ وو، د مرمۍ په پارچو ولګېد. د هغه سينه او غاړه ټپي شوه او زړه ته تللو شريانونه يې ژور ټپي شول. له هغه ډېره زياته وينه بهېده. موږ سمدلاسه هغه په يو کرايي موټر کې [ځايي] روغتون ته يوړ. په عاجله څانګه کې بستر شو، خو د جراحي عملياتو پر مهال يې د ژورو ټپونو له امله ساه ورکړه. موږ د هغه مړی کلي ته راوړ او ماسپښين ناوخته مو په خپله پلرنۍ هديره کې خاورو ته وسپاره." |
| ۹۷ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "طالبان زموږ د کور مخې ته راغلل او د نړيوالو پوځي ځواکونو او افغان ملي اردو پر کاروان يې بريد وکړ او له سيمې وتښتېدل. څو دقيقې وروسته يوه جنګي جيټ الوتکه راورسېده او زموږ پر کور يې بمونه وغورځول. په دغه بريد کې زما پلار او زما ۱۳ کلن ورور ووژل شول. زه او زما مور [نوم]، زما ۱۱ کلنه خور [نوم]، دوه نورې خويندې او اته نور ورونه مې ټپيان شو." |
| ۹۸ | فبروري ۲۰۱۴ | زابل ولايت، ارغنداب ولسوالۍ، لاغر بابا زيارت سيمه | "دا پېښه د ۲۰۱۴ کال په لومړيو کې د سهار ناوخته شاوخوا ۱۱:۳۰ بجې هغه مهال رامنځته شوه چې، زه د خپل کاکا زوی او مشر ورور په ګډون چې معمولا به هغه موټر چلوو، له لس نورو سپرليو سره يوځای يو پيک اپ موټر ته ناست وم، سره د دې چې په دغه ورځ ناروغ هم وم. موږ په دای چوپان ولسوالۍ کې له خپل کلي نه د قلات ښار پر لور روان وو. ارغنداب ولسوالۍ ته په رسېدو د لاغر بابا زيارت سيمې نه د تېرېدو په حال کې وو، چې زموږ موټر د طالبانو لخوا د سړک غاړې ځای پر ځای شوي ريموټ کنټرول بم باندې وربرابر شو او چاودنه يې وکړه. زه او زما د کاکا زوی (چې د پېښې له امله يې د سترګو ديد هم له لاسه ورکړ) په مخکې سيټ کې ناست وو، زما د مشر ورور په ګډون د نورو سپرليو په پرتله، شديد ټپيان شو.<br><br>زه يې د لومړنيو طبي مرستو ترلاسه کولو په موخه د افغان ملي امنيتي او دفاعي ځواکونو نږدې پوستې ته يوړم او له هغې وروسته يې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو ولايتي غُنډ ته يوړم چې هلته امريکايي ځواکونه هم مېشت وو. د امريکايي ځواکونو جراحي ډاکټرانو زما له اجازې پرته زما ټپي پښه پرې کړه، چې ډېر يې نهيلی کړم... |

| د قرباني څرګندونې | ځای | نېټه | د مرکې شمېره |
|---|---|---|---|
| نهه میاشتې وروسته په دې وتوانېدم چې [د مصنوعي پښې] په درلودلو سره په پښو ودرېږم او حرکت وکړم، خو د تل لپاره معلول شوم.“ | | | |
| ”مور په یوه هټۍ کې ناست وو، چې زمور د کور له دروازې سره نږدې ده. دوه د هاوان مرمۍ زمور په کور او هټۍ ولګېدې، چې په پایله کې یې زما د کورنۍ درې ماشومان ځای پر ځای ووژل شول او څلور نور (زما کاکا، زما ترور او دوه ماشومان) ټپیان شول... مور پوهېږو چې د دې برید عاملین افغان امنیتي ځواکونه دي، خو پر وړاندې یې هیڅ اقدام نه دی شوی.“ | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۹۹ |
| ”د یو پوهنتون اړوند شاوخوا ۲۰ تنو استادانو په یوه بس کې [بل ولایت] ته سفر کوه. زمور د عملې بس د سړک غاړې یو ځای پر ځای شوي ماین په وسیله په نښه شو، چې په پایله کې یې دوه تنه (یو ځای پر ځای او بل په روغتون کې) مړه شول او له ۱۸ زیات نور ټپیان شول. ځايي خلکو مور په خپلو موټرو کې روغتون ته یوړو او دوه ورځې وروسته زه او زما دوه همکاران چې شدید ټپي شوي وو، د نورې درملنې لپاره [یو لوی] روغتون ته ولېږدول شو.“ | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۰۰ |
| ”یوه ورځ سهار شاوخوا ۹:۰۰ بجې چې کره نېټه مې په یاد نه ده، خو ۲۰۱۷ کال و چې د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ د لودینانو چینې ډب سیمه کې مې د پلور لپاره د لرګیو څخه ډک تراکتور چلوه. زما موټر د سړک غاړې پر یوه ځای پر ځای شوي ریموټ کنټرول ماین وخوت او چاودنه یې وکړه. چاودنه درنه وه او زما تراکتور یې لرې وغورځاوه او ویجاړ یې کړ. زما پښې شدیدې ټپي شوې. نږدې افغان ملي امنیتي او دفاعي ځواکونه د پېښې سیمې ته راورسېدل او هڅه یې وکړه چې ما وژغوري او د پېښې له صحنې مې راوباسي، خو طالبانو کمین نیولی وو او پر دوی یې ډزې وکړې. له ما زیاته وینه بهېده او د جګړې په ډګر کې بند پاتې شوم. یوه شیبه وروسته طالبان په شا وتمبول شول او زه روغتون ته ولېږدول شوم.“ | زابل ولایت، ارغنداب ولسوالۍ، چینه ډب سیمه | ۲۰۱۷ | ۱۰۱ |
| ”د ۲۰۱۹ کال د اګست میاشتې ۳ نېټې د یکشنبې ورځ سهار و، چې طالبانو د اربکیانو پر پوسته برید وکړ او د دواړو لورو ترمنځ نښته پیل شوه. څو دقیقې وروسته افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه هم زمور کلي ته راورسېدل. دواړو خواوو په یو بل ډزې او بریدونه کول. د نښتې په ترڅ کې یو چاودېدونکی توکی، چې نه پوهېږم څه شی به و، خو زما پلار وايي چې راکیټ و، زمور کور ته یې زیان واړوه. یاد راکټ زمور د کور پر لور راغی او زمور د کور په حویلۍ کې وچاودیده. له نیکه مرغه هیڅوک له خونو بهر نه وو؛ ګنې هیڅوک به ژوندي پاتې نه وو. دا | سر پل ولایت، ګوسپندي ولسوالۍ، الاغان کلی | ۳ اګست ۲۰۱۹ | ۱۰۲ |

| د مرګي شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | چاودنه ډېره زوروره وه؛ غږ يې اوس هم زما په ياد دی. زه هغه مهال ۱۶ کلن وم. د راکيټ توغندي پارچې هره خوا ولګېدې، زمونږ د خونو ښيښې ماتې شوې، بامونه تخريب شول او زما په ګډون، زمونږ د کورنۍ نهه غړي ټپيان شول. زما مور، زما د کاکا ښځه، زما دوه وربرې، يو وراره او درې د کاکا زامن په دې پېښه کې ټپيان شول.“ |
| ۱۰۳ | ۱۴ جولای ۲۰۱۲ | سمنګان ولايت، ايبک ښار، الماس د واده تالار | ”د سهار شاوخوا ۶:۳۰ بجې د ايبک ښار په الماس د ودونو تالار کې د احمد خان سمنګاني د لور د واده پر مهال د احمد خان سمنګاني په ګډون، يو شمېر سياسي څېرې هم تالار ته راغلې وې. زه د نورو لوړ پوړو سياسي څېرو سره يو ځای د تالار په دروازه کې د ميلمنو د هرکلي لپاره ولاړ وم. يوه ډله خلک يوځای راغلل او موږ ټول دغه تالار ته ننوتلو. ناڅاپه مې د يوې سترې چاودنې غږ واورېد. زه په ځمکه پرېوتم او بې هوښه شوم، او زما بدن شديد وسوځېد. د پوليسو يو افسر زه له تالار څخه بهر راوويستم او په يو امبولانس کې يې د ايبک روغتون ته يوړم. که څه هم، په سمنګان کې زما درملنه ممکنه نه وه، نو زما ورونو زه ازبکستان ته يوړم، چې هلته ډاکټرانو زما غوره درملنه وکړه. زه يوه مياشت په کوما کې وم او درې مياشتې په روغتون کې بستر وم، چې په درملنه مې ۱۰۰۰۰ امريکايي ډالره لګښت راغی چې زما ورونو ورکړ. کله چې په هوښ راغلم او ښه شوم، ما خپلې ځمکې وپلورلې او دوی ته مې خپلې پيسې بېرته ورکړې.“ |
| ۱۰۴ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ”ځايي طالب جنګياليو زما وراره وويشت او مړ يې کړ... طالبانو هغه د ملي امنيت رياست سره په نږدې اړيکو درلودلو تورن کړ... [هغه] د [نېټې] په ماښام په عمومي بازار کې د دوو موټر سايکل سپرو لخوا په بې غږه ټوپکچه وويشتل شو... طالبانو د خپلې محلي راډيو له لارې د دې قتل مسؤوليت ومانه، او نوموړی يې د ملي امنيت بدنام جاسوس وښود.<br><br>زه د پېښې پر مهال په خپل هوټل کې وم، چې زمونږ له کوره يو نيم کيلومتر لرې دی... د هغه د وژلو په ورځ [زما وراره] د ماسپښين تر ناوخته پورې له ما سره په هوټل کې و. کله چې هغه له هوټل څخه ووت، پنځه ويشت دقيقې وروسته د هوټل يو کارکوونکي راته ووېل چې هغه وويشتل شو. ما په زوره وژړل او د پېښې ځای ته مې منډه کړه چې هلته مې په وينو ککړ [زما وراره] وليد چې لا هم ژوندی و. هغه په غړۍ او ګېډه کې اووه مرمۍ ويشتل شوې و. موږ هغه په منډه د عامې روغتيا روغتون ته يوړ خو د ټپونو له امله د روغتون په دروازه کې ومړ. دا زما د ژوند تر ټولو دردناکه شيبه وه، او زه دا دعا کوم چې هيچا ته دې داسې درد نه رسېږي.“ |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۱۰۵ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ”طالبان زموږ کلي ته راغلل او پر افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو يې ډزې پيل کړې، چې په ځواب کې يې افغان ځواکونو هم ډزې وکړې. يوه مرمۍ تصادفي زما پر ۱۵ کلن وراره ولګېده. زما ورور منډه کړه څو خپل ټپي شوی زوی د جنګ له صحنې څخه راوباسي، چې هغه هم په ډزو ولګېد او ټپي شو. زما وراره ځای پر ځای مړ شو او ورور مې په روغتون کې ومړ.“ |
| ۱۰۶ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ”زه په خپل هوټل کې وم چې د کاکا زوی مې په بېړه زنګ راووهه او په ژړغوني غږ یې راته وویل چې ژر تر ژره زموږ کور ته راشه. زه د خپلې بوډۍ مور د روغتیا په اړه اندېښمن وم. کله چې کور ته ورسېدم، ومې لیدل چې زما ترور (عمه) غمجنه او خفه ده، او داسې فکر مې وکړ چې مور مې سخته ناروغه یا مړه شوې ده. زه د کور چوپ او خفه حالت سخت وځپلم. زما د کاکاګانو، کاکا زامنو او ترورګانو په ګډون، زیات شمېر خپلوان زموږ په کور کې راټول شوي وو. زما د کاکا زوی له دې وروسته په داسې حال چې ژړل یې، ماته وویل چې، زما زوی د خپل کور سره نږدې د اربکیانو لخوا په ډزو ویشتل شوی او مړ شوی دی. د خپل زوی د بې روحه جسد په لیدو سره بې هوښه شوم؛ زما کورنۍ له څو دقیقو وروسته په هوښ راوستم. دا زموږ ټولو لپاره یوه غمجنه او دردناکه شیبه وه. وروسته مالومه شوه چې [زما زوی] له اربکیانو سره لفظي شخړه کړې وه او له دوی یې غوښتي وو چې، د خپلې پوستې له بام څخه زموږ کور ته ونه ګوري ځکه په کور کې ښځې دي او دا په اسلام او افغاني کلتور کې ناروا ده چې یو څوک له بهر څخه د چا کور ته وګوري [...]. د دوی ترمنځ دغه جنجال زیات شوی وو، چې په پایله کې یې دوه اربکیانو هغه څو ډزه په سینه او ګېډه وویشت.“ |
| ۱۰۷ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ”زه [خپل ښوونځي] ته لاړم. له خپلې خور او ملګرې سره یو ځای له ښوونځي څخه وتلو، چې بهر یو موټر بم چاودنه وکړه. چاودنه دومره زورره وه چې موږ یې په ځمکه راوغورځولو. په دې ګډوډۍ کې خلکو موږ ته چیغې کړې څو له ساحې ووځو. زما خور او [زما ملګرې] په دې وتوانېدل چې راپورته شي او وتښتي، خو ما ونشو کړای. په هغه وخت کې زه نه پوهېدم چې ټپي یم، تر دې پورې چې زما خور زه ولیدم او وېې ویل: ”ته ژوبل شوی یې! “ ما خپلې کینې پښې ته وکتل او ومې لیدل چې وینه ترې بهېږي.<br><br>د دې خبرو په جریان کې د ښوونځي هاخوا دویم موټر بم چاودنه وکړه. هوا له لوګو او ځمکه له وینو ډکه وه او د ډار شوو نجونو ژړاګانو ټوله فضاء نیولې وه او داسې ښکاریده لکه د قیامت ورځ چې وي. له دویمې چاودنې وروسته زه بې هوښه شوم. کله چې په هوښ راغلم، زه په [سیمه] کې په [روغتون] کې وم. له لومړنیو مرستو او |

| د مرګې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
| --- | --- | --- | --- |
| | | | طبي معاینې وروسته څرګنده شوه چې زما کینه پښه په پارچه لګېدلې چې دوی ونه توانېدل زما له پښې یاده پارچه راوباسي. زه په روغتون کې له دوه شپې بستر کېدو وروسته رخصت شوم.“ |
| ۱۰۸ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ”زما زوی چې تازه له دولسم ټولګي فارغ شوی و، په پوهنتون کې د شمولیت لپاره یې کانکور ازموینې ته د چمتووالي کورس لوست. د [نېټې] په ماسپښین د خپل روزنیز مرکز په دوازه کې کورس ته د ننوتلو په حال کې و چې یوه درنه چاودنه وشوه. د سترګو په رپ کې لسګونه زده کوونکې، زما د زوی په ګډون، ووژل شول او ټپیان شول. زما زوی د بم په پارچه لګېدلی و، چې سترګې، غوږ او لاسونه یې زیانمن شوي وو. زه په کور کې وم چې دوی زما زوی په وینو ککړ کور ته راووست. د زوی له لیدو وروسته مې شوک ولید، د وینې فشار مې لوړ شو او بې هوښه شوم. له هغه وخت وروسته مې ښي پښه سم کار نه کوي. دا یوه وحشتناکه ورځ وه. [د ژړا په حال کې].“ |
| ۱۰۹ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | ”زه له ولسوالۍ څخه د خپل کلي په لور روان وم څو خپل سامانونه راوړم... کلي ته پر لاره د غره په سر د طالبانو پنځلس وسلوالو پر ملکي وګړو برید وکړ او پنځه تنه یې ووژل. زه په دغه برید کې ټپي شوم. زه په چپه پښه د کلاشینکوف په مرمۍ ولګېدم. درې داخلي بې ځایه شوي کسان چې په دغه سیمه کې یې خیمې وهلې وې، زه یې خپل کور ته یوړم او بیا خپل ورور له هغه ځایه روغتون ته یوړم... زه په چپه پښه کې د مرمۍ د ټپ له امله ۱۴ ورځې تر درملنې لاندې وم.“ |
| ۱۱۰ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | پټې ساتلې شوي |
| ۱۱۱ | جون ۲۰۲۱ | نیمروز ولایت، خاشرود ولسوالۍ د غورغوري بازار ۲۴ مارکیټ | ”د ۲۰۲۱ کال په جون میاشت کې یوه ورځ د مازدیګر شاوخوا ۴:۰۰ بجې، طالبان د نیمروز ولایت په خاشرود ولسوالۍ کې د غورغوري بازار په ۲۴ مارکیټ کې چې د دې ولسوالۍ پر اطرافي سیمو یې کنټرول درلود، له افغان ملي امنیتي ځواکونو سره په سخته جګړه واوښتل... زه په یاد بازار کې دوکاندار وم، چې له نورو دوکاندارانو سره یوځای مې د جګړې له ډګره تېښته وکړه. موږ سخت ټکان خوړلی او ویریدلي وو. ما موټر سایکل چلوه چې د دواړو خواوو څخه د ډزو له امله مې موټرسایکل چپه شو، چې په پایله کې مې اوږه ماته او د بدن نورې برخې ټپي شوې. د ټپونو درلودلو سربېره زما خپلوانو زه د جنګ له صحنې څخه وویستم.“ |

| د مرګې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۱۱۲ | ساتل پټه شوې | پټ ساتل شوی | ”په سیمه کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ درنه جګړه روانه وه. په تېر مهال کې درنو جګړو د سیمې زیاتې کورنۍ دې ته اړ کړې وې څو دا سیمه پرېږدي. زما خوریې له خپلې کورنۍ سره لا له وړاندې دا سیمه پرېښې وه. په هماغه ماښام، زما خوریې خپل څلور کلن زوی پر موټر سایکل سپور کړی او خپل کور ته یې بیولی و څو د اړتیا وړ جامې ورته راواخلي. د طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ترمنځ درنه جګړه روانه وه، چې یوه مرمۍ پرې ولګېده او ټپي شو. د هغه زوی د خپل پلار په موبایل خپل نیکه ته زنګ وهلی، چې نیکه یې بیا ما او نورو خپلوانو ته خبر راکړ. موږ لاړو او هڅه مو وکړه چې خپل خوریې د جګړې له ساحې راوباسو. موږ ونه توانېدو د سختو نښتو له امله هغه روغتیایي مرکز ته یوسو، چې بالاخره یې د ټپونو له امله ساه ورکړه.“ |
| ۱۱۳ | ساتل پټه شوې | پټ ساتل شوی | ”زما ورور د کلي مشر په بلنه د ماښام ډوډۍ خوړلو لپاره له خپل کور څخه د شپې مهال د هغه کور ته روان و. زما ورور یې بلنه منلې وه او د هغه د کور خوا ته روان و، چې شاوخوا ۸:۳۰ بجې مو د یوې چاودنې غږ واورېد. موږ پوه شو چې د چاودنې ځای د کلي د مشر کور دی. موږ په منډه د کلي د مشر کور ته ورغلو او ومو لیدل چې شپږ تنه مړه شوي وو او دوه نور ټپیان وو. زما ورور هم په مړو کسانو کې و او کله چې مې د هغه مړی ولید، ټکان مې وخوړ او نه پوهېدم چې څه وکړم...<br><br>دا چاودنه د بې پیلوټه الوتکې برید و، چې د کلي د مشر په میلمستون باندې یې بمونه وغورځول. په پایله کې یې د کلي د مشر درې زامن، یو وراره، د هغه اوښی او زما ورور ووژل شول. په وژل شوو کسانو کې ۲۲ کلن [نوم]، ۶ کلن [نوم]، ۲۰ کلن [نوم]، ۱۲ کلن [نوم]، ۱۵ کلن [نوم]، او ۵۵ کلن [نوم] شامل وو.<br><br>[د کلي مشر] او [د هغه یو میلمه] شدید ټپیان شول. موږ د درملنې لپاره [ولایت] ته او بیا [یو ګاونډي هېواد] ته یوړل. [میلمه] د ټپونو له امله ساه ورکړه. کلیوال د والي، امنیه قوماندان او د ملي امنیت رئیس په ګډون، ځایي چارواکو ته ورغلل خو ټولو وویل چې دوی د پېښې په اړه هیڅ مالومات نه لري. که څه هم، دوی وروسته وویل چې د دوی د مالوماتو په اساس دا یوه امریکایي بې پیلوټه الوتکه وه چې د طالبانو یو تن شکمن غړی یې په نښه کړی و.“ |
| ۱۱۴ | ساتل پټه شوې | پټ ساتل شوی | ”طالبانو د پخوانیو افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پر مرکز باندې برید وکړ، د دواړو خواوو ترمنځ څمکنۍ جګړه ونښته. زه د جګړې په ځای کې د پټیو په اوبه کولو بوخت وم. پر طالبانو د افغان ځواکونو لخوا توغول شوو توپونو خپل هدف خطاء او زموږ په پټیو کې ولګېدل. د توپ مرمۍ یوه پارچه پر ما ولګېده او سخت یې ټپي کړم. زه بې هوښه شوی وم، او چې سترګې مې پرانیستې په [ولایتي] روغتون کې وم، چې خپلې کورنۍ او کلیوالو هلته |

| د قرباني څرګندونې | ځای | نېټه | د مرکې شمېره |
|---|---|---|---|
| وړې وم. زما کینه ښه او لاس په پارچو لګیدلي او سخت ټپي شوي و او د ښې په ځای کې مې زیاته وینه توی شوې وه.“ | | | |
| "وروسته له هغې چې له کلي لاړم، ځینې طالب جنګیالي زموږ کور ته راغلل، چاي یې وڅښه او د غرمې ډوډۍ یې وخوړه. زما د زوی له دې اعتراض سره سره چې په کور کې ښځې او ماشومان یوازې دي، هغوي بیا هم هغه مجبور کړ چې له هغوي سره لاړ شي. زموږ له کور څخه شا و خوا درې کیلو متره لرې، هغوي زما زوي پر مخ په ډزو وویشت او هغه یې وواژه. کلیوالو د هغه جسد راوړ او د جنازې لپاره یې راغونډ شول. د خپل زوی په وینو کې د لت پت جسد په لیدو سره له شاک څخه بې هوښه شوم.<br>هغه زما مشر زوی، زما غوره مشاور، او زموږ د کورنۍ د ملا تیر و. زه شپږ نور زامن او پنځه لورګانې لرم، خو د هغه تشه هیڅ یو نه شي ډکولی. زما مېرمن، د قرباني مور د هغه د جسد په لیدو سره له خبرو ولوېده، هغې خبرې نه شې کولی." | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۱۵ |
| "زه د [یوه داخلي موسسې] لپاره کار کوم... په ولسوالۍ کې خلکو ته د مرستو له برابرولو وروسته ښار ته پر لار وو چې پر موږ برید وشو. په دغې پېښې کې څلور کارمندان شامل وو. زه او یو ډرایور په یوه امبولانس کې وو، په داسې حال کې چې دوه نور همکاران په بل کې وو. نا پیژاندو وسله والو پر موږ برید وکړ چې امله یې زه او زما بل همکار ټپي شو. زه په لاس ټپي شوم په داسې حال کې چې [زما همکار] په ښه سخت ټپي شوی و." | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۱۶ |
| "موږ د کور په حویلۍ کې ناست و چې یو هوایي برید زموږ کور په نښه کړ. د برید له امله زه، زما درې زامن، زما وریره او زما وراره ټپیان شول. موږ د درملنې لپاره روغتون ته یوړل شو. موږ دومره پوهیږو چې دا د هوایي برید له امله پېښ شول، خو په دې نه پوهیږو چې مرتکبین څوک وو." | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۱۷ |
| "ما له خپلو دوه لورګانو او زوی سره زموږ د هزاره توکمه شیعه مذهبه خپلوانو د واده په مراسمو کې ګډون وکړ... شا و خوا د شپې ۱۰:۳۰ بجې د هوټل د نارینه وو په برخه کې ستره چاودنه رامنځ ته شوه. چاودنې شیشې ماتې کړې او دوړې یې خپرې کړې؛ چې خوشحالي یې په غمیزې، چغو او ویرې بدله کړه. سپینې سرمیزیانې د ګډونوالو په وینه سرې رنګ شوې. د ټپیانو په ګډون ټولو خلکو له هوټل څخه باندې منډې وهلې. هر شخص د هوټل په تالارونو کې او له هغه څخه بهر د خپلو خپلوانو په لټه کې و. | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۱۸ |

| د مرګې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | زه شوک وهلی او ترهیدلی وم. ما وکولای شول چې خپلې دوه لورګانې د ښځینه و په برخه کې پیدا کړم. هغوي په شیشو او پارچو ژوبلې شوې وې خو ټپونه یې ډېر ژور نه وو. د یوې لور د پښې ټپ ژور و. موږ له هوټل څخه ووتلو.<br><br>په روان وحشت کې مې په بشپړ ډول زوی له یاده ووت څوک چې ما سره واده ته راغلی و او د نارینه و په تالار کې و. سبا سهار پوه شو چې هغه ورک دی، په دې اړه هیڅ مالومات نه و چې آیا هغه ژوندی دی، ټپي دی که وژل شوی. پر هغې ورځ لږ وروسته، موږ د هغه جسد په عدلي طب کې پیدا کړ. موږ یې جسد له هغه ځایه راوړ او له ټولو هیلو سره یو ځای مو خښ کړ." |
| ۱۱۹ | ۱۶ مارچ ۲۰۱۹ | کندهار ولایت، کندهار ښار، ۷ حوزه، میر بازار سیمه، ملک یار محمد مسجد کلی | "د ۲۰۱۹ کال د مارچ پر ۱۶ نېټه، نیمه شپه، د کندهار ولایت، کندهار ښار، ۷ حوزې، میر بازار سیمې، ملک یار محمد مسجد په کلی کې د ملي امنیت د صفر ۳ قطعې شا و خوا شل یونیفورم لرونکي وسله وال - چې د آمریکا د استخباراتو ملاتړ ورسره وو - د شپنیزو چاپیزو عملیاتو په ترڅ کې زموږ په کور ننوتل. دغه وخت زموږ کور محاصره و. هغوي زما په ورور پسې لټېدل، چې هغه یې له طالبانو سره په اړیکو درلودلو تورن کوه. امین الله [زما ورور] زما د تره له زوی سره یو ځای ونیول شول. هغوي سترګې تړلي له کور څخه یوه نا مالوم ځای ته ولېږدول شول. زما ورور تر نن نېټې پورې بېرته کور ته راستون نه شو." |
| ۱۲۰ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زه له ښوونځي څخه کور ته پر لار وم چې د هغه هاوان په پارچو ټپي شوم کوم چې په زیات احتمال سره د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له خوا توغول شوی و. په هغې سیمه کې چیرې چې زه ټپي شوم طالبانو شتون درلود، او د دغې پېښې پرمهال د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ فعاله جګړه روانه وه. له موږ څخه هیڅوک پوه نه شو چې د پېښې مشخص عاملین څوک دي، خو طالبان په هغه سیمه کې موجود وو چېرې چې زه لګېدلی وم او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه په شا و خوا سیمه کې وو کله چې دواړو خواوو په یو بل ډزې کولې او د یو بل په وړاندې یې درنې وسلې کارولې. ما خپله انرژي له لاسه ورکړه او بې هوښه شوم. وروسته پوه شوم چې په سیمه کې خلکو ماسره مرسته کړې چې په پښو ودریږم او زما پلار ته یې د زما د وضعیت په اړه خبر ورکړی. ما ولیدل چې په چپ لاس مې پارچه لګیدلې." |
| ۱۲۱ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "یو هاوان د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا وتوغول شو چې پر ځایي اونیز بازار ولګېد. دغه هاوان زما په ګډون چې یوه پارچه مې پر سر لګیدلې وه، نږدې ۳۰ ملکي وګړي ووژل او ژوبل یې کړل. ما د دغې پېښې پرمهال د کورنۍ |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | لپاره سودا اخیستله. له تېې کېدو وروسته زه بې هوښه شوم. د پېښې پرمهال کومه جګړه نه وه. زه نه پوهېږم چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په سیمه کې له خپل ګرځنده چیک پوسټ څخه ولې هاوان مرمۍ وویشته." |
| ۱۲۲ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "د طالبانو او پخوانیو افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ترمنځ جګړه پیل شوه. دواړو لورو پر یو بل د درنو او سپکو وسلو ډزې کولې. د دغې جګړې په پایله کې د زیاتو درنو وسلو د کاروونې له امله زما ورور مړ شو او کور مو وسوځېده. زما ورور ۲۲ کلن و. هغه واده کړی و او یو ماشوم یې درلود... دا زموږ لپاره ستونزمنه ده. زما وریندار چې له موږ سره اوسېږي اوس هم ښه نه ده او په رواني لحاظ پر خپګان اخته ده. موږ له مالي ستونزو سره مخ یو ځکه زما ورور د مزدورکار و او زموږ د کورنۍ لپاره یې کار کاوه. موږ د هغه له مړینې وروسته خرابې ورځې تېروو." |
| ۱۲۳ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "کله چې زما مېړه نا وخته له کار څخه کور ته په ستنېدو و، زموږ کلی ناڅاپه په وېره کې ډوب شو. د افغان ملي اردو چورلکو زموږ پر سر دورې وهلې په داسې حال کې چې ځمکنۍ قطعې په سیمه کې ګزمه کوله. له کوم اخطار پرته، چورلکو پر کلي بمبار او ځمکنۍ قطعې ډزې پیل کړې. له بده مرغه، زما مېړه او د هغه دوه د تره زامنو په دغه وحشتناک برید کې خپل ژوند له لاسه ورکړ. زما دوه زامن او زه ټپي شو، او موږ لا اوس هم هغه درد چې زموږ په بدن کې د پاتې پارچو له امله رامنځ ته کېږي، تحمل کوو." |
| ۱۲۴ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "په [موقعیت] کې دوه ځانمرګي بریدګر جومات ته ننوتل او پر عبادت کوونکو یې ډزې پیل کړې. جومات ته تر ننوتلو مخکې هغوی په دروازه کې پیره داران وویشتل. موږ د جمعې لمونځ بشپړ کړی و، ملا امام او نورو قومي مشرانو یوه کلیوال ته چا چې له [زیارت] سره د غالیو او نورو توکو مرسته کړې وه، د مننلیک د وړاندې کولو لپاره چمتوالی نیوه. بریدګرو د لومړي صف پر خلکو چې زه هم په کې وم، ډزې پیل کړې. په ورته وخت کې، ما د یوې کېوونکې چاودنې غږ واورېده او بې هوښه شوم. چاودنه د ځانمرګو بریدګرو له امله رامنځ ته شوه ځا چې د جومات په داخل کې په ځان پورې تړلو واسکټونو ته چاودنه ورکړه. د دغه برید په پایله کې د سرپانو او هلکانو په ګډون له پنځه دېرشو زیات بې ګناه ملکي وګړي شهیدان شول، او زما په ګډون شا و خوا سل نور ټپیان شول." |
| ۱۲۵ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زما زوی او پنځه نور کلیوال په یوه برید کې چې زما په ګمان د بې پیلوټه الوتکې برید و، ووژل شول. دوي په یوه کوټه کې راټول شوي وو، کله چې هوايي برید پېښ شو. په دغه هوايي برید کې ټول ووژل شول، هیڅوک ژوندی پاتې نه شو. دغه هوايي برید د امریکایانو له خوا ترسره شو، ځا چې باید موږ ساتلی وای، برعکس یې زما د زوی په ګډون شپږ ولسي وګړي ووژل. په دغې شپې دولتي ځواکونه هم د شپنیو عملیاتو د یوې برخې په توګه په سیمه کې |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | موجود وو. په هر صورت، دا هغه هوايي برید و چې زما د زوی او پنځو نورو ولسي وګړو ژوند یې واخیست. دغه شپه زموږ د ژوند تر ټولو دردناکه او ناوړه شپه ګڼل کېږي، چې زموږ هیلې یې ماتې کړې او موږ یې په تل پاتې غم او خپګان کې ډوب کړو." |
| ۱۲۶ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "یو سهار، ما خپله رمه را وایسته او هغه مې د پیولو په پار د غره په لور روانه کړه... ما په واښو کې د اوسپنې یوه ټوټه ولیده. زه یو هلک وم، ما غوښتل وګورم چې دا څه شی دی. لاس مې ور اوږد کړ چې راپورته یې کړم، له هغې وروسته پر ځان نه یم پوه شوی چې څه پېښ شول، زه بې هوښه شوم. اوسپنه یو بم و. بم پر ما وچاودېد. یو لاس مې په مرووند کې ژوبل شو، او د بل لاس دوه ګوتې مې له لاسه ورکړې. سینه مې په بشړ ډول ماته شوې وه. دواړو سترګو مې لید پرېښود. د بم د پارچو له امله مې نور بدن هم زیانمن شوی، خو د خدای په فضل ژوندی پاتې شوم." |
| ۱۲۷ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زما زوی چې یوزاې ۱۷ کلن و، د وادونو په تالار کې یې د خدمتګار په توګه دنده ترسره کوله. زما مېړه هم په دغه ځای کې د صفاکار په حیث کار کاوه... د یوې هزاره توکمه شیعه کورنۍ د واده د مراسمو پرمهال، په دغه هوټل کې چاودنه رامنځ ته شوه، چې له بده مرغه یې زما زوی وواژه. له نیکه مرغه زما مېړه ته کوم زیان نه و رسیدلی. د دغې چاودنې له امله هوټل د څو میاشتو لپاره تړلی و. نه یوازې ما خپل زوی له لاسه ورکړ، بلکې همدارنګه مو د خپلې کورنۍ اصلي روزي ګټیال هم له لاسه ورکړ." |
| ۱۲۸ | اکتوبر – نومبر ۲۰۱۹ | کندهار ولایت، سپین بولدک ولسوالي | "زما ورور د کندهار ولایت، د سپین بولدک پر ویش پوله د موټر پلورونکي په توګه دنده ترسره کوله. هغه مهال نادرکه شو کله چې له کور څخه د ویش پولې ته پر لار و. هغه د سرحدي پولیسو په امنیه قوماندان پورې د اړوندو پولیسو له خوا ودرول شو او نامالوم ځای ته یوړل شو... پر همدې ورځ زما دوه نور د تره زامن هم نادرکه شول. ما ډېره هڅه وکړه چې هغوي پیدا کړم، خو پیدا مې نه کړای شول.<br><br>ما د هغوي د موندلو لپاره هر څه ترسره کړل، په ولایت کې د ټولو امنیتي او دولتي چارواکو په ګډون، هیڅوک و نه توانیدل چې ما سره د هغوي په پیدا کولو کې مرسته وکړي. کله چې طالبانو بېرته واک تر لاسه کړ، هغوي وکولای شول چې د سپین بولدک په ریګ سیمه کې د دریو قربانیانو جسدونه پیدا کړي. هغوي د کندهار ولایت د سپین بولدک ولسوالۍ په ریګ سیمه کې خښ شوي وو." |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۱۲۹ | ۲۳ جون ۲۰۱۶ | کندهار ولایت، کندهار ښار | "زما ورور په کندهار کې د ختېنو لوښو په پلورنځي کې کار کاوه، چې د میاشتې به یې څلور زره افغانۍ ورکولې. هغه به له خلکو سره مرسته کوله او لمونځ به یې کاوه... یوه ورځ زموږ کور ته څو سرتيري راغلل. هغوي له موږ څخه پوښتنې پیل کړې، لکه تاسو څو ورونه یې، او څه کار کوئ. له هغې وروسته سرتیرو زما ورور ونیوه او وېې ویل چې د هغوي قوماندان غواړي له هغه سره خبرې وکړي. له هغه وخت راهیسې زما ورور ورک دی او موږ د هغه په اړه هیڅ مالومات نه لرو." |
| ۱۳۰ | ۲۴ اکتوبر ۲۰۱۶ | کندهار ولایت، کندهار ښار، ۴ حوزه | "فکر کوم دغه پېښه شا و خوا لس- یولس کاله پخوا پېښه شوې. زموږ په کورنۍ کې یو څوک د پېښې د کره نېټې په اړه پوهیږي. زه یې پیدا کولای شم. پېښه د کندهار په ۴ حوزه کې رامنځته شوه. د جنرال عبدالرازق اڅکزي تر رهبرۍ لاندې ګڼ شمېر پولیس افسران زما د ورارہ دوکان ته راغلل چیرې چې هغه کار کاوه، او هغه یې د طالب په تور پورته کړ. هغه د پېښې له هغې نېټې څخه تر اوسه پورې ورک دی." |
| ۱۳۱ | ۲۴ جنوری ۲۰۱۴ | کندهار ولایت، کندهار ښار، ۱۰ حوزه، دو راهي سیمه، بولدک هډې ته څېرمه | "د ۲۰۱۴ کال د جنوري پر ۲۴ نېټه ماښام مهال د کندهار ولایت، کندهار ښار، ۱۰ حوزه، دو راهي سیمه کې د بولدک هډې ته څېرمه د قصابۍ په یوه دوکان کې، یو شمېر افغان ملي پولیسو چې په شخصي موټر کې سپاره وو زما ورور ونیوه او د پولیسو هغه مرکز ته یې انتقال کړ چې په یوه بې رحمه پولیس افسر پورې یې اړه درلوده. هغه له طالبانو سره د اړیکو درلودلو په تور نیول شوی و... سره له دې چې موږ د جمهوریت له ړنګیدو وروسته په کندهار ښار او سپین بولدک ولسوالۍ کې د جنرال رازق له خوا د توقیف ځایونو په توګه کارول شوي ټول شخصي بندي خانې یا هغه ځایونه چې د تورو ځایونو په نامه یادېدل، ولټول، خو د خپل ورور د ځای په اړه مو هیڅ باوري مالومات ترلاسه نه کړل." |
| ۱۳۲ | اکتوبر – نومبر ۲۰۱۸ | کندهار ولایت، پنجوایي ولسوالۍ، صالحان سیمه، معیوبین کلی | "بسم الله د کندهار ولایت، پنجوایي ولسوالۍ د صالحان د معیوبینو په کلي کې د یوه جومات ملا امام و. موږ داسې انګېرله چې هغه د افغان سیمه ییزو پولیسو د یوه قوماندان له خوا تښتول شوی. د قرباني د کورنۍ غړو د هغه د پیدا کولو لپاره ډېره هڅه وکړه او هغو مختلفو کلیو ته یې سفر وکړ چېرې چې د مړو جسدونه پیدا شوي وو، څو وګوري چې هغه په بسم الله پورې اړه لري. خو له دې هر څه سره سره، د بسم الله جسد لا اوس هم ورک دی او کورنۍ یې لا اوس هم د پیدا کولو په لټه کې ده." |

| د مړکي شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۱۳۳ | ۱۰-۱ اګست ۲۰۲۱ | نیمروز ولایت، خاشرود ولسوالي، غور غوري بازار | "د خاشرود ولسوالۍ په غور غوري بازار کې د سهار شا و خوا ۸ بجې، زما د ورور موټر د افغان ملي پولیسو او هغو طالب جنګیالیو ترمنځ په ځمکنۍ جګړه کې ګیر پاتې شو چا چې د ولسوالۍ د کنټرول د ترلاسه کولو هڅه کوله. پر یو بل د ډزو په جریان کې، د پولیسو یو افسر چې په یوه ټاور کې ولاړ و، پر مسافر وړونکي موټر ډزې وکړې، چې د راپورونو له مخې هغوي یې موټر ته د حرکت ورکولو امله ملامت ګڼل، ځکه چې پولیسو غوښتل چې د طالبانو د بریدونو په وړاندې ولسي موټر د انساني ډال په توګه وکاروي. زما ورور وروسته له هغې چې پر سر ویشتل شوی و، ومړ په داسې حال کې چې نور مسافر نه وو زیانمن شوي. مور د همدغې ورځې پر ماسپښین جسد کور ته یوړ." |
| ۱۳۴ | ۲۸ می ۲۰۱۲ | کندز ولایت، کندز ښار، ۲ حوزه | "د جنازې د مراسمو پرمهال، دوه پیژندل شویو وسله والو پر هغو پښتنو ډزې وکړې چې په مراسمو کې د ګډون لپاره راغلي وو. په دغې پېښه کې زما دوه ورونه هم ووژل شول." |
| ۱۳۵ | ۵ جولای ۲۰۲۱ | بدخشان ولایت، فیض اباد ولسوالي، یفتل بالا سیمه، تلبزنګ کلی | "درې کاله پخوا د ۲۰۲۱ کال د جولای پر ۵ نېټه شاوخوا د ورځې په منځ کې، بدخشان ولایت، فیض اباد ولسوالي، د یفتل بالا سیمې په تلبزنګ کلي کې هغه مهال کله چې مور د غرمې ډوډۍ خوړه، ما د یوې الوتکې غږ واورېده چې بیا وروسته د چاودنې غږ پورته شو. له هغې وروسته یوه نه شوم چې څه پېښ شول ځکه زه بې هوښه شوی وم، او کله چې مې سترګې پرانیستې زه د فیض آباد په روغتون کې وم. په روغتون کې پر دې پوه شوم چې د تېر حکومت الوتکو چې په افغان ملي اردو پورې یې اړه درلوده د طالبانو پر موقعیتونو هوایي برید ترسره کړی او یو بم چې خپل هدف یې خطا کړی و زما د ورور پر کور لګېدلی.<br><br>د پېښې سره کور ویجاړ او زما نهه کلنه وریره وژل شوې وه. نهه نور کسان ژوبل شوي وو: زه پخپله، زما زوی، زما مور، زما وریندار، زما درې وریرې او یو بل سړی چې کور ته یې نږدې موټر چلاوه." |
| ۱۳۶ | ۱۰ اکتوبر ۲۰۱۹ | بدخشان ولایت، جرم ولسوالي، اسکان کلی | "د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر پر ۱۰ نېټه، د بدخشان ولایت، جرم ولسوالۍ په اسکان کلي کې کله مو چې د خپل کور د جوړولو لپاره د ریګ بوجۍ راوړلې، زموږ په کور کې تعبیه شوی ماین وچاودېده. زما د کورنۍ درې غړي یې ووژل: زما ورور، زما د تره زوي رحمان، او زما نهه کلن زوی. دغې چاودنې همدارنګه زما د کورنۍ درې نور غړي ټپیان کړل: زما لور، زما وراره او زما د تره زوی. پېښه هغه مهال پېښ شوه کله چې زما د کورنۍ غړو د ریګ په بوجیو کې د اوسپنې یوه ټوټه ولېده، کله چې یې لمس کړه، هغه وچاودېده." |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۱۳۷ | ۲۸ فبروري ۲۰۱۸ | بدخشان ولايت، جرم ولسوالي | "طالبانو زما پر ورېرې چې ۲۵ کلنه وه او يو زوی يې درلودو، ډزې وکړې او هغه يې ووژله. دا يوه باراني شپه وه او زه د جرم په ولسوالۍ کې وم. زما ورېره او د هغې زوی په خپله کوټه کې ويده وو... هغوي [طالبان] زما د ورېرې کور ته ننوتل او هغه يې په زور له خپلې کوټې را وايسته... عاملينو هغه بلې کوټې ته يوړه او هلته يې په ډزو ووژله." |
| ۱۳۸ | ۲۱ اکتوبر ۲۰۱۸ | بغلان ولايت، دوشي ولسوالۍ، کيلګۍ سيمه | "د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۲۱ نېټه شا و خوا ۱۲:۳۰ بجې د بغلان ولايت د دوشي ولسوالۍ په کيلګۍ سيمه کې، افغان ملي اردو له خپلې امنيتي پوستې د توپ مرمۍ وتوغولې. د توپ مرمۍ زموږ د کلي اتمان خيلو پر يوه پرانيستې سيمه کې ولګېده چېرې چې ماشومانو د کريکيټ لوبه کوله. د دغې پېښې په پايله کې زما د دوه زامنو په ګډون پنځه ماشومان ووژل شول او دوه نور ټپيان شول." |
| ۱۳۹ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "څرنګه چې له خپل پلار او يو شمېر نورو مسافرو سره له بازار څخه کور ته په ستنېدو وم، دوه وسله والو چې مخونه يې پټ وو، زما موټر ودراوه. يو يې موږ ته راغی او زما له پلاره يې وغوښتل چې له موټر څخه ښکته شي. زما پلار ښکته شو او ما خو متره موټر مخکې بوته. موټر مې بيا ودراوه او هڅه مې وکړه چې له هغوي سره خبرې وکړم. يوه يې پر ما چيغه کړه او راته وې ويل چې لاړ شه. زه کور ته لاړم خو په دې اړه مې کورنۍ ته څه و نه ويل. وراره مې له ځان سره کړ او لاړو چې پلار ولټوم. له کور څخه په وتو وم چې زموږ يو کليوال په موټرسايکل سپور راغی او راته يې وويل چې زما پلار شهيد شوی [وژل شوی].<br><br>وروسته مې وکتل، چې ځايي خلکو زما د پلار جسد په مازدا ډولې موټر کې راوړه. هغو ځايي خلکو چې زما د پلار جسد راخيستی و ما ته وويل وروسته له هغې چې هغه يې ونيوه، وسله والو کسانو هغه نږدې لس متره لرې يوړ او بيا په مخ يې په ډزو وويشته او وواژه. د ځايي خلکو لپاره د هغه پېژندل ستونزمن وو ځکه چې مخ يې ډېر خراب شوی و.<br><br>زما پلار قومي مشر و. هغه له هيڅ دولتي يا پوځي ډلې سره تړاو نه درلود." |
| ۱۴۰ | ۲۲ اګست ۲۰۱۰ | بغلان ولايت، تاله و برفک ولسوالي، دهانِ تاياک | "د ۲۰۱۰ کال د اګست پر ۲۲ نېټه د يکشنبې پر ورځ د نيوزلينډ هيواد وسله والو ځواکونو له دولتي وسله والو ځواکونو سره يو ځای د بغلان ولايت، تالا و برفک ولسوالي دهان تاياک کې  زموږ په کلي شپني عمليات ترسره کړل. |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | نیمه شپه وه. زه ویده وم چې پلار مې راویښ کړم. زه را ویښ شوم ومې لیدل چې چورلکو او د نیوزلینډ هیواد وسله والو ځواکونو لا وار د مخه موږ محاصره کړي یو. دوي زما او زما د تره نوم واخیست. زما تره په کور کې نه و. هغه په یوه بل کلي کې و. زموږ د ګروپ نورو غړو خپلې وسلې زموږ په کور کې ایښې وې. موږ هڅه وکړه چې دغه وسلې له کور څخه د باندې وباسو. زما پلار او زما ورور ځینې وسلې بل ځای ته یوړې. او زه له بلې لارې وتښتیدم. زما پلار، زما ورور او زما مور د کلي د اصلي لارې په کارولو سره د کور د پرېښودو هڅه وکړه.<br><br>کله چې یې حرکت وکړ، زما مور "نا خبره" او په تېروتنې سره د لار د کتلو لپاره څراغ وکاروه. کله چې ځواکونو رڼا ولیده هغوي یې په نښه کړل. چورلکو هغوي په راکټونو او نورو وسلو سره په نښه کړل. زما پلار او زما ورور ووژل شول او زما مور ټپي شوه." |
| ۱۴۱ | ۹ می ۲۰۲۰ | بدخشان ولایت، جرم ولسوالي، آب راغک کلی | "د ۲۰۲۰ کال د می پر ۹ نېټه د سهار پر ۹:۰۰ بجو، د بدخشان ولایت، جرم ولسوالۍ د آب راغک په کلی کې، زما ۱۲ کلن زوی هغه مهال له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله ووژل شو کله چې یې هڅه کول زموږ غوا له آب راغک کلی څخه سوچ کلي ته راولي.<br><br>زموږ کلی د طالبانو تر ولکې لاندې و او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ جګړه روانه وه. دغه پېښه د جګړې کرښې ته څېرمه هغه وخت رامنځ ته شوه کله چې د تېر حکومت د پوځي ځواکونو موټر له دغې سیمې تېرېدل چې نا چاوده توکي و چاودېدل او زما زوی یې سخت ټپي کړ." |
| ۱۴۲ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "د ماسپښین وخت و، ما او زما تره زموږ په کرونده کې ختیځ دیوال جوړاوه چې تعبیه شوی ماین وچاودېده چې زه او زما تره یې ټپیان کړو. زما تره سریېرن ټپي شوی و، خو ما ښۍ سترګه له لاسه ورکړه او کینه سترګه مې هم زیانمنه شوه، له هغه وخت راهیسې مې خپل لید له لاسه ورکړ. د زیات احتمال له مخې دغه تعبیه شوی ماین د طالبانو له خوا ځای پر ځای شوې و څو هغه خلک په نښه کړي څوک چې وخت نا وخت کلي ته راتلل." |
| ۱۴۳ | پټه ساتل شوې | پټه ساتل شوې | "زه کور ته پر لار وم چې پر تعبیه شوی ماین وختم کوم چې د طالبانو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ترمنځ د جګړو پر مهال ښخ شوی و. زه د خپلوانو له خوا ولایتي روغتون ته یوړل شوم چیرې زما ښۍ پښه او زما د ښي لاس دوه ګوتې پرې شوې. د همدې لاس پاتې نورې ګوتې اوس هم کار نه کوي." |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۱۴۴ | پټه ساتل شوې | پټه ساتل شوې | "زما درېو ورېرونو زموږ کور ته څېرمه له جګړې څخه پاتې شونې چاودېدونکې توکې پیدا کړل. ماشومانو پر دغې وسیلې لوبې کولې چې وچاودېده. دوه يې ووژل او يو بل يې ټپي کړ. دغه وسیله د طالبانو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ترمنځ له جګړو څخه پاتې شوې وه." |
| ۱۴۵ | ۲۰ اکتوبر ۲۰۱۸ | کندهار ولایت، کندهار ښار | "د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په ۲۰، د ماسپښین شاوخوا ۱۲:۴۵ بجې، ومو لیدل چې د زړګي په نامه قوماندان له خپل ورور او لسو نورو وسله والو سره یو ځای چې د ملي امنیت د ریاست یونیفورم يې پر ځان و، زموږ کور ته را ورسیدل. دوي موږ له کوره را وایستو او [زما زوی] فدا محمد يې ونیوه او په موټر کې يې واچوه. [زما بل زوی] خان محمد هڅه کوله هغه وژغوري، خو هغه يې هم موټر ته پورته کړ او له خپلو رینجر موټرو سره لاړل. ما په هغوي پسې له شا ډیرې منډې و وهلې خو په پای کې مې هیله له لاسه ورکړه او ناهیلۍ شوم. کله چې د پولیسو پنځمې حوزې ته لاړم، هغوي ته مې وویل چې زما زامن يې وړي. هغوي راته وویل چې دوي هیڅوک نه دي وړي او دا موضوع په دوي پورې هیڅ اړه نه لري. هغوي ما ته خپله شمېره راکړه او راته و يې ویل چې له دوي سره په اړیکه کې اوسم. هغوي وویل چې د قضیې په اړه به پلټنې وکړي او په اړه به يې موږ ته مالومات راکړي، خو د هغوي په اړه موږ له دوي هیڅ ډول مالومات ترلاسه نه کړل. قربانیان لا اوس هم ورک دي." |
| ۱۴۶ | فبروري ۲۰۱۹ | کندهار ولایت، کندهار ښار | "زما مېړه احمد مسعود په جمهوریت کې د یوه پولیس آفسر په حیث دنده ترسره کوله. کله چې طالبانو د ۲۰۱۹ کال په لومړیو کې د کندهار د کنترول د ترلاسه کولو لپاره بریدونه پیل کړل، زیات شمېر جګړې رامنځ ته شوې. د خپلې هڅې د خوندي کولو په موخه له کوره ووت، په وروستي ځل د حاجي لالا کلا په نامه په یوه ځای کې لیدل شوی چېرې چې سخته جګړه روانه وه. دغه سیمه د طالبانو او دولتي ځواکونو ترمنځ وېشل شوې وه. دغه مهال خلک نېول کېدل او ورک کېدل، زما مېړه هم له دغه وخت راهیسې ورک دی. زه په دې اړه کره مالومات نه لرم چې زما له مېړه سره به څه پېښ شوي وي. اوس له درېو کلونو زیاته موده کېږي، او موږ د هغه په اړه هیڅ مالومات نه لرو. زموږ مالي وضعیت د پام وړ خراب شوی، ځکه چې هغه یوازینی شخص و چې زموږ د کورنۍ لپاره يې نفقه برابروله. کله چې زما مېړه ورک شو او ګمان کېده چې هغه مړ شوی، موږ له سختۍ پې وزلۍ سره مخ شو. آن ما غوښتل چې خپله کوچنۍ لور وپلورم، خو چا نه غوښتل هغه له ما څخه وپېري." |
| ۱۴۷ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "ما خپل مېړه او زوی له لاسه ورکړل. زما زوی نږدې ۱۸ کلن و. هغه د دغې پېښې له پېښېدو درې ورځې مخکې له دولسم ټولګي څخه فارغ شوی و. د ورځې په اوږدو کې خپل باغ ته د باغدارۍ لپاره پر لار و. پر هغوي د لاس جوړ |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | چاودېدونکې وسیله وچاودېده او دواړه مړه شول. له دغې پېښې وروسته مور ډېرې بدې ورځې درلودې او زموږ مالي وضعیت هم ښه نه و." |
| ۱۴۸ | ۱۸ اګست ۲۰۱۹ | بلخ ولایت، دولت آباد ولسوالۍ، حیاتان کلی، نهر قرشک | "دا یو فشاري تعبیه شوی ماین وسیله و چې د طالب جنګیالیو له خوا چې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پر خلاف یې زموږ کلی کنترولوه، له دغې پېښې یوه شپه مخکې ښخ شوې و. د راتلونکې سهار پر شا و خوا ۷ بجې یو ټویوټا ډوله ټکسي موټر په ناپامۍ پر هغه پله تېره شوه د کوم لاندې چې چاودیدونکې توکې ځای پر ځای شوي وو. له دې سره یوه ستره چاودنه رامنځ ته شوه... په پایله کې یې د اوو سړیو، یوې ښځې او پنځو نجونو په ګډون ۱۳ ولسي وکړې ووژل شول. ټکسي په بشپړ ډول ویجاړه شوې وه. په دغې پېښه کې ټول وژل شوي قربانیان زموږ له کلي څخه وو او ټول عادي ولسي وګړي وو. په دغه وخت کې هغوی له جګړې سره هیڅ تړاو نه درلود. دوی یوازې د خپل کار او ورځنیو چارو په موخه سفر کاوه. له دغې چاودنې هیڅوک ژوندی پاتې نه شو؛ موږ له سیمې د هغوی د بدن ټوټې راغونډې کړې. دا یوه زړه بوګنونکې پېښه وه موږ ډېر شاک وو او ټولو ژړل. جسدونه یو له بل سره نه پېژندل کېدل، ټول ټوټه ټوټه شوي وو. موږ پښې، سرونه، لاسونه راغونډ کړل او ټول مو څلورو سترو بوجیو کې واچول. ټول په وینو لړلي وو." |
| ۱۴۹ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "شا و خوا [پټ ساتل شوي] کلونه پخوا، طالبانو د موټربم په وسیله په [موقعیت] کې د پولیسو پر مرکز برید وکړ. د برید له امله په لوړ شمېر مرګ ژوبله رامنځ ته شوه. په پېښه کې زما مېړه چې په کراچۍ یې بیسکیټ او چپس پلورل، ټپي شو. د دغې پېښې له امله هغه فلج شو او نه یې شول کولای چې پښه یا لاس وښوروي. هغه زموږ د کورنۍ لپاره د روزي یوازینۍ ګټیالی و. د هغه له ټپي کېدو وروسته، زه اړ شوم کار وکړم څو د خپلې کورنۍ د نفقې او د هغه د درملنې لپاره پیسې وګټم. که څه هم د هغه درملنې زیاتو پیسو ته اړتیا لرله... ډاکټر وویل چې هغه باید د نورې درملنې لپاره پاکستان یا ایران ته یوړل شي، چې هیڅ یو یې زموږ په توان پوره نه و. په پای کې له ډېرو سختیو ګاللو وروسته، هغه خپل ژوند له لاسه ورکړ." |
| ۱۵۰ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | پټې ساتلې شوي |
| ۱۵۱ | ۶ سپټمبر ۲۰۱۸ | لغمان ولایت، بادپښ ولسوالۍ، ګاروچ سیمه | "د ۲۰۱۸ کال د سپټمبر پر ۶ نېټه د لغمان ولایت، بادپخ ولسوالي په ګاروچ سیمه کې، د ملي امنیت صفر ۲ قطعې د نړیوالو پوځي ځواکونو په هوایي ملاتړ زموږ په کلي کې شپنیز چاپیز عملیات ترسره کړل، چې د شپې پر ۱۱ پیل |

| د قرباني ځرګندونې | ځای | نېټه | د مرکې شمېره |
|---|---|---|---|
| شول او سهار تر ۳ بجو پورې يې دوام وکړ. په دغې چاپه کې نږدې ۶۰ افغان او امريکايي پوځي ځواکونو ګډون کړی و. شاوخوا د شپې ۱ بجه دوي زموږ درواز وټکوله. کله چې ما دروازه پرانيسته هغوي ډزې پيل کړې درې مرمۍ زما په خوله او شا ولګېدې... زه پر ځمکه راپرېوتم. زما مور راغله او زه يې پورته کړم. سرتېرو لا هم کور تلاشي کاوه او بيا يې ډزې وکړې. هغوي پر يوه خونه ډزې وکړې خو له نيکه مرغه دا ځل کوم څوک ټپي نه شو. هغوي بيا له دې ځايه لاړل او زما د نيکه کور ته ورغلل. زما نيکه شاوخوا ۸۰ کلن و، خو هغوي ور باندې ډزې وکړې او هغه يې وواژه. له دې وروسته يې د هغه ۴۷ کلن زوی ونيوه، په لاسونو کې يې زولنې ور واچولې او د هغه مېرمن ته يې وويل چې هغه به ژر خوشې کړي. خو کله چې يې هغه لس ميټره ليرې يوړ امنيتي ځواکونو ورباندې ډزې وکړې او هغه يې هم وواژه. هغوي بيا زما د تره کور ته ننوتل. هغه ۷۵ کلن و. هغه يې پر سر وويشت او و يې واژه.<br><br>د دغو شپنيزو عملياتو پرمهال د دريو موټر چلوونکو او يوه کاريګر په ګډون ټولټال لس سړي ووژل شول او څلور نور ټپيان شول. زما په ملا کې لا اوس هم مرمۍ بنده پاتې ده، ډاکټرانو راته ويلي چې د هغې لرې کول ډېر خطرناک دي." | | | |
| پټې ساتلې شوي | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۵۲ |
| پټې ساتلې شوي | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۵۳ |
| "د کوچني اختر شپه وه او ما د خپلې لور پر لاسونو نکريزې پورې کولې چې ناڅاپه مو ډاروونکی غږ واورېده. يو چا زموږ کور ته بم راګوزار کړ. زما د کورنۍ ټول غړي ټپيان شول. زما مېره، دوه لورګانې، يو زوی او زما د ليوره لور د سختو ټپونو له امله په روغتون کې ومړې. په پېښه کې زما د خسرګنۍ نور غړي او زه هم ټپيان شو." | لغمان ولايت، عليشنګ ولسوالۍ، سالو سيمه | ۲۳ می ۲۰۲۰ | ۱۵۴ |
| "څلور کاله پخوا د ۲۰۲ کال د می پر ۲۳ نېټه د شپې شاوخوا ۹ بجې، د عليشنګ ولسوالۍ په مالاو کلي کې، موږ په خپل کور کې وو چې د طالبانو او تير رژيم د ملي وسله والو ځواکونو ترمنځ جګړه روانه وه. د افغان ملي اردو هاوان زموږ پر کور ولګيده. زه، زما ميرمن او زما وريندار ټپيانې شوې، زما درې کلنه لور او زما مشر ورور ووژل شول، او زموږ کور ويجاړ شو او د کورنۍ ځينې توکي وسوځيدل. له پېښې وروسته زما ورور چې ټپي نه و، موږ د ولسوالۍ | لغمان ولايت، عليشنګ ولسوالۍ، سالو سيمه | ۲۳ می ۲۰۲۰ | ۱۵۵ |

| د قرباني څرګندونې | ځای | نېټه | د مرکې شمېره |
|---|---|---|---|
| کلینیک ته انتقال کړو. د لومړنۍ مرستې له تر لاسه کولو وروسته مور د کلینیک د امبولانس په وسیله ولایتي روغتون ته ولیږدول شو. نور ټپیان ژر ورغېدل، خو زه سخت ټپي شوی وم." | | | |
| "طالبان زموږ کور ته راغلل او زما زوی یې زموږ د کور مخې ته وواژه. زما زوی ۲۳ کلن و، طالبانو هغه له کوم دلیل پرته وواژه. هغه نه کوم جرم ترسره کړی و او نه هم حکومتي مامور و. دغه وخت هغه یوه شپږ میاشتنۍ لور درلوده.<br><br>ما دغه راز خپل څلور ماشومان له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله له لاسه ورکړي. زما ماشومان د هاوان مرمۍ پیدا کړه او هغې ته یې د کور په باغچه کې اور ورته کړ. چاودنې زما دوه لوڼې چې یوه ۲۱ کلنه او بله اته کلنه وه او دوه زامن چې یو ۱۵ کلن او بل درې کلن و، ووژل." | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۵۶ |
| "ما له خښتو بار لارۍ چلوله چې د ملي امنیت د ریاست چک پاینټ ته ورسیدم. زه د ملي امنیت د ریاست او طالبانو ترمنځ په جګړه کې ګیر شوم. زه د دواړو لورو ترمنځ د جګړې سیمې په منځ کې وم. ځینې مرمۍ او د هاوان پارچې زما په بدن ولګېدې. مرمۍ او د هاوان پارچې زما پر کینه پښه، ګېډه او کینه اوږه ولګېدې. زه سخت ژوبل شوم. ډیره مرګ ژوبله یې رامنځته کړه چې زه هم یو له هغوي وم. زه یې روغتون ته یوړم او هلته د څلورو ورځو او شپو لپاره پاتې شوم. زما پښه اوس هم ټپي ده او سم کار نه کوي. ډاکټر راته وویل که چیرې همداسې پاتې شي، زما پښه به پرې کړي." | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۵۷ |
| "[زموږ په کلي] کې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ جګړه پیل شوه. موږ په کور کې پنځه کسان وو: زما پلار، مور، دوه ورونه (۵ او ۷ کلن) او زه پخپله. د جګړې له امله، پلار مې وویل: "ځئ چې [بل] کلي ته لاړ شو"، چیرې چې زما تره اوسیده. څرنګه چې جګړه ورو ورو په تودېدو وه، پلار مې وویل کیدای شي یو پر بل د ډزو له امله زیانمن شو. کله چې له کوره ووتو او د کور دروازه مو وتړله درې طالبان راغلل او زما له پلار څخه یې وپوښتل چې ته څوک یې او دلته څه کوي. زما پلار په مؤدبانه ډول ځواب ورکړ [خپل ځان یې ور وپېژنده چې هغه څوک دی]. هغوي زما پلار ته وویل ته یو جاسوس یې او حکومت لپاره کار کوي او غواړي چې زموږ د موقعیت په اړه هغوي ته خبر ورکړي. زما پلار وویل چې زه جاسوس نه یم بلکې غواړم خپل ماشومان او کورنۍ یوه خوندي ځای ته یوسم. دوه نورو طالبانو پر بل یوه په پښتو غږ کړ: "وله یې". هغوي ډزې پیل کړې او یوه مرمۍ زما د پلار په سینه ولګیده او د پښې په ځای کې ومړ. زما مور پر پښه ولګېده او زما خېټه یې یو څه ټپي شوه. طالبان له هغه | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۵۸ |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني ځرګندوني |
|---|---|---|---|
| | | | ځايه لاړل او ډزو د غږو له اورېدو وروسته ګاونډيان پر موږ راټول شول. کليوالو لومړی موږ [ځايي روغتون] او بيا وروسته [ولايتي روغتون] ته وليږدولو. زه د پنځو ورځو لپاره او زما مور د لسو ورځو لپاره په روغتون کې پاتې شو." |
| ۱۵۹ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "ما غوښتل په [بل کلي] کې د واده په مراسمو کې ګډون وکړم. زه له خپل کور څخه لږ لرې شوم. دغه وخت پر موټر سايکل سپرو وسله والو د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو پر موټر ډزې پيل کړې. يوه مرمۍ زما پر ښي مټ ولګېده، زه په ځمکه پرېوتم او بې هوښه شوم. زه نيمه شپه وه چې بېرته په هوښ شوم. زه په [ولايتي روغتون] کې وم. زه هلته په روغتون کې د شپږو ورځو او شپو لپاره پاتې شوم." |
| ۱۶۰ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "طالبان زموږ کلي ته راغلل او زموږ په کلي کې يې ټول فصلونه او کورونه وسوځول. ټول کليوال غرونه ته کډوال شول او کېږدۍ يې ووهلې. ناڅاپه طالب نظاميان را ورسيدل په دغه ځای کې يې کېږدۍ وسوځولې او د ولسي وګړو پر وژلو يې پيل وکړ. په پېښه کې زما مېړه او خسر هم ووژل شول." |
| ۱۶۱ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "طالب نظاميانو بريد وکړ او يو شمېر ولسي وګړي يې ووژل او کورونه يې وسوځول. زموږ کور د طالب نظاميانو له خوا وسوځول شو او زموږ ټول توکي او څاروي غلا شول. موږ د دريو مياشتو لپاره تر هغې په غرونو کې ژوند وکړ چې طالب مليشې او نظاميان غرونو ته راغلل او زما پلار چې يو ولسي وګړي و، يې وواژه. زما د پلار تر وژنې وروسته موږ په خورا ستونزمن وضعيت کې وو. زما ټول ورونه او خور کوچني وو. زه تر ټولو مشر وم، ما مې له مور سره يو ځای د خپلې کورنۍ مسؤوليت پر غاړه واخيست." |
| ۱۶۲ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زما پلار [زموږ په کلي] کې د سونګ لپاره بوټي غونډول چې د [يوه ځايي قوماندان] له خوا ووژل شو. زه دغه وخت دوه کلن وم او زما تره زما د پالنې مسؤوليت پر غاړه واخيست. کله چې زما پلار ووژل شو، هغه ۲۸ کلن و. زه يوه مشره خور لرم. موږ يوه خورا بې وزله کورنۍ يو د کښت لپاره کافي ځمکه نه لرو. له همدې امله زما پلار تل زموږ په کلي کې د خلکو په کروندو کې د کاريګر په توګه کار کاوه." |
| ۱۶۳ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زما پلار په کرونده کې کار کاوه... هغه د غنمو حاصلات راغونډول چې د ځايي قوماندانانو ترمنځ جګړه پيل شوه... د دغې جګړې پرمهال زما پلار [د يوه لوري] له خوا په نښه شو او ووژل شو. زه دغه وخت اوو کلن وم." |

| د قرباني څرګندونې | ځای | نېټه | د مرګې شمېره |
|---|---|---|---|
| "پنځه کاله کېږي له کوم وخت راهیسې چې زما مېړه د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له خوا د کندهار ولایت په شاه ولي کوټ ولسوالۍ کې د شپې د چاپې پرمهال ووژل شو. دغه پېښه تقریبا د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۱۶ نېټه رامنځته شوه. زموږ شخصي کور د طالبانو یوه چک پاینټ ته څېرمه و. زما مېړه او زما ورور له کور څخه د باندې وو کله چې د افغان ملي دفاعي او امنیتي پځوانیو ځواکونو د طالبانو پر ضد نظامي عملیات ترسره کړل او ډزې یې پیل کړې... په پایله کې یې زما ورور او مېړه په ډزو ولګیدل. زما مېړه ووژل شو او ورور مې ټپي شو." | کندهار ولایت، شاه ولي کوټ ولسوالۍ | ۱۶ فبروري ۲۰۲۰ | ۱۶۴ |
| پټې ساتلې شوي | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۶۵ |
| "کله چې [زما مېړه] له غره څخه کور ته راغی چې موږ ته اوړه راوړي، هغه د طالب نظامیانو له خوا ونیول شو... هغوي د هغه لاسونه د هغه تر شا د هغه پر لونګۍ وتړل. هغه یې د کلاشینکوف په ډزو وواژه. طالبانو هغه په خوله کې په ډزو ویشتی و. وروسته له درې ورځو خلکو د هغه جسد واخیست او خښ یې کړ. موږ د هغه جسد و نه کوت.<br><br>زما زوی چې [نوم] نومیږي ۱۴ کلن و کله چې د طالبانو له خوا ونیول شو... هغه یې هم په ډزو وویشت، خو له نیکه مرغه ژوندی پاتې شو. موږ د هغه لپاره مناسبو درملو یا روغتون ته لاسرسی نه درلود. موږ هغه په [ولسوالۍ ]کې یوه ډېر کوچني کلینیک ته یوړو." | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۶۶ |
| پټې ساتلې شوي | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۶۷ |
| "شاوخوا ۱۱ کاله وړاندې، د تورخم پر پوله جګړه وه په کومه کې چې زما مېړه ووژل شو. هغه یو موټر چلوونکی و، په دغې سیمه کې یې موټر چلاوه چې په ډزو کې ګیر پاتې شو. زه نه پوهیږم چې جګړه د چا ترمنځ وه او په دقیق ډول څه پېښ شول. زه په کور کې وم، پخلی مې کاوه او د دوه غبرګونو لورګانو پالنه مې کوله – چې دغه وخت نهه میاشتنۍ وې – چې لیوره مې راته زنګ وکړ. هغه را ته ووېل چې مېړه مې په سینه کې لګیدلی او روغتون ته وړل شوی، خو روغتون ته په رسیدو مړ شو." | ننګرهار ولایت، لعلپوره ولسوالۍ، چکنور سیمه، خویزو کلی | ۲۵ فبروري ۲۰۱۴ | ۱۶۸ |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۱۶۹ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زما مېړه په [موقعیت] کې په ساختماني برخه کې کار کاوه. هغه له کار څخه کور ته پر لار و چې د هغه پر موټر د بې پیلوټه الوتکې برید وشو په کوم کې چې هغه سفر کاوه. هغوي فکر کاوه چې هغه طالب دی، هوايي برید یې ترسره کړ او هغه په کې ووژل شو." |
| ۱۷۰ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زما مېړه په [موقعیت] کې عکاسخانه درلوده. په دغه [موقعیت] کې د پولیسو مرکز مخې ته ځانمرګی برید ترسره شو او زما مېړه په کې ټپي شو. په چاودنه کې یې لاس او پښه له لاسه ورکړل او فلج شو. هغه اوس په ویلچیر کې ګرځي." |
| ۱۷۱ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "د روژې لومړۍ ورځ وه. زما مېړه له کور څخه د سودا اخیستلو لپاره ووت، کله چې هغه په [موقعیت] کې د پولیسو له چک پاینټ څخه تېرېده، د موټر بم چاودنه رامنځته شوه او هغه ووژل شو." |
| ۱۷۲ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زما مور له کار څخه کور ته پر لار وه، په کوم بس کې یې چې سفر کاوه چاودنه رامنځته شوه. زما پلار معلول دی او کار نه شي کولی. زما مور زموږ د کورنۍ لپاره پیسې ګټلې. ما خپلې مور ته څو ځله زنګ وکړ. دغه وخت زه امیندواره وم. بالاخره هغه مې په روغتون کې ومونده؛ هغه وژل شوې وه." |
| ۱۷۳ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زما مېړه او زما خسر په مارکیټ کې ترکاري پلورله. چاودنه رامنځته شوه او هغوي دواړه یې ووژل." |
| ۱۷۴ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زما مېړه کروندې ته د غنمو حاصلاتو د راغونډولو لپاره لاړ څو پیسې وګټي، دغه وخت هلته تعبیه شوی ماین چاودنه وکړه. هغه په کوما کې و چې بیا وروسته یې خپل ژوند له لاسه ورکړ. د نورو کارګرانو لاسونه او پښې هم ټپي شوې وې." |
| ۱۷۵ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زما تره موږ [بل کلي] ته د یوه واده مراسمو ته ور وبللو. موږ پر لار وو چې دا پېښه رامنځته شوه – زموږ پر موټر چاودنه وشوه. موږ د نړیوالو نظامي ځواکونو له ټانکونو نږدې شل متره شا ته وو، د دې پر ځای چې چاودنه پر هغوي وشي، پر موږ وشوه... |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | زما د مېړه په ګډون زما د کورنۍ اووه غړي ووژل شول. [نوم] چې ۱۷ کلن دی، ټپي شو. زما د تره زوی چې ۴۰-۴۱ کلن دی د چاودېدونکې وسیلې د پارچو له امله په سر، سترګو او لاسونو ټپي شو. هغه هم خپله مور [نوم] او خپل دوه ماشومان: [نوم] چې دوه کلن و او [نوم] چې ۱۱ کلن و، له لاسه ورکړل." |
| ۱۷۶ | پټه شوې ساتل | پټ ساتل شوی | " په [نېټه]، کله چې زه واده شوې وم او ۳۰ کلنه وم، د طالبانو د ځواکونو له خوا د وحدت ګوند د نظامي ځواکونو د ماتې وروسته، طالبانو سمدلاسه په [کلي] کې کور په کور تلاشي پیل کړه او ټول سړي یې ونیول او غرونو ته یې بوتلل. طالبانو همدارنګه زموږ له کلي څخه د [کلي] ته ټول خلک ولېږدول. طالبانو دغه راز له [درېیم] کلي څخه ټول سړي ونیول او غرونو ته یې بوتلل.<br><br>زما مېړه هم د نیول شویو له جمله څخه و څوک چې د طالبانو له خوا په غرونو کې ووژل شو. طالب نظامیانو [زما] له کلي څخه ۸۰ سړي ووژل. دغه مهال، ما وکتل چې د طالبانو له خوا زیات شمېر نارینه ووژل شول. دا یوه جګړه نه وه؛ دا وژنه وه.<br><br>موږ ټول ښځې او ماشومان له [کلي] څخه غرونو ته وتښتېدو. ځینې کلیوال - په ځانګړې ډول د ټولنې زاړه غړي او کوچني ماشومان - د سړې هوا له امله له پښو ولویدل او په درنه واوره کې مړه شول. موږ له کور څخه د باندې د ژوندي پاتې کیدو لپاره وسایل او توکي نه درلودل.<br><br>له ۱۵ ورځو وروسته طالب نظامیانو اوربند اعلان کړ، او ښځې او ماشومان خپلو کلیو ته راستانه شول. کورونو ته په راستنېدو سره، هغوي ومونده چې طالب نظامیانو د هغوي ټول کورونه لوټلي او سوځولي. ځینې کورونه په بشپړ ډول سوځېدلي وو او ځینې نور یې په جزئي ډول د اور له امله ویجاړ شوي وو.<br><br>ټولې ښځې غرونو ته لاړې ترڅو د نارینه وو جسدونه پیدا کړي او و یې موندل چې هغوي وژل شوي. د طالبانو نظامیانو د هغوي لاسونه تر شا تړلي وو او په ډزو یې ویشتلي وو، چې زیاتره یې په مخونو ویشتلي وو، چې زموږ د خپلوانو پېژندل یې خورا ستونزمن کړي وو. بالاخره ما د خپل مېړه جسد وموند." |
| ۱۷۷ | پټه شوې ساتل | پټ ساتل شوی | "پر [نېټه]، د طالبانو نظامي قوماندان [نوم]، دغه راز [نوم]، [نوم] او [نوم] د[ ښار] ونیوه. دوي سمدستي د کورونو تلاشي پیل کړه او د [نوم] ښار په ځانګړي ډول د [نوم] په کلي کې یې هزاره ګان لټول. زما پلار ۴۰ کلن و کله چې په [کلي] کې ښار په خپل کور کې د طالبانو له خوا ونیول شو. هغه د باندې یوړل شو او د [ښار] په [سیمه] کې غرونو ته څېرمه له ۶۹ نورو کلیوالو سره یو ځای ووژل شو. زما مور هم دغه وخت د طالبانو له خوا ووژل شوه، |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | ځکه هغې طالبانو ته ژړل: "لطفا زما مېړه مه وژنئ"، نو طالبانو دواړه ووژل... هغوي زما او زما د دريو ورونو او پنځو خويندو مخ ته ووژل شول. زه هغه وخت اووه کلن ماشوم وم. کله چې مور د خپل پلار مړ جسد وليدو، مور ټول د هغه پر جسد ور پرېوتو او هغه مو غېږ کې ونيوه.<br><br>طالبان يو څه وخت وروسته بېرته زمونږ کلي ته راستانه شول او بيا يې کور په کور تلاشي پيل کړه. طالب جنګياليو زما يو ۱۵ کلن ورور په کلاشينکوف سخت وواهه آن تر دې چې بې هوښه شو. مور په کور کې په لوړ غږ چيغې وهلې څو طالبان زما د ورور وهل بند کړي. زما په ياد دي، چې ما او زما ورونو او خويندو ټولو چيغې وهلې.<br><br>مور وکتل چې طالب نظاميانو ستړي لارۍ راوستې او زمونږ له کوره يې کمپلې، برستنې، دوشکې او د کورنۍ نور توکي غلا کړل. دغه مهال هوا ډېره سړه وه. وروسته له هغه چې طالبانو زمونږ وسايل پټ کړل، هغوي زمونږ او په کلي کې نورو کورونو ته اور ورته کړ.<br><br>زمونږ د کلي ټولې ښځې او ماشومان په سخته واوره کې لوڅې پښې [غرونو] ته وتښتېدل. غره ته په واوره کې د شپې د سفر پرمهال زيات شمېر ماشومانو او زړو ښځو د سړې هوا له امله ژوند له لاسه ورکړ." |
| ۱۷۸ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زه له ډاکټر څخه کور ته روان وم. زه او زما ورور پلي روان وو. کله چې مور د [ځای] له لارې تېرېدو، ما پر يوه ناچاوده مرمۍ پښه کېښوده. د دغې دښتې هر ځای له نا چاوده مهماتو ډک دی. زه هيڅوک نه ملامتوم؛ امکان لري چې دغه توکي په دغه ځای کې د هر چا له خوا ځای پر ځای شوي وي.[...] ما خپلې دواړه پښې له لاسه ورکړې. [...] ما هېڅکله د کوم سياسي ګوند يا د جګړې د کوم لوري لپاره کار نه دی کړی. زه يو بې‌طرفه کس يم." |
| ۱۷۹ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زما موټر د خپل کور په انګړ کې ولاړ و. [...] هغوی زما د موټر لاندې بم ځای پر ځای کړی و. دا کار طالبانو کړی وو. [...] ما خپلې دواړه پښې له لاسه ورکړې." |
| ۱۸۰ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "شاوخوا پنځه کاله مخکې، په هماغه ورځ زه د خوړو د ترلاسه کولو لپاره وتلی وم. طالبانو مونږ ودرولو او پر مونږ يې ډزې پيل کړې. زه په څلورو مرميو ولګېدم؛ مرمۍ زما په پښو او لاس ولګېدې. زه پر موټرسايکل سپور وم؛ هغه کس چې زما شاته ناست و، ولګېد او ولوېد. ما نږدې يو ساعت موټرسايکل وچلاوه تر څو له سيمې ووځم. وروسته په يوه هديره کې ودرېدم او خپلو همکارانو ته مې زنګ وواهه؛ هغوی زه [روغتون] ته يووړم." |

| د قرباني څرګندونې | ځای | نېټه | د مرګې شمېره |
|---|---|---|---|
| "یوه ورځ، نږدې شپږ کاله مخکې، موږ د هلمند ولایت په موسی قلعه ولسوالۍ کې د واده مراسمو ته روان وو. دا هغه مراسم وو چې د ناوې کورنۍ ته نکریزې ورل کېږي. موږ په څو موټرو کې روان وو او د سیند له لارې تېرېدو چې ناڅاپه عملیات پیل شول. هلته افغان امنیتي ځواکونه وو، کله چې مو هغوی ولیدل، موږ ودرېدو. هغوی پر موږ ډزې پیل کړې. زموږ موټرچلوونکي ورته وویل: "ډزې مه کوئ، "له موږ سره ښځې او ماشومان دي"، خو هغوی خبرې ته غوږ ونه نیوه.<br><br>ما خپله خور له لاسه ورکړه چې له ما یو کال مشره وه، او همدارنګه مې وراره ووژل شو. زموږ ډېر خپلوان په هماغه سیند کې ووژل شول. زه نه پوهېږم چې دقیقاً څوک مسؤول وو، خو زما په اند افغان امنیتي ځواکونه او نړیوال پوځي ځواکونه وو. هغوی هلیکوپټرونه هم لرل چې له پاسه یې پر موږ ډزې کولې. دا د بمبارۍ په څېر وو. هلیکوپټرونو هغه کسان ووژل چې د ځمکنیو ځواکونو له لورې په ډزو نه وو ویشتل شوي.<br><br>زه په یوه شېبه کې بېهوښه شوم. موږ ټوله شپه تر سهاره پورې هلته پراته وو. هېڅ یو امنیتي ځواک رانغی چې زموږ حال وپوښتي. د ډزو له امله زموږ له موټرو څخه یو وچاودېد. زه په پښه ولګېدم او د چاودېدلي موټر له امله هم ټپي شوم.<br><br>په ټوله کې، له ۱۴ څخه زیات زما خپلوان ووژل شول: زما د تره زوی، خور مې، وراره مې، د ترور پنځه لمسیان، د هغې زوی، بل د تره زوی مې، د کاکا لمسی، د ترور دوه نور خپلوان، د ترور لور، او هغه هنرمند چې زموږ سره د محفل لپاره ملګری و.<br><br>له اوو څخه زیات کسان ټپیان شول، د زما سریېره؛ زما د تره لور لاس له لاسه ورکړ، د ترور د تره زوی او زوی یې لاس او پښې له لاسه ورکړل، د ترور نږور مې پښه له لاسه ورکړه، بله نږور یې ټپي شوه، د هغې د لمسي لاس ټپي شو، او زموږ موټرچلوونکی هم ټپي شو." | هلمند ولایت، موسی قلعه ولسوالۍ ، شباروز کلی | ۲۲ سپتمبر ۲۰۱۹ | ۱۸۱ |
| "د [کال] و، موږ د جګړو له امله [ولسوالۍ] ته کډه کړې وه، او وروسته له هغې چې جګړې ودرېدلې، بېرته [ښار] ته راوګرځېدو. خو جګړې بیا پیل شوې. شاوخوا څلور - پنځه میاشتې هلته سخته جګړه روانه وه. [...] کله چې موږ بېرته راوګرځېدو، [زموږ د ګاونډي] کور ته ولاړو او هلته مې پر یوه ماین پښه کېښوده چې وچاودېد. زه ډاډه | پټ ساتل شوی | پټه ساتل شوې | ۱۸۲ دوه مرګې |

| د مرګي شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | یم چې عاملین طالبان وو. هغوی د جګړو پر مهال زموږ کورونه کارول او د ځان د ساتنې لپاره یې په کې په لاس‌جوړ شوي چاودېدونکي توکي ځای پر ځای کړي وو. ما خپله ښۍ پښه او د پښې پنډۍ له لاسه ورکړې." |
| ۱۸۳ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زه له بازاره کور ته روان وم. په یوه ټکسي موټر کې ناست وم. موږ د پولیسو له یوې پوستې تېر شو، هغوی راته وویل چې مخکې لاړ شئ. خو کله چې [ولسوالۍ] ته ورسېدو، د طالبانو او د پخواني حکومت د ځواکونو ترمنځ په ډزو کې راګیر شو. هغه کسان چې د موټر په بل لوري ناست وو، وتوانېدل چې په خوندي ډول له موټره ووځي. خو زما په لوري ډزې رواني وې او زه اړ شوم چې د موټر شاوخوا وګرځم تر څو بل لوري ته ځان ورسوم. زه درې مرمۍ په چپې پښې ولګېدم. دا پولیس وو چې زه یې په پښو وویشتلم. هماغه پولیس چې هلته موجود وو، زه یې د عامې روغتیا کلینیک ته ورسولم. مرمۍ زما له پښې وتلې وې. [...]<br><br>پنځه یا شپږ میاشتې وروسته، بله پېښه هم رامنځته شوه. بیا هم له بازاره کور ته روان وم. دا هم په هماغه ولسوالۍ کې وه. مور مې راته ویلي وو چې یو ځانګړي بازار ته ولاړ شم څو د مېلمنو لپاره خوراکي توکي واخلم. زه پلي کور ته راستنېدم چې ناڅاپه د طالبانو او د پخواني حکومت د ځواکونو ترمنځ جګړه پیل شوه. کله چې لومړۍ مرمۍ راباندې ولګېده، پر ځمکه ولوېدم. وروسته نورې مرمۍ هم راباندې ولګېدې. په پیل کې لا په هوښ کې وم او هغه څادر چې پر سر مې تړلی و، راواخیست او وینه بهېدونکې ټپ مې پرې وتاړه. خو بیا نورې مرمۍ راباندې ولګېدې او ونه توانېدم چې ټول ټپونه وتړم. زه پر ځمکه په وینو کې پروت وم او د دې په تمه وم چې څوک راشي او مرسته راسره وکړي." |
| ۱۸۴ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "دا پېښه په جومات کې وشوه. زه د امام همکار وم او په جومات کې مې اعلانونه کول. د جمعې له لمانځه سمدستي وروسته، زموږ له مشرانو څخه یوه مشر خلکو ته لنډه وینا وکړه. ناڅاپه مو د ډزو غږ واورېد. زموږ په ولسوالۍ کې د ودونو او نورو خوښیو په مراسمو کې د ټوپکو ډزې منع وې. داسې ښکارېده چې ډزې د جومات له دروازې څخه کېږي. هغه مشر هم دې ته متوجه شو.<br><br>ناڅاپه یو سړی جومات ته ننوت. ما په یاد شول چې مخکې مې اورېدلي وو که داسې پېښه رامنځته شي، باید پر ځمکه پرېوځي. نو همداسې مې وکړل. هغه سړي خپل ځانمرګی واسکټ ته چاودنه ورکړه. زما پام نه و، خو د یوه پارچه زما د سر شاته لګېدلې وه. |

| د مرکي شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| | | | بیا یو بل سړی جومات ته ننوت او ډزې یې پیل کړې. زه د جومات شا ته وتښتېدم، چیرې چې موږ لاوډسپیکرونه ساتل. همدلته مې پام شو چې له سر څخه مې وینه روانه ده. په جومات کې ځینې امنیتي ساتونکي هم موجود وو. کله چې هغوی هڅه وکړه د دویم بریدګر مخه ونیسي، هغه هم خپل ځانمرګی واسکټ وچاوه او چاودنه وشوه. د دویمې چاودنې وروسته، هر څه چوپ او ارام شول. زه له خپل پټنځای څخه راووتلم، خو روغتیایي حالت مې ښه نه و." |
| ۱۸۵ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "د طالبانو او د پخواني حکومت د ځواکونو ترمنځ جګړه روانه وه. په هغه ورځ زه د خپل کور د دروازې مخې ته ولاړ وم، څو ووینم چې څه روان دي. هماغه وخت په مرمۍ ولګېدم. مرمۍ زما د سینې د چپ لوري له پاسه ننوته او د ښي اوږې له لورې ووتله. زه نه شم ویلای چې مرمۍ د کوم لوري له خوا ویشتل شوې وه. کله چې ټپي شوم، د سیمې خلک راورسېدل او زه یې [روغتون] ته یووړم." |
| ۱۸۶ | ۹ مارچ ۲۰۱۱ | پکتیا ولایت، ګردیز ښار، سپین بازار | "دا د ۲۰۱۱ کال د مارچ ۹مه وه، پېښه، سهار شاوخوا اووه بجې د پکتیا ولایت د ګردېز ښار په سپین بازار کې وشوه. کله چې چاودنه وشوه ما په بازار کې سبزي خرڅوله. د چاودنې له امله زما سر، کینه پښه او خیټه د مرمیو په پارچو ولګېدل. زما کشر ورور هم راسره و، خو هغه لږ لرې ولاړ و او ټپي نه شو، خو په یاد مې دي چې ژړل یې او چیغې یې وهلې. له چاودنې وروسته، په بازار کې موجودو خلکو او پولیسو زه دولتي روغتون ته یووړم. له هغه ځایه سمدستي د کابل ایمرجنسي روغتون ته ولېږدول شوم. شاوخوا دوه میاشتې مې هلته تېرې کړې. وروسته یې د سره صلیب نړیوالې کمېټې ته راجع کړم. هلته مې نږدې څلور تر پنځه میاشتو پورې تېرې کړې او فزیوتراپي مې ترلاسه کوله. زما پښه په طبي پټۍ تړل شوې وه. تر اوسه هېڅ چا د دې چاودنې مسؤولیت پر غاړه نه دی اخیستی. موږ د دې پېښې د انګېزې یا هدف په اړه هېڅ نه پوهېږو." |
| ۱۸۷ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "د پولیسو رینجر موټر د یوه تعبیه شوي ماین هدف وګرځېده چې د طالبانو له خوا ځای پر ځای شوی و، د چاودنې ځینو پارچو زما د سینې قفس او خیټې ته زیان ورساوه. دوه نور کسان هم ټپیان شول چې یو یې موټر چلوونکی و. دا یو کوچنی برید و." |

| د مرکې شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۱۸۸ | ۲۳ می ۲۰۲۰ | لوګر ولایت، برکی برک ولسوالۍ، پاد خواب روغني کلی | "نږدې پنځه کاله مخکې د کوچني اختر پر مهال دا پېښه وشوه. زه له خپل کار څخه چې د کورونو رنګول وو، راستنېدم؛ ما په یوه کور کې کار ختم کړی و او بل کور ته روان وم. دا په لوګر ولایت د برکې برک ولسوالۍ د پادخواب روغني کلي په سیمه کې، زما استوګنځي ته نږدې وه. شاوخوا د شپې ۱۰ بجې وې او زه پر موټرسایکل سپور وم. ما د ملي امنیت د سرتېرو کمین نه تیریدم چې د شپې چاپه یې وهله. هغوی زه درې ځلې وویشتلم؛ زه پر ځمکه ولوېدم. د ملي امنیت سرتېري رانیږدې شول، ما ورته په قهر سره څه خبرې وکړې او ومې ویل: "ولې مو په ما ډزې وکړې؟" هغوی راته وویل چې فکر یې کاوه زه طالب یم. بیا یې په لاس او زړه درې نور ځلې وویشتلم او هماغسې یې پرېښودم.<br>تر ډزو وروسته خلک له کورونو را ووتل. ما ځان ورویېژانده او خپلوان مې راغلل او زه یې د لوګر ایمرجنسي روغتون ته یوړم. زه په ډېر خراب حالت کې وم او زما زړه نږدې وه چې ودریږي. له هغه شپې وروسته کابل ایمرجنسي روغتون ته ولېږدول شوم او نهه شپې هلته بستر وم او درې عملیاتونه یې راته وکړل. د ایمرجنسي روغتون ډاکټرانو راته وویل چې شپږ میاشتې باید کور کې استراحت وکړم، خو د اقتصادي ستونزو له امله زه څلور میاشتې وروسته بېرته کار ته ستون شوم. له پېښې وروسته تر اوسه هم درد لرم؛ په تېره بیا چې اوس هوا سړه ده، زما د چپې پښې ګوتې درد کوي." |
| ۱۸۹ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | "زه څلور ځل تپي شوی یم. [درې ځلې د بېلابېلو تعبیه شوو ماینونو په چاودنو کې؛ او یو ځل د طالبانو له لوري د بندي کېدو له امله، د هغوی له واکمنۍ څخه مخکې.] زه پوځی کس نه وم، خو له هغو کسانو سره مې اړیکې او ملګرتیاوې لرلې چې پوځیان وو. زما یو ملګری د نړیوالو ځواکونو د ځانګړو عملیاتو سرتېری و. کله ناکله ما د هغوی له لارې وسلې او پوځي وسایط لرل. [...] د بدن په هر ځای کې مې ټپونه شته: پښې، شا، سینه. په لومړۍ پېښه کې په اوږه او شا ټپي شوم. زه د طالبانو لخوا هم سخت وهل شوی وم... جګړه بدمرغي ده. زه د خپل حالت له امله ډېر غمجن او غمجن یم. یو ځل زما مشر ورور [د طالبانو له لوري بندي شو]، یوازې زما د کړنو له امله. [هغوی] به ما ته زنګ وهه او پوښتنه به یې کوله د ورور لپاره دې کوم ډول شکنجه غواړې؟ پلاستیکي کڅوړه یې سر ته ور واغوندو او واټر بورډ (اوبو باندې ساه بندول) یې کړو؟" |
| ۱۹۰ | پټه ساتل شوې | پټ ساتل شوی | پټې ساتل شوې |

| د مرګ شمېره | نېټه | ځای | د قرباني څرګندونې |
|---|---|---|---|
| ۱۹۱ (درې مرګې) | ۲۰۱۶ | لوګر ولایت، برکی برک ولسوالۍ | "د ۲۰۱۶ کال په وروستیو کې، مور په برکي برک ولسوالۍ کې د خپلوانو په کور کې وو، د طالبانو او د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو تر منځ جګړه روانه وه. یو هاوان په کور کې ولګېد او دوه هلکان – شهیر احمد او وحیدالرحمن – په کې ټپیان شول. د شهیر احمد مشر ورور ووژل شو. وحیدالرحمن په شا او اوږه ټپي شو. د شهیر احمد ښۍ پښه د زنګون نه لاندې پرې شوه." |